بسم الله الرحمن الرحيم

مؤسسۂ امام علي(ع)
اسلامي جمهوري ايران قم
پوسټ بكس: ۳۷۱۸۵/۷۳۷
ټيليفون: ۷۷۴۳۹۹۲
فيكس: ۷۷۴۳۱۹۹
پرينټنګ:

# د کربلا ځلانده ستورے

**آیت الله محمد تقی مصباح یزدی**

ژباړه: عبدالرحيم دارني

تدوین اونګارش:
غلام محسن محرمي

- نام کتاب: آذرخش کربلا
- مؤلف: آية الله محمد تقي مصباح يزدي
- مترجم: عبدالرحيم دراني
- تدوين و نگارش: غلام حسن محرمي
- ناشر: مؤسسه آل البيت(ع) و مؤسسه امام على (ع)
- نوبت و تاريخ چاپ: اول، ۱۳۸۷
- شمارگان: ۲۰۰۰
- قيمت: ۱۲۰۰تومان
- قطع: رقعى
- تعداد صفحات: ۳۷۴

- صاعقة كربلاء باللغة البشتو

- كتاب: د كربلا ځلانده ستورے
- ليکوال: آيت الله محمد تقي مصباح يزدي
- تدوين او نګارش: غلام محسن محرمي
- ترجمه: عبدالرحيم دراني
- کمپوز: عبدالرحيم دراني
- خپروونکې: مؤسسه امام علي (ع)
- د چاپ کال: ۱۳۸۷
- ګڼه: ۲۰۰۰
- بيه: ۱۲۰۰ تومان

# لړلیک

لړلیک ..... ۵
د خپرندویي خبرې ..... ۱۰
سریزه ..... ۱۱
لومړے څپرکے: د عاشورا د پاڅون د لمانځلو په هکله شویو اعتراضونو ته ځوابونه
۱: ولې باید د عاشورا پیښه ولمانځل شي؟ ..... ۱۵
۲. ولې د عاشورا په لمانځنه کې په بحث او خبرو اترو بسنه نه کیږي؟ ..... ۱۸
۳. ولې باید د عاشورا د پیښې په یاد یوازې عزاداري او ماتم وکړو؟ ..... ۲۲
۴. ولې باید د امام حسین(ع) په دښمنانو لعنت او بد ووایو؟ ..... ۲۷
دوم څپرکے: د عاشورا د پاڅون د درنښت اهمیت
د سید الشهداء (ع) لپاره د ویر اغیزې او پراختیا ..... ۳۹
د عاشورا د پاڅون د تل پاتې والي راز ..... ۴۲
د امام حسین د پاڅون سپیڅلتیا او د هغه د تحریف نه منل ..... ۴۷
دریم څپرکے: د عاشورا د پاڅون تاریخي مخینه
د پیغمبر په اصحابو کې د منافقانو نفوذ ..... ۶۳
د خلفاوو په زمانه کې د امام علي (ع) تر ټولو لوي هدف ..... ۷۱
د بني امیه وو فرصت غوښتنه ..... ۷۲
معاویه په شام کې ..... ۷۹
علي او د اسلامي حکومت د بیلګې وړاندې کول ..... ۸۱
د علي له شهادته وروسته د معاویه سیاست ..... ۸۸
څلورم څپرکے: د امام حسین (ع) په زمانه کې د ټولنې کړلارې
د ټولنې د انحراف اجتماعي زمینې ..... ۹۸

۱. د فرهنګي او تعليمي سويې ټيټوالی...... ۹۸
۲. د قبيله ايز ژوند روح...... ۹۸
۳: د ايمان کمزوري...... ۹۹
د ټولنې دانحراف لاملونه او وسيلې...... ۱۰۰
۱: تبليغات يا پروپاګنډا...... ۱۰۰
۲. لالچ ورکول...... ۱۰۲
۳. ګواښ او ويرول...... ۱۰۲
معاويه او په ټولنه کې د انحراف د عواملو د استعمال طريقې...... ۱۰۷
اول: د امير المومنين (ع) له خلافته مخکې...... ۱۰۷
دوهم: د امير المومنين د خلافت په دوران کې...... ۱۰۸
دريم: د اميرالمومنين (ع) له شهادته وروسته...... ۱۰۸
د معاويه د فعاليتونو په وړاندې د ټولنې د انفعال علتونه...... ۱۱۲
۱. د خداي په لاره کې د مال له خرچ کولو ډډه کول...... ۱۱۸
۲. د دين لپاره په قربانۍ کې سستي...... ۱۱۸
۳. قومي او ډله ايزو اړيکو ته پام...... ۱۱۹
په ټولنه کې د انحراف له عواملو سره د مقابلې لارې...... ۱۲۲
۱ د پيژندنې د سويې لوړول...... ۱۲۲
۲. د ايمان د سويې لوړاوي...... ۱۲۸
د معاويه په زمانه کې د امام حسين پټ فعاليتونه...... ۱۳۱
پنځم څپرکی: د کربلا د پيښې شننه
له امام حسين سره د خلکو د جنګيدو علتونه...... ۱۳۹
۱. ناروا او بې ځايه تقليد...... ۱۴۳

۲. په شناختونو او ګروهنو کې بې لاري...........۱۴۴
۳. متشابه مفاهیم د فتنه جوړولو لپاره یو لاس وند...........۱۴۸
۴. په قران د خپلې رایې تپل...........۱۵۰
۵ بدلیدونکي ټولنیز حالات...........۱۵۴
۲. لالچ او نفاق د کربلا دغمیزې اصلي لاملونه...........۱۵۸
د عاشورا پاڅون او د اسلامي معارفو ژوندي کول...........۱۶۰
د امام حسین له زمانې سره زمونږ د زمانې ورته والي...........۱۶۲
د عاشورا غورځنګ، د اسلامي انقلاب بیلګه...........۱۷۰
انقلاب او د بې لارۍ خطر...........۱۷۳
مونږ په کومه جبهه کې یو د حسین په سپایانو کې که د کوفې په لښکر کې...........۱۷۶
شپږم څپرکے: د عاشورا د پاڅون هدفونه
الف: د مفاسدو اصلاح، د امام حسین د قیام اصلي مقصد...........۱۸۵
د اصلاح مفهوم...........۱۸۷
د اصلاح په تعریف کې د ارزښتي نظام اغیزې...........۱۹۲
د منافقانو له نظره اصلاح...........۱۹۷
ښه او مطلوبه اصلاح...........۲۰۱
وضاحت:...........۲۰۱
ب: امر بالمعروف او نهي عن المنکر...........۲۰۲
د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اهمیت...........۲۰۷
د منکراتو په وړاندې د مسلمانانو دنده...........۲۱۴
د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د پریوښودلو انجام...........۲۱۸

اوم څپرکي: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مصداق او مفهوم


د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د معنا پراختیا.......... ۲۲۷

د جهاد له معنا سره د امر بالمعروف د معنا رابطه.......... ۲۳۲

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مصداقونه.......... ۲۳۸

۱. د جاهل تعلیم.......... ۲۳۸

۲. یاد اوري او موعظه.......... ۲۴۱

۳. له سازشونو سره اجتماعي چلند.......... ۲۴۷

له کلتوري یرغل سره مقابله.......... ۲۵۱

د ټولنې د بیدارولو لپاره د جهاد او شهادت جذبه.......... ۲۵۵


اتم څپرکے: په اوسنیو حالاتو کې د دولت او خلکو دنده


د احکامو او معارفو د ښودلو لپاره د حکومت او ټولنې دنده.......... ۲۲۴

د دشمنانانو د سازشونو په وړاندې د حکومت او ټولنې دنده.......... ۲۷۱

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د فریضې د هیریدلو علتونه.......... ۲۷۳

د ټولنیزو فعالیتونو لپاره د اسلامي جوړښتونو جوړول.......... ۲۷۷


نهم څپرکے: امر بالمعروف او نهي عن المنکر په قران کې


د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اصطلاحي معنا.......... ۲۹۴

دامر بالمعروف او نهي عن المنکر مراتب.......... ۲۹۴

د نورو په وړاندې د مسوولیت احساس.......... ۲۹۸

انسان ته د اسلام نظر.......... ۳۰۰

انسان ته د لویدیځ (غرب) نظر.......... ۳۰۱

د نورو په عملونو د ټولنې د څارنې ضرورت.......... ۳۰۱

د نورو په کارونو د ټولنې د څارنې حدود.......... ۳۰۳

په معنوي چارو د څارنې په مسئله کې د لويديځ نظر.......... ۳۰۴
په معنوي چارو د څارنې لپاره د اسلام نظر.......... ۳۰۵
امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته د قران نظر.......... ۳۰۷
ولې قران د مومنانو په مقابل کې د منافقان لفظ کارولے دے.......... ۳۰۹
په يو بل د مومنانو د ولايت مصلحت.......... ۳۱۰
په اسلامي ټولنه کې دامر بالمعروف او نهي عن المنکر امکان.......... ۳۱۲

لسم څپرکے: د عاشورا له غورځنګه ځينې سبقونه

د انسان په لوړاوي او ځوړتيا کې د وراثت او چاپيريال رول.......... ۳۲۱
د قران آيتونو ته په پام سره د دغه نظريې جاج.......... ۳۲۲
ميلمه د کوربه په وژنتون کې.......... ۳۳۰
د هغه څه چې پکار دي او هغه څه چې موجود دي تر مينځ ارتباط.......... ۳۳۲
د وراثت او چاپيريال له نظره د يو شان کسانو د فرق سبب.......... ۳۳۵
د کربلا د پيښې په شننه د ټولن پيژاندو په نظر کره کتنه.......... ۳۳۷
د اسلامي معارفو له نظره د دغه نظر شننه.......... ۳۴۳
د ټولن پيژاندو تحليل ته دامام حسين ځواب.......... ۳۴۵
د عاشورا په شپه او ورځ د امام حسين مهم پيغام.......... ۳۵۰
آيا خلکو امام حسين نه پيژانده.......... ۳۵۳
ظاهري مسلمانان.......... ۳۵۴
د علي (ع) ملګري، د حسين (ع) قاتلان!.......... ۳۵۸
د حقيقي مومنانو جاذبه او دافعه.......... ۳۶۰
ناپوهي او دنيا طلبي، د انحراف لوي لا ملونه.......... ۳۶۲

## سریزه

د عاشورا پاڅون د اسلامي بلکه انساني تاریخ ډیره مهمه پیښه ده که څه دا پیښه د پراختیا او لوي والي له نظره د تاریخ د نورو پیښو په پرتله زیاته لویه نه ده، خو د سترتوب او ژورتیا له اړخه بې ساري ده. له یو ې خوا ظلم او بې رحمی شتون او له بل پلوه لوړ انساني صفات په دغه حماسې کې بې ساري دي . عاشورا همداراز په زړونو کې تاثیر او د وخت په تېپال کې د ژوندي والي له نظره د تاریخ بې مثاله پیښه ګڼل کیږي د پیړیو تیریدو نه یوازې په دغه واقعه د هیریدو دوړې کښې نه نولې بلکه هغه یې لا ځلانده او روښانه او د هغې له اتلانو سره یې د مومنانو مینه نوره هم زیاته کړې ده له دې امله د حسیني معارفو د تږیو او د عاشورا د لارې د لارویانو د خړوبولو لپاره بې شمیره کتابونه لیکل شوي دي. چې ډیرو یې د دغه پیښې په اصل او د امام حسین لپاره د ویر په ثواب لیکل کړي دي. خو د امام حسین د هدف او له دغه قیامه د استفادې لپاره چنداني کار نه دے شوے. دا لیکنه د عاشورا د حماسې د موهو د بیانولو او د هغو اسبابو د څیړلو لپاره چې دا پاڅون ورپاره وشو یوه هڅه ده او همداراز له هغه د عبرت اخستلو د څرنګوالي لپاره یو کوشش دے.

د ټولګه د: آذرخشي دیگر از اسمان کربلا، د کتاب بیا لیک او: د عاشورا د غورځنګ د پیدا کیدو د زمینو: او همداراز د کربلا له غورځنګه ځینې درسونه دي چې په ۱۴۲۱ او ۱۴۲۲ هجري قمري

کلونو په محرم کې د تکړه استاد حضرت آیت الله العظمی علامه مصباح یزدي د حکیمانه ویناوو په اساس برابر شوي او اوس د یو نوي تحقیق په شکل کې د لوستونکو په لاس کې د ے.

غلام حسین محرمي

# لومړے څپرکے

د عاشورا د پاځون د لمانځلو په هکله
شویو اعتراضونو ته ځوابونه

د عاشورا غورځنګ یو ژوندے مکتب او خوځنده بهیر دے او د وخت تیریدو په مومنانو دهغه اغیز نه دے کم کړے سره له دې د دې لپاره چې له حسیني مکتبه زمونږ پیژندنه ژوره شي په دې مسلې د ځینو اعتراضونو او شبهو ځواب ضروري دے.

د محرم د عزادارۍ د هر کال د ستورو لیدل د یو مسلمان ځوان په ذهن کې ځینې پوښتنې پیدا کوي. دا مراسم د څه لپاره تر سره کیږي؟ ولې خلک داسې ژاړي ولې تورې جامې اغوندي.؟ ولې تور بیرغونه ځړوي ولې خلک د شپې تر یو وخته پورې سینې وهي؟

معمولا دغو پوښتنو ته یې ساده ځوابونه ورکړي دي. سید الشهدا د خداي په لاره کې شهید شوے د ے او باید د هغه لپاره وژاړو یا داچې دامام حسین لپاره ژړل د ثواب کار دے او هغه حضرت به دقیامت په ورځ زمونږ شفاعت کوي.

خو دا ځوابونه د هغو کسانو لپاره چې لوړ تحصیلات لري چندانې قانع کوونکي نه دي. او د هغو ي ذهنونه تر دې ژور ځوابونه غواړي.

مونږ دا پوښتنې د ځلورو اساسي سوالونو په توګه برابر کړي او د هغوي د ځواب هڅه بهٔ وکړو.

### ۱: ولې باید د عاشورا پیښه ولمانځل شي؟

د داسې پیښې یاد چې کابو څوارلس سوه کاله مخکې پیښه شوې ولې ژوندے کړو؟ دا یوه تاریخي پیښه وه چې وخت یې تیر شوے

دے، ترخه یا خوږه هر څه چې وه تیره شوه. اوس چې څوارلس سوه کاله یې تیریږي ولې یې یاد تازه کړو او دهغه د درنښت لپاره مراسم جوړ کړو.؟

د دې پوښتنې په ځواب کې ویلے شو د یوې ټولنې تیرې پیښې د هغه ټولنې په برخلیک او راتلونکې لویې اغیزې لرلے شي که څه هم تاریخي پیښې عینا نه تکراریږي خو په ټولن پیژندې کې ثابته شوې ده چې د پیښو تر مینځ ډیر ګډ اړخونه شته. له دې امله له تیرو پیښو د راتلونکو پیښو سره دمقابلې لپاره ګټه پورته کړو لکه څنګه چې قران مجید د پیغمبرانو او د تیرو قومونو د کیسو له بیانولو وروسته فرمایي:

لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ [1]

د تیرو خلکو په کیسو او داستانونو کې د عقل او پوهې دخاوندانو لپاره عبرت دے.

یعنې د تیرو خلکو پیښې وڅیړئ چې پوه شئ چې د هغوي په کار کې کوم پیاوړي ټکي دي او تاسو هم له هغو کار واخلئ. او د هغوي کمزورۍ هم ووینئ او دهغو له تکرارولو ډډه وکړئ د هغو خاطرو بیا یادول په حقیقت کې د هغوي یو ډلو بیا رغاونه ده چې خلک له هغو استفاده وکړي. که یوه تاریخي پیښې برکت او ښه اثار لرل د هغه یادول او رغاونه هم ځینې برکتونه لرلې شي.

له دې ورتیر په ټولو ټولنوکې دود ده چې خپلې ځینې تیرې پیښې یادوي د هغو درنښت کوي او لویوي یې که هغه پیښې د

---

۱. یوسف، ۱۱۱

داسې كسانو وي چې د خپلې ټولنې په ترقۍ كې اغيزمن وو لكه د پوهانو او مخترعينو، او كه د داسې كسانو وي چې په سياسي او ټولنيز اړخ كې يې د ولس په ژغورنه كې رول لوبولے دے او اتلان وو.د نړۍ ټول عاقلان د دغه ډول شخصيتونو لپاره د درنښت دستورې كوي دا چاره د انسان په يوې سپيڅلې غوښتنې چې ورته د:حق شناسۍ احساس: وايي ولاړه ده. له دې امله ټول انسانان د خپل فطرت مطابق غواړي د هغو كسانو چې دوي ته يې خدمت كړے مننه وكړي او حق يې ادا كړي. هغوي ياد وساتي او درنښت يې وكړي.

له دې ورتير كه د دغو خاطرو ياد د ټولنې په نيكمرغۍ كې اغيز من وي كيدے شي د هغوي د بيان په وخت كې يو بل اغيزمن عامل وګرځي. په دې بڼه كې ته وا په خپله هغه پيښه ژوندۍ كيږي. له دې امله چې دعاشورا حادثه په تاريخ كې لويه پيښه وه او د انسانانو په نيكمرغۍ او دهغوي د لارې په روښانولو كې يې ستر رول لوبولے دے دا پيښه زمونږ په نظر كې ډير قيمتي ده له دې امله دهغه يادول او ژوندي كول او لمانځل يې سبب كيږي چې دهغې له اثارو او بركاتو په ټولنه كې كار واخلو لكه څرنګه چې پخپله دغه پيښې د هغه وخت په ټولنه كې حيرانوونكے اثر درلود د هغه يادول او ژوندي كول هم كولے شي له هغه سره متناسب اثار ولري.

## ۲. ولې د عاشورا په لمانځنه کې په بحث او خبرو اترو بسنه نه کیږي؟

د عاشورا د یاد ژوندي ساتل یوازې په ژړلو، ویر، سینه زنۍ د تورو جامو په اغوستلو او دکار او روزګار په بندولو پورې منحصر نه دي. په تیره بیا هغو اقتصادي تاوانونو ته په پام سره چې دغه چارې یې لري. دا پیښه په دې ډول ژوندۍ کولے شو چې کم اقتصادي او اجتماعي تاوانونه ولري. له دې امله چې د ډیرو خلکو روحیه له اقتصادي ګټو سره غږمله ده او هغوي چارې زیاتره د هغې د مادي ګټو او تاوانونو په تله تلي ممکنه ده ځینې کسان چې لا یې دینې تربیت بشپړ شوے نه دے ګمان وکړي چې د دغه ډول چارو تر سره کول د تولید د کمیدو او د وخت د ضایع کیدو سبب کیږي او ډیر اقتصادي تاوانونه لري. او د محرم او صفر په دوو میاشتو کې ټولنه په اجتماعي او اقتصادي فعالیتونوکې له یو ډول تمتیا سره مخامخ کیږي. حال داچې د عاشورا د پیښې د درنښت لپاره نوري لارې هم شته لکه د بحث او څیړنې د غونډو تر سره کول خبرې اترې سیمنارونه او ګردي میزونه.

له دې امله وروسته له دې چې ومو منله د عاشورا د یاد ژوندي ساتل عاقلانه او ګټه ور دي. او په ټولنه کې ښه اثار لري پوښتنه دا ده چې ولې باید دا پیښه په دې ډول تر سره شي؟ ایا دا چاره د نړۍ په نورو ولسونو کې کومه مخینه لري؟

بې له شکه د سید الشهداء د شخصیت په هکله بحث ګردي میزونه کانفرنسونه او سیمنیارونه د مقالو او مطالبو لیکل او د علمي تحقیقاتو او کلتوري چارو تر سره کول ډیر ګټه ور او ضروري

دي خو دا فعاليتونه او اقدامات کافي نه دي. د هغو په څنګ کې عزاداري هم ضروري ده. د دې چارې د وضاحت لپاره انسان ته يو نفسياتي او د اروا پوهنې نظر کوو چې ووينو هغه عوامل چې دهغه په شعوري کړو کې اغيزمن دي يوازي د شناخت او معرفت عوامل دي يا نور عوامل هم د هغه د ټولنيزو کړو په بڼه خپلولو کې اغيزه لري.

د انسان په چلند او کړو کې په دقت سره په دې پوهيږو چې د انسان په کړو او عمل کې دوه ډول عوامل اساسي رول لري.لومړي عوامل شناختي او د پيژندنې لاملونه دي چې ددې سبب کيږي انسان يو مطلب له مختلفو مقولو په تجربي عقلي او داسې نورو استدلالونو سره درک کړي او په هغه پوه شي او وې مني. پيژندل بې له شکه د انسان په کړو کې ډير رول لري. خو يوازينے اغيزمن لامل نه دے نور عوامل هم شته چې ښايي زمونږ په کړو کې يې تاثير تر شناخته زيات وي. دغو عواملو ته په کلي ډول انګيزې يا محرکونه، احساسات، ګروهنې جذبې غريزې او عواطف وايي. دا داسې باطنې او نفسياتي عوامل دي چې زمونږ په کړو کې اغيزمن دي د يو کس د کړو په تحليل سره که دهغه د فردي ژوند شننه وي که کورنۍ، ټولنيزه او سياسي په دې حقيقت رسيږو چې هغوي د جوړيدو اصلي عامل همدا تحريکوونکي او پارونکي عوامل دي.

استاد شهيد مطهري په دې باره کې يوه تشبيه لري هغه د انسان کړه يو ګاډي ته ورته ګڼي يو ګاډے د تګ لپاره دوو لاملونو ته ضرورت لري يو عامل چې په ځان کې مکانيکي انرجي توليدوي چې ګاډے دهغه په مرسته حرکت وکړے شي. له مکانيکي انرژۍ

ورتیر ګاډے باید لایټ یا څراغ هم ولري چې لاره ورته وښيي او ګاډے په کندو کپرو کې ونه لویږي که په تیاره ځاي کې ګاډے ښځه انرجي ولري خو د تللو لپاره لاره نه ښکاري کیدے شي سورلۍ له ډیر لوي خطر سره مخامخ شي. کیدے شي اکسیډنټ وشي چې ډرایور او سپرلۍ پکې مړې شي. نو ګاډے باید پر تیلو او چلیدو پر انرجۍ سربیره څراغ هم ولري چې مونږ ته لاره وښيي[1] همدا راز د انسان شعوري فعالیتونه دوه ډول عواملو ته اړتیا لري لومړے عامل باید په انسان کې دننه وي چې هغه تحریک کړي دغه عامل ته د ولولې جذبې شوق او داسې نور نمونه ورکولے شي. بل شناختي عامل دے چې په هغه سره انسان پوهيږي چې په کوم دلیل دغه کار کوي او دغه کار باید څرنګه وشي او انجام یې څه فایده لري.

نو باید شناختي عوامل په ځیرتیا سره وڅیړل شي.او د هر یو کار د کولو لپاره له هغه سره د متناسبو منابعو لازم شناخت او ضروري پیژندنه حاصله شي. خو باید پوه شو. چې یوازې پیژندنه کافي نه ده. چې انسان په حرکت کې راولي. یو بل نفسیاتي عامل ته اړتیا لري. چې یو کس یو کار ته وهڅوي. دغه ډول عوامل چې نفسیاتي محرک ورته ویل کیږي لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه نور نومونه هم لري لکه احساسات جذبه او عواطف. دا عوامل په ګډه په انسان کې دیو کار لپاره حرکت او انګیزه پیدا کوي. د یو کار د کولو مینه پنځوي او شور او جذبه پیدا کوي. تر کومه چې دغه عوامل نه وي کار نه کیږي حتیٰ که انسان ته یقین وي چې پلانکي خواړه د هغه د بدن لپاره ګټه ور دي. تر څو چې وږے نه شي یا دغه خوراک ته پکې

[1] ر.ک: مطهري مقدمه بر جهان بيني اسلامي ، ۳۲۸ مخ

اشتها پيدا نه کړے شي، هغه خواړه نه خوري که د يو کس خوا بده وي يا په داسې ناروغۍ اخته وي چې اشتها يې نه پيدا کيږي که هغه ته هر څومره وواېې چې دا خواړه ستا لپاره ګټه ور دي هغه يې خوړو ته زړه نه پيدا کوي. نو له پوهې ورتير بايد په انسان کې دننه يوه انګيزه او ګروهنه هم وي. سياسي او ټولنيزې چارې هم دا حکم لري. که يو انسان ته هر څومره پته وي چې دغه اجتماعي کار ښۀ دے خو تر څو چې جذبه ونه لري هغه کار نه کوي.

اوس نو، وروسته له دې چې ومو منله د انساني کړو او شعوري حرکت لپاره دوه عامله يعنې شناخت او محرک ضروري دے او وروسته له دې چې پوه شو د سيد الشهداء حرکت د انسانانو په نيکمرغۍ کې څومره رول درلود پوهيږو چې دا پيژندنه په يوازې سر په مونږ کې دحرکت سبب نه کيږي د دغو خاطرو او پيښو يادول او ورباندې پوهيدل هغه وخت مونږ د ا مام خميني په شان د يو کار کولو ته هڅوي چې په مونږ کې هم يوه انګيزه او محرک ر اشي او دهغه په اساس مونږ هم وغواړو چې دغه ډول کار وکړو. يوازې پيژندنه او پوهنه دغه ګروهنه نه پيدا کوي. بلکه بايد زمونږ احساسات هم وپارول شي او عواطف مو وبلګل شي. چې موږ هم وغواړو د هغوي په شان يو کار وکړو. نو په دې اساس د دغه ډول کار کول دوو عواملو ته اړتيا لري. چې غونډې بحثونه او سيمنارونه د هغه اوله برخه تامينولے شي. يعنې مونږ ته ضروري پوهه او شناخت راکولے شي. خو د احساساتو او جذباتو د پياوړتيا لپاره بل عامل ته هم ضرورت لرو. البته پخپله د يوې پيښې پيژندل مطالعه او يادونه دغه رول لوبولے شي. خو اساسي رول هغه عوامل

لوبوي چې د احساساتو او عواطفو په پارولو نيغ په نيغه اغيز ولري.

کله چې يوه صحنه دوباه انځور کيږي او انسان يې له نزدې ويني دا مشاهده له هغه وخت سره چې انسان واوري چې داسې پيښه شوې ده. يا داچې يوازې خبر شي چې داسې پيښه شوې ده. ډير فرق لري. څوک چې دا ټکے په ژوند کې تجربه کړي او پوه شي ديوې پيښې له کيدو خبريدل هيڅکله د هغې پيښې د ليدو تر حده د انسان په ژوند کې اغيزه نه کوي. د محرومانو له احوالو او د يتيمو او ناروغو کسانو له حالته خبريدل د هغوي د ليدلو په شان د انسان په روح کې اثر نه کوي. هر يو کس په خپل ژوند کې په دې ټکې پوهيدلے شي لکه څنگه چې دينې سرچينې هم د دې خبرې تاييد دے.

کله چې خداي تعالى حضرت موسىٰ د عبادت لپاره طور غره ته وبله خلکو ته وويل شول چې دے به يوه مياشته هلته وي. خو د خداي اراده دا وه چې حضرت موسىٰ څلويښت ورځې هلته پاتې شي

وَوَٰعَدۡنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيۡلَةً وَأَتۡمَمۡنَٰهَا بِعَشۡرٍ [1]

خلک له هغو لسو ورځو ناخبره وو او دا د بني اسراييلو د قوم لپاره يو ازميښت و چې څرگنده شي. هغوي په خپل ايمان کې تر کومه حده کلک دي. کله چې ديرش ورځې ختمې شوې. بني اسراييل هارون ته چې د موسىٰ ځاي ناستے و ورغلل او وې پوښتل.

---

۱ . اعراف ۱۴۲

ورور دې ولې رانغے. هارون وويل مونږ هم په تمه يو. ډير زر به راشي. بله ورځ هم موسیٰ رانغے بيا يې وپوښتل چې موسیٰ ولې رانغے؟ او ويې ويل د هغه له ځنډه معلوميږي چې هغه مونږ هير کړي يو او تللے دے سامري دا فرصت غنيمت وګاڼه او يوه سخوندر يې جوړ کړ او خلک يې دهغه عبادت ته وبلل.

هَـٰذَآ إِلَـٰهُكُمْ وَإِلَـٰهُ مُوسَىٰ [1] دا ستاسو او د موسیٰ خداي دے

ډير بني اسراييل د سخوندر په وړاندې په سجـــده پريوتل او د هغه عبادت يې پيل کړ. خداي تعالی په طور کې موسیٰ ته وحي وکړه چې ستا په قوم کې داسې کيسه پيښه شوې ده. او په دغو لسو ورځو کې خلکو د سخوندر عبادت پيل کړے دے. موسیٰ واوريدل خو غبرګون يې ونښود لس ورځې تيرې شوې او له څلويښتو ورځو وروسته يې هغه اسماني تختې چې په هغه نازلې شوې وې خلکو ته راوړې چې هغوي د الهي احکامو اطاعت او په شريعت عمل کولو ته وبلي خو وې ليدل چې خلک د سخوندر عبادت کوي. حضرت موسیٰ د دغه کار په ليدلو ډير غوسه شو. په دې ډول چې تختې يې ليرې ګوذار کړې

وَأَلْقَى ٱلْأَلْوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيْهِ [2]

خپل ورور هارون ته ورغے او هغه يې په غوسې سره ځانته راکاږه او پوښتنه يې ترې وکړه چې ولې دې پريښودل چې خلک ګمراه شي.

---

۱. طه ۸۸

۲. اعراف ۱۵۰

أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي[1] دلته ده چې د اوریدو او لیدو تر مینځ فرق معلومیږي خداي تعالی موسیٰ ته د هغه د قوم د سخوندر پرستې خبر ورکړے و او حضرت موسیٰ په دې کې هیڅ شک نه درلود ځکه چې خبر د خداي له لوري و او کله چې موسیٰ دغه خبر واورید نو دومره غوسه نه شو خو کله چې ستون شو او په خپلو سترګو یې ولیدل چې خلک د سخوندر عبادت کوي نو په قهر شو او وې نه زغمے شوه او ورور ته ورغے او په هغه یې اعتراض وکړ.[2]

خداي تعالی انسان داسې پیدا کړے دے چې کله یو څیز ووینې یا یوه منظره یې تر سترګو شي دومره اثر ورځني اخلي چې هیڅکله خبرې او اوریدنې پرې دومره اغیزه نه کوي. په دودیزو چوکاټونو او یا په نورو شکلونو لکه نمایش او ډرامې کې دیوې پیښې جوړول دومره اثر لري چې اوریدل او خبرې هغومره اغیز نه شي لرلے د دغه خبرې بیلګه د امام حسین منونکو او ویرجنو په ځلونو تجربه کړې ده. کله چې مرثیه لوستونکي په مجلسونو کې نوحه او ویرنه وایي په تیره بیا که غږ یې هم ښه وي. او د کربلا کیسه خوندوره بیان کړي، بې اختیاره اوښکې په اننګو روانیږي دا طریقه دخلکو د احساساتو په پارولو کې دومره اغیزه لري چې دیو کتاب لوستل او ورځینې خبریدل یې نه لري. په دغو توضیحاتو سره څرګندیږي چې مونږ پر دې سربېره چې پوه شو. چې ولې امام حسین پاڅون وکړ او ولې شهید شو باید دا چاره په دا ډول بیا ورغول او انځور شي چې زمونږ احساسات او جذبات وپاروي هر څومره چې دغه ا نځورونه

1 . طه ۹۳
2 . قطب راوندي قصص الانبياء تحقيق غلام رضا قربانیان ۱۷مخ

زمونږ د احساساتو په پارولو کې ا غيزمنه وي د عاشورا پيښه به زمونږ په ژوند زيات اثر ولري.نو يوازې عالمانه بحثونه او جاجونه د عزادارۍ رول نه شي لوبولے بايد داسې صحنې په ټولنه کې پيدا کړے شي چې دخلکو احساسات وپاروي همدومره چې کله خلک سهار له کوره وځي او وينې چې په ښار کې تور بيرغونه لګيدلي دي دا بدلون په زړه کې ولوله پيدا کوي که څه هم خلکو ته پته وي چې سبا محرم دے خو يوازې دغه علم دهغوي په زړه دومره اثر نه کوي څومره يې چې د تورو پردو ليدل کوي همدا راز په هيجان اوجذبې سره د عزادارۍ دستې جوړول او سينه وهل داسې اغيزې لري چې بل څه يې نه شي لرلے.

دا چاره د امام خميني په غورځنګ کې هم ډيره ښه مشاهده کيدله د غورځنګ په زمانه کې دا د سيد الشهداء نوم او په محرم اوصفر کي د امام حسين (ع) عزاداري وه چې خلک يې په حرکت کې راوستل هر هغه کار چې د خلکو جذبات او احساسات وپاروي د هغوي په عمل او کړو کې اغيزمن کيدلے شي. په دې اساس بايد داسې کار وکړے شي چې د خلکو جذبات او عواطف په حرکت کې راشي. امام خميني رحمة الله عليه په ځلونو فرمايلي. (هغه څه چې لرو يې له محرم او صفره يې لرو)[1] دوي ټينګار کاوه چې د امام حسين (ع) عزاداري په هماغه دوديزه روده تر سره شي[2] تيرو ديارلسو پيړيو تاريخ ته کتنه ښيي چې دغه چارې د خلکو د ديني جذباتو او احساساتو په پارولو کې ډير رول لوبوي. همداراز ويلے

۱ . صحيفه نور ټوک ۱۵ مخ ۲۰۱

۲ . هماغه

شو چې د امام خميني (ق) دغورځنګ او د جنګ د وخت کاميابۍ د عاشورا د ورځو د ولولې او هيجان او امام حسين (ع) د نوم په برکت لاسته راغلي دي. او که ووايو چې په هيڅ يو مکتب او دين کې داسې هڅوونکي عامل نيشته نو لويه خبره بۀ مو نه وي کړي.

## ۳. ولې بايد د عاشورا د پيښې په ياد يوازې عزاداري او ماتم وکړو؟

لکه څنګه چې مو مخکې وويل بايد په ټولنه کې داسې عوامل پيدا کړو چې د خلکو ديني احساسات وهڅوي او هغوي وپاروي چې د اسلام له هدف سره مينه پيدا کړي. او د سيد الشهداء لارې ته دوام ورکړي. خو دلته يوه بله موضوع مطرح کيږي. هغه داچې ايا د احساساتو د تودولو او هڅولو يوازينۍ لاره د امام حسين ماتم او عزاداري ده؟ د خلکو عواطف د جشن او سرور په مراسمو سره هم په جوش کې راوستلي شو. د زوکړې په ورځو کې منجمله د سيد الشهداء (ع) د زوکړې په کليزې کې، او کله چې د زوکړې جشن جوړيږي او د هغه ستر شخصيت په مدحه کې شعرونه لوستل کيږي هم خلک په جوش او ولوله کې راځي او احساسات يې پاريږي. نو بيا ولې د احساساتو د تودولو لپاره د خوشالۍ له دستورو ګټۀ نه پورته کيږي.؟ ولې بايد د دې کار لپاره ماتم سينه زني او زنجير زني وشي؟ ايا ددغه کارونو په ځاي جشن او خوشالي نه شو جوړولې. چې د خلکو ا حساسات تحريک شي.

دلته بايد دې ټکي ته پام وشي چې احساسات او عواطف مختلف ډولونه لري. او د هر ډول احساساتو پارول بايد دهغه په

متناسب شکل سره وشي. د امام حسين (ع) شهادت يوه داسې پيښه وه چې د اسلام په تاريخ کې يې ډير مهم رول ولوباوه او د اسلام د تاريخ لاره يې بدله کړه. د هغه حضرت شهادت د قيامت تر ورځې پورې انسانانو ته د حرکت، غورځنګ، مقاومت او استقامت درس وښووده. له دې امله د دغه لويې پيښې د ياد د ژوندي کولو لپاره جشن او خوشالي مناسبه نه ده. بايد داسې کار وکړے شي. چې دخلکو غم تازه شي اوښکې له سترګو روانې شي. او په زړونو کې عشق او جذبه پيدا شي. په دې مسله کې هغه څه چې دغه رول لوبولے شي همدا د عزادارۍ او وير مراسم او ژړل او ژړول دي. حال داچې د جشن او خوشالۍ د مراسمو جوړول داسې تاثير نه لري. خندا اوخوشالي هيڅکله انسان د شهادت ليوال نه ګرځوي. او هغه د جهاد ډګر ته نه بيايي. له امام حسين (ع) سره مينه او د عاشورا له حادثې عبرت اخستل و چې د ايران په خلکو يې د اته کلن جنګ سختۍ اسانې کړې د جهاد او شهادت روحيه له سوزه، اوښکو، عشق اوجذبې پيدا کيږي. او د امام حسين (ع) ماتم دغه روحيې ته د رسيدو ډيره ښه لاره ده.

## ۴. ولې بايد د امام حسين(ع) په دښمنانو لعنت او بد ووايو؟

داسې پوښتنه غالبا منافقان په تيره بيا ماډرنه منافقان کوي. هغوي وايي مونږ منو چې د امام حسين عليه السلام د شهادت د تاريخ بيانول په خلکو کې حرکت راولي او بايد په يادونو کې ژوندے پاتې شي او د امام حسين (ع) په ياد کې ماتم وشي. خو په دوديزو

ماتمونو کې د هغه حضرت پر یادولو او ژړا سربیره د هغوي په دشمنانو لعنت او بد رد هم ویل کیږي. او دا کار له نورو سره یو ډول تاو تریخوالے او زیږ چلند دے. چې په منفي احساساتو کې شاملیږي او د ماډرن انسان له طبیعت سره سمون نه خوري. ایا د احساساتو د بلولو لپاره په ماتم او عزادارۍ سربیره په دشمنانو لعنت کول او نفرین هم ضروري دے او په ژبه د «اَتَقَرَّبُ اِلیٰ اللهِ...... بِالبَرَائَةِ مِنْ اَعْدَائِك» ویل هم اړین دي[1]. ولې باید په زیارت عاشورا کې سل ځله دهغوي په دشمنانو لعن وکړو؟ ایا بهتره نه ده د سل ځل لعنت ویلو په ځاي سل ځله په امام حسین سلام ولیږو؟

او په دې زمانه کې باید له خلکو سره په خندا او خوښۍ سره سلوک وکړو. او د سولې او پخلاینې خبرې وشي. او نن سبا له هغو کسانو تبرا چې یو زر څلور سوه کاله مخکې یې امام حسین (ع) شهید کړ. ښه کار نه دے. دې ته په پام سره چې اسلام د مینې او رحمت دین دے. نو ښۀ دا ده چې د مینې سولې او پخلاینې لاره خپله کړو. لکه څرنگه چې د انسان فطرت یوازې له فکر او شناخته نه دے جوړ شوے او یو ه برخه یې له احساساتو جوړه ده. احساسات او عواطف هم یوازې په مثبتو احساساتو پورې محدود نه دي انسان داسې مخلوق دے چې هم مثبت احساسات لري او هم منفي، لکه څرنگه چې د انسان په وجود کې خوشالي شته همداراز د هغه په ختہ کې غم هم شته خداي تعالی انسان داسې پنځولے چې هیڅ انسان بې له خوشالۍ او غمه ژوند نه شي کولے. لکه څرنگه چې خداي تعالی په انسان کې د خندیدو استعداد ایښے هغه ته یې د ژړا

---

١ . (زۀ ستا په دښمنانو باندې په لعنت سره خداي پاک ته ځان نږدې کوم) (زیارت عاشورا)

استعداد هم ورکړے دے. او لکه څرنګه چې په خپل ځاي کې خندا ښه ده. ژړل هم په خپل ځاي کې ښه دي. د انسان د فطرت د ځينو برخو بندول اوپرېښودل او د ځينو استعدادونو نه کارول معقول نه دي. پر دې اساس دا چې خداي تعالى په انسان کې د ژړا احساس او استعداد اېښے دا په دې دليل دے چې په ځينو مواردو کې دهغه ژړل هم ضروري دي. او دا استعداد د هغه په وجود کې چټي نه دے. نو هغه حکمت ته په پام سره چې دغه استعداد يې د انسان په وجود کې لري ويلے شو چې ژړا د انسان په ژوند کې خپل خاص ځاي لري چې په هغو کې ځينو مواردو ته اشاره کولے شو لکه دخداي له عذابه د ويرې لپاره ژړل يا دخداي ملاقات لپاره د شوق او مينې ژړا ، يا د داسې محبوب د وصال لپاره ژړا چې د انسان په تکامل کې ونډه لري. او يا د محبوب د تللو لپاره ژړا. نو دانسان طبيعت داسې دے چې په ځينو ځايونو کې يې زړه نرے کيږي او انسان ژاړي.

خداي تعالى د انسان په بدن کې محبت پيدا کړے دے چې له هغو کسانو سره چې له هغه سره ښه وکړي يا هغه کسانو سره چې کمال ولري که هغه بدني کمال وي که نفساني او عقلاني مينه څرګنده کړي کله چې انسان پوه شي چې په يو ځاي کې يو کمال يه د کمال خاوند موجود دے په فطري توګه له دغه کمال يا صاحب کمال سره مينه او محبت پيدا کوي. د محبت مقابل لورے بغض او کينه ده. لکه څرنګه چې انسان فطرتا له هغه کس سره چې له ده سره ښېګړه وکړي مينه کوي همداراز د انسان فطرت داسې دے چې کوم کسان هغه ته تاوان ورسوي له هغوي سره دشمني او بدي کوي. البته دمومن لپاره مادي او دنياوي ګټې او تاوانونه دومره اهميت نه لري

او دنیا د مومن له نظره ذاتي ارزښت نه لري. خو هغه معنوي تاوانونه چې د هغه ابدي ژوند ته رسیږي له هغو سترګې نه شي پټولے. قران مجید فرمایي:

إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمۡ عَدُوٌّ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا[1] (شیطان ستاسو دشمن دے تاسو هم ورسره دشمني وکړئ)

له دې امله شیطان سره دوستي نه شي کیدے که نه وي انسان پخپله شیطان جوړیږي که دخداي له ولیانو او دوستانو سره دوستي ښه چاره ده د خداي له دشمنانو سره دشمني هم بایده ده. دا یوه فطري چاره او د انسان د کمال اونیکمرغۍ سبب ده. که د خداي له دشمنانو سره د دشمنۍ خبره ونه شي ورو ورو له هغوي سره سلوک په دوستۍ بدلیږي انسان له هغوي سره په ناسته پاسته کې دهغوي له خبرو او کړو اثر اخلي خبرې یې مني او ورو ورو د هغوي په شان شیطان شي. د دې ادعا تر ټول ښه شاهد د خداي تعالی دا وینا ده چې فرمایي:

وَإِذَا رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦ[2] (کله مو چې ولیدل چې ځینې کسان د دین په هکله سپکې وایي او سپکاوے یې کوي (یعني په ژبې سره دین مسخره کوي) هغو ي ته مه نزدې کیږه (هر څومره یې که درته وویل غوږ مه اچوه) تر دې چې بله خبره رواخلي)

او په یو بل ځاي کې فرمایي:

---

۱ . فاطر ۲

۲ .انعام ۲۸

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا۟ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ[1] (او په رښتيا چې خداي په کتاب (قران) کې ستاسو لپاره نازله کړې چې هر ځاي مو واوريدل چې خداي د آيتونو انکار کيږي او روپوري خندا کيږي له هغوي سره مه کينئ تر دې چې بله خبره راواخلي)

بيا فرمايي که کوم کسان دغه نصيحت ته غوږ کې نه ږدي بايد پوه شي چې عاقبت به له هغوي سره يو ځاي شي

إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْكَٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا[2]

د هغو کسانو انجام چې په دين پورې له خندا کوونکو سره مينه کوي او هغوي ته ورين تندے لري، دا دے چې ورو ورو په انسان کې د مسخره کوونکو خبرې اثر کوي او کله چې اغيزه وکړي د انسان په زړه کې شک پيدا کيږي او په داسې حال کې د ايما ن غوره وهل منافقت دے. د مسلمانۍ اظهار په داسې حال کې چې په زړه کې ايمان نه وي عين نفاق دے او د قران په وينا کوم کسان چې له کافرانو سره د ناستې پاستې په وجه منافقان کيږي په اخرت کې به هم له هغوي سره دوزخ ته داخليږي

په بله ژبه له دشمنانو سره دشمني په يو ډول د خطرو په وړاندې چمتووالے پيدا کوي. د انسان مادي بدن داسې دے: لکه څنګه چې جذبوونکے عامل لري چې ګټه ور مواد جذبوي دفاعي سستم هم لري چې زهرجن مواد او ميکروب دفع کوي، هغه سستم چې له ميکروب

1. نساء ۱۴۰
2. نساء ۱۴۰

سره مبارزه کوي او له منځه يې وړي دا دنده په بدن کې سپين ګلوبولنه په غاړه لري که د بدن دفاعي سستم کمزورے شي ميکروبونه وده کوي. او د هغوي وده د انسان دبدن دناروغه کيدو سبب کيږي ناروغ انسان هم کيد ے شي مړ شي. له دې امله بدن طبعا له ميکروبونه سره سوله ايز سلوک نه شي لرلے او که نه وي بدن په خطرکې لويږي.

د خداي ځينې الهي حکمتونه دا دي چې د هر ژوندي مخلوق لپاره يې دوه سستمه جوړ کړي دي يو د جذب لپاره او بل د دفع او ليرې کولو لپاره لکه څرنګه چې د ضرورت د موادو جذبول د هر ژوندي ساري لپاره ضروري دي د زهرجنو او زيانمنو موادو دفع کول هم اړين دي. که بدن زهرونه دفع نه کړي انسان خپل ژوند جاري نه شي ساتلے

په کلي ډول ټول ژوندي مخلوقات دافعه قوه لري. په ژوندي ساري په تيره بيا په انسانانواو حيواناتو کې د دافعه قوې دنده دا ده چې زيانمن مواد له بدنه وباسي. د مثانې او پښتورګې په شان برخې دا مواد په عادي ډول له بدنه وباسي خو کله چې بهرني ميکروب په بدن يرغل وکړي. سپين ګلوبولونه فعال کيږي او له ميکروبونه سره په جنګ کيږي او هغه له منځه وړي. د انسان په روح کې هم دغه استعداد موجود دے رواني او معنوي جاذبه سبب کيږي چې هغه کسان چې د ده لپاره ګټه ور دي مينه وکړي. او ځان هغوي ته نزدي کړي. او له هغوي ادب کمال معرفت اوا خلاق زده کړي. دا جاذبه سبب کيږي چې نيک او غوره کارونه د انسان خوښ شي. او هغه له صالحو پاکو او هغو کسانو سره چې د ټولنې لپاره ګټه ور وي مينه

وکړي. په مقابل کې ضروري ده هغه کسان چې د ټولنې په برخلیک کې رول نه لري او ورته تاوان رسوي له هغوي سره منفي چلند ولري. خداي تعالی فرمايي:

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُواْ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ[1] (قطعا ستاسو لپاره د ابراهیم او هغو کسانو چې له هغه سره دي (په پیروۍ کې) ښه بیلګه ده.هغه وخت چې خپل قوم ته یې (چې بت پرست و) وویل مونږ له تاسو او له هغه څه چې تاسو یې عبادت کوئ ویزاره یو مونږ تاسو لیرې کوو او زمونږ او ستاسو تر منیځ تر ابده دشمني ده. مګر دا چې په یوازیني خداي ایمان راوړئ)

حضرت ابراهیم (ع) په اسلامي کلتور کې ډیر لوړ مقام لري او خداي تعالی پیغمبر اکرم (ص) ته امر کوي چې د ابراهیم د دین پیروي وکړي : ثُمَّ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا[2] اسلام هم هغه نوم دے چې حضرت ابراهیم (ع) په دې دین ایښے دے لکه څرنګه چې قران کریم فرمايي:هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ[3] د اسلام له دشمنانو سره زمونږ کینه او دشمني او له امریکا زمونږ ویزاري د حضرت ابراهیم (ع) په پیروۍ سره ده قران مونږ ته حکم کوي چې د

---

١. ممتحنه (٦٠)، ۴
٢. نحل (١٦)، ١٢٣
٣. حج (٢٢)، ٧٨

اسلام له دشمنانو خپله بيزاري او کينه په ښکاره بيان کړو. په هر ځاي کې مسکا نه ده پکار بلکه په ځينو ځايونو کې بايد تندے تريو وي. د دين فروعات لس دي. او د لمانځه روژې او حج په شان تولا او تبرا هم د فروعاتو برخه ده. چې مسلمان بايد د نورو فرايضو په شان دا هم وکړي. تولا او تبرا يعنې د خداي له دوستانو سره مينه او دخداي له دشمنانو سره دشمني که د خداي له دشمنانو سره دشمني نه وي د دوستانو دوستي هم له مينځه ځي لکه څرنګه چې که د بدن دفاعي سستم نه وي د بدن د جذبولو سستم هم خرابيږي هغه څه چې بايد اهميت ورته ورکړل شي.دا دي چې د جذب او دفع مقام سم وپيژندل شي. کله کله انسان ته چارې مشکوکې شي. او په داسې ځايونو کې چې بايد جذب وشي دفعې عمل تر سره کيږي مثلا د هغه کس په حق کې چې په غلطۍ او ناپوهۍ سره کومه خبره کړې او بيا پښيمانه شوے يا د شبهې له بيانيدو او حل کيدو وروسته په خپلې غلطې او تير وتنې پوه شوے دے په حق اعتراف کوي. بايد د داسې کس په معامله کې منفي او دفعي سلوک ونه لرو بايد يوازې د يوې ګناه په کولو سملاسي يو کس له ټولنې ونه شړو بلکه بايد له هغه سره په مهربانۍ او نرمۍ سره چلند وشي او د هغه د اصلاح هڅه وشي ځکه چې داسې کس د يو ناروغ په شان دے او بايد درملنه يې وشي داسې ځاي د دفعې او د دشمنۍ د ظاهرولو موقع نه ده. خو که څوک عمدا او علنا په ټولنه کې د ګناه دودول غواړي دا کار خيانت ګڼل کيږي او د هغه کس د باطني خباثت او پليتۍ ښودنه کوي. او له داسې کسانو سره سلوک بايد د هغه چا په شان نه وي چې په غلطۍ سره يې يوه ګناه کړې ده. لکه څرنګه چې خداي تعالی د اسلام د قسم

خوړلو او کینه ناکو دشمنانو په هکله فرمايي:وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَـٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ [1] (اي پیغمبره! یهود او نصاری هیڅکله له تا نه راضي کیږي مګر دا چې ته د هغوي دین ومنې.

او په یو بل ځاي کې فرمايي:وَلَا يَزَالُونَ يُقَـٰتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ ٱسْتَطَـٰعُوا۟ [2] ]تل له تا سره جنګیږي تر دې چې تاسو له خپل دینه واړول شي.

نو له داسې دشمنانو سره نه شو پخلا کیدے او دوستي ورسره نه شو کولے ځکه چې یوازینے څیز چې هغوي خوشالوي د دیني شخصیت مرګ او د اسلام زایلیدل دي.او حتیٰ د مسلمانانو د جسم او روح مړینه هغوي نه راضي کوي نو له داسې کسانو سره سم سلوک هماغه دشمني بغض او کینه ده.

په دې اساس ویلے شو چې د امام حسین (ع) د مراسمو درنښت او د ماتم او عزادارۍ کول په یو ډول د حسیني مشن او مرام ژوندي کول دي. چې له هغه په ډیر ښه ډول استفاده وشي. په دې مقام کې باید په دیني بحثونو بسنه ونه شي. ځکه چې د احساساتو پاروول هم ضروري چاره ده.عواطف او احساسات هم یوازې په مثبتو احساساتو پورې نه محدودیږي او د امام حسین د یاد او مظلومیت ژوندي ساتل یوازې د ولولې او جذبې له لارې او د احساساتو د پارولو او د ژړا او غم او دماتم د دستورو د لمانځلو له لارې ممکن دي په نتیجه کې په امام حسین (ع) او دهغه په یارانو د درود او

١ . بقره ١٢٠
٢ . بقره ٢١٧

سلام له استولو سره يو ځاي بايد د هغوي په دشمنانو هم چې د خداي او اسلام دشمنان دي بد او لعنت وويل شي. بلکه لعنت ويل تر درود او سلامه هم مخکې دي. ځکه چې قران اول فرمايي: أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ[1]، او بيا فرمايي:رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ[2] نو په دې اساس له ولايت سره يو ځاي تبراء او د اسلام له دشمنانو بيزاري او کرکه هم ضروري ده.

---

۱ . فتح ۲۹

۲ . هماغه

# دویم څپرکے

## د عاشورا د پاڅون د درنښت اهمیت

د کربلا پیښه که په تاریخ کې بې سارې نه وي کم سارې پیښه ضرور ده. لکه څرنګه چې له امامانو (ع) په تیر وخت او راتلونکي کې د دغه پیښې د بې ساري والي په هکله روایتونه هم راغلي دي.[1]

د شیعو له نظره ورتیر ټول مورخان او له تاریخه خبر کسان یو نظر لري چې د عاشورا پیښه د نړۍ په ډیر کم مثاله پیښو کې شامله ده. داسې حادثه چې هم د پیښیدو د کیفیت له اړخه هم د مصیبت د ستروالي له نظره او هم په یادونو کې دهغه د تل پاتې والي او دهغو اجتماعي اثارو له نظره چې لرل یې له بلې هیڅ پیښې سره د پرتلې وړ نه ده هر کال د امام حسین د ماتم تکرار کولے شي تر ټولو ښه خبرداروونکے او بیداروونکے عامل وي د هیڅ یوې پیښې لپاره د عاشورا د پیښې تر حده وخت او سرمایه نه ده لګیدلې او خلکو په یو مصیبت هم دومره نه دي ژړلي.

## د سید الشهداء (ع) لپاره د ویر اغیزې او پراختیا

په دې زمانه کې د امام حسین (ع) عزادارې یوازې په ایران پورې نه ده محدوده. بلکه د نړۍ په ډیرو لیرو سیمو کې هم د محرم او صفرې په میاشتو کې هغه شان دستورې چې په ایران کې دي تر سره کیږي په نیویارک ښار کې چې د لویدیځې نړۍ یو ډیر لوی ښار دے د پاکستان ایران عراق لبنان او ځینو نورو اسلامي هیوادونو شیعه د

---

۱ . ر، ک: ابن قولویه. کامل الزیارات، لومړے ټوک ۲۵، ۲۷ مخ

عاشورا په ورځ د سینه زنۍ دستې او جلوسونه جوړوي. په دې ډول چې دخلکو پام ځانته اړوي او د دغه ښار تر ټولو لوي سړک له خلکو ډکیږي او تګ راتګ پکې له ستونځې سره مخامخیږي.

پر شیعو سربیره په ډیرو سني میشته سیمو کې هم د عاشورا په ورځو کې داسې مراسم تر سره کیږي یا داچې هغوي د شیعو په دستورو کې برخه اخلي، په هندوستان کې ډیر سني مذهبه مسلمانان چې د مسلمانانو شمیر یې د ایران د نفوسو دوه چنده دے ـ او همدا راز د پاکستان او بنګله دیش مسلمانان د امام حسین (ع) په عزادارۍ کې برخه اخلي. هغوي په دې آیت: قُل لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِي ٱلۡقُرۡبَىٰ[1] له ذوي القربي او د پیغمبر (س) له اهلبیتو سره مینه په خپل ځان واجبه ګڼي او د پیغمبر د رسالت د اجر د ادا کولو لپاره د هغوي د لمسي امام حسین (ع) په عزادارۍ او د ویر په مراسمو کې ګډون په ځاي ضروري ګڼي.. له دې ورتیر هغه بت پالي چې په هند کې ژوند کوي اوپه اسلام هیڅ عقیده هم نه لري، د هغو برکتونو په وجه چې د سید الشهداء (س) له غزادارۍ یې لیدلي دي پخپله جدا مراسم جوړوي. او ډیر نذرونه او خیراتونه ورکوي.

په دې اساس ویلے شو چې په نړۍ کې هیڅ یوې پیښې په ولسونو دومره اغیزه نه ده لرلې دا پیښه د څوارلسو سوو کلونوله تیریدو سره سره هماغه شان تازه ده او دخلکو په عاشقانه سوز او مینې سره تر سره کیږي. ته وا د کربلا پیښه هم دا نن شوې ده. شاید

---

[1] . اي پیغمبره) ووایه زه د خپل رسالت په بدل کې له تاسو بې له دې بل څه نه غواړم چې زما له اهلبیتو سره مینه وکړئ . شورئ۲۳

یوازیني د ویر دستورې چې د مخینې او لرغونوالي له نظره یې د امام حسین له عزادارۍ سره پرتله کولے شو په پسرلي موسم کې. د حضرت عیسی علیه الصلوة والسلام په دار د ځړېدلو کلیزه ده. ځکه چې د مسیحیانو د عقیدې مطابق هغه حضرت په صلیب وځړول شو او ښخ کړے شو. حال داچې مونږ مسلمانان وایي چې حضرت عیسی نه دے صلیب شوے. ځکه چې قران فرمایي:وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِن شُبِّهَ لَهُمْ[1] هغوي عیسی ونه واژه او هغه یې په دار ونه ځړاوه بلکه په هغوي خبره مشتبه شوه

مسیحیان هر کال د دغه پیښې په کلیزه کې د ویر مراسم جوړوي په دغو مراسمو کې تورې جامې اغوندي او شمعې بلوي او مذهبي سرودونه په کراره وایي. خو د دغو مراسمو د دوه زره کلنې مخینې[2] سره سره دغه دستورې د امام حسین (ع) د ماتم له دستورو سره دپرتلې وړ نه دي. شیعو په تاریخ کې د امام حسین (ع) د ماتم او دهغه حضرت د زیارت لپاره ډیرې قربانۍ ورکړې دي. په تیرو ځینو پیرونو کې شیعو په اسانه د امام حسین (ع) زیارت نه شو کولے. دامویانو او عباسیانو په زمانه کې د هغه حضرت په زیارت کولو

---

۱. نساء (۴) ۱۵۷

۲. یو کال د حضرت عیسی د ویر د مراسمو په کلیزه کې په واتیکان کې وم هغه مراسم چې په سن پیټر کلیسا کې د پا پ په شتون سره جوړ شوي وو حاضر شوم. څرګنده ده په هغو مراسمو کې چې د پاپ په شان نړیوال شخصیت پکې وي او د نړۍ له لیرې سیمو پکې خلک د ګډون لپاره راغلي وي او په هغه کلیسا کې چې د نړۍ تر ټولو لویه کلیسا ده تر سره شي مراسم به یې ډیر پرتمین وي خو دغه ټول مراسم حتي زمونږ په یو عالم پسې د فاتحې تر مراسمو هم برم نه درلود. او په تهران یا قم کې د عزادارۍ له یو مجلس سره هم د پرتلې وړ نه وو.

ډیره سختي وه. له دې امله له امامانو څخه ډیر روایتونه راغلي دي چې د ویرې په حالاتو کې د امام حسین (ع) د زیارت د ډیر ثواب ښودنه کوي.[1] په تیره بیا د عباسي واکمن متوکل په زمانه کې دومره سختي وه چې چا زړه نه کولو د امام حسین (ع) زیارت ته نزدې شي. اخر د متوکل په حکم د امام حسین (ع) زیارت ړنګ کړے شو. دهغوي په زیارت او قبر یې اوبه ورپریښودې او ځمکه یې ورته واړوله چې د هغه حضرت د قبر اثار په بشپړه توګه له منځه یوسي. او د هغوي یاد له زړونو اوباسي.[2] خو شیعو د امام حسین(ع) د زیارت لپاره له هیڅ قربانۍ اوسر ښندنې ډډه ونه کړه. که د کربلا پیښه له ځینو اړخونو د تاریخ له نورو پیښو سره ورته والے لرلے شي له دې نظره بیخي د پرتلې وړ نه ده.

## د عاشورا د پاڅون د تل پاتې والي راز.

بې له شکه دعاشورا پیښه د مومنانو په زړونو بې پایه اغیزه لري. او دا اثر هیڅکله نه زړیږي او تودوالے یې نه سړیږي. او مینه یې تل د هغه حضرت د لیوالو په زړونو کې ژوندۍ ده. خو آیا د شیعو اهل سنتو او حتیٰ بت پالو دغه مینه اتفاقي ده؟ که څه هم خداي تعالی پخپله دمومنانو په زړونو کې دامام حسین(ع) مینه ایښې ده او همداراز د غیبي عواملو د رول انکار نه شو کولے او د هغه حضرت د عزادارۍ برکات په دې زمینه کې بې اغیزې نه دي. ویلے شو تر دغو اسبابو او لاملونو زیات مهم د معصومانو (ع) په تیره بیا د

1. ابن قولویه، کامل الزیارات، ج۱، ص ۱۳۵
2. ابو الفرج اصفهاني، مقاتل الطالبین. ۴۷۸ مخ.

خداي د ګران رسول (ص) سپاربښتني او وينا ګانې دي. چې هغو ستر شخصيتونو د امام حسين (ع) په عزادارۍ او د هغوي په مصيبت په ژړلو ډير ټينګار کړے دے.[1]

همدا راز د ايمه اطهار عملي سيرې په دې برخه کې ډير اغيز لرلے دے ګرانو امامانو هغه شاعران چې د امام حسين په غم او وير کې به يې شعرونه ويل هڅول او د امام حسين (ع) په مصيبت کې د شعر او نوحې ويلو ثواب به يې بيانوه.[2] دوي همدار راز هغو کسانو ته چې شعر يا ويرنه يې ويله ډير انعام ورکاوه. او دهغوي درنښت به يې کاوه د عزادارۍ په ورځو کې به يې په خپلو کورونوکې د وير دستو رې جوړولې او يو شاعر به يې باله چې خپل شعرونه د امام حسين په

---

۱ . منجمله دا چې امام باقر (ع) فرمايي امام حسين د خداي رسول ته ورغے پيغمبر هغه په غيږه کې ونيوه او امير المومنين (ع) ته يې وفرمايل دے ونيسه . بيا يې هغه ښکلاوه او ژړل يې امام حسين پوښتنه وکړه ګرانه پلاره ولې ژاړې . ؟ وې فرمايل اي زويه ستا په بدن کې د تورو د زخمونو ځايونه ښکلوم او ژاړم . امام حسين (ع) وپوښتل اي پلاره ايا زه بۀ ووژل شم ؟ وې فرمايل هو . په خداي قسم ته او ورور به دې ووژل شئ بيا امام حسين (ع) وپوښتل اي ګرانه پلاره ايا زمونږ قبرونه به خواره واره شي. وې ويل هو زويه، بيا هغه حضرت وپوښتل په دې وخت کې به ستا د امت کوم کسان زمونږ زيارت کوي . ؟ وې فرمايل ستا ستا د ورور او پلار د قبرونو زيارت به يوازې صديقان کوي (ابن قولويه، ۲۷، ۲۹ مخونه) ډول چې اوښکې يې په مخ روانې شي . خداي تعالیٰ دهغه لپاره په جنت کې يوه کوټه تياروي .چې هميشه پکې اوسي

۲ . لکه څرنګه چې امام صادق(ع) ابو هارون مکفوف ته چې د هغه حضرت په وړاندې يې دامام حسين مرثيه ويلې وه . وفرمايل اي ابا هارونه هر څوک چې د امام حسين (ع) په وير کې شعر ووايي پخپله وژاړي او لس کسه وژړوي د هغه لپاره جنت ليکل کيږي او هر څوک چې هغه په نزد د حسين يادونه وشي. او له سترګو يې د مچ د وزرو هومره اوښکه توي شي د هغه بدله په خداي ده. او [خداي تعالیٰ ] د هغه لپاره بې له جنته په بل څه نه راضي کيږي

ویر کې ووایي. په تنیجه کې ویلے شو چې د ګرانو امامانو (ع) ژبنۍ سپارښتنې او دهغوي عملي سیرت او همداراز د امام حسین (ع) د عزادارۍ لپاره د ثواب او اجر بیانولو او بالاخره هغه مینې چې خداي تعالی د مومنانو په زړه د امام حسین ایښې دا پیښه انسانانو په تاریخ کې بې سارې کړې ده.

په اخر کې دا شبهه په ذهن کې پیدا کیږي چې ولې د نورو امامانو د شهادت د تلینونو لپاره داسې دستورې نه جوړیږي حال دا چې د رسول الله مبارک (ص) اود حضرت علي (ع) شان تر ټولو معصومانو لوړ دے. او هغه مراسم چې د پیغمبر د رحلت او د امیر المومنین علي د شهادت لپاره تر سره کیږي د امام حسین له عزادارۍ سره د پرتلې وړ نه دي د امام حسین (ع) مصیبت څه ځانګړتیا لري چې دومره اهمیت یې پیدا کړے او دومره ورپاره سپارښتنه شوې ده. لکه څرنګه چې روایت شوے چې د حضرت ادم (ع) له زمانې ټولو پیغمبرانو اولیاوو او پرښتو د سید الشهداء لپاره ژړا کړې ده[1] رسول الله مبارک د امام حسین د سترتوب او عظمت په هکله فرمایي: اِنّ الحُسَیْن بْنَ عَلِي فِيْ السّماءِ اَکبَرُ مِنهُ فِي الاَرضْ فاِنّهُ لَمَکتوبٌ عَن یَمِینِ عَرْشِ اللهِ مِصباحُ هُدیٰ سَفینَةُ النَّجاة [2] حسین ابن علي په آسمان کې تر ځمکې زیات لوړ رتبه دے ځکه چې د خداي د عرش په ښي اړخ لیکل شوي دي چې حسین (ع) د هدایت څراغ او د نجات کشتۍ ده.

---

۱ . تیر سند ۲۷-۷۰ مخونه

۲ . محمد باقر مجلسي، بحارالانوار ۳۲ ټوک ۲۰۴ مخ ۴۰ باب ۸ روایت

او همدا راز فرمايي: اَلْحُسَيْنُ مِنّيْ وَ اَنَا مِنْ حُسين ١

البته ټول امامان د هدايت څراغ او د نجات کشتۍ دي٢ خو امام حسين ځانګړې خصوصيت لري او دا روايتونو په دوي کې ديو پټ راز ښودنه کوي.

بې له شکه د سيد الشهدا ء شخصيت او هغه حالت چې خداي تعالى د هغوي لپاره پيدا کړ د هغه حضرت ژوند او شهادت ته خاصه ځانګړتيا ورکړې ده. او دا برکتونه له دې امله دي. که نه وي ټول امامان يو نور دي او د شيعو د عقيدې په اساس که د امام حسين (ع) په ځاي بل امام وے هغه به هم همداسې کار کاوه. او که د هغوي په کړو کې کوم اختلاف ليدل کيږي د هغوي دوخت د ټولنيزو شرائطو له امله دے دا چې کله ويل کيږي

امام حسن (ع) له امام حسين (ع) په پرتله د سولې سمبل و په دې معنا نه ده چې هغو دواړو له اسلامه دوه مختلفې سليقې او اخستونونه لرل يعنې د سولې برداشت او زيږ برداشت. بلکه که امام حسين (ع) هم د امام حسن (ع) په شان له شرائطو سره مخامخ شوے وے د هغوي په شان کار به يې کاوه او که امام حسن (ع) د امام حسين (ع) په شان حالات لرلے همداسې سلو ک به يې کاوه. او نور امامان هم همداسې.د امامانو په کړو او سلوک کې فرق د هغوي د ټولنيزو شرايطو او د وخت د حالاتو له امله و. چې د دغه ډول رودې اقتضا يې کوله. نو په دې اساس ويلے شو د امام حسين (ع) د وخت

---

١ . همدغه سند . ۴۳ ټوک ٢٢١ مخ . ١٢ باب ١ روايت

٢ . په زيارت جامعه کې راغلي دي تاسو ټول د ژغورنې کشتۍ يئ هر څوک چې په تاسو پورې تمسک وکړي ژغورل کيږي او څوک چې له تاسو ليرې پاتې شي تباه کيږي .

خاص موقعیت چې هغه ته الهي تقدیر او خواست هم وایي دا زمینه برابره کړه چې هغه حضرت د بشریت په تاریخ کې د انسانانود لارښوونې رول ولوبوي. چې د نورو لپاره د داسې رول د لوبولو زمینه برابره نه شو ه. هر څه دلایزال خداي ارادې ته ګرځي اجتماعي شرایط هم د هغه په ارادې او جوړیږي دا دوه چارې د سکې دوه مخونه دي. که داسې ووایو چې خداي تعالی امام حسین (ع)ته داسې ځانګړتیا وبخښله او که داسې ووایو چې د هغه وخت د ژوند او ټولنې شرایطو داسې تقاضا کوله ځکه چې ټولنیز شرایط هم د خداي د ارادې تابع دي او دهغه د تقدیر مطابق تحقق مومي خو امام حسین (ع) څرنګه دغه مقام ته ورسید چې خلک د هغه د ویر په برکت د دنیا او اخرت نیکمرغۍ ته ورسیږي. البته باید پام ولرو چې د مومن لپاره دنیا د تکامل او د اخرت سعادت ته د رسیدو لپاره یوه وسیله ده. او اصلي ژوند هماغه د اخرت ژوند دے په دنیا کې ژوند د اخرت د ژوند په پرتله د مور په خیټه کې د سخړي (جنین) د ژوند په شان دے او حقیقي ژوند له مرګه وروسته پیل کیږي لکه څرنګه چې خداي تعالی فرمایي:

وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلْآخِرَةَ لَهِيَ ٱلْحَيَوَانُ[1] (حقیقي ژوند هماعه د قیامت ژوند دے) خو په هر حال د امام حسین په عزادارۍ کې هم د دنیا برکتونه پټ دي او هم د اخرت ثواب. د هغې په دنیاوي برکاتو کې هغه معجزې او کرامتونه شامل دي چې له عزاداریو حاصل شوي دي.۲

---

۱ . عنکبوت (۲۹) ، ۶۴

۲ . د آیت الله العظمی بروجرد ي د سترګو شفا په همدغو کراماتوکې شامله ده . دوي د سترګو په لاعلاجه ناروغۍ اخته وو تر دې چې د عاشورا په ورځو کې په بروجرد کې د

د امام حسین د ماتم یو برکت د عزادارانو د زړه نورانیت. د حاجتونو پوره کیدل او د مصیبتونو د بلاګانو غړیدل دي. البته په یاد ساتل پکار دي چې لکه څرنګه چې په دعا سره بلاګانې او مصیبتونه لیرې کیږي د امام حسین په عزادارۍ سره هم ډیرې بلاګانې لیرې کیږي. چې خلک یې له نازلیدو خبر نه دي. لکه څرنګه چې د دعا په وسیله د بلا له غړیدلو نه خبریږي.

## د امام حسین د پاڅون سپیڅلتیا او د هغه د تحریف نه منل

د تیرو خلکو تاریخي پیښې تل یو ډول ابهام او تحریف لري. او د پیغمبرانو او ولیانو د ژوند تاریخ هم له دغه قاعدې مستثنی نه دے کله چې دهغوي ژوند لولو. پوهیږو چې هغوي په خپل ژوند کې هم له ابهام سره مخامخ وو او دا ابهامونه د هغوي له وفاته وروسته د وخت په تیریدو سره زیات شول. د اسلام پیغمبر د نورو نبیانو په شان په ډیرو سپکو تورونو تورنیده مثلا ویل به یې دا کس لیونے شوے دے خبرې یې مه اورئ یا داچې دوي ته به یې د جادوګرۍ او ساحرۍ نسبت ورکاوه او ځوانانو ته به یې سپارښتنه کوله چې چې په خپلو غوږونو کې باتۍ کیږدي او چې د هغه اواز وانه وري. ویل به یې هغه په خبرو سره په دوي جادو کوي دهغه حضرت له وفاته

---

سینه زنۍ یوه دسته د دوي کور ته ورغله اروابناد ایت الله بروجردي لړه شان خاوره چې عزادارانو په مخونو او سرونو مږلې وه په خپلو سترګو ومو‌ږله د هغوي دسترګو ناروغي سملاسي ښه شوه . او د عمر تر پایه پورې یې هیڅ ناروغي ونه لیده . او بې له عینکو بهٔیې ډیر نري ټکي هم لوستل

وروسته يې هم په هغوي ډول ډول تومتونه او دروغ وتړل د خداي ګران رسول پخپله وړاندوينه کړې وه چې د دوی له وفاته وروسته به داسې کسان چې ځانونه دهغوي پيروان ګڼي په دوي پورې دروغ وتړي. دوي وفرمايل:

قَدْ كَثُرَتْ عَلَيّ الكذّابَه وَ سَتُكْثَرْ[1] (په ما دروغ تړل زيات شوي دي او ډير زر به له ما وروسته ډير کسان په دروغه زما له خولې حديثونه نقل کړي.)

بيا دوي له دروغجنو حديثونو د رښتيانيو حديثونو د معلومولو معيار او ملاک په ګوته کړ. وې فرمايل زما حديث له قران سره پرتله کړئ که د قران مخالف وي پوه شئ چې صحيح نه دے. له پيغمبر اکرم وروسته معصومو امامانو. د الهي علومو د کارپوهانو په توګه په ځلونو جعل حديثونه چاڼ کړل. د امام صادق په زمانه کې هم داسې شرائط پيدا شول. يو کس چې حديث به يې جعلاوه، ابو الخطاب و. او امام صادق د هغه جعلي حديثونه چاڼ کړل او صحيح حديثونه يې معرفي کړل[2]. دا کار د امام رضا (ع) په زمانه کې هم وشو. او هغه حضرت روايتونه تصحيح کړل. او عيون اخبار الرضا کتاب په همدې اساس ليکل شوے دے. په دې اساس ويلے شو. هغه حديثونه چې قطعا د خداي له رسوله نقل شوي دي. د هغه حديثونو په پرتله چې جعلي او ځان جوړ دي ډير نه دي. او شيعو او سنيانو په کتابونو کې ډير دروغجن حديثونه موجود دي.

---

۱ . محمد باقر مجلسي، بحار الانوار ۲ ټوک ۲۲۵مخ ۲۹ باب ۲ روايت

۲ . شيخ طوسي، اختيار معرفة الرجال په رجال کشي مشهور، د مير داماد په لمن ليک او تعليقه سره . مخ ۵۷۲

د تیرو پیښو او حقیقتونو د تحریف په زمینه کې د پیغمبر اکرم (ص) د سیرت ځینې مثالونه راوړلے شو. د پیغمبر اکرم د ځاي ناستې توب مسله د دې یوه بیلګه ده. هغه حضرت له هغې ورځې چې خپله بلنه یې ښکاره کړه. علي (ع) خپل ځاي ناستے وټاکه. د خداي رسول د قران د حکم په اساس: وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ [1] ټول ترونه تربوران او دخپل قوم خپل خپلوان

راوغوښتل او وې فرمایل هر چا چې تر ټولو مخکې په ما ایمان راوړ زما ځاي ناستے به وي. په دغه وخت کې بې له حضرت علي (ع) چې تر دولسو دیارلسو کلونو زیات عمر یې نه درلود ـ هغه حضرت ته مثبت ځواب ور نه کړ.

رسول الله مبارک په دغه غونډه کې هغه خپل وزیر او ځاي ناستے معرفي کړ. ځینې مشران او سپین ږیري چې په دغه محفل کې ناست وو، په ملنډو سره ابو طالب ته وویل: ډیر وخت بهٔ تیر نه شي چې ته باید دخپل زوي تابع شې[2]

پیغمبر اکرم (ع) په خپل ژوند کې په ځلونو او په مختلفو شکلونو د امام علي په ځاي ناستي والي ټینګار وکړ. د مثال په توګه د خداي رسول علي (ع) ته وفرمایل: اَنْتَ مِنّي بِمنزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسیٰ اِلا اَنّه لا نَبِيَ بَعْدِيْ[3] (ته زما لپاره داسې یې لکه هارون چې د موسیٰ لپاره و، په دې فرق سره چې له ما وروسته به پیغمبر نه وي.) بلاخره

---

۱. شعراء (۲۲)، ۲۱۴
۲. ابن ابي الحدید، شرح نهج البلاغه، تحقیق محمد ابوال فضل ابراهیم، ۱۳ ټوک ۲۱۱ مخ.
۳. ابن هشام، السیرة النبویه، څلورم ټوک ۵۲۰ مخ

د خداي رسول رسول (ص) له خپل وفاته اويا ورځې مخکې په غدير خم سيمه کې امر وکړ چې مسلمانان دې په سوزنده ګرمۍ کې غونډ شي، په دې وخت ځينې کسان حيران وو چې ولې پيغمبر د ماسپخين په ګرمۍ کې د دريدو حکم کړے دے. بيا يې حضرت علي (ع) د اوښانو په کجاوو وخيژاوه او خلکو ته يې دهغه د جانشينۍ اعلان وکړ. وې فرمايل:

مَنْ كُنتُ مَولاه فَهذا عَليٌ مَولاه[1]

په دې ډول دخداي رسول د خپل ژوند په وروستيو ورځو کې په رسمي او علني ډول علي خبل ځاي ناستے وټاکه. حال داچې د غدير له پيښې د اويا روځو له تيريدو وروسته کله چې دخداي رسول وفات شو هماغه مسلمانان چې په غدير خم کې موجود وو په سقيفه بني ساعده کې راغونډ شول چې د خداي د رسول لپاره ځاي ناستے او خليفه وټاکي. ځينو وويل بايد د رسول ځاي ناستے له مهاجرينو وي ځينې وويل له انصارو دې وي. ځينو نورو وويل دوه خليفه ګان به وټاکو. يو له مهاجرو او بل له انصارو، منا امير و منکم امير. خو په غدير خم کې دخداي درسول د وينا هيڅ يادونه ونه شوه. چې پيغمبر هلته دحضرت علي (ع) په هکله څه فرمايلي وو. په دې اساس هم د پيغمبر خبرې اوهم يې سيرت او کړه تحريف شول. حتیٰ د هغه حضرت (ص) ځينو ميرمنو هم په هغوي تومتونه لګول، او د تحريم سوره په دې خبره دلالت کوي[2] د تيرو پيښو په تحريفاتو کې يو هم د امير المومنين (ع) د شخصيت تحريف دے. عدالت او عبادت د امام

---

۱. ر.ک: تاج الدين محمد به محمد بن حيدر شعيري، جامع الاخبار، ۱۰، ۱۱ مخونه .

۲ . ابن واضخ،تاريخ يعقوبي، ۲ ټوک ۷ مخ

علي (ع) دوه لوړ صفتونه دي. او کله چې د حضرت علي (ع) نوم ذکر شي دا دوه صفتونه ذهن ته راځي امام علي به په پټې کې د کار په وخت هم نافله لمونځونه کول هغوي به په شواروز کې له پنځوو سوو تر يو زرو رکعتونو پورې لمونځونه کول ټولو هغه په دې صفت پيژانده. سره له دې د شام په خلکو کې داسې پروپاګنډه شوې وه چې کله په جومات کې د امام علي د شهيديدو خبر ورسيد د شام خلکو وويل ايا علي لمونځ هم کاوه؟

همدا راز نور معصوم امامان او د دين مخکښان په هر يو په يو ډول تورونه ولګيدل. حتیٰ له همدې قرانه چې په ټول مخلوق تر ټولو لوي حچت دے او له هغه ورځې چې حضرت ادم (ع) پنځول شوے په ځمکې کې د انسان د ژوند تر پايه پورې تر دې زيات روښانونکے او د هدايت کتاب بل نيشته. پرله پسې غلط تفسيرونه وشول. ټولې اسلامي فرقې په هغو اختلافونو سره چې په مذهبونو کې يې لري په يو ډول ځانته له قرانه دليل راوړي. هم ديوې مسلې د ثابتولو او هم د نفي کولو لپاره او له قرانه په يو ډول مبهمه استفاده کوي. دا چې ولې قران په دې ډول دے چې له هغه مختلف تفسيرونه وړاندې کيدے شي. جدا مسله ده او مفصلو جاجونو او شننو ته اړتيا لري. خو قطعا ويلے شو چې په دغو مسايلو کې عمدا هم ځينې کارونه شوې او ځينې کسان عمدا غواړي قران د خپلې رايې مطابق تفسير کړي. د شخصيتونو ترورونه تومتونه او په الهي حجتونو تورونه له دغو معنوي تحريفونو څخه دي.

تر ټولو روښان حجت د خداي کتاب دے چې دا ابهامونه يې په تفسير کې موجود دي تر ټولو افضل پيغمبر حضرت محمد (ع) او تر

ټولو افضل وصي اميرالمومنين (ع) د ے. چې د هغوي په هکله په هغه زمانه کې داسې ابهامات رامنځته شول. د رسول الله مبارک له وفاته پنځه ويشت کاله وروسته لومړي کسان چې له امير المومنين سر يې بيعت وکړ. هماغه د پيغمبر نژدي اصحاب او د امام علي (ع) ځيني خپلوان او د قوم کسان وو. منجمله زبير چې د پيغمبر او علي د ترور زوے و.خو د بيعت له تيريدو څو ورځې وروسته يې علي د عثمان قاتل وباله او د عثمان د خون خواهي په پلمه له هغه سره وجنگيدل.

هغوي ډير خلک د عثمان د وژل کيدو په هکله بې لارې کړل او داسې يې مشهوره کړه چې عثمان د علي په لاس وژل شوے د ے. او ځانونه يې د هغه خون خواه وبلل. او د جمل جنگ يې جوړ کړ. همداراز نن د اهل سنتو په کتابونو او منابعو کې د موجودو معلوماتو په اساس د پيغمبر شخصيت او سيرت د شکونو او ابهام په شپول کې د ے. په دې کې يو اختلاف د هغه حضرت د وضو يا اودس کولو د طريقې په هکله دے د خداي رسول (س) د خپل رسالت په درې ويشتو کلونو کې له خلکو سره يو ځاي و او هغوي تل په خپلو سترگو د هغوي کړه او سيرت په خپلو سترگو ليدلے و سره له دې ايا ممکنه ده چې هغوي په درې ويشتو کلونو کې نه وي ليدلي چې پيغمبر څرنگه وضو کولو.؟ ايا ممکنه ده دا مسله د خلکو لپاره پټه پاتې شي.؟ لږ تر لږه لس کاله په مدينه کې مهاجرو او انصارو ليدلي وو چې پيغمبر څرنگه اودس کوي. حتیٰ ډير وختونه په داسې کيدل چې مسلمانانو به د خداي د رسول د وضو د

اوبه لوښے د تبرک لپاره له ځان سره وړه[1]. خو د پیغمبر له رحلته څه موده وروسته دا مسله مطرح شوه چې د اودس په وخت باید لاسونه څرنګه ومینځل شي. که څه هم خلکو غوښتل چې په پیغمبر پسې اقتدا وکړي. او د دوي په سیرت عمل وکاندي. خو شیطاني عوامل موجود وو چې هڅه یې کوله د پیغمبر په سیرت کې ابهام او شک پیدا کړي.

په تیرو حوادثوکې او د انبیاوو او اولیاوو په کړو او ویناو کې هغه څه چې تحریف او بدلو ن پکې نه شي راتللے او هغه غلط نه شو تفسیرولے د سید الشهداء (ع) پاڅون د ے. هغه پاڅون چې د دین د دودولو او تبلیغ لپاره وشو. او په هغه کې امام حسین او یاران یې حتیٰ شپږ میاشتنے زوے یې شهیدان شول. هیڅوک تر اوسه نه دي توانیدلي. د تاریخي مطلب تحریف کړي. که څه هم د کربلا د پیښې د ځینو جزییاتو په هکله ـ لکه د عمر سعد د سپایانو د شمیر په هکله ـ اختلاف موجود د ے ځینې اختلافونه شته خود کربلا په پیښه کې داسې چارې شته چې تحریفید ے نه شي. یوه خبره پکې پخپله د کربلا پیښه ده. او بله دا چې امام حسین د دین د ژوندي کولو لپاره پاڅون وکړ. او په دې لاره کې پخپله او یاران یې شهیدان شول. او کورنۍ یې په بند کې لاړه. له دې امله د کربلا په پیښه کې د پیښې انکار نه شو کولے. او نه یې هم هدف بل څه بللے شو. ځکه چې مقام او منصب ته د رسیدو لپاره تر دې ډیرې اسانې لاره موجودې وې کوم کس چې مقام او منصب غواړي کله یې چې سره ته خطر پیښ شي. د سولې د لارې لټه کوي او په هرې طریقې هڅه کوي خپل

[1] . ر.ک: ابن هشام، السیرة النبویه، دریم ټوک ۳۱۴ مخ

سر وژغوري. حال داچې هم د عاشورا په شپه او هم د عاشور په ورځ امام حسین ته وړاندیز وشو چې له یزید سره بیعت وکړي چې په امان کې پاتې شي. خو دوي ونه منله او وې فرمايل هَيهاتَ مِنّاالذِلةُ[1] حتیٰ د عمر سعد په سپايانو کې داسې کسان وو چې د عاشورا تر ورځې يې هيله لرله چې خبره په سولې سره هواره شي. لکه څرنګه چې د حر د توبې په مسله کې دا خبره ښۀ څرګنده ده.

له دې ورتيرلاندينيو مواردو ته په پام سره امام حسين پوهيده چې وبه وژل شي.

الف: له پيغمبر اکرمه (ص) ډير حديثونه راغلي وو چې امام حسين به شهيد يږي، او د رسول الله مبارک اصحابو او ملګرو دغه حديثونه اوريدلي وو. په دې ډول چې حتیٰ هغه حضرت خپل قاتل پيژنده.[2]

ب: امام حسين د غيبي الهام او د امامت د علم له لارې له خپل شهادت ته خبر و، لکه څرنګه يې چې فرمايلي دي:

كاَنِي بِاوْصالي يَتَقَطّعَهَا عَسلان الفلوات بَيْنَ النّواويسَ وَ كَربَلا[3] (ته وا زه وينم چې د نواويس او کربلا ترمينځ د صحرا ليوان زما يو يو جوړ جدا کوي)

همدا راز په دې هکله ربنتيني خوبونه وليدل شول. د امام قافله د ماسپښين په وخت پ ثعلبيه سيمه کې کوزه شوه. امام سپک شان خوب يو ړ کله چې ويښ شو خپل زوي علي اکبر ته يې وويل (اي زويه دا هغه شيبې دي چې خوب پکې دروغ نه وي يو څو شيبې

---

۱. محمد باقر مجلسي، بحار الانوار ۴۵ ټوک. ۸۳ مخ ، ۳۷ باب لسم روايت
۲ . رک خوارزمي، مقتل الحسين، ۲۳۱، ۲۴۷ مخونه
۳. محمد باقر مجلسي، بحا ر الانوار، ۴۴ ټوک ۳۷ باب ۲روايت

خوب یوړم یو کس مې ولید چې په اس سپور و ماته یې وویل اي حسین، مرګ له تاسره روان دے او تا د جنت په لور بیایي نو پوه شوم چې وبه وژل شم[1]

سره له دې امام حسین خپله کورنۍ او خپلوان له ځان سره بوتلل او په دې ډول هیڅکله نه شو ویلے چې د امام دا کار هم مال او مقام ته د رسیدلو لپاره و. که څه هم ممکنه ده د ځینو ناصبیانو په شان یو شمیر کسان چې ځانونو ته مسلمانان وایي د امام عمل غلط وګڼي، خو دا مني چې امام حسین دا کار د دین د ژوندي کولو لپاره وکړ.

د عاشورا پیښې نه انکاریدونکې اغیزې منجمله د انسانانو لارښوونه او هغوي ته د فداکارۍ درس ورکړ. او په ټولو مسلمانانو یې غاړې خلاصې کړي دي چې که د دوي په زمانه کې دامام حسین د زمانې په شان حالات پیدا شول باید د امام لاره غوره کړو.

خو په هر حال د امام حسین د پاڅون هدف او ټولنې ته په حرکت ورکولو کې د هغه اغیز په هیڅ توګه نه شي تحریف کیدے. او د هغوي په هدف کې د دنیا پرستۍ او ریاست غوښتنې تصور نه شي کیدے. له دې امله هر څوک چې دغه پیښې ته پام وکړي په زړه کې یې دهدایت رڼا ځلیږي او ضمیر یې بیداریږي د هغه مذهبي احساسات غوړیږي او په زړه کې یې مسوولیت احساس پیدا کیږي.

د امام حسین او دهغه د کورنې او ملګرو شهادت او سر ښیندنه د اسلام د سپیڅلي دین په وړاندې د مسوولیت او حساسیت د پیدا کیدو سبب کیږي ځکه چې هغه حضرت د هدایت څراغ دے: اِنّ

---

۱ خوارزمي، مقتل الحسین،لومړۍ برخه ۳۲۴ مخ ۱۱

الحُسين مِصْباحُ الهُدى وَ سفينة النجاة [1] دا څراغ د قيامت تر ورځې روښانه دے او د هدايت او ژغورنې لاره ښيي. مسلمانان او په تيره بيا شيعه له هماغو اولو ورځو د کربلا د پيښې ژوند ساتلو ته اهميت ورکړے، منجمله دا حرکت د توابينو په خوځښت کې او د هغه حضرت د قبر په خوا کې د هغوي په مصيبت په ژړلو او د امام حسين د خون خواهۍ او غچ اخستلو لپاره د هغوي په ميړانه کې لټولے شو.[2] همداراز هغه سپيڅلتيا چې د کربلا خاورې وموندله او د پيغمبر د کورنۍ مينه والو له هغې د خپلو لاعلاجه دردونو او ناروغيو لپاره استفاده کوله. له بل پلوه دخداي خوښه دا وه چې دامام حسين نوم او ياد د انسانانو د لارښوونې په توګه تل ژوندے پاتې شي. له دې امله ميرځمنانو چې هر څومره هڅه وکړه چې هغه حضرت ياد له زړونو وباسي. خو هيڅ يې ونه کړے شول دا سپيره کوششونه د هجرت له لومړيو پيړيو تر ننه روان دي. د بيلګې په توګه د رضا شاه پاچا په زمانه کې د امام حسين په ماتم پابندي وه. وينا والو اجازه نه لرله چې د ملايانو جامې (عبا قبا) واغوندي له کوره د مرثيو او ويرنو د غږ په راتللو پابندي وه. او د امام حسين په نامه يې دهيڅ مجلس اجازه نه ورکوله.

اوس پوښتنه دا ده چې د سيد الشهداء (ع) نوم د پهلوي د حکومت لپاره څه خطر درلود. ولې يې دهغه حضرت د ياد له ژوندي

---

۱ . محمد باقر مجلسي، بحار الانوار، ۹۴ ټوک ۱۴۸ مخ ۳۵ باب لومړے روايت.

۲ . رک: ابن اثير، الکامل في التاريخ، څلورم ټوک، ۱۵۸ _ ۱۸۲ مخونه

کیدو سره دومره دشمني لرله[1] ولې نن هم په منظم پروګرام سره دامام حسین له نوم سره دشمني او حساسیت لري.؟ دا مخالفان چې ځانونه دیني روڼ اندي ګڼې په حقیقت کې نه له دینه کومه برخه او پوهه لري او نه له روشن فکری. هغوي تېنګار کوي چې د امام حسین شهادت یوه عامه پیښه یا د پیغمبر (ص) د تاو تریخوالي غبرګون و. پیغمبر په بدر غزا کې له بني امیه وو سره زیږ چلند وکړ. بني امیه هم په کربلا کې د جنګ اور بل کړ. او د پیغمبر لمسے او ملګري یې ورووژل. او دا دهغه تاوتریخوالي نتیجه وه[2] البته په جنګ بدر کې، یو شمیر مسلمانان هم ووژل شول خو د کفارو وژله ډیره وه او خداي تعالی مسلمانان کامیاب کړل. وایي له دې امله چې په جنګ بدر کې پیغمبر له بني امیه وو سره تریخ چلند وکړ د بني امیه وو اولاد هم د پیغمبر له زوزات سره دغه سلوک وکړ. دا یوه طبیعي چاره او له بني امیه وو سره د پیغمبر د چلند رد عمل و د دغو روڼ اندو په باور د کربلا له عاشورا د عبرت درس دا دے چې د هیچا په وړاندې باید زیږ او تاو تریخجن عمل ونه شي چې د متقابل تاوتریخوالي سبب نه شي. د دغو کسانو په نظر، جهاد، دفاع امر بالمعروف او نهي از منکر باید ختم کړے شي.، چې څوک

---

۱. زه په هغه وخت کې ځلور پنځه کلن وم او یاد مې دي چې د شپې مهال به یې دماتم لوستونکے او ذاکر رابله. هغه په شحصي جامو او کوټ پینټ کې راتله. د کور په انګڼ کې به ي جامې بدلې کړې او عمامه به یې په سر کړه. او د کور تل خونې ته به کوز شو. او هلته به یې په لوړ اواز ماتم لوسته. چې داسې نه وي په کوځې کې د دولت ماموران د ماتم غږ واوري او هغه تعقیب کړي

۲. رک: اکبر ګنچې، (خون بۀ خون شستن آمد محال)، صبح امروز ۳۲، ۲، ۱۳۷۸ شپږم مخ

له چا سره غرض ونه لري. او په قران کې دخداي تعالی دا حکم بې ځایه دے چې فرمایي:

قَٰتِلُوهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ بِأَيۡدِيكُمۡ وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٖ مُّؤۡمِنِينَ [1] (له مشرکانو سره وجنګیږئ چې خداي هغوي ستاسو په لاس عذاب کړي او سپک یې کړي. او تاسو په هغوي بریالي کړي چې دمومنانو زړونه ښاد شي)

دوي د بدر په غزا کې د پیغمبر کړچار غلط ګڼي ځکه چې نتیجه یې په کربلا کې د پیغمبر د لمسي وژله وه. خو یزید او یزیدیان سپین بازان ګڼي ځکه چې دهغوي کار طبیعي غبرګون و. د اسلام دغه ډول استنباط ته (ماډرن اسلام) او (له اسلامه نوے قرائت او استنباط) ویل کیږي! دا اخستون هغه فکر دے چې د معصومو ځوانانو او زلمیانو تر مینځ دودوي. چې هغوي له دې وروسته امام حسین دا ډول وپیژني. دا دشمنۍ له دې امله دي چې امام حسین د هدایت څراغ او د انسانانود ګمراهۍ او بې لارې مخنیونکے دے. او د دین په ملاتړ او مرسته کې د خلکو دنده روښانوي. د امام په سیرت کې د لټۍ او تسامح په پلمه له غیرته لاس نه اخستل کیږي. امام حسین وفرمایل هَيْهاتَ مِنّا الذِلَةُ او له دې امله ونه توانیدل هغه په مال او دولت سره وغولوي. د امام حسین منونکي او یاران هم د هغوي په پله پل ږدي.

---

[1] توبه (۹) ۱۴

# دریم څپرکی

## د عاشورا د پاڅون تاریخي مخینه

د عاشورا پیښه د عمیزې د ژورتیا او د مصیبت د پراختیا له نظره او د هغې نورو اړخونو ته په پام سره په تاریخ کې کم سارې بلکه بې سارې ده.البته ددې مطلب دا نه دے چې هر څه په مقاتلو (د مصایبو په کتابونو) کې لیکلي دي او هر څه چې مرثیه لوستونکي وایي صحیح دي. بلکه کیدے شي ډیر یې باوري اسناد ونه لري سره له دې په دې پیښه کې قطعي مسایل شته چې که یوازې همدغو مسایلو ته پام وکړو روښانه به شي چې د امام حسین له کورنۍ او هغه سره څه ډول له انصافه او عدالته لیرې او ظالمانه او غیر انساني سلوک شوے دے او حتیٰ د عربو له دود دستوره لیرې عمل شوے دے ځکه چې عربان په نورو ولسونو او قامونو کې په ځینو ځانګړتیاوو مشهور دي او په ځان ویاړي چې دغه لوړ صفتونه پکې دي. میلمه پالنه په دوي کې یو صفت دے چې له پخوا راهسې پرې عربان مشهور دي. هغوي اوس هم تر یو ه حده داسې دي. البته نور ډیر خلک هم چې د قبیلو په ډول ژوند کوي میلمه پال دي خو دا صفت له پخوا راهسې په عربو کې مشهور دے که یو کس به عربو کره ورغے او څه به یې ونه خوړل یا ونه څښل دا به له هغه سره د جنګ په معنا و. او میلمه پالنه یې دومره ضروري ګڼله چېکه څوک به ورکره ورغلل نو یو څه به یې ضرور خوړل [1]

---

۱ . ر.ک : حسین الحاج حسین، حضار العرب في عصر الجاهلیه، ۸۹ او ۹۰مخ

سره د دغو ټولو کوفيانو په ډېر ټينګار سره ځينې کسان خپل وطن ته وبلل خو په کربلا کې هغوي حتیٰ د شپږو مياشتو ماشوم ته يو ګوټ اوبهٔ ورنه کړې داسې ميلمه پالنه او ظلم په تاريخ کې په کوم ځاي کې ليدل شوے دے خو دا لويه پيښه او دا حيرانوونکې خبرې څنګه پيښې شوې؟ ايا کوموکسانو چې امام حسين او دهغه ملګري شهيدان کړل مسلمانان نه وو او له بهره اسلامي ټاټوبي ته راغلي وو.؟ ايا کومو کسانو چې د پيغمبر له لمسي سره داسې کار وکړ. کافران يهوديان يانصارا يا مشرکان وو؟

دغو پو ښتنو ته د تاريخ ځواب منفي دے سره له دې چې قران فرمايي: لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلۡيَهُودَ[1] خو هيڅ تاريخي سند نه وايي چې دحسين قاتلان يهوديان وو. هم دا راز تر ننه چا نه دي ويلي چې له حسين سره جنګيدونکي کسان نصارا وو. لکه څرنګه چې په يقين سره ويلے شو چې د حسين او د ملګرو قاتلان يې زرتشتی يا مشرکان نه وو. بلکه مسلمانان او يوازې د کوفې مسلمانان وو. چې د کربلا غميزه يې وپنځوله.[2]

په دې ډول دا پوښتنه پيدا کيږي چې څرنګه مسلمانانو په خپله داسې عمل وکړ. او د ومره لوي جنايت او عميزه يې وپنځوله؟

ددې پوښتنې د ځواب د پيدا کولو لپاره د اسلام د لومړيو وختونو يعنې د پيغمبر د بعثت له وخته تر د خلفاوو تر دورې او امام حسين تر شهادته پورې د حالاتو لنډه شان شننه جايزه واخلو.

۱. مسلما يهوديان به د مومنانو تر ټولو لوي دښمنان ومومي . مايده، (۵) ۸۲
۲. مسعودي مروج الذهب، ۳ ټوک ۷۳ مخ

## د پیغمبر په اصحابو کې د منافقانو نفوذ

د پیغمبر اکرم(ص) په زمانه کې په مسلمانانو کې داسې کسان وو چې اسلام یې له زړه نه مانه. او په ځینو دلیلونو او په نه زړه مسلمانان شوي وو. او یوازې د مسلمانۍ تظاهر به یې کاوه. قران په دې هکله ډیر آیتونه لري. او حتیٰ د د منافقون په نامه یو ه سوره هم نازله شوې ده. خداي تعالی په مختلفو آیتونو کې د منافقانو د حالاتو په هکله خبرې کړې دي. منجمله دا چې هغوي په ربنتیا ایمان نه دے راوړے هغوي دروغجن دي. لمونځ په سستۍ او پرکالۍ سره کوي ریا کار دي. د خداي ذکر کم کوي. لاندیني آیتونه په دغو صفتونو دلالت کوي.

إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ قَالُواْ نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ لَكَـٰذِبُونَ[1] (کله چې منافقان ته راغلل وې ویل: مونږ ګواهي ورکوو چې ته دخداي رسول یې خداي پوهیږي چې ته دهغه رسول یې او خداي شهادت ورکوي چې منافقان دروغ وایي.

وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا[2] (کله چې لمانځه ته ودریږي په سستۍ سره لمونځ کوي او خداي نه یادوي مګر کم.)

ډیر شواهد موجود دي چې قران هغه کسان چې ایمان یې کمزورے و او ایمان یې د نصاب حد ته نه رسیده د منافقانو په ډله کې ګڼلي دي په دوي کې ډیر کسان پر دې سربیره چې حقیقي ایمان

1. منافقون (۲۳)، ۱
۲. نساء (۴)، ۱۴۲

يې نه درلود له پيغمبر سره يې حسد هم کاوه. لکه څرنګه چې قران فرمايي.

**أَمْ يَحْسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ**[1] (هغوي له هغه څه سره چې خداي تعالی په خپل فضل خلکو ته روکړي حسد کوي)

د تاريخي شواهدو او مدارکو په اساس د قريشو ځينو خلکو کله به يې چې د پيغمبر نوم په اذان کې اوريده خپه کيدل به منجمله هغه وخت چې کله پيغمبر مکه فتح کړه. او حکم يې ورکړ چې بلال دې اذان ووای. يو قريش په بانګ کې د پيغمبر د نوم په اوريدلو سره خپه شو. او وې ويل زما پلار بختور و چې خداي واخسته او دا اواز يې وانه اوريد.[2]

د قريشو دوه تپې تربورونه حسابيدې دوي به د پيغمبر په هکله هم ويل: دا مونږ تر بور دے: يتيم ماشوم و په بيوزله کورنۍ کې لوي شو نن دې حد ته رسيدلے دے چې د خداي د نوم تر څنګ د هغه نو م اخستل کيږي. دوي به په دې حالت خپه کيدل.[3] په دوي کې ځينې

---

۱ . نساء (۴) ۵۴

۲. ابن هشام، السيرۃ النبويه، څلورم ټوک ۴۱۳ مخ

۳. ځينې سرچينې وايي چې دا خبره ابو سفيان وکړه. ر ک : قطب الدين راوندي . قصص الانبياء ۲۹۴ مخ .

د دې مطلب په شان يو مطلب د معاويه په هکله هم نقل شوے دے ابن ابي الحديد وايي احمد بن طاهر په اخبار الملوک کتاب کې ليکلي دي . معاويه واوريدل چې موذن بآنګ وايي کله يې چې وويل اَشْهَدُ اَنْ لا اله الا الله و اَشْهَدُ اَنّ محمد رسول الله. معاويه په خندا سره وويل اي د عبد الله زويه خداي دې پلار وبخښه خومره لوړ همت دې درلود او د ځان لپاره دې بل څه خوښ نه کړل مګر دا چې ستا نوم د نړيوالو د رب د نامې په څنګ کې راشي . (شرح نهج البلاغه، لسم ټوک ۱۰۱ مخ)

کسان دپیغمبر له وفاته وروسته په کابو پنځه ویشتو کلونوکې په اسلامي ټولنه کې منصبونو ته ورسیدل. په دوي کې ځینې داسې کسان وو چې د مکې له فتحې وروسته مسلمانان شول دوې د مکې ترفتحې پورې کابو شل کاله د پیغمبر په مقابل کې ولاړ وو. خو اخر خداي تعالی خپل پیغمبر په دوي بریالے کړ. او رسول الله مبارک له ټولو دشمنیو او کینو سره سره چې له دوي سره وشوې. د هغوي په سر د محبت سر راکاږه او هغوي ته یې طلقاء یعني ازاد شوي وبلل حضرت زینب بي بي هم د عاشورا له پیښې وروسته د بني امیه وو د قدرت په اوج کې د دې خبرې یادونه وکړه او بني امیه یې (طلقاء) وبلل.[1] د بني امیه وو خباثت ذاتي و. دوي دومره ناپاکه وو چې په وجود کې یې د نورانیت هیڅ نښه نه لیدل کیده. په هغه

همدا راز زبیر بن بکار د مطرف بن مغیره په وینا دا کیسه بیان کړې ده. مغیره بن شعبهٔ د معاویه یو والي و. د هغه زوي مطرف نقل کړي دي چې یو کال له خپل پلار سره شام ته لاړم او یوه موده هلته وو. هره ورځ به مې پلار معاویه ته ورتله او دهغه د چالاکۍ او هوښیارۍ خبرې به یې کولې تر دې چې یوه ورځ د معاویه له ځایه له ستنیدو وروسته یې ډوډۍ ونه وخوړه. او وې ویل تر ټولو د خبیث او کافر سړي له ځایه راغلم و مې ویل پلاره دا څه وایې؟ وې ویل نن مې معاویه ته وویل اې امیر المومنین کوم هدف چې دې درلود هغه ته ورسیدې او ګمان کوم چې نور نو بني هاشم ستا لپاره څه مشکل جوړ نه کړي. غوره ده چې له هغوي سره نیکي وکړې چې اجر او ثواب لا سته راوړې او نیکه نامه دې پاتې شي. په دې وخت کې معاویه وویل هیهات. هیهات. څرنګه د نیک نوم د پاتې کیدو هیله ولرم حال دا چې ابو بکر راغے حکومت یې وکړ او لاړ. نوم یې هم له هغه سره لاړ د عمر نوم هم د هغه په تللو سره لاړ. خو هره ورځ پنځه ورځې د ابن کبشه (هغه لقب چې مشرکانو پیغمبر ته ورکړے و) نوم اخستل کیږي او وایي: اشهد ان محمد رسول الله. زه بې له دې چې دغه نوم په خاورو کې ښخ کړم بل څه هدف نه لرم (اخبار الموفیات، تحقیق ډاکټر سامي مکي العاني، ۵۷۷مخ)

۱. سید ابن طاووس، اللهوف في قتلی الطفوف ۱۸۲ مخ

وخت کې د دغه ډلې مشهور او څرګند شخصیت ابو سفیان و. د دغه ډلې خباثت تر دې حده و چې د عاشورا په زیارت کې په ټولو بني امیه وو لعنت شوی دی: اللهم العن بني امیه قاطعه. البته ممکنه ده ګوته په شمیر کسان لکه (عمر بن عبدالعزیز) په دغه ډله کې استثنا وي خو په ټول کې هغوي بد فطرته کسان وو. په روایتونو کې راغلي دي چې په قران کې د الشجرة الملعونه نه مطلب بني امیه دي. دا ډله هماغه د پیغمبر د بلنې له پیله له هغه حضرت سره مخالفت پیل کړ.
بني امیه او بني هاشم د قریشو او عبد مناف دوه تپې وې چې له اسلامه مخکې یې هم له یو بل سره کورني اختلافات لرل. خو له هغه وخته چې پیغمبر اکر م (ص) له بني هاشمو مبعوث شو. له بني هاشمو سره د بني امیه وو دشمني زیاته شوه. او بني امیه وو تر کومه یې چې له وسه وه. مسلمانان او پیغمبر په مکه کې وځوراوه. له دې وروسته چې مسلمانانو مدینې ته هجرت وکړ او حکومت یې جوړ کړ وتوانیدل خپل ځینې حقوق له بني امیه وو او نورو مشرکانو بیرته واخلي کله چې د ابوسفیان په مشرۍ د قریشو تجارتي کاروان د شام په لور روان و. مسلمانانو د خپلو ځینو مالونو د ستنولو لپاره په دغه کاروان برید وکړ چې دغه ماجرا د جنګ بدر سبب شوه. له دې پیښې وروسته د مکې تر فتحې پورې د مسلمانانو او د مکې د قریشو تر مینځ جنګ روان و خو کله چې مسلمانانو مکه فتحه کړه او ابوسفیان او ملګري یې مغلوب شول رسول الله مبارک د هغه کور پناه ځاي وګرځاوه او وې فرمایل هر څوک چې د ابو سفیان کور ته پناه یوسي په امان کې دی. دوي په دې کار سره هڅه وکړه چې د هغوي زړونه مسلمانانو ته نزدې او د هغوي د فساد او ورانکارۍ

مخه ونیسي له همدې امله ابو سفیان او دغه ډول کسانو ته چې هغه ورځ یې پناه وموندله طلقاء یعنې د پیغمبر (ص) لخوا ازاد شوي ویل کیږي. خو سره له دې چې بني امیه د اسلام په پناه کې راغلل. او په ظاهره مسلمانان شول خو هیڅ کله یې له بني هاشمو او له رسول الله مبارک سره شخصي دشمني کمه نه شوه. او هیڅکله حقیقي ایمان د هغوي زړونو ته لاره ونه موندله هغوي که څه هم په ظاهره د خپلو مصالحو او ګټو د ساتلو لپاره اسلام قبول کړ لمونځ به یې کاوه او د مسلمانانو په غونډه کې به یې ګډون کاوه خو هیڅکله یې له زړه ایمان نه درلود.

اخر د خداي رسول رحلت وکړ لا دهغوي جنازه نه وه ښخه شوې چې ځینې مسلمانان په ځینو دلایلو په سقیفه کې غونډ شول او ابوبکر یې د پیغمبر ځاي ناستے وټاکه. او له هغه سره یې بیعت وکړ. له دې امله چې ابوبکر د قریشو له پیاوړې تپې نه و د قبیله ایزو تعصباتو په وجه د قریشو ډیرو پیاوړو تپو دا خبره نه شوه زغملاي. په دې منځ کې ابو سفیان چې له اسلام او مسلمانانو سره یې د زړه کینه لرله فرصت غنیمت وباله اود پیغمبر تر حضرت عباس (ع) ته ورغے او وې ویل:(ولې ناست یې چې مونږ بني عبد مناف یې څنګ ته کړو. علي چې پیغمبر خپل خلیفه ټاکلے و لیرې کړ او د تیم د قبیلې یو کس د پیغمبر ځاي ناستے شو. دا څه مصیبت دے) بیا یې وویل (اي د عبد مناف بچیانو! خپل حق واخلئ): اِنّي لااریٰ عِجاجة لا یَطْفَئُهَا اِلّا الدم،: زه داسې توپان وینم چې بې له وینې یې بل څه نه شي ختمولے[1] بیا له حضرت عباس سره امیر المومنین علي (ع) ته

۱. محمد باقر مجلسي، بحار الانوار ۲۸ ټوک ۳۲۸ مخ

ورغلل او وې ویل مونږ له ابو بکر سره بیعت نه کوو. او تیار یو چې له تا سره بیعت وکړو. امیر المومنین وفرمایل اې خلکو، د فتنې څپې د ژغورنې په کشتیو سره څیرې کړئ او له دغه فخر خرڅولو ځانونه وساتئ. [که زه نن د خلافت د اخستلو لپاره کوم اقدام وکړه] د هغه چا په شان ده چې شنه میوه وشوکوي. او دا کار داسې دے لکه د بل چا په پټي کې کرونده کول که خبره وکړم ما تورنوي چې په مقام او منصب پسې یم. او که غلے کښینم وایي چې علي له مرګه ویریږي هیهات چې دا خبره (په سختو جنګونو کې له عربو پهلوانانو سره زما له جنګیدو وروسته) سمه نه ده. په خداي قسم د بوطالب بچي له مرګ سره تردې زیاته مینه لري څومره چې یې یو ماشوم د مور له تي سره لري. بلکه زه د راتلونکي داسې اسرار او رازونه لرم چې که تاسو ته یې ښکاره کړم د هغه رسۍ په شان چې په ژور کوهي کې پریښودل شي او په خپله لاره کې په اضطراب سره دکوهي له دیوالونو سره ولګیږي تاسو به هم پریشانه شئ [او د هغه د اوریدو زغم بۀ ونه لرئ] [1]

په دې ډول د هغوي ویاړ دا و چې له قریشو او دمکې له لویو کسانو دي او په دغو خبرو به یې په یو بل لویې خرڅوله او له دې امله یې نه منله چې د تیم په شان یوه قبیله په هغوي حکومت وکړي. امام علي هم د اسلام د ګټو په ساتنه په ټینګار سره هغوي ارامښت

---

١. ایها الناس شقوا امواج الفتن بسفن النجاة و عرجوا عن طریق المنافره و ضعوا تیجان المفاخره .... مجتنی الثمره لغیر وقت ایناعها کالزارع بغیر ارضه فان اقل یقولوا حرص علی الملک و ان اسکت یقولوا جزع من الموت . هیهات بعد اللتیا والتي والله لابن ابي طالب آنس بالموت من الطفل بثدی امه بل اندمجت علی مکنون علم لو بحت به لاضطربتم اضطراب الارشیه في الطوی البعیدة (ابن ابي الحدید، شرح نهج البلاغه، ١ ټوک ٢١٣ مخ)

ته بلل او له تفرقې او اختلافه يې منعې کول. حضرت امير المومنين (ع) همدا راز ابو سفيان ښه پيژنده او پوهيده چې که فرصت په لاس ورشي د بدر د وژل شويو کسانو غچ له مسلمانانو اخلي.

ابو سفيان د ابوبکر او عمر د خلافت په وخت تل د دې فرصت په کمين کې و چې حکومت لاس ته راوړي. کله به يې لانجې جوړولې او کله به له ابوبکر او عمر سره ښکيليده. او له هغوي سره به يې لفظي جنګ کاوه. تر دې چې په ځينو ځايونو کې به ښکنځلو او تندو خبرو ته خبره رسيده[1] خو سره د دغو ټولو يې فرصت پيدا نه کړ هغه اخر فيصله وکړه چې له حجازه ليرې سيمې ته لاړ شي او د اسلام په نامه د حکومت او تشکيلاتو د جوړولو لپاره زمنيه برابره کړي. له همدې امله يې دوهم خليفه قانع کړ چې معاويه د والي په توګه شام ته وليږي. شايد دوه خليفه هم د بني اميه وو له سازشونو تنګ شوے و او په نتيجه کې له مرکزه د هغوي د ليرې کولو لپاره يې د شام حکومت معاويه ته ورکړ. دې چارې ابو سفيان د اسلامي هيواد په راتلونکې کې نفوذ ته هيله من کړ.

کله چې دوهم خليفه له دنيا لاړ خلک له مخکې د جوړ شوي پلان مطابق چې بني اميه هم پکې شريک وو. له عثمان سره بيعت وکړ. له دې کيسې وروسته ابو سفيان يو ځل بيا هيله من شو چې قدرت ته به ورسيږي، ځکه چې عثمان له بني اميه وو د هغه له نزدې خپلوانو و. د خلافت لپاره د عثمان په انتخاب سره ابو سفيان خپل خپلوان او نزدي کسان د عثمان په کور کې راغونډ کړل.او هغوي ته يې وويل. (اي د بني اميه بچيانو حکومت د پولو د لوبې د (د غونډسکې) په

---

1. مسعودي، مروج الذهب ۲ ټوک ۳۱۴ مخ

شان له یو بله واخلئ په هغه چا قسم چې ابو سفیان پرې قسم خوري نه عذا ب شته او نه څه حساب کتاب نه جنت شته او نه دوزخ نه بیا راپاڅول شته او نه قیامت!

هغه په دغه ډول قسم سره چې د خداي په کعبې یې قسم ونه خوړه دوزخ او جنت نفي کوي او په ډاګه وایي چې زمونږ جنګ د حکومت او مشرۍ په سر دے تر اوسه بني هاشمو حکومت کاوه اوس زمونږ لمبر دے. نن چې حکومت د بني امیه وو لاس ته ورغلے باید په ټول طاقت سره یې وساتي او حکومت باید په وراثتي ډول په دې کورنۍ کې پاتي شي.

خو ساده مسلمانان په دې حقیقت نه پوهیدل.[1] هغوي چې شمیر یې هم کم نه و نه پوهیدل چې ابوسفیان ایمان نه لري. د هغه زوے معاویه هم دپلار په شان و. او په ځینو ځایونو کې یې خپله عقیده ښکاره کړې وه. لکه څرنګه چې زبیر بن بکار نقل کړې ده. یوه شپه مغیره له معاویه سره و چې د اذان غږ راغے. معاویه د پیغمبر په رسالت په شهادت دومره خپه شو چې وې ویل: وګوره محمد څه کړي دي چې خپل نوم یې د خداي د نوم په څنګ کې راوستے دے. د معاویه زوي یزید هم د نشې په حال کې هغه څه چې په زړه کې یې لرل په ژبه راوړل:

لَعِبَتْ هَاشِمُ بِالْمُلکِ فَلا خَبَرً جَاءَ وَلا وحيً نَزَلْ [2]

---

۱. یا بني امیه تلقفوها تلقف الکره فو الذي یحلف به ابو سفیان ما من عذاب ولاحساب ولا جنة ولا نار ولا بعث ولا قیامة) (ابن ابي الحدید، شرح نهج البلاغه ۹ ټوک ۵۳ مخ)

۲. علي ابن عیسی اربلي، کشف الغمه ۲ ټوک، ۲۱ مخ

(بني هاشمو له حکومت سره لوبې وکړې که نه وي نه وحي نازله شوې او نه له اسمانه کوم خبر راغلے دے)

## د خلفاوو په زمانه کې د امام علي (ع) تر ټولو لوي هدف

د رسول الله مبارک له وفاته وروسته ځینو کسانو فیصله وکړه چې ځانونه د هغه حضرت ځاي ناستي معرفي کړي. او دا په مسلمانانو کې د ډیر لوي انحراف پیلامه وه. امیر المومنین په اوله مرحله کې له دوي سره بحث او خبرې وکړې او هڅه یې وکړه چې په استدلال سره هغوي هدایت کړي. هغه حضرت کابو شپږ میاشتې د د خلکو لپاره د خلافت د مسلې د روښانولو او د ټولنې د انحراف د سمولو هڅه وکړه. امام خلکو ته یادونه وکړه چې د خداي لخوا او د پیغمبر په لاس د ځاي ناستي له ټاکل کیدو وروسته د خلکو لخوا دخلیفه ټاکل غلط کار دے. هغه په ځلونو وفرمایل زه د پیغمبر ځاي ناستے یم او باید اسلامي ټولنه هدایت کړم[1] امام به د شپې په وخت بي فاطمه او حسنین (ع) د اصحابو کورنو ته بوتلل چې هغوي ته د پیغمبر د سپارښتنو یادونه وکړي. خو په دوي کې به ځینو ویل: مونږ ته دغه خبره نه ده یاده. ډیرو به لا دا ویل چې که له دې مخکې دې مونږ ته یاداوري کړې وه مونږ به له بل چا سره بیعت نه کاوه،خو اوس مو بیعت کړے دے.

اخر له شپږو میاشتو وروسته امام علي مجبوره شو د اسلامي مصلحت په وجه په ظاهره له خلیفه سره بیعت وکړي او حکومت یې په رسمیت وپیژانده. او که هغه حضرت دا کار نه وے کړے په

---

۱ . نهج البلاغه دریمه خطبه

اسلامي ټولنه کې به فتنه او خونريزي جوړه شوې وه. نو د اسلامي امت د مصلحت تقاضا وه چې هغه حضرت صبر او چوپتيا غوره کړي. او له دې امله چې د عملي چلند امکان نه و له شرعي نظره د دوي غاړه خلاصه وه.

له دريم خليفه وروسته خلک راغونډ شول او له امير المومنين (ع) سره يې بيعت وکړ. اما م وفرمايل: لو لا حضور الحاضر وقيام الحجة بوجود الناصر لالقيت حبلها علي غاربها[1] که دغه ګڼ خلک نه واي حاضر شوے او د ډيرو مرستندويو په راتګ سره راباندې حجت نه وے تمام شوے نو و خلافت د اوښ جلب به مې د هغه په ملا وراچولاي و. په داسې حال کې چې خلک زما د حکومت منلو ته تيار دي او د ملګرو په شتون سره پر ما حجت تمام د ے او دنده زما په غاړه راپريوتې ده نور نو د ځنډ ځاي نه دے پاتې پر دې اساس امير المومنين (ع) پر هغه مشروعيت سر بيره چې دخداي له لوري يې درلود د خلکو په تيارۍ سره يې د عمل قدرت هم پيدا کړ.

په هر حال په دغه موده کې په تيره بيا د اول او دوهم خليفه په زمانه کې امام علي هڅه وکړه چې په ټولنه کې اسلامي حقايق او احکام او معارف خپاره کړي هغه د ابن عباس په شان شاګردان وروزل چې په بحث او لارښوونې سره به يې خليفه ګان خپلو غلطيو ته متوجې کول د امير المومنين (ع) په هکله د رسول الله مبارک فرمايشاتو ته په پام سره ټولنيز حالات هم داسې بدل شوي وو چې ډير صحابه له خلفاوو سره له بيعته پښيمانه شوي وو. که څه هم هغوي له بيعته غړيدل سم نه ګڼل او له زړه يې له امير المومنين سره

1. ابن ابي الحديد، شرح نهج البلاغه ۲ ټوک ۲۰۲ مخ

مینه لرله. پر دې ورزیات دخلفاوو پرله پسې غلطۍ دوي مجبورول چې د اسلامي معارفو او احکامو په زمینه کې د امیر المومنین خبره ومني. لکه څرنګه چې اهل سنتو محدثانو نقل کړې ده دوهم خلیفه تر اویا ځله زیات وویل چې «لو لا علي لهلک عمر، که علي نه وے عمر به هلاک شوے و». [1]

یا لا ابقاني الله لمعضلة لیس لها ابو الحسن، که یوه ورځ علي نه وي خداي دې ما په هغه ورځ ژوندے ونه ساتي. داسې نه وي چې کوم مشکله پیدا شي او زه یې حل لاره ونه مومم.[2]

خلیفه ګانو د اسلامي معارفو په هکله د حضرت علي (ع) رایه او علم مانه. او دا په هغه زمانه کې د اسلام او معارفو د ساتلو تر ټولو ښۀ لاره وه. که څه هم په ځینو ځایونو کې به له هغوي غلطۍ هم کیدې په هر حال هغه خطر چې اسلام او اسلامي ټولنه یې ګواښله د خداي له لوري د ټاکل شوي ولي امر په لاس د حکومت د چلولو د مسلې اصل و.

دغه حالت د عثمان دخلافت تر وخته روان و. د هغه له وخته عملي انحرافات زیات شول او له عثمان سره دخلکو د بیعت په اوله ورځ ابوسفیان بني امیه دهغه په کور کې راغونډ کړل او په بني امیه وو کې د قدرت او[3] حکومت د پاتې کیدو په هکله یې له هغوي سره خبرې وکړې.

---

۱ . تیر سند ۱ ټوک ۱۸ مخ

۲ . هماغه

۳. هماغه

۱. له دغه کیسې وروسته هغه واکمنان چې د مختلفو ښارونو لپاره وټاکل شول زیاتره له بني امیه وو یا د هغوي له دوستانو او پلویانو وو. په بني امیه وو کې دا تفکر واکمن شو چې ټول هغه څه چې د دین په هکله ویل شوي وو دروغ وو او یوازې د حکومت مسله مطرح وه. او بني هاشمو یوازې د حکومت د لاسته راوړولو لپاره د دین خبره رامنځته کړې ده. او هغه یې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره یوه وسیله ګرځولې ده.

هغه مقامات او چارواکي چې د عثمان په حکومت کې ټاکل کیدل د پاچاهانو په شان سلوک به یې کاوه. او ځانونه یې (مالک الرقاب) او د خلکو د اختیار خاوندان ګڼل. هغوي په خپله سیمه کې ټوله مال اوشته د ځان بلل او په خپله خوښه یې استعمالوه. له بیت الماله یې ډیر شته او دولت غونډ کړل او د خلکو حقوق یې ضایع کړل. په بیوزلو او کمزورو یې ظلم او زیاتے وکړ تر دې چې خلک تنګ شول او کلک هوډ یې وکړ. چې خلیفه لیرې کړي. او د زیاتو ظلمونو په وجه چې په اسلامي صوبو کې د عثمان ګوډاګیانو په هغوي وکړل د عثمان د لیرې کولو لپاره یې ملا وتړله.

په داسې حالاتو کې که حضرت علي د عثمان د وژلو لپاره ګام پورته کړے وے یو غلط دود به جوړ شوے و. او خلک به په اهل بیتو (ع) بد بینه شوي وو او ګمان به یې کاوه چې دا اختلافونه د دنیا په سر دي ډ له دې امله دوي نه یوازې د عثمان د قتل لپاره څه اقدام ونه کړ بلکه د هغه مخه یې ونیوله. خو د دوي هڅې ګټه ونه کړه. او هغه مسلمانان چې غوسه شوي وو عثمان یې وواژه د عثمان له وژلې وروسته ټول خلک د علي په علي راغونډ شول او دوي ته

يې وويل چې بايد د عثمان جانشين شي. حضرت امير المومنين کله چې د خلافت مسووليت ومانه وې فرمايل: زه دا مسووليت په دې شرط منم چې د پيغمبر اکرم (ص) په شان او د خداي او رسول د سنتو مطابق عمل وکړم.

ډيرو کسانو د بيعت په وخت ويل مونږ په دې شرط ستا بيعت کوو چې ته هم د تير خليفه ګانو په شان چلند وکړې. خو حضرت علي وفرمايل: زه داسې بيعت نه منم له ماسره بيعت بايد په دې اساس وي چې دخداي د کتاب او سنتو مطابق عمل وکړم.[1]

اخر خلکو د حضرت علي د وينا په اساس د دوي بيعت وکړ. خو په اسلامي ټولنه کې داسې کسان وو چې له دغه بيعته نه وو راضي په هغوي کې د ځينو کسانو لکه بني اميه وو او په سر کې يې د معاويه مخالفت د حقيقي ايمان د نه لرلو په وجه و. ځينې نور کسان هم که څه هم لمونځونه يې کول او روژې يې نيولې او حتیٰ له پيغمبر سره يې په غزاګانو کې برخه اخستې وه خو ايمان يې کمزورے او له دنياسره يې مينه دومره زياته وه چې د اسلام په احکامو يې عمل نه کاوه. او د امام حسين د وينا مطابق د دنيا بندګان وو. او دين يې هسې په خولې جاري و.[2] دا کسان تر هغه وخته چې دين او دنيداري يې له دنيا سره ټکر ونه وخوري دين داره دي، خو که دين يې دنيا ته تاوان رسوي نو د دين پلوي توب نه کوي. او که څه هم په ظاهره مسلمانان دي او د اسلام د احکامو تابع خو په عمل کې خپلې ګټې په دين مخکې کوي. د پيغمبر ځينې اصحاب لکه طلحه او زبير چې

---

١ ابن واضح، تاريخ يعقوبي ، ٢ ټوک ۵۵ مخ
٢ محمد باقر مجلسي، بحار الانوار، ۴۴ ټوک، ٣٨٢ مخ

له لويو شخصيتونو او د خلافت کانديدان وو او تر نورو مخکې يې له علي سره بيعت وکړ، تر نورو مخکې يې له علي سره بيعت مات کړ او جمل جنګ يې جوړ کړ. له هغوي وروسته معاويه صفين او خوارجو نهروان جنګونه جوړ کړل.

د خپل خلافت په دوران کې د امير المومنين کړچار له خلافته مخکې د هغه حضرت له کړچار سره ډير فرق درلود. هغه له خلافته مخکې د قدرت په مسند کې نه و چې له دشمنانانو سره مبارزه وکړي، خو له بيعته وروسته حضرت علي د اسلام له دشمنانانو او هغو ټولو کسانو سره چې د اسلامي حکومت په خلاف پاڅيدلي وو مبارزه وکړه. هغه حضرت اول د جمل له جګړه مارو او وروسته د صفين او بيا د نهروان له جګړه مارو سره وجنګيد.

په دې اساس له مخالفانواو هغو کسانو سره چې اسلام يې ګواښه د مبارزې يوه مرحله جنګ دے. خو په دې بڼه چې شرايط يې برابر وي. مثلا دا چې دخداي تعالى له لوري مشروعيت وعمومي او همداراز خلکو منلاي وي او د هغه ملاتړ وکړي. که دا شرايط برابر وي د واکمن دنده ده چې حتیٰ د تورې په وسيله د اسلام ملاتړ وکړي. له ځرنګه چې دامير المومنين دخلافت زياتره وخت په دغه ډول جنګونو کې تير شو.

## د بني اميه وو فرصت غوښتنه

د بني اميه وو له نظره سيالانو د سلطنت ګدی له هغوي اخستې وه. او دوي يې له ميدانه ويستلي وو. بني اميه چې د ميدان بايللي وو. په ځان لازمه ګڼله چې يو ورځ د دغه ماتې بدله واخلي. ځينو نورو

داسې فکر کاوه. هغوي تر ابو سفيان او د هغه تر کورنۍ زيات چالاک وو او هڅه يې کوله چې د خپلو پښو پل پرې نه ږدي. په دوي کې ځينې کسان په ټولنه کې لوړو مقاماتو ته هم ورسيدل. معصومو امامانو دهغوي په هکله فرمايلي دي: لم يؤمنوا بالله طرفة عين[1] (دوي حتیٰ يوه شيبه هم په خداي ايمان نه و راوړے. خو يو عمر يې خلک د ايمان په تظاهر سره غولول. که څه هم د داسې کسانو چې دومره لويې دسيسې او سازشونه جوړوي او په مناسب وخت کې يې اجرا کوي شمير کم دے. خو دغه شيطانان د ټولو فتنو سرچينه دي. ځينې نور کسان بيا غوليږي او د هغوي د لاس اله ګرځي او په دې هيله چې د دوي د قدرت په سيوري کې يو څه لاس ته راوړي. د هغوي ملاتړ کوي. کله چې قدرت او پانګه د دغه اولې ډلې په لاس کې راشي، د نورو دغولولو لپاره مناسبه زمينه لاس ته راوړي. لکه څرنګه چې ابو سفيان هم د عربو شتمن ګڼل کيده. په داسې حالاتو کې که څه هم ځينې ساده خلک بې له اجر او بدلې د هغوي خدمت کاوه د بني اميه وو پلويان د مال او مقام په تمه د هغوي د اوامرو تابع وو. هغه وخت چې د بني اميه وو مالي حالت ښه و دغو کسانو د سرو زرو د سکو په تمه د هغو ملاتړ کاوه او کله چې بني اميه قدرت ته ورسيد د پوستې او مال په تمه د هغوي تابع شول. حتیٰ هغه وخت چې بني اميه لا قدرت ته نه وو رسيدلي ځينې د مقام او پوستې د لاسته راوړول په شرط د دوي ملاتړ کاوه او له يو بل سره يې تړونونه کول چې هر وخت مقام او حکومت ته ورسيږي د يو بل خيال به ساتي. سره له دې د بني اميه وو ډير پيروان ساده خلک وو. چې په

[1] ضيا، الدين عراقي، نهاية الافکار ۳ ټوک ۱۹۳ مخ

مختصرو تبلیغاتو او ګوابښ یا تمې سره یې بې له څه بدلې د هغوي لپاره کار کاوه.

په دې اساس اوله ډله ګوته په شمیر کسان لکه ابو سفیان مغیره، او ابو عبیده جراح وو چې د فتنې جوړوونکي او متفکران ګڼل کیدل.ځینې نور کسان بیا د قبیله ایزو تړونونو او خپلویو په وجه او یا د مال او مقام په تمه په ولې ډلې پسې روان وو. او دریمه ډله چې اکثریت وو،یوازې د ساده والي په وجه په دغه بهیر پسې روان شول. له دې امله ویلاي شو چې له خپلې اصلي لارې د اسلام د غړیدو تر ټولو لوي عامل د عامو خلکو ساده والے دے. د شام د خلکو د ساده والي په هکله ډیرې کیسې په تاریخ کې نقل شوي دي. د صفین له جنګه وروسته د معاویه عسکرو د امیر المومنین د یو ملګري اوښ تروړلے و. او هغه د خپل او د بیرته اخستلو لپاره معاویه ته ورغے. معاویه له هغه وغوښتل چې دخپلې ادعا د ثابتولو لپاره شاهد راوړي. خو هیڅوا هغه په شام کې نه پیژنده نو خپله ادعا یې ثابته نه کړے شوه. له بل پلوه هغه کس چې د ده اوښ یې غصب کړے و دوه شاهدان راوړل چې د هغه په ګټه یې شهادت ورکړ او وې ویل: چې دا اوښه د پلانکي سړي ده. معاویه هم د هغو شاهدانود شهادت په اساس حکم وکړ چې اوښه د دغه شامي کس ده. د اوښ اصلي مالک اعتراض وکړ او وې ویل زما اوښ نر دے، اوښه نه ده. دغو دوو کسانو څرنګه شهادت ورکړ چې اوښه دشامي کس ده. او تا هم د هغه په حق کې فیصله وکړه.؟ معاویه په ځواب کې وویل لاړ شه علي ته ووایه چې معاویه یو لک عسکر لري چې اوښ او اوښه نه پیژني. او زه له دغه ډول عسکرو سره د علي جنګ ته روان یم.

## معاویه په شام کې

له دې وروسته چې امیر المومنین حکومت ته ورسیږي، دوهم خلیفه معاویه والي او ګورنر ټاکلے و. د عثمان په زمانه کې د معاویه خلافت پوره تایید او کلک شو. او له دې امله چې د دریم خلیفه خپل و زیات اختیارات یې لاسته راوړل. شام له مدینې لیرې و او د ختیځ روم د دولت په حدود و کې ګډ کیده. له دې امله هغوي زیاتره له رومیانو سره په تماس کې وو. چې تازه تازه یې اسلام منلے و[1]. د شام جغرافیایي موقعیت او واکمني په دا ډول نه وه چې د هغه ځاي اوسیدونکي په صحیح او کامل ډول له اسلامي معارفو خبر شي. معاویه هم نه غوښتل چې هغوي دې له اسلامه پوره خبر شي. هغه د خپل حکومت او سلطنت په فکر کې و او له دې سره یې غرض نه و چې خلک دین او ایمان ولري یا یې ونه لري. لکه څرنګه چې له امام حسن سره د سولې له تړونه وروسته یې په کوفي جومات کې په ښکاره په دې خبره اعتراف وکړ.[2] اخر وروسته له دې چې خلکو په علي سره بیعت وکړ معاویه په دې پلمه چې علي (ع) د عثمان قاتل دے بلوا وکړه او اول یې د طلحه او زبیر په شان کسان چې پخپله د عثمان په وژله کې شریک وو او عایشه یې - چې خلک یې د عثمان قتل ته بلګل[3] - ولمسوله چې د عثمان د قتل په پلمه له حضرت علي (ع) سره وجنګیږي بیا هغه په خپله هم په دې پلمه د جنګ بیرغ پورته

١ . مسعودي، مروج الذهب ۳ ټوک ۴۱ ،۴۲ مخونه

۲ . ابوالفرج اصفهاني، مقاتل الطالبین، ۴۵ مخ، شیخ مفید ، الارشاد ۱۹۱ مخ . ابوالفرج په دې هکله وایي : معاویه داخطبه کوفې ته له ننوتلو مخکې ورکړه

۳ . شیخ مفید ، الجمل، د شیخ مفید کانګرس، قم، ۱۴۱۳ ه ق ۴۲۹ .

کړ. دا په داسې حال کې وه چې حضرت علي د عثمان په قتل کې هيڅ لاس نه درلود. او حتیٰ د عثمان د کلابندۍ په وخت حضرت حسن او حسين (ع) د امام علي په امر هغه ته اوبهٔ رسولې. د دې په اپوټه معاويه چې د عثمان د وژل کيدو مخه يې نيولاي شوه هيڅ اقدام يې ونه کړ ځکه چې پوهيده د عثمان په وژلې سره به د خلافت لمبر هغه ته ورسيږي. معاويه يوه موده له حضرت علي سره په جنګ کې تيره کړه او د عمرو عاص او ځينو نوروخپلوانو دوستانو او له اسلامه مخکې د قريشو د لويو کسانو په چلولونو او دوکو سره وتوانيد د خوارجو په مرسته صفين جنګ د امام علي په تاوان پاي ته ورسوي. په هغه جنګ کې يې د حکميت مسله مطرح کړه او دا چاره سبب شوه چې معاويه وتوانيږي ځان د خليفه په توګه مطرح کړي. او اخر هم امير المومنين د خوارجو په لاس شهيد شو. د امام علي له شهادته وروسته امام حسن تر يوې مودې له معاويه سره جنګ جاري وساته خو د معاويه نيرنګونه چلولونه اوسازشونه او هغه سستي او د ايمان کمزوري چې دامام حسن په ملګرو کې پيدا شوې وه امام حسن مجبوره شو. چې سوله ومني. ځکه چې دامام علي د وخت اوږدو جنګونو خلک ستړي کړي وو. او له دوي يې د کاميابۍ هيله اخستې وه. ډير کوماندانان هم چې د دغه وضعې تر اغيز لاندې معاويه ته ګروهمن شوي وو په ډيرو وعدو لالچونو او زياتو پيسو سره له هغه سره يو ځاي شول. په دې طريقه امام حسن له داسې کسانو سره مخامخ و چې په هيڅ ډول د هغه ملاتړ ته تيار نه وو. له دغه وخته وروسته معاويه په خپلې کورنۍ کې د حکومت د مزبوتولو لپاره ډيرې ماهرانه نقشې او پلانونه جوړ کړل.

معاویه اخر دې نتیجې ته ورسید چې باید له موجودو زمینو د خپل حکومت او او د سلطنت دپراختیا په ګټه استفاده وکړي. که څه هم د دغه حکومت نوم خلافت و خو په حقیقت کې په هغه وخت کې د ایران یا د روم د سلطنت په شان و. او هغوي ارمان درلود چې د قیصر او کسري په شان پاچاهي وکړي. د دې کار لپاره یې د هغه وخت په ټولنه کې له موجودو زمینو استفاده وکړه.

## علي او د اسلامي حکومت د بیلګې وړاندې کول

معاویه د خپل وخت لوي سیاستوال او هوښیار کس و تر دې حده چې په داهیة العرب مشهور دے. خلکو به ویل علي په سیاست کې په معاویه پسې نه شو رسیدے که نه وي په هغه به بر یالے شوے و. امیر المومنین په دې هکله وفرمایل: لو لا کراهیة الغدر لکنت من ادهی الناس[1] (که مکر او حیله مې مکروه او بده نه ګڼله زه به تر ټولو چالاک انسان وم)

که امیر المومنین له معاویه یا نورو مخالفانو سره لږ شان هم سازش کاوه. ایا هغوي دومره موقعیت ته رسیدلاي شول؟ حتیٰ نن ځینې کسان هڅه کوي له دغه رودې په کلي ډول د ولایت د مقام او په خاصه توګه د پیغمبر اکرم (ص) او د ګرانو امامانو (ع) د عصمت د مقام د کمزورې کولو لپاره استفاده وکړي. چې راتلونکي نسلونه په عصمت پوره ایمان ونه لري. او په ټول چارو او مقامونو کې د معصومانو لوړاوے ونه مني.مثلا د دوي یوه شبهه په دې ډول ده.

---

۱. نهج البلاغه، ۲۰۰ خطبه

امام علي د هغه وخت په هکله چې خلکو د هغه په کور يرغل وکړ چې له هغه سره بيعت وکړي فرمايي: نژدې وه چې حسن او حسين (ع) د خلکو تر ښپو لاندې شي.[1] له علي سره په بيعت کوونکو کې د طلحه او زبير په شان لوي شخصيتونه موجود وو. دا دوه د هغه شپږ کسيزې شورىٰ غړي وو چې دوهم خليفه عمر جوړه کړې وه دوي پخپله د خلافت کانديدان وو. خو سره له دې يې له علي سره بيعت وکړ. ځينې باوري دي چې ښه دا وه چې علي دغه دوه کسان راغونښتي واي او د ډاليو په ورکولو سره يې دهغوي زړه په لاس راوړے وے. شايد بهتره وه امام علي هغوي ته ويلي وے چې زه خلافت ته په رسيدو کې ستاسو احسانمن يم. او په دې ډول يې هغوي د خپل ځان فرمان بردار گرځولي وے. دې ته په پام سره چې امام علي په الهي علم سره له راتلونکي خبر و او دهغوي له روحياتو سره هم ښه اشنا و. بايد دا احتمال يې ورکړے وے چې که له دوي سره جوړه او ساز باز ونه کړي دوي بهٔ جنگ جوړ کړي. نو ښه دا وه چې د جنگ او د وينې د بهيدو د مخنيوي لپاره يې له هغوي سره ملگرتيا کړې واي او هغوي يې له ځان سره غړملگرتيا کړې وے. او د دولت په اداره کولو کې يې له هغوي سره مشوره کړې وے. کولے يې شول چې ددولت يوه برخه چې هغوي غونښتله هغوي ته ورکړې وے او د بيت المال يوه حصه يې هم هغوي ته ورکړې وے. چې د خپل حدودو په تدبير کې يې ترې کار اخستے وے. په دې ښه کې حتىٰ که هغوي له بيت الماله ناوړه استفاده هم کولاي تر دې ښه وه چې د جنگ او خونريزىٔ لپاره دومره خرچونه وشي. دا سياستمدارانه

1. نهج البلاغه ۳ خطبه

تفکر په هغه وخت کې هم په ځینو خلکو کې دود و او په علي به یې دا اعتراضونه کول. دغو کسانو به ویل علي په سیاست نه پوهیږي یا دا چې معاویه تر علي زیات سیاست لري.

همداراز یې ویل چې امیر المومنین د معاویه له حالته هم ښۀ خبر و او پوهیده چې هغه چالباز سیاستپوه دے چې خلک یې رام کړي او بیت المال یې په خپلې ولکې کې اخستے او هغه په ازاد مټ په خپله خوښه لګوي. که علي له داسې کسانو سره جوړ شوے وے او له هغوي سره یې لږه نرمي او لب جب کـــړې وے دومره جنګونه به نه کیدل او دومره وینې به نه بهیدې. او دومره خرچونه به هم نه کیدل[1]

دغو شبهو ته تعبدي ځواب دا دے چې امیر المومنین د امامت علم درلود او یا ورته خداي امر کړے و چې داسې وکړه او هغه د خداي له امره سر غړاوے نه شو کولاي. او همداراز امام معصوم د ے او خطا نه کوي او په هغه څه چې خداي امر کړے عمل کوي. د هغه دنده همدغه وه چې تر سره یې کړه.

خو دا اعتراضونه تر دې زیات قانع کوونکي ځوابونه هم لري. له دغه ځوابۀ مخکې باید وویل شي چې امیر المومنین د بیت المال په لګولو کې ډیر احتیاط کاوه. یوه شپه طلحه او زبیر په داسې حال کې امام علي ته ورغلل چې هغه حضرت د بیت المال د ډیوې په رڼا سره په یو کار اخته و. امام کله چې دغو دوو کسانو خبرې پیل کړې،

---

۱. نن د امام خمیني او د رهبرۍ د ستر مقام په هکله هم دوي داسې څیزونه القا کوي چې که په پلانکي ځاي کې یا له پلانکي سړي سره لږه نرمي شوې وه خبره به دې حد ته نه رسیده.

ډیوه مړه کړه. اویوه بله ډیوه یې ولګوله. دوي وپوښتل دغه ډیوه له دې بلې ډیوې سره څه فرق کوي.؟ امام وفرمایل هغه او له ډیوه د بیت المال وه او زه د بیت المال په حساب کتاب لګیا وم خو اوس له تاسو سره په نورو خبرو غږیږم او حق نه لرم چې په داسې حال کې د بیت المال له ډیوې استفاده وکړم.[1]

له بل پلوه دغو کسانو د تیرو خلیفه ګانو په وخت کې له بیت الماله ډیره استفاده کړې وه. او ډیر مال او شته یې لاس ته راوړي وو. او ډیر غلامان او وینځې یې لرلې. خو اوس له داسې سختۍ سره مخامخ شوي وو.[2]

خو حقیقت دا و چې علي په دغه لارو پوهیده او د تیرو خلیفه ګانو په شان چلن یې کولاي شو. که هغه هم د هیواد او دولت یو ه برخه دغه ډول کسانو ته ورکړې وه او له خپل ځانه د تیرو او راتلونکو خلیفه ګانو په شان یې بیت المال په خپله خوښه لګولی وې نن به مونږ دهغه په هکله څه فکر کاوه؟ په دې بڼه کې به د علي او معاویه په منځ کې هیڅ فرق نه احساسیده. که نن مونږ د علي او د نورو

---

۱ . مقدس اردبیلي حدیقة الشیعه ۱ ټوک ۴۴۰ مخ

۱ . مشهور تاریخ لیکونکی او جغرافیا پوه مسعودي د طلحه او زبیر د دولت په هکله نقل کړي دي زبیر بن عوام د پنځوسو زرو دینارو په ا ندازه شته غونډ کړي وو پر مریانو او وینځو، سربیره یې په کوفې او اسکندریې کې باغونه کورنه او د کرهڼې ځمکې لرلې . اوس هم (۳۳۲ هق) په بصرې کې د زبیر کور موجود دی . او د بحرین او نورو سیمو تاجران هغه کرایه کوي او اوسیږي پکې . کله چې زبیر له دنیا لاړ له هغه په میراث کې زر اسونه او زر وینځې او مریان هم شامل وو. . طلحه بن زبیر هم په کوفه کې یو کور جوړ کړی و . چې همدا اوس د کوفې په کناسه محلې کې د طلحه دکورنۍ په کور مشهور دی . او په مدینه کې یې د خښتو او ګچو کور جوړ کړی و او دعراق له غلې یې عاید هره ورځ تر زرو دینارو زیات و . (مروج الذهب ۲ ټوک ۳۵۰ مخ)

ترمينځ فرق کوو له دې امله ده چې دعلي لاره بدله وه. که علي هم بل شان چلند کړے وے. يو څو ورځې به يې حکومت و خو اخر به تير شوے و. او دهغه حضرت به هيڅ نوم او ياد نه و پاتې خو دهغه حضرت نوم او ياد ژوندے پاتې دے او دهغه حضرت مينه والو دهغوي مينه نسل په نسل په زړونو کې پاللې ده علي داسې کس نه و چې د معاويه په شان فکر او عمل يې کړے وے. د هغه حضرت په حکومتي رودې اعتراضونه د نن ورځې خبره نه ده او د هغه حضرت په زمانه کې هم داسې شبهې او اعتراضونه کيدل. او هغه حضرت به يې له معاويه سره پرتله کاوه. امام علي هم له دغو کارونو فريادکړے او فرمايلي يې دي:

الدهر انزلني ثم انزلني حتیٰ يقال علي ومعاويه.[1] ((زمانې زه ښکته کړم. [او دومره يې] راکوز کړم. تر دې چې وايي علي او معاويه، او ما له معاويه سره پرتله کوي.))

په هغه وخت کې هم همدا د پيغمبر اصحاب او هغه کسان چې کلونو د علي ملګري او ورسره يو ځاي وو ويل چې معاويه هم مثبتې ځانګړتياوې لري سخي او شندونکے دے.تدبير لري او اسلامي هيواد اداره کوي. همدا کسان چې کله له علي ګيله منيدل، معاويه ته ورتلل، حتیٰ د علي ډير نزدې کسان چې کله له علي ګيله من کيدل او داسې غوښتنې يې لرلې چې علي ورته مثبت ځواب نه ورکاوه. معاويه ته ورتلل او دا دواړه يې له يو بل سره پرتله کول. او باوري وو چې يوازې د علي عبادت او عدالت تر معاويه زيات دے. خو که علي د دوي په رودې او د هغه وخت د ځينو سياستوالو په

1. ابن طاووس، فرحة الغري ۷ مخ

طريقې عمل کړے وے مسلمانانو به له هغه حضرته وروسته تر ننه پورې له اسلامه دا ډول اخستون درلود او دا کړچار به يې د يو اسلامي خليفه دنده ګڼله په دې بڼه کې اسلامي خلافت د قيصر او کسري له پاچاهۍ سره څه فرق نه درلود.

په هغه وخت کې د امام علي د سيرت له امله ده چې ويلاي شو مونږ نن د اسلام له حقيقت سره اشنا يو او د تشيع مکتب د سوچه اسلام په توګه له ځان سره لرو. که څه هم علي کامياب نه شو چې معاويه ته ماته ورکړي او له منځه يې يوسي خو وتوانيده نړيوالو ته سوچه اسلام وروپيژني او هغوي ته وښيي چې اسلام اجازه نه ورکوي د خپلو ځينو شخصي يا عموي ګټو لپاره له اصولو او ارونو سترګې پټې شي. که علي دغه ډول عمل نه وے کړے. نن مونږ نه پوهيدو چې اسلام اجازه نه ورکوي چې لويديځه ډيموکراسي په اسلامي هيوادونو واکنمه شي.او د ټولنې د چلولو لپاره د اسلام روده د لويديځ د حکومت دارۍ له طريقې سره مخالفه ده. د علي مقصد د اسلامي حکومت لپاره د سمې بيلګې وړاندې کول وو. د هغه حضرت موخه د لوړو الهي احکامو اجرا وه. نه دا چې په هره ممکنه طريقه وي حکومت لاس ته راوړل شي. له دې امله په شپږ کسيزې شورا کې کله چې عبد الرحمن بن عو ف له هغه حضرته وغوښتل چې پر کتاب او د پيغمبر په سنتو پر عمل سربيره د شيخينو په سيرت عمل هم ومني چې له هغه سره د خليفه په توګه بيعت وکړي، هغه حضرت ونه منله. او په دې ډول عثمان خليفه شو.

او هغه حضرت یو ځل بیا له خپل الهي حقه تر اوږدې مودې لېاره بې برخې شو.[1]

داسې سیاست د لویدځ د ډیموکراسۍ له اصولو سره سمون نه خوري که علي دغه ډول عمل نه وے کړے نن به چا نه شوه ویلې چې اسلام خاص حکومتي سستم لري او په بله بڼه کې به اسلام یو متزلزل دین او د مختلفو اخستونونو او سلیقو تابع دین و. یو اخستون د اول خلیفه دوهم اخستونه د دوهم خلیفه او له اسلامه دریم اخستون او برداشت هم د حضرت علي. که یو اساس او بنیاد نه وي نه شو ویلاي چې له اسلامه دا برداشت صحیح او دا غلط دے. او نه شو ویلے چې د معصوم خبره باید ومنو.خو د نورو د خبرې منل په مطلق ډول ضروري نه دي.

د دې خبرې راز چې امام علي د تیرو خلیفه ګانو په اپوته له ځینو کسانو سره جوړ جاړے ون کړ. دا دے چې هغه حضرت نه غوښتل یوازې دخپلې زمانې لپاره بیلګه وګرځي او په هر ډول وي حکومت وکړي بلکه غوښتل یې چې تر قیامت ورځې پورې خلکو ته د یو اسلامي حکومت بیلګه او مثال وړاندې کړي. اسلام د عدالت دین دے که عد الت په سولې او کراري سره لاسته راځي باید هیڅ وینه ونه بهیږي او دچا ذره شان سپکاوے ونه شي. علي هغه کس و چې کله یې واوریدل چې د یو ې یهودی یا زرتشتۍ جینۍ له پښو پازیب ویستل شوے دے، وې ویل: که د یو مسلمان په دې غم او

---

۱. ابن واضح، تاریخ الیعقوبي ۲ ټوک ۵۵ مخ.

ناورين زړه وچوي او مړ شي ملامت نه دی.) [1] ايا ممکنه ده داسې يو کس بې دليله ومني چې اويا زره کسان دې ووژل شي.

کله چې امام خميني په پيرس کې و خبريالانو له هغوي وپوښتل: که ته کامياب شې او شاه وتښتي په ايران به څرنګه حکومت واکمنوې.؟ دوي په ځواب کې وويل: د علي حکومت، زمونږ بيلګه دعلي حکومت دی. [2]

## د علي له شهادته وروسته د معاويه سياست

معاويه د حضرت علي له شهادته وروسته د هغه وخت د ټولنې له کمزوريو په استفادې سره هڅه وکړه. علي تفکر تحريف کړي او دهغه په ځاي بل تفکر راولي. هغه هڅه وکړه د خلکو تفکر بدل کړي اويوه بل فکر وړاندې کړي. له همدې امله وه چې د قبيلې مشران او لوي لوي کسان يې په بخششونو او انعامونو ماړه کړل او هغوي يې په خپل لاس کې واخستل، اکثره خلک هم د خپلو مشرانو تابع وو کوم چې پاتې وو هغوي يې په ويرولو يا لالچ سره له ځان سره يوځاي کړل. معاويه په اسلامي نړۍ دخپل شل کلن حکومت په دوران کې د ويرې او وحشت د اچولو لپاره ډير ترورونه او وژلې وکړې او ډيرې وينې يې توي کړې. او د داسې کارونو لپاره يې د بسر بن ارطاه او سمره بن جندب په شان له کسانو کار واخست. بې له ګوته په شمير کسانو چې د علي ملګري ګڼل کيدل او زياتره په عراق او حجاز کې اوسيدل نور خلک د معاويه له قدرت او سياسته ويريدل. دوې له

١. ر ک : نهج البلاغه ، ٢٧ خطبه

٢. صحيفه نور دوهم ټوک ٤٧ مخ

امام علي سره د هغه د معنوي شخصيت په وجه مينه کوله او درناوے يې کاوه. حجر بن عدي، عمرو بن حمق خزاعي، رشيد هجري او ميثم تمار په دغو کسانو کې شامل وو. دوي ډيره زاهد او تقواداره کسان وو او لوړ معنوي درجې يې لرلې. په دې ډول چې حتیٰ غيبي خبرونه به يې هم ورکول.[1] معاويه چې هر څومره هڅه وکړه دوي په تعريف او تمجيد سره وغولوي او د ځان تابع يې کړي خو وې نه شو کړے. دا هغه کسان وو چې په علي مين وو. او خپله

---

۱. د دغو بزرګوارانو يو کرامت هم د معاويه د مرګ خبر ورکول وو . کله چې معاويه په شام کې له دنيا لاړ . ميثم تمار خپلو دوستانو ته وويل چې توپان راغلے دے او زه احساس کوم چې معاويه په شام کې له دنيا تللے دے کومو کسانو چې ميثم يې پيژنده پوهيدل چې ميثم ټوکې نه کوي . څه موده پس عبيدالله بن زياد د کوفې ګورنر شو . د ميثم د قتل پيښه رامنځته شوه . ميثم په هماغه شان دعلي او دهغه د کورنۍ فضايل ويل او خلک به يې د پيغمبر دکورنۍ پيروۍ ته بلل . عبيد الله چې هر څومره هڅه وکړه ميثم له دې کاره منعې کړي . وې نه کړے شول . نقل شوي دي چې عراق ته د حسين ابن علي له ورتګه څو ورځې مخکې او هغه وخت چې جناب مسلم په کوفې کې و او عبيد الله بن زيا د دهغه دوژلو هڅه کوله ميثم تمار په يو اس سپور او حبيب ابن مظاهر په بل اس سپور و يو بل ته ورسيدل او دومره له يو بل سره نزدې شول چې د اسونو څټونه يې له يو بل سره وجنګيدل . بيا ميثم په ټوکو کې حبيب ابن مظاهر ته وويل زه د سرو ويښتانو يو کس چې د سر دواړو غاړو ته يې سره ويښته ځوړند دي وينم چې څو ورځې پس د پيغمبر د لمسي د ملګرتيا په وجه وژل کيږي . د هغه مطلب پخپله حبيب و . حبيب هم ورته وويل : زه يو ا صلعي کس پيژنم چې د سر مخکيني ويښته يې دوړيدلي او خيټه يې راوتلې ده . هغه د خرما د ونې په تښتې ځړوي، بله ورځ يې خولې ته لګام ور اچوي چې خبرې ونه کړے شي . او بيا يې ژبه ور پرې کوي بيا يې دريمه ورځ خيټه په نيزې ورڅيرې کوي .
يو کس چې له نزدې يې دا خبرې اوريدلې د دغو خبرو اترو خبر يې رشيد هجري ته ورکړ . رشيد وويل . خداي دې په ميثم رحمت وکړي يو ه خبره يې ونه کړه او هغه دا چې بيا يې سر حاکم ته ليږي او هغه کس ته چې د هغه سر حاکم ته وړي سل درهمه انعام ورکول کيږي .
(شيخ طوسي، اختيار معرفة الرجال په رجال کشي مشهور، ۱ ټوک ۲۹۲ مخ)

ټوله هستي يې د علي په فضايلو او ستاينو قربانوله. معاويه د دغن کسانو په معامله کې پاتې راغی. او فيصله يې وکړه چې هغوي له منځه يوسي. له دې امله يې د عمرو بن حمق سر پرې کړ او د هغه ميرمنې ته يې چې په بند کې وه ولېږه. هغه د خپل مېړه د سر په ليدلو سره ولړزيده بيا سر په زنګون شوه او وې ويل ډېره موده مو هغه له ما پټ کړ او اوس مو د هغه سر ماته راوړ. ښه راغلاست.[1]

يوه ورځ عمرو بن حمق د امير المومنين په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړ: اې زما مولا زه په دې خاطر چې تاسو واکمن يئ او مقامات او امکانات لرئ تاسو ته نه يم راغلی، زه په دې خاطر تاسو ته راغلی يم چې خداي تعالی ستا اطاعت په مونږ واجب کړی دی او زمونږ د مشرۍ او بزرګۍ حق يې تاسو ته د رکړی دی. اې ګرانه علي، که ماته حکم وکړې چې ټول غرونه له يو ځايه بل ځاي ته کړه او زه د دې طاقت ولرم. داسې به وکړم. او که امر وکړې چې ټول عمر توره په لاس له دښمن سره وجنګېږم بيا به هم داسې وکړم او که داسې مې وکړم بيا مې هم ستا حق نه دی ادا کړی، پر ما ستا حق تر دغو ځيزونو زيات دی. امير المومنين خوشاله شو او دهغه لپاره يې دعا وکړه. او وې فرمايل: اې کاش په مسلمانانو کې يوازې سلو کسانو ستا په شان ايمان لرلئ.[2]

نو په مسلمانانو کې يو ازې ګوته په شمير کسانو دغه ډول ايمان لرلو که څه هم د دغه شان کسانو وژلو معاويه په مسلمانانوکې

---

۱. ابن اثير، اسد الغابه في معرفة الصحابه، ۴ ټوک ۱۰۱ مخ.

۲. عليخان شيرازي، الدرجات الرفيعه في طبقات الشيعه، ۴۳۱ مخ محمد باقر مجلسي، بحارالانوار، ۳۲ ټوک ۳۹۹ مخ ۱۱ باب ، ۳۷۱ روايت

بدناموه. خو خبره دې ته رسيدلې وه چې هغه د دوي له وژل پرته بله چاره ونه موندله. د امام علي دوه نور ملګري ميثم تمار او رشيد هجري د معاويه له لاسه بچ پاتې شول خو اخر د عبيد الله بن زياد په لاس د امام حسين له شهادته لږ مخکې شهيدان شول. امير المومنين هغې ته خبر ورکړے و چې کله او څه ډول به شهيديږي. يوه ورځ يې ميثم تمار ته وويل څرنګه به وي هغه وخت چې تا د کجورو په يوې ونې وځړوي. او ستا ژبه پريکړي او بيا دې په نيزې سره خيته وڅيري.

ميثم له هغه حضرته پوښتنه وکړه: ايا په هغه حال کې به مسلمان وم.

امام وفرمايل: هو.

ميثم خوشاله شو.

امام وفرمايل: پوه شه چې له تا به غواړي چې په ما پسې بد رد ووايه چې ته ووايې چې زه له علي بيزاره يم. ايا ته به دا کار وکړې.

ميثم وويل: په خداي قسم تر کومه چې ساه ولرم دا کار به ونه کړم. بيا حضرت علي هغه ته زيرے ورکړ او وې فرمايل: خبر شه چې په جنت کې به له مونږسره يو ځاي وې.[1] نو دغو لويو شخصيتونو سره له دې چې پوهيدل د علي دحقانيت په بيانولو سره به ووژل شي، د حقيقت له بيانولو ډډه نه کوله.

ډيرکلونه پس حجاج بن يوسف، سعيد بن جبير راوغوښته او له هغه يې وغوښتل چې له علي بيزاري او کرکه وښيي. خو سعيد دا

---

۱. شيخ طوسي، اختيار معرفة الرجال په رجال کشي مشهور، ۱ ټوک ۲۹۵، ۲۹۲ مخ

کار ونه کړ. له دې امله یې ژبه ورپرې کړه او شهید یې کړ.[1] همدارازیې د رشید لاسونه او پښې پرې کړې. رشید له شهادته مخکې ویلي وو چې ما له خپل مولا علي اوریدلي دې چې تاسو به زما لاسونه او پښې پریکوئ او ژبه به مې راوباسئ عبیدالله بن زیاد وویل د دې لپاره چې دعلي خبره دروغ ثابته کړم دا کار نه کوم خو وروسته له دې چې د رشید ژبه او پښې یې پریکړې د هغه ژبې د حضرت علي فضایل پیل کړل او عبیدالله مجبوره شو د یو نایي په وسیله د هغه ژبه پرې کړي او دهغه د خوښې په اپوټه د امام علي خبره رښتیا ثابته شوه.[2]

دلته دا پوښته پیدا کیږي چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر حدود او شرایط څه دي.؟ ایا دا فریضه که یو انسان د سر دتاوان احتمال ورکړي نو سملاسي ساقطیږي؟ ولې دغو کسانو د حق د بیان لپاره خپل سرونه قربان کړل.متاسفانه په دې موضوع ژور علمي کار نه دے شوے یوازې امام خمیني په اول ځل فتوا ورکړه چې په مهمو چارو کې تقیه حرامه ده، ولو بلغ ما بلغ[3] خو نورو جرات نه کاوه چې دا ډول فتوا ورکړي. ځکه چې په دې موضوع څه خاص کار نه دے شوے. امام خمیني هم دعمل په مقام کې داسې زړه درلود او هم یې په دې مسله ښۀ تحقیق او مطالعه کړې وه. له همدې امله یې په میړانه اعلان وکړ چې که څه هم ستاسو ځان په خطر کې وي او په سلګونو زرګونو کسان مړه شي. باید اسلام نظام ټینګ

---

۱. شیخ مفید، الاختصاص ۲۰۵ مخ..
۲ . شیخ طوسي، اختیار معرفة الرجال په رجال کشي مشهور، ۱ ټوک ۲۹۰ مخ
۳ . صحیفه نور لومړی ټوک، ۳۹مخ، اووم ټوک، ۳۲مخ.

کړے شي. او باید هغه کسان چې د اسلام او د اسلام ارزښتونو او عقاید د له منځه وړول په لټه کې دي ختم کړے شي. او په دغه مسایلو کې تقیه حرامه ده. ولو بلغ ما بلغ (یعنې که خبره هر ځاي ته ورسیږي)

باید د دې مسلې فقهې مبنا ګانې په صحیح ډول بیان شي. چې معلومه شي. په کومو مواردو کې تقیه جایزه او په کومو مواردو کې تقیه واجبه ده.. ایا داسې موارد شته چې تقیه جاېزه وي خو پریښودل یې ارجحیت ولري؟ همدار راز هغه کوم ځایونه دي چې تقه بلکل نه ده جایزه. که دا احکام سم بیان نه شي شیطانان به په اسلام پورې تسامح او تساهل تړي، او له دې لارې له مسلمانانو غیرت او جرات اخلي. او په مسلمانو ځوانانو کې شک شبهه جوړوي. چې مثلا له دې امله چې د نظام او حکومت نوم اسلام دے نو باید هر څه ومنو. حال داچې د امام علي په حکومت کې هم که دهغه والي به څه خطا وکړه نو خلک به هغه حضرت ته ورتلل او شکآیت به یې کاوه.

یوه ورځ امام علي د لمانځه اقامت ویلے و. او غوښتل یې چې تکبیر ووایي. په دغه حال کې یوه ښځه چې له لیرې راغلې وه امام ته راغله او وې ویل: اي امیر المومنینه له تا سره کار لرم. امام تکبیر ونه وې او د هغې دکار پوښتنه یې وکړه. ښځې وویل هغه ګورنر چې په مونږ دې واکمن کړے پر مونږ ظلم کوي.

د امام علي له سترګو اوښکې روانې شوې او وې فرمایل: اي خداي ته خبر یې چې زه راضي نه وم چې دغه کس په دوې ظلم وکړي.

بیا یې حکم وکړ چې کاغذ او قلم راوړئ او د هغه والي د لیرې کولو حکم یې ولیکه.[1]

په دې اساس د نظام د اسلامي والي مطلب دا نه دے چې د حکومت چارواک غلطي نه کوي او په هغو ي اعتراض نه شو کولے. بلکه له خپلې دندې دمسئولانو د خطا په صورت کې باید هغوي ته امر با لمعروف او نهي عن المنکر وشي او د هغوي دنده هغو ي ته وریاده کړے شي.

۱ . ابن عبد ربه اندلسي . العقد الفرید ، ۱ ټوک ۳۳۵ مخ .

# شلورم څپرکی

د امام حسین (ع) په زمانه کې د ټولنې کړلاري

مونږ شیعو ته تل دا پوښتنه پیدا ده چې څرنګه او ولې مسلمانان او په تیره بیاهغه کسان چې په کلونو کلونو له امیر المومنین علي سره وو او دهغوي له تعلیماتو برخمن وو او همدا راز هغو کسانو چې پخپله یې امام حسین د حکومت او لآیت لپاره بللے و د سید الشهدا په وړاندې تورې وتړلې اوپه دومره بیدردۍ سره یې هغه شهید کړ؟ دا چاره دومره عجیبه ده چې که هر کال د کربلا پیښه نه بیانیدے په اسانه پرې د چا باور نه کیده چې داسې پیښه دې شوي وي.

له دې مخکې اشاره وشوه چې د دغه پوښتنې د ځواب لپاره باید د عاشورا له پیښې یو څه مخکې لاړ شو. او د اسلام د لومړیو وختونوپه تیره بیا د هغه وخت حالات وجاجوو چې بني امیه وو په شام کې قدرت په لاس کې واخسته. همدا راز مو وویل چې په اسلامي ټولنه کې ځینې کمزورۍ موجودې وې او دا کمزورۍ د معاویه په شان سیاستمدارانو لپاره زمینه برابره کړه چې د هغو په مرسته او د یو لړ عواملو او اوزارو په مټ خپل هدف ته ورسیږي هغه څه ته په پام سره چې ومو ویل روښانه شوه چې په دوي کې زیاتې کمزورۍ د خلکو د دیني او علمي سویې د ټیټوالي او په ټولنه د قبیله یز سستم د واکمنۍ له امله وې په دې ډول چې که د قبیلې مشر به یو کار کاوه نورو به هم په پټو سترګو د هغه تقلید کاوه.

په کلي ډول په دې څپرکي کې د امام حسین (ع) په وخت کې د انحراف د ټولنیزو زمینود ټولنې د بې لارې کولو لپاره د معاویه د

لارو چارو او سیاستونو د ټولنې له انحراف سره دمقابلې د لارو چارو او د معاویه په زمانه کې د امام حسین دېټو فعالیتونو په شان موضوګانې څېړو

## د ټولنې د انحراف اجتماعي زمینې.

### ۱. د فرهنګي او تعلیمي سویې ټیټوالے

د امام حسین علیه السلام په زمانه کې د انحراف لومړۍ زمینه د خلکو د تعلیمي او فرهنګي سویې ټیټوالے و. که څه هم د رسول الله مبارک له رحلته یوازې څو میاشتې تیریدې او د اسلام پولې ډېرې خپرې شوې وې خو لا اسلامي دودونه او فرهنګ له مدینې بهر د اسلامي ټاټوبو لیرې سیمو لکه شام ته نه وو رسیدلي او ایمان د دغه سیمې د خلکو به زړونو کې لاره نه وه پیدا کړې.

البته باید پوه شو چې د اسلامي تربیت او معر فت د سویې لوړاوآ په اسانه نه کیږي په تیره بیا د شام په شان سیمه کې چې مشر یې هم د معاویه په شان کس وي.

### ۲. د قبیله ایز ژوند روح

یوه بله زمینه چې معاویه د خپل حکومت به مزبوتولو کې له هغه ګټه پورته کړه د قبیله ایز ژوند روح و قبیله ایز ژوند داسې و چې که د قبیلې مشر په یو کار کې مخکې شو د قبیلې ټولو خلکو اویا ډیري به یې دهغه پیروي کوله او البته په کلي ډول دا منفي کار نه شو ګڼلاي ځکه چې د اسلام په لومړیو وختونو کې که د یوې قبیلي مشر به په پیغمبر ایمان راوړ نو د قبیلې نور خلک به بې له څه مقاومته

او په اسانه مسلمانيدل او که د قبيلې مشر به مرتد شو نو ټوله قبيله به بې له څه اعتراضه مرتده شوه. د پيغمبر له وفاته وروسته هم همدا کانه وشوه او د قبيلو خلکدخپلو مشرانو په پيروۍ له اسلامه جاروتل.[1]

## ۳: د ايمان کمزوري

يوه بله زمينه چې معاويه ورنه استفاده وکړه د خلکو د ايمان کمزوري وه مختلف عوامل له يو بل سره يو ځاي شول چې د خداي د رسول له رحلته نيمه پيړۍ وروسته په ټولنه کې د دين او ديندارۍ د ودې زمينه کمزورې شي. امام حسين (ع) په يو حديث کې په هغه وخت کې د ټولنې د دينداری حالت په يو حديث کې داسې انځوروي:

النّاسُ عَبيدُ الدّنيا وَالدّينُ لَعِقٌ عَلىٰ اَلْسِنَتِهِمْ يَحُوطونَهُ مَا دَرّتْ مَعَايِشَهُمْ فَإِذَا مُحِّصُوا بِالبَلاءِ قَلّ الدّيّانُون[2] (خلک د دنيا مريان دي او دين د هغوي په ژبه د څټونکي څيز په شان د هغوي په ژبو ده تر کومه يې چې دنيا او معاش برابر ده د دين خبره کوي او کله چې ازميښت هغوي جدا کړي ديندارا ن کميږي.)

د دين ادعا کوونکي ډير دي خو تر هغه وخته په دغه ادعا باقي وي چې دين يې دنيا ته تاوان ونه رسوي. خوکه مجبوره شي چې به دين او دنيا کې يو غوره کړي او د دين به ساتلو سره دنيا د هغوي له لاسه ووځي ديندارا ن ډير کم پاتې کيږي له بل پلوه د کومو کسانو

---

۱ . رک: ابن واضح، تاريخ يعقوبي ج ۲ ص ۱۳ - ۱۲

۲ . محمد باقر مجلسي، بحار الانوار ج ۷۵ ص۱۱۲

چې ایمان کمزورے دے له دې خطر سره مخامخ دي چې د ابو سفیان په شان شیطانان له هغوي ناوړه استفاده وکړي. دا کمزوري په تیره بیا په شام کې چې خلکو یې دیني روزونکي او استادان نه لرل ډېره لیدل کیده، تر دې چې په تاریخ کې دهغوي د ناپوهۍ او جهل په هکله عجیبې کیسې مشهورې دي. حتیٰ په مدینه کې هم چې خلک د پیغمبر اکرم (ص) په سیوري کې روزل شوي وو او لا د هغه مبارک له وفاته ډېر وخت نه و تیر د غدیر پیښه هیره کړې شوه. دا او ځنې نور موارد هغه زمینې وې چې معاویه خپلو موخو ته د رسیدو لپاره له هغو کار واخسته.

## د ټولنې دانحراف لاملونه او وسیلې

معاویه په دغو زمینوکې د خپلو اهدافو د پرمخ بیولو لپاره له څو اوزارو او لاملونو کار واخسته البته له دغو عواملو استفاده کومه نوې خبره نه وه د نړې سیاتوالو له پخوا تر اوسه له دغو وسایلو استفاده کړې ده معاویه هم دغه لاملونه ښه پیژندل او د هغو دکارونې په طریقې ښه پوهیده.دغه عوامل دا د ي:

## ۱: تبلیغات یا پروپاګنډا

ټول سیاستوال هڅه کوي د پروپاګنډې په وسیله دخلکو افکار او ذهنونه هغه لور ته چې دوي یې غواړي واړوي البته د وخت په تیریدو اود ټولنو د کلتور په بدلیدو سره د پروپاګنډې وسایل هم بدلیږي د هجرت په لومړۍ لسیزه کې په اسلامي ټولنه کې د تبلیغاتو او پروپاګنډې وسیلې زمونږ د وخت په شان د هیومینزم

پلوراليزم يا د بشري حقوقو چارې نه وې. يوازې اسلام واکمن و او خلکو به خداي او به پيغمبر (ص) عقيده لرله او له دينه مختلف قراءتونه او اخستونونه نه وو دود. خو د هغه وخت په ټولنه کې نور عوامل او اوزاز وو چې په پروپاګنډې کې ترې کار اخستل کيدې شو. په هغه وخت کې د پروپاګنډې په وسايلو کې هنر او ادب په تيره بيا شعر ته اشاره کولاي شو د هغه وخت په عربوکې شعر ځانګړآ مقام درلود. معاويه هڅه کوله تکړه او مشهور شاعران استعمال کړي چې د هغه په ستاينه او ددشمنانو په غندنه کې يې شعرونه ووايي او په خلکو کې يې مشهور کړي. په دوي کې يو مشهور شاعر اخطل نصراني و[1]. هغه ډيرزبردست شاعر ګڼل کيده او ددې کار لپاره به يې شاګردان هم روزل.

البته په مومنانو او دنيدارانو کې قران او حديث تر هر څه زيات اهميت درلود او په دې دجه معاويه هڅه کوله چې يو شمير کسان د حديثونو دجعلولو لپاره راغونډ کړي. په دوي کې ابو هريره ته اشاره کولاي شو هغه د حديثونو يو مشهور جوړوونکےآ او جعل کوونکي دآ چې ځينو اهلسنت عالمانو هم دهغه د حديثونو د جعلولو په هکله کتابونه ليکلي دي. ابوهريره به حديثونه جعلول او هغه به يې په پيغمبر پورې تړل او ساده خلکو به هم منل معاويه همداراز له هغو کسانو چې (قراء) بلل کيدل کار واخست قاري په هغه وخت کې ډير درناوآ درلود قاري به يوازې به ښه غږ او تجويد سره قران نه وې بلکه په هغه وخت کې يې د دين لويو عالمانو ته قاري ويل دا هغه کسان وو چې قران به يې ډير ښه لوسته او دهغه تفسير به يې کاوه او

---

[1]. زبير بن بکار، اخبار الموفقيات. څيړنه ډاکټر سامي مکي العاني ص ۲۲۸

غالبا قران يې حفظ و[1] معاويه له دغو درې واړو پرګنو يعنې قاريانو شاعرانو او محدثانو کار واخست چې يومنسجم او هر اړخيز پروپاګنډيز سستم ولري. او د خپل حکومت لپاره يې په کار واچوي.

## ۲. لالچ ورکول

معاويه هغه کسان چې په شعر قران او حديث سره به يې نه شول غولولاي هغوي به په لالچ سره له ځان سره يو ځاي کول. هغه د قبايل زياتره مشران د پوستې مقام او ذد دلويو انعامونو او ډاليو د ورکولو په لالچ وغولول هغوي يې ځان ته جذب کړل. کله به چې معاويه د قبيلې کوم يو مشر ته د پيسو کڅوړه وليږله نو ډيرو کمو کسانو به پيسو ته ځان ټينګولاي شو.

## ۳. ګواښ او ويرول

ګواښ دخپلو شيطاني غرضونو د اجرا لپاره د معاويه د حکومت يو بل کارنده اوزار و. د معاويه کسان به چې کله خبر شول چې کوم کس د هغه مخالفت کړے دے نو هغه به يې نيولو او شکنجه کولو او اخر به يې وژلو دا ګواښونه او ځورونې په تيره بيا د اهل بيتو (ع) په معامله کې ډيرې ظالمانه او سختې وې.[2]

---

۱ . ر، ک : ابن قتيبه، المعارف ۀ ۵۲۸، ۵۳۲ مخونه

۲ . ر ک : محمد بن جرير، طبري تاريخ الامم و الملوک، ۲ ټوک ۱۳۲، ابن ابي الحديد، شرح نهج البلاغه، تحقيق محمد ابوالفضل ابراهيم ۱ ټوک ۴۳، ۴۵ مخونه

معاویه له دغوعواملو په استفادې سره ټولنه دخپلو شیطاني اهدافو په لور منحرفه کړه. البته هغه به له دغه هر یو عامله د هغه په مناسب ځاي کې کار اخسته، له شاعرانو قاریانواو محدثانو به یې د حکومت لپاره د تبلیغ او پروپاګنډې په غرض استفاده کوله او د قبیلې مشران او د ټولنې لوي شخصیتونه به یې به پیسې او مقام سره تطمیع کول او په کوم ځاي کې چې د غو عواملو کار نه ورکاوه له ویرولو او ګواښلو به یې استفاده کوله.

معاویه کابو څلویښت کاله په شام حکومت وکړ د دوهم خلیفه له وخته دهجرت تر څلویښتم کاله پورې یې حکومت یوازې په شام پورې محدود و اودهجرت له څلویښتم کاله او د امام علي (ع) له شهادت او د امام حسن(ع) سره له سولې وروسته یې ځان په شام کې د ټول اسلامي سلطنت خلیفه وباله.

هغه غوښتل د شام خلک په خپله خوښه تربیت کړي. او خپل مقصد ته د رسیدو لپاره یې له نوموړو لاملونو پوره پوره کار اخست. هغه د غه کار سریزې په شام د خپل واک له لومړیو برابر کړې وې او کسان یې ازمایلي او پیژندلي وو او په د ې لاره کې یې کافي تجربه لاسته راوړې وه او خلافت ته له رسیدو سملاسي وروسته یې خپلې موخې تعقیب کړې. د خپل عمر په وروستیو کې د معاویه وصیت د هغه د اوږد مهاله او لویو موخو بیانوونکي دي هغه غوښتل کومه پاچاهي یې چې لاسته راوړې په خپلې کورنې کې باقي وساتي او یزید دهغه ځاي ناستي شي که څه هم ښه پوهیده چې یزید هغه شان چې بایده ده د حکومت وړتیا نه لري هغه ډیره هڅه وکړه چې د ځینو کسانو په لاس یزید تر بیت کړي حتیٰ ځنیې کسان

يې ټاکلي وو چې د يزيد خيال دې ساتي معاويه د يزيد دمرستې او لارښوونې لپاره هغه ته وصيت وکړ او دهغه څه مطابق چې په تاريخ کې راغلي دي. هغه ته يې ويلي وو ما ستا دحکومت لپاره داسې زمينه برابره کړه چې بل هيچا دخپل بچي لپاره نه ده برابره کړې. حکومت تا ته تيار دی په دې شرط چې دڅو خبرو خيال وساتې د عراق خلک غواړي هره ورځ يې واکمن بدل شي که هغوي داسې وغوښتل ته هم داسې وکړه دا تر دې غوره ده چې ستا په خلاف په زرګونو توري راپورته شي د حجاز د خلکو درناوی کوه. هغوي ځانونه د اسلام متوليان ګڼي هر کله چې تاته راغلل د هغوي ميلمستيا او هر کلي وکړه او انعامونه ورته ورکړه او که هغوي رانغلل ته ورپسې استازی وليږه چې د حال احوال پوښتنه يې وکړي او له هغوي سره خواخوږي وکړي. خو څو کسان دي چې په اسانې سره ستا حکومت ته غاړه نه ږدي د ابوبکر زوي، د عمر زوي. د زبير زوي او د علي زوي د دغو څلور کسانو نه ځير اوسه...... له حسين سره مقابله مه کوه تر کومه چې کولای شې له هغه بيعت واخله که بيعت يې ونه کړ او له تا سره وجنګيد او پر هغه بريالي شوې بيا هم له هغه سره مهرباني کوه له حسين سره ښکيليدل ستا په سلا نه دي هغه د محمد اولاد دي او په خلکو کې ډير لوي مقام لري. او هغه له نورو شخصيتونو سره ډير فرق کوي [1]

خو يزيد د خپل پلار په شان د راتلونکي په فکر کې نه و. او له دې وروسته چې د په ګدې کښيناست د مدينې واکمن ته يې امر وکړ

[1]. خوارزمي مقتل الحسين، لومړی ټوک ۲۵۵ ، ۲۵۸ مخونه

چې له څو کسانو بیعت واخله. او که بیعت یې ونه کړ ځټونه یې ووهه.[1]

دلته ده چې ګورو خلک ډیر په اسانۍ او په لږ وخت کې له اسلامه لاس اخلي او د پیغمبر دسترګو تور وژني داسې کس چې د پیغمبر پر لمسي والي او امامت سربیره یو محبوب و. هغه داسې کس و چې خلک د هغه د جمال په لیدلو سره په هغه مینیدل او چا به چې د هغه اخلاق ولیدل د اخلاقو لیواله به یې شو. که چا به ترې څه وغوښتل نو داسې به یې ورکول چې د سایل له سترګو سره یې سترګې ونه جنګیږي او هغه شرم محسوس نه کړي. داسې یو کس یې په دومره بیدردۍ سره شهید کړ.

دغو خبرو ته په پام سره په هغه وخت کې حقیقي مومنان چې ایمان یې د زړه تل ته کوز شوي وي ګوته په شمیر وو. او معاویه دخلکو په پیژندلو او دهغوي د ایمان له کمزورۍ په استفادې سره وتوانید د تبلیغ لالچ ورکولو او ګواښ او اویرولو له لارې ټولنه په هغه لور چې ده غوښتل بوځي.

امام حسین (ع) له معاویه سره د یزید په شان مقابله ونه کړه. ځکه چې پوهیده چې هغه یا بل هر یو کس که په دغو حالاتو کې له معاویه سره مقابله وکړي په پټه به له مینځه یوړل شي او بیا به دا چاره د هغه په تبلیغاتي دستګاه به جعلي اشعارو اوحدیثونو او په ډول ډول تورونو او تومتونو سره توجیه شي. او یو شمیر دنیا غواړي او درباري ویناوال او واعظان به چې هر ځاي او هر وخت په تیره بیا به دیني ټولنوکې دخلکو د بې لارې کولو لپاره یې اساسي

---

۱. تیر سند ۲۲۲ مخ

رول درلود. له معاويه سره په دې لاره کې مرسته کړې وه.قران فرمايي په هر دين کې د انحراف فساد او اختلاف عاملان ځان پلوري عالمان وو. فَمَا ٱخۡتَلَفُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ[1] او بې له دې بل څه نه وو چې هغوي ته د علم له راتللو وروسته په خپلو کې په اختلافاتو اخته شول.

د فساد د اختلاف د پيدا کولو بلوا انحراف او فتنې سرچينه دهغه چا په لاس کې وه چې لاره يې پېژندله. معاويه په شان واکمنانو دغه ډول وګړي دريافت کول او په پيسو به يې هغه اخستل او په خپل خدمت کې به يې راوستل او غيرتمن عالمان په مختلفو رودو سره څنګ ته کولاي شول د اميرا المومنين (ع) يو شمير اصحاب په دغو کسانو کې شامل وو. او په يو بل پسې ترور شول يا په ځينو پلمو په دار وځړول شول.[2] حجر ابن عدي او ميثم تمار په دغو کسانو کې شامل وو. دوي په خپل ايمان کلک ولاړ وو. او په دوي باندې د معاويه هيڅ يوه حربه ونه چليده او له دې امله اخر پانسي شول.

هغه څه چې سبب ګرځيدل خلک د اسلام له اوامرو وغړيږي او حتیٰ خپل ديني احساسات. قومي دودونه. قبيله ايز اخلاق او ميلمه پالنه هم له لاسه ورکړي همدا درې لاملونه وو چې معاويه کارول.

ترټولو ښه درس چې له کربلا يې اخستلاي شو دا دي چې پوه شو څرنګ د مسلمانۍ مدعيان او هغه کسان چې ځانونه يې دپيغمبر پيروان ګڼل او حسين يې په ځلونو د پيغمبر په غيږ کې ليدلاي و او

---

۱ . جاثيه (۴۵)، ۱۷

۲ . ابن ابي الحديد شرح نهج البلاغه، لومړآ ټوک ۱۴۳ ۱۴۵مخونه

په خپلو سترګو يې کتلي وو چې کله دخداي رسول په منبرخطبه لوستله او حسين به په منبر وروخوت نو په غيږ کې به يې اخسته[1] او دا يې هم ليدلي وو چې د خداي رسول د حسين ژړا نه شي زغملای.[2] او خلکو ته يې سپارښتنه کړې وه چې د هغه خيال دې ساتي. خو بيا يې هم له امام حسين سره داسې سلوک وکړ او به ډير بوږنوونکي ډول يې شهيد کړ.

## معاويه او په ټولنه کې د انحراف د عواملو د استعمال طريقې

معاويه له دغو عواملو په مختلفو ځايونو کې په بيلا بيله طريقه کار اخست. له دې نظره دهغه د حکومت دوره په دريو پړاوونو ويشلای شو.

### اول: د امير المومنين (ع) له خلافته مخکې

په دغه دروان کې په ډيرو برابرو شرايطو کې حکومت کاوه ځکه چې د هغه د دولت مرکز يعنې شام يوه ليرې پرته سيمه ګڼل کيده او له مرکزسره يې چنداني رابطه نه لرله د دغه سيمې خلکو د خداي رسول او لوي اصحاب ډير کم ليدلي وو. له پلوه دويم او دريم خليفه د معاويه کنټرولولو ته زيات اهميت نه ورکاوه. په تيره بيا دريم خليفه د معاويه لاس ډير خلاص پريښے و په داسې حالاتو کې د

1. رک: طبرسي، اعلام الوري باعلام الهدي ۱ ټوک ۴۳۲ مخ
2. ر.ک: خوارزمي مقتل الحسين ، ۱۸۸ مخ ۱۸۹ مخ

معاويه د فعاليت لپاره هر ډول زمينه برابره وه. او هغه په دغه موده کې د شام ټولنه په خپله خوښه تربيت کړه،

## دوهم: د امير المومنين د خلافت په دوران کې

په دغه دوران کې د معاويه روده په تيره بيا به تبليغاتي زمينه کې بلکل بدله شوه. هغه علي او ملګري يې د دريم خليفه عثمان په وژله تورن کړل او په دې اساس يې وويل چې علي دې د عثمان قاتلان حواله کړي چې قصاص شي.په دې مسئله کې د معاويه تبليغات دومره پراخ وو چې ډير خلک د هغه تر اغيز لاندې راغلل د عثمان دخون خواهې مسله يوه زمينه شوه چې معاويه يو شمير کسان ځانته جذب کړي او د علي په مقابل کې د صفين جنګ پيل کړي پر هغو وژلو سربيره چې په خورو ورو جنګونو کې وشوې په دغه جنګ کې په لسګونو زره کسان له دواړو لورو ووژل شول. دا لانجې د امام علي (ع) په شهادت سره پاي ته ورسيدې.

## دريم: د اميرالمومنين (ع) له شهادته وروسته

خلک په دغه دروه کې له جنګه ستړي شوي وو حتیٰ د حضرت علي (ع) نزدې ملګري چې د صفين، نهروان. او جمل درې جنګونه يې کړي وو له ډيرو ستونزو سره مخامخ شول دا دامام علي د حکومت په وروستيوکې هم ښه ښکاره وه[1] د امام علي له شهادته وروسته

---

۱. دا خبره د کوفې خلکو ته د امام (ع) په وينا کې ښه ښکاره ده فرمايي: "په خداي قسم زړه مې غواړي چې ستاسو د شلو کسانو به بدل کې راسره د شام يو کس وې واي دې وي بر تاسو تيار شئ او زما په رکاب کې له دشمن سره د جنګ لپاره پاځيئ بيا که تاسو د ځان

معاويه له دغه حالته گټه پورته کړه او د امام حسن د لښکر کوماندانان يې په چل دوکې او فريب سره وغولول او هغه حضرت يې د سولې منلو ته مجبوره کړ. په دغه زمانه کې معاويه په ټول اسلامي ټاټوبي واکمن شوي و اوپر شام سربيره يې به مصر عراق حجاز يمن د افريقا په شمال او ايران هم حکومت کاوه. د پيغمبر اکرم له کورنۍ يوازې امام حسن د لارې خنډو. چې هغه يې هم په سولې سره له لارې وغړاوه. په دغه دوران کې معاويه ځان په هرکد ار وسيال گاڼه.او له دې امله يې له دغو عواملو دومره گټه پورته کوله چې ويلاي شود امام حسن غربت او مظلوميت او له هغوي

---

لپاره کوم تاوان وليده وتښتئ په خداي قسم زه د خپل رب په ملاقات خپه نه يم او په دې لاره کې مې به کلک هوډ او بينا سترگو سره گام ايښي دے او خپله هوساينه په هغه کې گڼم او بلاخره به له تاسو سره له رازگويۍ او له تاسو سره د مهربانۍ او مدارا دسلوک له کړاوه خلاص شم.

...... په خداي قسم ما تاسو به اول کې اخرکې پټ او ښکاره سهار او ماښام شپه او ورځ له دشمن سره د مقابلې لپاره وبللئ خو زما خبرو په تاسو کې اثر ونه کړ او له ميدانه وتښتيدئ او جنگ ته مو شا کړه . ايا زما دغو موعظو تاسو ته گټه ونه رسوله دا دومره چې مې تاسو د هدايت لارې ته بللئ فايده يې ونه کړه . زه ستاسو له مصلحته خبر يم او پوهيږم کوم عمل ستاسو کوږ والي سيخولاي شي او په خداي قسم ځان ستاسو لپاره په فساد او بيچارگۍ کې نه اچوم، ځکه چې تاسو سميدونکي نه يئ" (شيخ مفيد الارشاد ، ترجمه شيخ محمد باقر ساعدي خراساني ۲۲۳، ۲۲۲ مخونه) همدا راز شيخ مفيد وايي چې کله به چې امام علي د کوفې خلک جهاد يا د ضحاک بن قيس او بسر بن ارطاه په شان لوټمارو سره مقابلې ته بلل چې د معاويه په حکم يې دامام علي په حدودو تيري کاوه ډير سست او لټ عمل به يې کاوه . او حتي هيڅ حرکت به يې نه کاوه . مثلا هغوي به ويل موږ ته وخت راکړه چې د سارړه موسم ختم شي . ( همدغه سند ، ۲۲۲ ۲۲۳ او ۳۲۷)

وروسته د امام حسين مظلوميت تر دې زيات و چې کوم چې به کربلا کې په سيد الشهداء تير شو.

متاسفانه د دغه وخت په باب په تاريخ کې ډير معلومات نه دي پاتي او همدا راز د اهل بيتو مظلوميت دا سې نه دے چې وتوانيږو په هغه سره د خلکو احساسات وپاورو او د هغه وخت يادونه ژوندۍ کړو. بلکه يوازې په تفکر او ځيرتيا سره پوهيدلاي شو په هغه وخت کې په اهل بيتو څه څه ظلمونه شوي دي.د امويانو دربار دومره د پيغمبر د کورنې به ضد تبليغ او پروپاګنډا وکړه چې په امير المومين (ع) لعنت او بد رد ويل د ځينو عبادتي دستورو لکه د جمعې د لمانځه برخه وګرځيده او هر خطيب بايد په هغه حضرت لعنت ويلي واي او خلکو به له عامو لمونځونو وروسته هم په امام علي لعنت وايه. [1] په داسې حالاتو کې د امام علي (ع) بچيانو بايد صبر کړي واي او له زغمه يې کار اخستي واي او دامام حسن له شهادته وروسته هم امام حسين دا بوج په يوازې سر يوړه. تر هغه وخته چې امام حسن ژوندي و امام حسين د هغه په ملګرتيا او ملاتړ ډاډه و.خو د هغه له شهادته وروسته امام حسين يوازې په دغه غم کې کړيده او هيڅوک نه وو چې د زړه غم يې ورته بيان کړي واي دا حالت لس کاله روان و. تاريخ هغه خبرې اترې چې د امام حسين د پلويانو او د نورو تر منيځ شوي او کله کله هغه ليکونه چې د امام حسين او معاويه تر منځ رد وبدل شوي او همدا راز د امام حسين او

1. ابن ابي الحديد . شرح نهج البلاغه دريم ټوک ۵۷ مخ

معاويه له يو بل سره مخامخيدل ليکلي دي. او دا ټول د امام حسين د يوازې توب او مظلوميت ګواهي ورکوي[1]

معاويه دوه ځله حجاز ته سفر وکړ. او د شام ځينې لشکريان يې هم له ځان سره مکې او مدينې ته بوتلل او تر يوه موده هلته پاتې شو چې د يزيد د ولي عهدۍ لپاره زمينه برابره کړي. په دغو سفرونو کې دامام حسين او معاويه تر منځ خبرې اترې شوي دي معاويه همدا راز د مدينې له ځينو مشرانو سپين روبو او د قبايلو مشرانو سره چې هغه ته نه تسليميدل خبرې وکړې دا هغه لوي شخصيتونه وو چې د يزيد ولي عهدي يې نه منله او معاويه ټنيګار کاوه چې د يزيد لپاره له هغوي بيعت واخلي. په دغه شان يو لړ خبرو کې چې د امام حسين او معاويه تر مينځ شوي معاويه امام ته بلنه ورکوي او دوي ته وايي چې زه له تا سره خصوصي خبرې لرم او له هغه سره خبرې کوي معاويه وايي د مدينې ټول خلک حاضر دي د يزيد ولي عهدي ومني يوازې تاسو څلور کسان يې نه منئ د دغو کسانو مخ کښې هم ته يې چې که ته د يزيد ولي عهدي ومنې او بيعت وکړې نور يې هم مني او په دې ډول د اسلامي امت يو والي او وحدت ساتل کيږي او د مسلمانانو وينه په ځمکه نه تويږي، ولې د يزيد بيعت نه کوې؟

امام حسين وفرمايل تا دخپل حکومت په دوران کې ډيرې وينې توي کړې او ډير فساد دې وکړ. په اخري عمر کې او له مرګه مخکې د ځان لپاره د ګناه توښه مه برابروه او د يزيد ګناه په غاړه مه اخله ته څرنګه حاضريږې چې هغه په خلکو واکمن کړې حال داچې په خلکو

---

١. ر، ک ابي منصور احمد بن علي طبرسي، الاحتجاج دوهم ټوک ۲۹۲ او ۲۹۷ مخونه

کې داسې کسان شته چې ميندې يې، پلرونه يې او پخپله تر يزيد او دهغه تر مور اوپلار غوره دي او خلکو ته يې ګټه ډيره ده.

معاويه وويل ګواکې غواړې د ځان خبره وکړې ته دا ويل غواړې چې ستا مور او پلار د يزيد تر مور اوپلار او ته پخپله تر يزيده غوره يې؟

امام وفرمايل: که داسې ووايم نو څه اشکال لري.؟

معاويه وويل: دا چې تا وويل مور دې د يزيد تر مور غوره ده دا دې رښتيا وويل ځکه چې فاطمه (س)له قريشو ده او د يزيد مور قريشه نه ده دا کافي ده پر دې سربيره چې مور دې د پيغمبر لور هم ده. نو رښتيا ده چې ستا مور د هغه تر موره غوره ده خو دا چې ودې ويل ستا پلار د يزيد تر پلاره ښه دي دا د تامل ځاي لري. ځکه چې تاته پته ده چې ستا پلار او د يزيد پلار له يو بل سره وجنګيدل او خداي تعالی د يزيد د پلار په ګټه حکم وکړ. خو دا صحيح نه د ه چې ته تر يزيده غوره يې. بلکه يزيد د اسلامي ټولنې لپاره تر تا ډير ښه دي.

امام حسين وفرمايل: ته وايې چې شرابخور يزيد تر ما ډيرښه دي؟

معاويه په ځواب کې وويل د خپل تربور غيبت مه کوه.

معاويه امام حسين ته نصيحت وکړ او وې ويل زيږ سلوک مه کوه د خپل تره زوي غيبت مه کوه او بد يې مه وايه يزيد هيڅکله ستا بد نه وايي نو تر تا ښه دي.[1]

---

۱ . ر.ک: ابن قتيبه دينوري، الامامة السياسيه، لومړی ټوک ۱۸۴مخ.

په دې ډول چې کله بني اميه وو د قدرت واګې په لاس واخستل د جبريونو دې نظريې ته يې لمن وهله چې (د خداي خوښه داسې وه)
داسې جبري تعبيرونه د خلفاوو له لوري د امام علي په حق کې هم شوي دي. په تاريخ کې راغلي چې په يو سفر کې دوهم خليفه له امير المومنين علي وغوښتل چې په دغه سفر کې ورسره ملګري شي خو امام علي ونه منله خليفه په دغه کار خپه و او له دې امله يې ابن عباس ته چې په سفر کې يې ملګري و وويل: تاته پته ده چې د تره زوي دې ولې له ما سره په سفر رانغے؟ ابن عباس وويل نه. خليفه وويل علي په مدينې کې پاتې شو چې ځانته زمينه برابره کړي چې له ما وروسته خليفه شي. ابن عباس وويل هغه ځانته د دې خبرې ضرورت نه ويني ځکه چې باوري دي پيغمبر هغه له ځانه وروسته امام ټاکلي دي. په دغه وخت کې دوهم خليفه وويل: هو پيغمبر غوښتل چې علي له ځانه ورسته خليفه وټاکي خو خداي ونه غوښتل[1]
معاويه هم له دغه غلط استدلاله کار واخست، همداراز يزيد هم په يو محفل کې چې د اهل بيتو بنديان يې ورته راوستي وو امام زين العابدين (ع) ته وويل د هغه خداي حمد چې ستا پلار يې وواژه[2]
د امام علي له شهادته وروسته د معاويه په شل کلن حکومت کې د هغه يوه تبليغي سوژه (موضوع) په تيره بيا د هغو شيعو په هکله چې په عراق او په ځانګړې توګه په کوفه کې اوسيدل،دا وه چې علي

۱. ابن ابي الحديد شرح نهج البلاغه دولسم ټوک ۷۸ مخ
۲. ابي منصور احمد بن عل طبرسي ، الاحتجاج، دوهم ټوک ۳۱۰ مخ

او د هغه پنځه کلن حکومت د اقتصادي شاته پاتې والي، د وينو د بهيدلو د ماشومانو د يتيم کيدو او داسې نورو مسايلو ذمه وار وبريښوي.

داتبليغي چل ول حتیٰ د امام علي په ژوند کې هم استعماليده. لکه څرنګه چې امام علي له خپلو دوستانو ګيله کوله او فرمايل به يې. په ژمي کې تاسو ته وايم چې جنګ ته لاړ شئ وايئ چې ګرمي ده. په ژمي کې به د جهاد حکم ويل وايئ چې ساړه دي. صبر وکړه چې موسم ښه شي. کرهنه مو پاتې کيږي. او فصل مو په ځمکه پروت دي[1]

دا ټول د معاويه د تبليغاتو نتيجه وه. د معاويه لاس پوځو د امام علي په حدودو کې داسې تبليغات کول. او خلک به يې د امام علي په خلاف کارول او د بلوا او بغاوت زمينه يې برابروله.

د دې مثال په اسلامي انقلاب کې هم ليدل شوي دي. په ورځپاڼوکې ليکي:که د خرمشهر له فتحې وروسته امام خميني جنګ بند کړي واي نن به داسې مشکلات نه لرل[2]

نن د ملي جبهې او د ازادې د غورځنګ مشران هماغه کسان د چا په هکله چې امام خميني وفرمايل: دوي تر منافقانو هم بد دي[3] د هيواد تر پرد ې شاته سياستوال شوي دي. د هغوي تبليغاتي سوژه دا ده چې که دا جنګ نه واي په هيواد کې به دا د ومره بد بختۍ نه

---

۱. شيخ مفيد الارشاد ترجمه محمد باقر ساعدي خراساني ۱۷۴ مخ

۲ . رک : اکبر ګنجي (عالي جناب سخ پوش) روزنامه صبح امروز، ۲۹/۱۰، ۱۳۷۸ دولسم مخ

۳ . صحيفه نور ۲۲ ټوک ۳۸۴ مخ

وې دوي علما ء کرم ښيي او وايي د ملايانو حکومت دا جنګ په خلکو وتاپه او که زر يې سوله کړې واي خبره به دې حد ته نه رسيده د هيواد د ټولنې اقتصادي مشکلات له امريکا سره د اړيکو د غوسولو په وجه دي. که ايران اوس هم له امريکا سره ساز باز وکړي ټول مشکلات هواريږي.

د معاويه چل دا و چې يوه غلطه خبره به يې چې غلطوالي يې ثابت او ځر ګند و دومره تکراروله چې خلک يې ورو ورو ومني. دوي هم همدا سياست تکراروي. په ځينو ځايونو کې د رهبرې ستر مقام) آيت الله خامنه اي ځينې خبرې بيان کړي او ځواب يې ورکړي مثلا دوي له امريکا سره د اړيکو په هکله په تفصيل سره بحث کړي دي نورو ليکوالانو هم په تاريخي او علمي شواهدو سره ثابته کړې ده چې له امريکا سره رابطه نه يوازې زموږ اقتصادي ستونزې اواروي نه بلکه دوه برابره کوي يې.د مثال په توګه ترکيه هغه هيواد دي چې د امريکا تابع دي خو د دغه هيواد خلک د خپلو حقوقو (تنخاګانو) د پنځوس فيصده زياتوالي غوښتونکي دي او د ګډ وډ اقتصادي حالت په اعتراض کې هړتالونه کوي. امريکا هغه هيواد چې يو وخت تر ټولو لوي اسلامي هيواد او د عثماني خلافت مرکز و دومره خوار کړي چې د اسراييلو تالي څټي يې ترې جوړ کړي دي. خو د لته بيا هم ويل کيږي زمونږ مشکل دا دي چې له امريکا سره اړيکي نه لرو. که له امريکا سره اړيکي ولرو زمونږ ستونزې هواريږي. دا هماغه د معاويه سياست دي خو د علي سياست دا و چې د يو اسلامي واکمن دنده تر هر څه مخکې د اسلامي احکامو

اجرا او د اسلامي ارزښتونو ساتل دي. او له هغه وروسته د اقتصاد لمبر راځي. د علي او د معاويه منطق نن هم روان دي.

رگ رگ است این آب شیرین آب شور
بر خــلايق مي رود تـــــا نـفـخ صور

## د معاويه د فعاليتونو په وړاندې د ټولنې د انفعال علتونه

دې ته په پام سره چې تاريخي حالات تر يو حده تکراريږي او کيداي شي د هغه ورته موارد په نورو وختونو کې هم تکرار شي اوس داپوښته پيدا کيږي چې که څه هم معاويه په تبليغاتو او چل ول، د حقايقو په تحريف او دويرولو او لالچ ورکولو له اړمه ډيره استفاده وکړه، خو ولې خلک وغوليدل او د هغه د ډرکو او لالچونو تر اثر لاندې راغلل؟ دا پوښته په حقيقت کې د تيرې پوښتنې بل مخ دي. په بله وينا بني اميه اغيز کوونکي او خلک اغيز منونکي وو هغوي دا تبليغات او گواښونه او تطميعونه وکارول او خلکو د هغو په وړاندې کمزوري وښودله. ولې خلک منفعل شول او د بني اميه وو اقدامات اغيزمن شول دا مسله له دې اړخه اهميت لري چې کيداي شي په ننني ټولنه کې هم داسې حالت پيدا شي او د اسلام دشمنان له هماغه اوزارو به استفادې سره وغواړي د انقلاب لاره بدله کړي له دې امله ضروري ده پوه شو چې څرنگه غبرگون ښودل پکار د ي او هڅه پکار ده چې کمزوري نه شو دا ممکنه نه ده چې بل معاويه، يزيد يا عمر سعد پيدا شي ځکه چې تاريخي حقايق عينا نه تکراريږي خو دهغه ورته حالات ضرور پيدا کيږي. لکه څرنگه چې دخد اي رسول فرمايلي دي هغه څه چې په بني اسراييلو کې شوي

دي زما په امت کې به هم کيږي حتیٰ که هغوي د يو کربوړي په سوري داخل شوي وي تاسو به هم ننوزئ[1] دا چې وايي هغه څه چې د اسلام په لومړيو وختونو کې شوي دي وروسته هم ممکنه ده وشي معنا يې دا نه ده چې هماغه پيښې به بيا تکرار شي بلکه داسې پيښې به وشي چې هماغه روح او انګيزه ولري هغه محرک چې معاويه يې اړ کړ چې داسې حرکت وکړي کيداي شي د دې زمانې په خلکو کې هم موجود وي.او هغه رودې چې معاويه خپلو اهدافو ته د رسيدلو لپاره وکارول کيداي شي د نن زمانې خلک ترې هم کارواخلي او هغه انفعال چې د هغه وخت په خلکو کې پيدا شو د نن زمانې په خلکو کې هم پيدا شي. نو ضروري ده چې سمه جاجونه وکړو چې ولې خلک غوليږي او ولې د ګوابښونو او لالچونو تر اغيز لاندې ر اځي چې په دې وسيله د هغه وخت لپاره ځانونه تيار کړو چې که خداي مه کړه له داسې ازموينې سره مخامخ شو.او که څوک وغواړي مونږ وغولوي يا مو وګوابښي او لالچ راکړي مقاومت وکړو. دا خبره د امام حسين په هغه ويناوو سره چې د مشرانو او مخکښانو لپاره يې وکړه ښه جاجول کيدي شي.[2]

امام حسين اول حاضران داسې وستايل تاسو ددې امت بزرګان يئ، تاسو هغه کسان يئ چې د اسلام په سيوري کې او د اسلامي مقاماتو او علومو په برکت چې لرئ يې خلک مو درناوي کوي او دا هغه مقام دي چې خداي تاسو ته درکړي دي. سره له دې چې خداي داسې ټولنيز مقام او منزلت تاسو ته درکړي دي او له همدې امله

---

۱. شهرستاني، الملل والنحل، لومړی ټوک ۲۰ مخ

۲ . ر، ک : حسن بن علي الحراني، تحف العقنول، ۲۴۰، ۲۴۳ مخونه

خلک ستاسو درناوي کوي او ستاسو خبره اوري تاسو له خپل موقعیته استفاده نه کوئ. بیا امام دهغوي د کوتاهیو او غلطیو ته ګوته ونیوله چې په دې ډول دي.

## ۱. د خداي په لاره کې د مال له خرچ کولو ډډه کول

فلا مالا بذلتموه دخداي په لاره کې مو مال خرچ نه کړ. د امام مخاطبان هغه کسانو وو چې خپل مالي واجبات یې مثلا خمس او[۱] زکات نه ورکاوه له دې خبرې دامام مطلب چې فرمایي مال مو ونه لګاوه، د واجبو حقوقو تر ادا کولو زیات څه نه دي ځکه چې کله کله د دني بقا د مال لګولو ته ضرورت لري او نه شو ویلاي چې مونږ خپل واجب حقوق ادا کړي دي او نور زمونږ په غاړه څه حق نیشته. لومړي ګام دا دي چې خپل مال د اسلام د تبلیغ له بدعتونود مخنیوي او له بدعت جوړوونکو سره په مقابله کې ولګوي. خو تاسو داسې ونه کړل.

## ۲. د دین لپاره په قرباني کې سستي

ولانفسا خاطرتم بهالذي خلقها، ځان مو د هغه چا لپاره چې دا ځان یې پیدا کړي په خطر کې وانه چاوه.

د سر خطر او تاوان په هر ځاي کې له انسانه دامر بالمعروف او نهي عن المنکر وظیفه نه ساقطوي،ځکه چې د دین ترویج او د اسلام له دشمنانو سره مبارزه داسې نه ده چې انسان ته هیڅ خطر

وړپېښ نه شي له دې امله امام حسين دغو کسانو ته فرمايي (تاسو خپل سر دهغه چا لپاره چې هغه يې پيدا کړي په خطر کې وانه چاوه) لکه څرنګه چې امام خميني فرمايي په ډيرو مهمو او لويو چارو کې تقيه جايزه نه ده. تقيه په عامو چارو کې او په عامو امر بالمعروف او نهي عن المنكر کې کيږي چې که چاته تاوان رسيږي دا ويلاي شي چې ما هغه څه چې بايد ويلي مې واي ومې ويل او نور راباندې څه فرض نه دي خو که خبره د اسلام د حيثيت وي امام خميني فرمايي چې په دغه ډول ځايونو کې تقيه روا نه ده که څه هم په زرګونو کسان ووژل شي. ځکه چې دا سلام بنياد په خطر کې دي په دغه ډول چارو کې او لکه څرنګه چې امام وفرمايل په مهامو چارو کې تقيه جايزه نه ده.[1]

## ۳. قومي او ډله ايزو اړيکو ته پام

ولا عشيرة عاديتموها فی ذات الله تاسو دخداي په لاره کې او د هغه د رضا د حاصلولو لپاره هيڅکله له خپلوانو سره (چې د باطل په لاره کې وو) مقابله ونه کړه.

د معاويه د سياستونو په وړاندې د ټولنې د انفعال دريم علت هماغه قومي او قبيله ايز اړيکي وو. په هغه زمانه کې په عربو کې قومي او قبيله ايز ارتباطات ډير مزبوت اصل و. نن هم په هغو خلکو کې چې د کوچيانو ژوند لري داسې روحيه ليدل کيږي او په هغوي

۱. رک: صحيفه نور، ۱ ټوک ۳۹ مخ او ۷ ټوک ۳۲ مخ (د دې بحث له اهميت سره سره تر اوسه په دې هکله ښه تحقيق نه دے شوے او د مهام امور مصداقونه ښه نه دي بيان شوي.

کې همیشه یو ډول قومي او د قبیلې یو والي وي دا روحیه د ښار په خلکو کې کمه ده. په هغه وخت کې له خپلې قبیلې او ټپې د ملاتړ روحیه په عربو کې ډېره مزبوته وه. نن سبا دا ډول روحیه په هغو کسانو کې لیدل کیږي چې په یوې سیاسي جبهې او ډلې کې وي دا روحیه د هاغه رول په شان ده چې په هغه وخت کې د قبیلې او ټپې په وړاندې لوبول کیده. نن سبا د خپلې ډلې د کسانو لپاره دغه ډول احساسات موجود دي.او په صورت دځینو کسانو عمل او فکر توجیه کیږي او ورباندې پرده اچول کیږي

که څه هم دغه کس د اسلام او د امام خمیني د لارې او رودې بلکل اپوته خبره کړې وي[1]

د معاویه په زمانه کې هم د قبیلې او خیلونو د ملاتړ مسله دوده وه. که د یوې قبیلې یو کس به خطا وکړه د قبیلې خلکو به هغه پټوله یا به یې حتیٰ ورځینې دفاع کوله خو که د مقابلې او دشمنې قبیلې

---

۱. د اصطلاح مشهورو سمون پالو ورځپاڼو یو لیکوال د برلین په کانفرنس کې مرکه کړې او د امام خمیني په هکله یې ویلي و (خمیني به د تاریخ په میوزیم بدل شي هغه د حجاب په هکله هم ویلي وو (مونږ په اساسي قانون کې د حچاب په هکله څه نه لرو.) ده همداراز د لویدیځې دموکراسۍ او ارزښتونو په هکله هم ویلي وو دا د اسلام مشکل دي چې ځان د لویدیځ له دموکراتیکو ارزښتونو سره نه شي سمولاي) (ر.ک : له تاکس شپیګل جرمني ورځپاڼې سره د اکبر ګنجي مرکه، کیهان ۲۴ / ۱ / ۱۳۷۹. د دغه مرکې له ترجمې او په ورڅپاڼو کې د دغه کانفرنس دخبر له راتللو وروسته یو کس چې د یني جذبه یې لرله هغه وغندله (ر ک هاغه تیر سند ۲۵/ ۱ ۱۳۷۹ دغه کس د دغه مرکې د غندلو په وجه دخپلې پارټۍ کسانو ملامته کړ او څه موده وروسته دغه مسله دروغ وبلل شوه . او هماغه کس چې مخکې یې دا مرکه غندلې وه هغه ورځپاڼه چې د دغه کانفرنس خبر یې چاپ کړي و وغندله او وې ویل دا خبرې باید نه واي خپرې شواي . مخصوصا کله چې دغه کیسه له بیخه تکذیب شوې ده . (هماغه سند)

کوم کس به دغه ډول ګناه وکړه نو هغه به يې ډېره ستره ښودله او د هغه د سزا غوښتنه به يې کوله. قبيله ايز تعصب او پلوي توب د دې مخه نيوله چې خلک د حق په لور ګام واخلي. نن هم که د يوې ليکې او سياسي فکر کسان د يو بل په غلطو کارونو د اعتراض جرات ونه لري او ديو بل په غلطيو کره کتنه ونه کړي هماغه د قبيلو او خيلونو تعصب يې ژوندي کړي دي.

د امام حسين د وينا مطابق کله شرعي دنده اقتضا کوي چې انسان له خپل قوم او خپلوانو سره دشمني وکړي که څه په اسلام کې صله رحم واجبه ده او قطع رحم حرامه خو که د خپلوانو پلوي توب د اسلام او اسلامي نظام دکمزورۍ سبب کيږي بايد اسلام ته د خپلوانو په خپلوۍ ترجيح ورکړو.او دهغوي ننګه ونه کړو.ځکه چې دا چاره دشمنانو لپاره د ناوړه استفادې زمينه برابروي له همدې امله امام حسين د قوم سپين روبو او پوهانو ته په خطاب کې د معاويه د واکمنيدو يو سبب له خپل قوم او قبيلې سره زياته مينه بيانوي چې د دې سبب ګرځيده چې د هغوي په خطاګانو سترګې پټې کړي او د خداي په خاطر له هغوي سره دشمني ونه کړي.

نو په دې اساس په هغه وخت کې د خلکو د انفعال او د معاويه له تبليغاتو د پروپاګنډو د اغيزمنلو يو علت له سر مال او خپلوانو سره مينه وه. په اسلامي لغت کې دې ته دنيا پالنه او حب دنيا وايي:

حُبُّ الدُنيا رَأسُ کُل خَطِئية[1] (د نيا مينه د ټولو ګناهانو او خطاګانو جرړه ده.)

---

۱. محمد باقر مجلسي، بحارالانوار **۵۱** ټوک **۲۵۸** مخ ۴۱ روايت **۵** باب

اوس د ا پوښتنه پیدا کیږي چې د دنیا مینه چې د ټولو ګناهونو جرړه ده آیا که انسان له ستورو سپوږمۍ یا ښکلي فطرت سره مینه وکړي یا یې د خداي مخلوق خوښ وي ګناه یې کړې ده؟ او په خطا تللي دي؟

په ځواب کې باید ووایو نه داسې نه ده. بلکه له دنیا سره د مینې مطلب له ماله مقام دوستانو او خپلوانو ناوړه استفاده ده چې دنیا پرستي ګڼل کیږي.

د نیا پرستۍ اصلي نښه دا ده چې که د انسان ژوند ته خطر پیښ شي خپلې اصلي فرایض هیر کړي ممکنه چې یو کس چې د امنیت او هوساینې په وخت کې ښه کارنه کوي او په خپلې ټولنیزې دندې عمل کوي خو چې کله د هغه مخې ته کوم خطر پیښ شي او مال او مقام او ځان یې وګوابښل شي ثابت قدمه پاتې نه شي داسې کس دنیا پال دي او دهغه ټولې هڅې د دې لپاره وي چې پخپله ژوندي پاتې شي او له دنیا خوند واخلي له دې امله دخداي رسول قران کریم او ګرانو امامانو د کفارو تر ټولو لویه ځانګړتیا ځان منمي او د دنیا مینه بللې ده. د دې په مقابل کې د مومنانو خصوصیت د خداي په لاره کې له ځانه تیریدل سر ښندنه ایثار او شهادت غوښتنه ده. او د ده لپاره د دنیا ژوند اصلي مقصد نه دي له همدې امله که نیکمرغي دین او هغه ارزښتونه چې دي پرې پابند دي اقتضا وکړي چې دي دې ووژل شي نو په اسان مرګ ته ځان ورکوي امام علي (ع) فرمایي:

اَللهِ لابْنِ اَبِي طَالب آنس بِالمَوتِ مِن الطفل بثدي اُمه[1] (په خداي قسم د ابو طالب زوي له مرګ سره تر دي زياته مينه لري څومره چې يې يو تي رودونکي ماشوم د خپل مور له تي سره لري).

د عاشورا په شپه کله چې بي بي زينب (ع) پوه شوه چې سبا د امام حسين او د هغه د يارانود شهادت ورځ ده خپل ورور ته ورغله او عرض يې وکړ: اي ورورره دا سړي له هغو کسانو پاتې دي چې په لاره کې يا نن شپه ډله ډله له تا جدا شول او لاړل ايا دوي ښه پيژنې او د دوي په وفادارۍ اطمينان لرې؟

د امام حسين له سترګو اوښکې روانې شوې او وې فرمايل:

اَمَا وَاللهِ لَقَدْ نهرهم و بلوهم....يستانسون بالمنية دوني استئناس الطفلِ بِلَبَنِ اُمه.[2] (په خداي قسم ما دوي وازمايل بلکه ډير ځله مې هغنوي له ځانه ليرې کړل او ورته مې وويل چې له خپلو کورنيو سره له دې معرکې ليرې شي....خو اخر پوه شوم چې دوي له ما سره مرګ ډير خوښوي او زما په ملګرتيا کې له مرګ سره تر دې زياته مينه لري څومره چې يې يو ماشوم د مور له شيدو سره لري.

د عاشورا په شپه د امام حسين ملګرو په خپلو خبرو سره خپل اخلاص وښوده په هغوي کې يو وويل که اويا ځله ووژل شو وسوزول شو او زمونږ د بدنونو ايرې په هوا کې والوزول شي، که بيا

---

۱ . نهج البلاغه ، ۵خطبه

۲ . بهبهاني ملا محمد باقر، الدمعه الساکبه ، موسسه الاعلمي ، بيروت ۱۴۰۹، ۴ ټوک ۳۷۲ مخ

ژوندي شو، تا ته ستنيږو او ستا په څنګ کې پاتې کيږو چې يو ځل بيا ستا په څنګ کې ووژل شو.[1]

امام حسين د قوم د مشرانو په ټول کې دخپلو خبرو په دوام کې فرمايي:

لُكِنّكُمْ مَكّنتم الظلمةُ مِن مَنزلَتِكُم،( ظالمان مو تمکين کړل، يعنې پرې مو ښودل او اجازه مو ورکړه چې په تاسو واکمن شي). اَسْلَمْتُمْ اُمور الله فِی اَيْديهِم (دخداي چارې مو د هغوي په لاس ورکړې)

الهي چارې مو چې بايد د خدايي کسانو په لاس کې وي ظالمانو ته وسپارلې دوي ته مو رضا ورکړه او دوي مو د خپلو چارو واکمنان ومنل.

يعملون بالشبهات و يسيرون فی الشهوات (داسې کسان مو واکمنان کړل چې د شبهې کارونه کوي او په شهوتونو پسې دي)

دوي د شهوت پرستانو لپاره لاره هواروي ددغو چارو مصداق په ننې ټولنه کې هغه نندارځايونه او فرهنګ سرايونه دي چې د بيت المال په ډيرو خرچونو سره د ګناه اسباب او زمينه برابروي او هغه ورځپاڼې چې ګناه ته خلک هڅوي حضرت امام حسين د دا ډول واکمنانو د واکمنيدو په هکله فرمايي: سلطهم علی ذالك فرارکم من الموت (هغه څه چې سبب شول چې دا ډول کسان پرتاسو واکمن شي له مرګه ستاسو تيښته وه.)

که له مرګه نه تښتيدي او پايداري مو کولاي او که د دشمن په مخ کې ولاړ واي هغوي به شاتګ کړي و.

---

[1] . ابي مخنف وقعه الطف، تحقيق استاد محمد هادي يوسفي غروي د قم د جامعه مدرسينو د خپرونو دفتر چاپ ۳/ ۱۴۱۷ه ق ۱۹۷ ۱۹۹

مونږ باید تیار ووسو چې د دین د حفاظت لپاره له خپل مال او لاد او خپلوانو تیر شو. قران مجید په دې هکله فرمایي: وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ[1] (څومره مو چې له وسه وي پوځي او جنګي ځواک تیار کړئ)

د دې معنا دا نه ده چې له دغو ټولو باید استفاده وشي بلکه باید د دشمن په وړاندې ځان تیار او خوندي کړو. لکه څرنګه چې خداي تعالی فرمایي:

تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ[2] (دا ځواک او او سامان برابر کړئ! چې د خداي او د ځان دشمنان وویروئ.)

که تاسو شهادت ته تیار یئ دشمن شاتګ کوي او نه حاضریږي چې ځان په خطر کې واچوي. امام حسین ډیر مهم ټکي ته اشاره کوي: که خلک غواړي د بني امیه وو او داسې نورو ظالمانو تر ولکې لاندې رانشي او دین یې محفوظ پاتې شي. باید خپل مالونه دخداي په لاره کې خرچ کړي خپل سرد خداي په لاره کې په خطر کې واچوي او شهادت ته تیار وي. او له قبیله ایزو او دخپلوۍ او قومي تعصبونو لاس واخلي. په حق پسې روان وي او پام وکړي چې خداي رسول معصوم امام او نن سبا ولي فقیه څه وایي هر څه چې هغوي وایي باید ومنل شي دا چاره د اسلامي ټولنې د امنیت او یو والي د ساتلو تر ټولو لوي عامل دے او د مومنانو په صفونو کې د د شمنانو او پردیو د ننوتلو مخه نیسي.

---

۱. انفال (۸)، ۲۰

۲. همدغه تیر سند

امام حسین د خپلو خبرو په دوام کې فرمايي: "له دنیا سره چې یوه ورځ به درځینې جدا کیږي ستاسو مینه او دلبستګي د دې څنګه ده چې تاسو په میړانه دجنګ میدان ته لاړ شئ او په نتیجه کې هغوي په تاسو کې تمه کوي"

خو که په دغه ژوند پورې زړه ونه تړئ او د اخرت په ژوند عقیده ولرئ او د دې لپاره چې خداي له تاسو راضي وي او ابدي سعادت مو په نصیب شي د دغه ژوند له خوندونو لاس واخلئ ځکه چې په دې بڼه کې هیڅ دشمن پر تاسو نه شي بریالي کیدي.

## په ټولنه کې د انحراف له عواملو سره د مقابلې لارې

د امام حسین په زمانه کې د ټولنې د انحراف او د هغه د عواملو او له دغه مسلې د مسلمانانو داغیز منلو د څرنګوالي له جاجه وروسته د معاویه په شان د شیطاني چل ولونو په وړاندې له کمزورۍ سره د مقابلې د لارو چارو د معلومولو لمبر رارسیږي که مونږ غواړو چې د هغه وخت د خلکو کمزوري چې د امویانو د واک لپاره یې زمینه برابره کړه زمونږ په ټولنه کې پیدا نه شي یا که داسې کمزوري زمونږ په ټولنه کې وي لیرې شي څه اقدامات باید وشي؟ دغه مقصد ته د رسیدو لپاره باید درې اوزار یعني تبلیغ، ګواښ او لالچ ورکول شنډ کړو.

### ۱ د پیژندنې د سویې لوړول

له تبلیغاتي چل ولونو سره مقابلې لپاره تر ټول ښه لامل د اسلام او تشیع او د امام حسین د لارې په باره کې چې نن د امام خمیني په

لاري کې متجلي شوې ده د خلکو پوهه او شعور زيات کړي شي. له دې امله بايد په دې زمينه کې خپل معرفت زيات کړو. چې دشمنان ونه توانيږي د امام د ليکې او لارې په نامه د امام او اسلام مخالف افکار په مونږ کې دود کړي. لکه څرنګه چې معاويه دغه کار وکړ. يو مورد چې امام خميني ورسره مخالفت کاوه او نن په دروغه دهغه د مبارزاتي موخو برخه ګڼل کيږي د ازادۍ مفهوم دي دوي ازادي چې امام غوښته جنسي ازادۍ او بې لاريتوب تفسيروي او وايي: ايا امام نه ويل چې ازادي او خپلواکي، دايوه ښکاره مغالطه ده ځکه چې امام خميني د اسلام له دشمنانو ازادي غوښتله نه له دين خداي او ارزښتونو ازادي. امام خميني خپل ټول عمر د اسلامي ارزښتونو په ساتنه کې تير کړ امام د ارښتونو د حفاظت لپاره پاڅون وکړ، نه له ارزښتونو د خلکو دازادولو[1] لپاره نن که له ځينو مسولينو پوښتنه وکړې چې ولې په کلتوري چارو کې د ار زښتونو خيال نه ساتل کيږي په ځواب کې وايي مونږ خلکو ته ازادي ورکړې ده او دا تر ټولو لوي ارزښت دي دا هماغه خبره ده چې امام خميني غوښتله. خو په حقيقت کې دا خبره امام حسين ته د معاويه د خبرې په شان ده چې ته اوس د يزيد بد وايې نو هغه له تا غوره دي ځکه چې هغه ستا بد نه وايي. دا يو ډيره د چالاکۍ مغالطه ده او هغه وخت د دغه ډول مغالطو له اغيزه ځان ساتلاي شو چې له دين او د دين له مسايلو

١. يوه ورځ ما د جمعې له خطبې مخکې په وينا کې وويل «دوي څه غواړي ؟» زما په خلاف يې په لسګونومقالې وليکلې چې دا سړے دروغ وايي مونږ خو صرف سياسي ازادي غواړو . خو د چهارشنبه سورې په مسله کې معلومه شوه چې دوي څه ازادۍ غوښتلې، هغه کسان چې خلک يې د چهارشينبه سورې لمانځلو ته هڅول غوښتل يې چې د تخت جمشيد جشن هم جوړ کړي، ډيره لويه بودجه يې هم دغه کار ته بيله کړې وه

پوره خبر وو. یو مومن او مسلمان ځوان باید په شواروز کې یو څه وخت د دیني معارفو مطالعې ته بیل کړي. په دې زمانه کې د دیني مسایلو مطالعه ډېره ضروري ده.[۱]

ځکه چې د ریډیو ټیلي ویژن، انټرنیټ، ورځپاڼو. ویډیو او سپوږمکۍ په وسیله د اسلام او اسلامي ارزښتونو په خلاف تبلیغات ډېې زیات شوي دي، که په چا باندې دین ګران وي باید د هغه لپاره پانګه ونه وکړي مسلمان ځوانان باید اسلامي مطالعې ته تر ورزش او بدني تحرکاتو زیات اهمیت ورکړي، دا علم او پوهه د روح خوراک دي او د روح د لوړاوي سبب کیږي. نن چې اکثره ټولنیز عوامل د اسلام په خلاف دي او اسلام پیدا کوونکي نه دي. په تیره بیا فرهنګي ارتباطاتو ته په پام سره چې نن سب ټینګ شوي دي او هغه غلط فرهنګي سیاستونه چې چلول کیږي، د ټولنې کلتور د بې دینۍ په لور کاږل کیږي.

## ۲. د ایمان د سویې لوړاوي

د ایمان مزبوتول یو بل عامل دي چې له هغه باید د اسلام د دشمنانو د ګواښ د لالچ ورکولو په وړاندې کار واخستل شي. د دغه عواملو په وړاندې کمزوري او له ګواښه ویریدل د ایمان دکمزورۍ نښه ده.

د ګواښونو او تمو دمقابلې لپاره باید خپل ایمان مزبوت کړ و. د ایمان د پیاوړتیا لپاره یوازې مطالعه کافي نه ده،بلکه عمل هم

---

۱. په دې برخه کې د استاد شهید مطهري د کتابونو سپارښتنه کوم . ضروري ده چې ځوانان د اکتابونه کرښه په کرښه ولولي او د طلباوو په شان له یو بل سره مباحثه وکړي . او که څه ابهام وي له پوهو کسانو دې وغواړي چې ور لیرې یې کړي .

ضروري دي البته معرفت اوپوهه اول قدم دي خو ایمان په عمل سره قوي کیږي. انسان که د لمانځه په هکله هر څومره مطالعه وکړي خو لمونځ ونه کړي ایمان یې وده نه کوي عمل یو ډول تلفیقي اړخ هم لري چې دایمان د پیاوړتیا سبب کیږي. باید ځان ته تلقین وکړو چې که اسلام له ما وغواړي زه مرګ ته تیار یم امام حسین د عاشورا په ورځ خپلو اصحابو ته وفرمایل:

صبرا بني الكرام فما الموت الا قنطره تعبر بكم عن البؤس والضراء الي الجنان الواسعة والنعيم الدائمة. ١

اي د لويو خلکو زوزاته لږ صبر وکړئ دا مرګ به تاسو له سختۍ مصیبته او سپکاوي وژغوري او لوي جنت او تل پاتې نعمتونو ته به مو ورسوي. ایا دا خبره ښه نه ده.؟ ولې باید له داسې مرګه ویره وشي؟ ایا که څوک انسان له جیله او بنده خلاص کړي او یوې ښکلې ماڼۍ ته یې بوځي له هغه مننه کوي که خپه کیږي ترې؟ مرګ مومن انسان د دنیا له بنده خوشے کوي او د جنت ماڼیو ته یې رسوي. ایا داسې څیز ښه دے او که ویروونکي؟ خو دکافرانو لپاره مړینه داسې نه ده هغوي له جنته وباسي او جهنم ته یې بوځي. ځکه چې هماغه دنیا چې د مومن لپاره د اخرت د مقاماتو په پرتله بند دي. د کافر لپاره له ټولو بدبختیو او مشکلاتو سره سره جنت دآ ځکه چې کافر په اخرت کې دومره عذاب لري چې په دې دنیا کې که هر څومره په مصیبت او مشکل کې وي د هغه نړۍ د عذاب په پرتله جنت دآ. مرګ کافران له جنته وباسي او جهنم ته یې بوځي. خو تاسو له بنده

١ . شيخ صدوق معاني الاخبار ٢٨٨ مخ

ازادوي او دومره پراخ باغ ته مو بوځي چې د اسمان او ځمکې هومره لوي دي:

وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ[1] آيا داسې مرګ بد او کرکجن دے او ورځينې ويره پکاره ده؟

همدا وجه وه چې ديارلس کلن ځوان وويل: الموت احلى عندي من العسل[2] مرګ ماته تر شاتو زيات خوږ دے دا ځوان حضرت قاسم (ع) و چې دخپل تره سيد الشهداء په لاس روزل شوي و.مونږ هم که حسينيان يو بايد د دغو تعليماتو به وسيله خپل ايمان مزبوت کړو.

د امام حسين د لارې په دوام سره مرګ زمونږ لپاره تر ټولو ښه ژغورونکے دے امام حسين پخپله هم داسې روحيه لرله. لکه څرنګه يې چې وفرمايل:

وَ مَا اَوْلَهَنِي الى اسلافي اشتياق يعقوب الى يوسف[3] د خپل نيکه، پلار او ورور ليدلو ته زما تلوسه او ا شتياق دومره دے څومره چې يعقوب د خپل زوي يوسف ليدلو ته ليواله و.

امام حسين په دغو خبرو سره خپل اصحاب تربيتولو او هغوي هم شهادت ته تيار وو.

د انقلاب په زمانه کې هغه ځوانان چې د شاه رژيم د بې لارې فرهنګ تر زيات تاثير لاندې راغلي وو د امام خميني په بياناتو سره يې له شهادت سره مينه پيدا شوه او د جنګ په جبهو کې يې په ياد پاتيدونکې حماسې وپنځولې د امام خميني ژوند بخښونکې

---

۱ . ال عمران (۳) ۱۳۳

۲ . سيد هاشم بحراني، مدينة المعاجز، څلورم ټوک، ۲۱۴مخ، ۲۹۵حديث

۳. سيد ابن طاووس اللهوف ۲۲ مخ

ویناوې د هغوي د زړه له تله راپورته کیدې او په زړونو کیناستې. نو که د پیغمبر اکرم (ص) او امامانو له سیرته درس واخلو او د خداي په لاره کې د مرګ لپاره چمتووالي او د شهادت غوښتنې روحیه د یو ایډیال په توګه دود کړو هیڅوک پر مونږ نه شي واکمنیداي.

## د معاویه په زمانه کې د امام حسین پټ فعالیتونه

امام حسین د حضرت امام حسن د شهادت له وخته د معاویه تر مرګ او د یزید تر واکمنیدو پورې هڅه وکړه داسې کسان وروزي چې وکولاي شي د هغوي په مرسته په ټولنه کې ځپه جوړه کړي. هغه حضرت لس کاله په پټه فعالیت وکړ. هغه به په یو خوا بل خوا ځایونو کې په پټه ډیر کم کسان موندل او هغوي ته به یې لارښوونه کوله په تیره بیا د حج په ورځو کې چې له مختلفو هیوادونو به خلک راغونډیدل، امام حسین به هڅه کوله په مني عرفت یا مسجد الحرام کې له هغوي سره خبرې وکړي او هغوي ته لارښوونه وکاندي.

امام حسین په منی کې او د ځینو کسانو په منځ کې چې احتمال یې ورکاوه چې خبره یې اغیزه وکړي د معاویه او د هغه د مامورانو له سترګو لیرې وفرمایل:

اِسْمَعُوْا مَقَالَتِيْ وَ اکتموا قولي[1] (زما خبره واورئ خو رازداره اوسئ زما خبره پټه ساتئ ا وښکاره کوئ یې مه)

په دغه دوره کې امام حسین په ښکاره مبارزه نه شوه کولې ځکه چې که دا کار یې کړي واي نو ټرور کوه یې او له دغه کاره به څه نتیجه هم په لاس نه وه راغلې. نو له دې امله هغه حضرت هڅه کوله

---

۱. ابي منصور احمد بن علي طبرسي ، الارشاد ۲ ټوک ۲۹۲ مخ

اول په ټولنه کې مناسب فرهنګي حالات پيدا کړي. له دې امله دوي له باوري کسانو سره کله يوازې او کله په غونډه کې کيناسته او هغوي ته يې د حق سپارښتنه کوله او فرمايل به يې: زه له دې ويرېږم چې حق د زمکې په مخ بالکل هير کړاي شي او چاته پته ونه لګيږي چې حق څه دي.

که خلک حق وپيژني خو هوا او هوس او د دنيا مينه او مقام پرستي د دې مخه ونيسي چې په هغه عمل وکړي د علماوو کاراسانيږي ځکه چې په خلکو حجت تماميږي (غاړې خلاصيږي) او عالمان دا دليل او حجت لري چې خلکو حق پيژنده خو عمل يې پرې نه کاوه. خو په داسې ځاي کې چې حق د هيريدو په حال کې وي، د عالم دنده درنيږي په داسې بڼه کې که وتوانيږي په ښکاره فعاليت وکړي خپله دنده يې سر ته رسولې ده، او اخر دا چې د شيخ فضل الله نوري په شان د خپلې دندې په سر ته رسولو کې په دار خيږي او شهيديږي. خو کله چې د حق په ويونکي ډول ډول تومتونه لګيږي نو په داسې شرايطو کې ويل او يا نه ويل په داسې حالاتو کې ويل يا نه ويل فرق نه کوي او دا چاره د ډير روحي عذاب او کړاو سبب کيږي امام حسين همداسې موقعيت درلود هغه په مدينه کې چيرته چې پيدا شوي او په ځلونو خلکو د پيغمبر په اوږو ليدلاي و. خبره نه شوه کولې او بايد په منې کې يې د حج په ورځوکې ځينې کسان راغونډول او له هغوي سره به يې خبرې کولې.

د امام حسين بل اقدام د حج په سفر کې له ځينو پوهو کسانو سره د هغوي خبرې دي. امام په دغه سفر کې فرصت پيدا کړ او له خپلو دوستانو او خپلوانو يې ځينې کسان وپيژندل بيا يې يو پټ محفل

جوړ کړ. او هغوي ته يې خبرې وکړې. امام اول هغوي ملامته کړل چې ولې په خپلې دندې عمل نه کوي امر بالمعروف او نهي عن المنکر نه کوي او په خپل مال او سر ويريږي. بيا يې وفرمايل:

اللّٰهُمّ اِنّکَ تَعْلَمُ اَنّهُ لَمْ يَکُنْ مَا کَانَ مِنّا تَنَافسا فِی سُلطانٍ وَ لَا التماسا من فضول الحطام، اي خدايه ته خبر يې په هغه څه چې مونږ په دې موده کې د پلار له وخته تر اوسه کړي دي د دې لپاره نه وو چې د دنيا په مرداره له يو بل سره سيالي وکړو. مونږ په مقام او حکومت پسې نه وو. او نه مو غوښتل چې د دينا له خشاک او خاره د ځان لپاره څه زيات کړو.

ولکن لنرى المعالم من دينک و نظهر الاصلاح فی بلادک[1] دا هر څه په لومړۍ درجه کې د دې لپاره وو چې مونږ خلکو ته د دين نښې اثار او ارزښتونه وښيو او د هدايت په دندې چې مونږ ته راکړل شوې عمل وکړو. چې خلک حق له باطله وپيژني او حق د تورو وريځو او خړو اوبو شاته پټ نه شي. او همداراز مو هڅه کړې ده تر خپل توانه فاسد کارونه اصلاح کړو. او د غلطو کارونو مخه ونيسو چې په ټولنه کې کيږي زمونږ هدف دا و چې د دغه دندې د ترسره کولو په سيوري کې ظلم ليدلي خلک امنيت ته ورسيږي.

معاويه امام حسين ته وايي: که ته د يزيد بيعت وکړې د ټولنې امينت ساتل کيږي. امام حسين هم په ځواب کې فرمايي خلکو امنيت تا له منځه وړي دي د خلکو په مال او ناموس دې تيري کړي دي. او کله چې بسر بن ارطاه د معاويه لخوا او د امير المومنين د

---

۱. حسن بن علي بن شعبه، تحف ا لعقول، ۲۳۷، ۲۳۹ مخونه.

ملګرو د قتل او تالا کولو لپاره مدينې ته راغي د مهاجرو او انصارو په ښځو يې تيري وکړ.[1]

و يعمل بفرائضک و سننک و احکامک، زمونږ مقصد دا د چې د خداي واجبات مستحبات او احکام په ټولنه کې اجرا شي. مونږ دمال او مقام لپاره نه يو پاڅيدلي او دا چې مونږ خپل ځان په خطر کې اچولاي دي هدف مو دا نه دي چې د عيش او عشرت لپاره زمينه برابره کړو.

فانکم الا تنصرونا و تنصفونا قویٰ الظلمة علیکم، که تاسو له مونږسره مرسته ونه کړئ او له مونږ سره انصاف ونه کړئ، ظالمان به پر تاسو بريالي شي.

وعملوا فی اطفاء نور نبیکم، او هڅه کوي چې د پيغمبرانو رڼا ګله کړي. امام حسين شل کاله په مدينه کې دا ډول چلند کاوه. هغوي د جمې د لمانځه په خطبه کې وينا نه شوه کولې ځکه چې خطيب به د معاويه لخوا ټاکل کيده. او په علي به يې لعنت وايه.

که امام حسين په داسې حالاتو کې پاڅون کړاي واي د دغه پاڅون زيات نه زياته نتجه به دا وه چې خلکو به د پيغمبر د لمسي د شهيديدو په وجه افسوس کاوه او څه موده وروسته به دهغه نوم هير شوي و.ځکه چې له يو پلوه معاويه په خپلو تبليغاتوو او شيطاني چل ولونو سره د امام حسين هدف تحريف کړي و. او په دې ډول به امام حسين او دهغه پاڅون په تاريخ کې ورک شوي و.[2]

---

۲. رک: ابن واضح، تاريخ يعقوبي، ۲ ټوک ۱۰۰ مخ

۲. د ايران د انقلاب په لومړيو کې کله به چې امام خميني د شاه بد ويل ځينو به ويل مونږ ته نه ده پته چې د دې عيب ګوني او غيبت اوريدل جايز دي او که نه

له بل پلوه د عراق خلک چې د پیغمبر د کورنۍ لوي پلویان وو. د امیر المومنین د وخت له جنګونو وروسته ستړي شوي وو او په جنګ او جهاد کې یې شرکت نه کاوه. خو د یزید په وخت کې حالات داسې وو چې امام دغه شان یو پلان شوي پاڅون برابرولای شو. امام حسین په ځلونو د خپل شهادت خبر ورکړي و[1] خو په هرحال الهي قیام هغه لاره وه چې د شهادت سبب کیده. او له دې امله د امام حسین لاره او مشن تر ابده د ځلانده لمر په شانپه ټولو زمانو کې ځلیږي.

---

۱. قولویه قمي په کامل الزیارات کتاب کې یو باب د امام حسین له شهادته وروسته د هغه اخبار ته بیل کړے دے مثلا امام باقر فرمایي امام حسین د ترویه نه یوه ورځ مخکې له مکې بهر وواته عبد الله بن زبیر امام حسین بدرګه کړ. او وې ویل اي ابا عبدالله د حج ورځې دي او ته حج پریږدې او عراق ته ځې؟ امام وفرمایل: زما لپاره د فرات په غاړه ښخیدل ښه دي تر دې چې د کعبې شاته ښخ شم....
همداراز امام صادق (ع) فرمایي: امام حسین وفرمایل قسم په هغه چا چې د حسین ساه یې په لاس کې ده بني امیه به خپل حکومت پاي ته ونه رسوي مګر دا چې ما ووژني او هغوي زما قاتلان دي. .....)
امام صادق فرمایي: کله چې امام حسین عقبه بطن سیمې ته ورسید وې فرمایل: وینم چې زه به ووژل شم؟ وې پوښتل ترې دا څه خبره ده چې تاسو یې کوئ وې فرمایل د هغه خوب په وجه چې ومې لیده. وې پوښتل هغه خوب څه و.؟ وې فرمایل [په خوب] کې مې ولیدل چې سپي زما بدن ټوټې ټوټې کوي او تر ټولو سخت یو سپے و چې تور او سپین و. (۷۰-۷۲ مخ)

# پنځم څپرکے

## د کربلا د پیښې شننه

هغه ټول کسان چې له امام حسین سره په جنګ کې شریک وو داسې مسلمانان وو چې په ظاهره یې لمونځونه کول او په هغوي کې هیڅ بت پرست یهودي یا مسیحي کس نه و. د مسعودي په قول هغه ټول د کوفې (د امام علي د حکومت د مرکز)خلک وو او په هغوي کې حتیٰ یو کس هم د شام نه و[1] خو څرنګه ممکنه ده چې یو شمیر کسان چې هم یې لمونځونه کول هم یې روژې نیولې او هم یې د اسلام په لومړنیو وختونو کې د اسلام د دشمنانو په خلاف جنګونه کړي وو او ډیر یې په دې لاره کې ژوبل شوي و د رسول الله مبارک بچي چې اوس هم له سلګونو کلونو وروسته یې چې څوک نوم اوري په هغه مینیږي، د اسلام د پیروۍ او د اسلامي خلافت د بچولو په نامه ووژني، هغه کسان چې څو میاشتې مخکې یې هغه ته بلنه ور کړې وه چې راشه په مونږ حکومت وکړه. نو د دغه دومره لوي بدلون علت څه دي او ولې په انسان کې داسې بدلون پیدا کیږي؟

## له امام حسین سره د خلکو د جنګیدو علتونه

هغه بدلونونه چې په انسان کې پیدا کیږي په ځینو عواملو پورې تړلي دي دا عوامل د انسان د اختیاري کړو په بنه خپلولو کې اغیزمن دي. د انسان په اختیاري کړو کې چې د هغه په اراده ذهني تیاري او انګیزې سره تر سره کیږي، دوه ډوله عوامل دخالت لري،

---

1. مروج الذهب دریم ټوک ۷۳مخ

لومړي ډول فکري او نطري عوامل دي، په دې معنا چې انسان له هر کاره مخکې په تيره بيا په پيچلو سياسي او ټولنيزو چارو کې ضروري دي د هغه په هکله فکر وکړي او دهغه مباني مبادي او مقصد معلوم کړي البته هر کس د خپل فکري وس اواستعداد مطابق د مسايلو تجزيه او تحليل کوي مثلا کوم کسان چې ژور فکر لري مسايل ښه پوره جاجوي او د هغه اصلي جرړو ته رسيږي او کوم کسان چې سطحي فکر کوي د چارو په ظاهر بسنه کوي خو داسې کسان هم د خپلو کارونو لپاره دلايل وړاندې کوي په دې اساس کله چې يو انسان د يو کار اراده کوي په تيره بيا که دغه کار خطر هم ولري بايد ښه غور ورباندې وکړي او دهغه د کولو لپاره قانعوونکي دليل ولري لکه څرنګه چې د اسلام جنګياليو په جهاد کې د شرکت او له شهادته د هرکلي لپاره قوي انګيزه او محرک درلود او په ژور معنوي فکر او مقصد سره ميدان ته ورتلل، ددې په مقابل کې د انقلاب مخالفان هم د خپلو کارونو لپاره توجيه او تفکر لري.

دغه عوامل دانسان په شناخت او بصيرت پورې اړه لري انسان بايد دې نتيجې ته ورسيږي چې ايا دا کار يې صحيح او د دې قابل دي چې پانګه ونه پرې وشي. يا د هغه لپاره د مال او ځان او عمر لګول توجيه نه لري. دا افکار د انسان په خداي باندې په عقيدې د ځان په خلقت او په دې جهان او له دې وروسته جهان په عقيدې پورې راګرځي او دا چې ايا له مرګه وروسته کومه بله نړۍ شته او که نه.؟ او که بل جهان وي د دې نړۍ ژوند اود بلې نړۍ ژوند په خپلو کې څه رابطه لري؟ دا خبرې بايد د انسان لپاره حل شي چې هغه وکولاي شي د خپلو باورنو او عقيدو په اساس فيصله وکړي.

د عواملو بله ډله د انسان په کړو پورې اړه او دخالت لري چې د انسان د عقيدې او فکر له دايرې بهر دي په دې معنا چې کله انسان له ځينو چارو سره مينه او ورته گروهنه لري او هغه کوي، حال دا چې کيداي شي دغه کارونه له فکري نظره بد او نا خوښ وگڼي مثلا اکثره کسان چې سيگرټ څکوي پخپله په دې باور لري چې د سيگرټو استعمال ناخوښ کار او د هغوي د سلامتيا لپاره تاواني دي خو بيا هم د سيگرټو له څکولو خوند اخلي.

دا موضوع شناختي عواملو ته نه جاروځي.بلکه دلته يو بل عامل لاس لري چې په انسان کې د يو کار د کولو گروهنه او دلچسپي پيدا کوي پوهان وايي چې او ل ډول عوامل د انسان عقل او دوهم ډول عوامل عشق ته جاروځي اود عشق سرچينه لري په علمي ژبه، لومړي ډول عوامل شناخت او پيژندنې او دوهمه ډله عوامل په گروهنو دلچسپيو ميلان او انگيزو پورې تړښت لري. دا دوه ډلې عوامل د انسان په ښو او بدو کارونو کې اغيزمن دي نو که تفکر او بصيرت او سمو استدلالونو ولاړ وي مونږ سمې او ښې نتيجې ته رسوي چې ابدي نيکمرغي هم په ځان پسې لري خو که په فکر کې کوږوالي او انحراف وي او انسان د بنياد کاڼي غلط کيږدي او دخپل فکر بنسټ او بنياد په غلطو مقدماتو ودروي نو دهغه دکاميابۍ او نيکمرغۍ هيله نه شي کيداي. ځکه چې که د فکر بنيادي توکي غلط او ناسم وي هغه ټول افکار به چې له دې وروسته راځي غلط او بې ځايه وي.

د تمايلاتو او گروهنو په برخه کې هم دا خبره صادقه ده که د انسان گروهنې او محر کات يو لوري او هدف و لري ممکنه ده په

سمه لاره هدایت شي یا د لارې په کږلیچونو کې ورک او بې لارې شي مثلا انسان د ډوډۍ له خوړلو سره مینه او ګروهنه لري حال داچې هر خواړه دهغه لپاره ښه نه دي له دې امله هغه د ډوډۍ خوړولو ته خپله ګروهنه داسې هدایتولای شي د انسان د سلامتیا او روغتیا سبب شي. هغه د لوږې په وخت داسې خواړه کارولی شي چې دهغه د سلامتیا لپاره ښه وي یا د بدو عادتونو په وجه چې د تلقیناتو تبلیغاتو اشتهارونواو نورو خاصو لاملونو لکه کورنۍ او چاپیریال په وجه حاصلیږي د ګډ د خوږې غوښې په ځاي د ځینو حرامو حیواناتو غوښه وخوري چې حتیٰ خوندورې هم نه دي. مطلب داچې په انسان کې د ډوډۍ د خوړول غریزه او ګروهنه موجوده ده خو د دغه ګروهنې د لوري ټاکل پخپله دانسان په لاس کې دي.

د شناخت او پیژندنې په مسله کې هم ممکنه ده د انسان فکر منحرف شي او دا چاره د هغه په کړو او سلوک کې ناوړه اغیزه وشیندي. لکه څرنګه چې په ګروهنو او تمایلاتو کې کله کله د انسان ګروهنې د غلط لورې (سمت) په طرف ځي او بدې نتیجې لري دا دوه ډلې عوامل د انسان په ټولو وګړنیزو او ټولنیزو کړو کې پیژندلای شو. نو لکه څرنګه چې د انسان شخصي او وګړنیز اعمال په ځینو فکري او نظري بنیادونو او یو لړ ګروهنیزو او تمایلاتي بنسټونو ولاړې دي ټولنیز مسایل هم د خاصو قواعدو او قوانینو تابع دي.

په جزیرة العرب کې د خداي د رسول د بعثت په وخت خلک چې د اسلام د راتګ له حقیقت سره مخامخ وو له دوو مختلفو زاویو یې دې مسلې ته کتل. په هغه زمانه کې مختلفو عواملو د فکري او

نظري مسايلو ګروهنو تمايلاتو او انګيزو په جوړېدو کې رول درلود د دغو افکارو او محرکونو ترکيب بيلا بيلې نتيجې لرلې چې يو هم له هغو د منافقانو په نامه د ډلې پيدا کيدل وو. د کربلا د پېښې په جرړه موندلو کې لاندينيو عواملو ته اشاره کولای شو.

## ۱. ناروا او بې ځايه تقليد

د انسان په عمل کې د بې لارۍ يو لوي لامل له پلار نيکونو او تيرو خلکو ناروا او بې ځايه تقليد دي لکه څرنګه چې د رسول الله مبارک د وخت ځينو خلکو د خپلو پلار نيکونو د عقايدو د تقليد په وجه د پيغمبر (ص) په رسالت ايمان نه راوړه. هغوي له هغه حضرت سره د بحث او خبرو اترو او تحقيق لپاره کومه انګيزه او د دليل او معجزې د غوښتنې لپاره کوم محرک هم نه درلود دغه سطحي نظره کسان د سستو او بې بنياده فکر ي بنستونو د لرلو په وجه په دې حد کې نه وو چې په دې برخه کې تحقيق او څيړنه وکړي. لکه څرنګه چې زمونږ په زمانه کې هم خلک د خپلو عقيدو لپاره په دليل او برهان پسې نه ګرځي په هغه زمانه کې هم ډيرو خلکو له فکري نظره کمزورۍ لرلې او نه يوازې درسول الله مبارک پيغمبري يې نه منله بلکه د خداي په وجود يې هم عقيده نه لرله او د بتانو عبادت هم د هغوي لپاره يو دود و لکه څرنګه چې زمونږ په هيواد کې ځينې داسې دودونه شته او ځينې کسان بې له دې چې معقول دليل ولري د هغه پيروي کوي.[۱]

---

۱ . لکه څرنګه چې نن سبا ځينې ديني لړکي ځيني کارونه د خپل دين د دود او دستورو په توګه تر سره کوي او ځينې کسان بيا هڅه کوي د هغوي دودونه په خلکو کې دود کړي .

د اسلام له پراختیا وروسته ډیر خلک بې له کافي دلیل او مدرکه مسلمانان شول مثلا که دیوې قبیلې مشر به مسلمان شو نو ټوله قبیله به ورپسې مسلمانه شوه. او که بله ورځ به دغه مشر کافر او مرتد شو نورو به هم د هغه په تقلید اسلام ته شا کړه. د دې خبرې دلیل دا وه چې هغوي د منطق او عقلي دلیل له مخې اسلام نه و منلاي. البته د دې خبرې یادونه ضروري ده چې تقلید په کلي ډول بد څیز نه دي او که دانسان له ژونده تقلید ووځي ټولنیز ژوند ورانیږي خو هغه څه چې بد او ناخوښ دي بې دلیله او ړوند تقلید دے.

## ۲. په شناختونو او ګروهنو کې بې لارې

لکه څرنګه چې مخکې مو وویل ټول وګړنیز او ټولنیز انحرافونه د انسان په کړو کې دوو اغیزمنو عواملو ته راګرځي: په تفکر کې بصیرت او پیژندنه کې انحراف او بل هم په ګروهنه انګیزې او اجتماعي جاذبې کې انحراف. که د انسان تفکر صحیح وي او دهغه باطني کششونه هم په سمه لاره روان وي دنیا ورته جنت کیږي. د ټولنیز ژوند ستونزې چې د انسان په کړو او اعمالو پورې مربوطیږي کله هم په فکري بنیادونو کې د غلطۍ یا په بله ژبه د نادانۍ او ناپوهۍ له امله وي.مثلا کله یوه خبره انسان ته سمه نه وي حل شوې خو هغه فکر کوي چې په دغه خبره ښه پوه شوي دي. امام خمیني هم

---

مثلا په وروستیو کلونو کې یې هڅه کړې ده د چهار شنبه سوري رسم چې د زدتشتیانو دود دے په یو ملي دود بدل کړي او په مسلمانانو کې یې خپور کاندي. دا په داسې حال کې دي چې د دغه کار لپاره هیڅ صحیح فکري مبنا او محرک نیشته او یوازې له خپلو نیکونو ړوند تقلید دے.

په خپلو خبرو کې ډير وخت دا خبره تکرار کړې چې: ښاغلي متوجې نه دي، دوي دا تعبير دهغه کس په هکله کاروه چې په يوه چاره به سم نه و پوه شوي. کله هم انسان په يوه خبره ښه پوهيږي خو زړه يې نه غواړي چې د خپلې پوهې مطابق په هغه عمل وکړي. کله داسې وي چې انسان پوهيږي چې کار يې له عقل او منطق سره برابر نه دي او د ټولنې لپاره تاواني دي خو دخپل هوس او هوا د سړولو لپاره هغه کار کوي کوم عوامل چې د اسلام په لومړيو وختونو کې د دا ډول بې لاريو سبب شول له دغو دوو ډلو وتلي نه وو

د اسلام د لومړنيو وختونو په لغت کې د (فتنې) اصطلاح په دا ډول حالت دلالت درلود. په هغه زمانه کې دا تعبير هغه وخت کارول کيده چې خلک به په غلطو ټولنيزو چارو او دود اخته کيدل او ځينې نور کسان به يې هم له ځان سره بې لارې کول لکه څرنګه چې په قران کې دا تعبير په ځلونو کارول شوي دي.[1] امير المومنين (ع) هم په نهج البلاغه کې د فتنې په هکله ډيره ښکلې وينا لري. دوي فرمايلي دي (د فتنو سرچينه هغه هوسونه دي چې پيروی يې کيږي

1 . د فتنې په هکله ځينې ايتونه دا دي : فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ (خو کج زړي، د فتنه جوړولو اود تاويل په طلب کې د هغه په متشابهاتو پسې ګرځي . (ال عمران ٧) . إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٌ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ

(که په دې سپارښتنې عمل ونه کړئ لوي فساد او فتنه به جوړه شي . (انفال ٧٣) . لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ، (که له تاسو سره تللي واي ستاسو لپاره يې بې له فساد او فتنې بل څه نه راوړل او په تاسو کې به يې درز جوړاوه او ستاسو په حق کې به يې فتنه جوړوله او ستاسو په منځ کې جاسوسان لري او خداي تعالیٰ د ظالمانو له (احواله) خبر دي. (توبه، ٤٧)

او بدعتي نظرونه او احکام دي چې په هغو کې د خداي له کتاب سره مخالفت شوي دي.

د هغو په اساس ځيني خلک له ځينو نورو سره د د خداي له دينه پرته د بل دين په بنياد مينه کوي. نو که حق له باطل سره نه واي ګډ وډ شوي حقيقت پلټونکو ته کومه ويره نه وه او که حق له باطل سره له مشکوکيدو او مشتبه کيدو خوندي پاتې واي د دشمنانو ژبه به له هغه ليرې پاتې شوې وه. خو ځينې له دې اخستل کيږي او ځينې له هغې په دغه وخت کې شيطان په خپلو دوستانو بريالي کيږي او يوازې هغه کسان ژغورل کيږي چې دخداي رحمت يې ملګري وي.[1]

د امير المومنين (ع) د وينا مطابق ټولنيزې فتنې دوه سرچينې لري: اول هغه هوسونه چې په انسان کې پيدا کيږي که انسانانو خپل هوسونه کنټرولولاي او په سمه لاره روانولاي شواي او په هغو په عمل کې يې د اعتدال له لارې کاراخستلای شواي داسې فتنې به نه رامنځته کيدې. دوهم لامل هم هغه مسلې دي چې د دين په نامه پيدا کيږي حال دا چې له دين سره هيڅ تړاو نه لري. په دين پورې د دغو بدعتونو تړل د هغو ساده خلکو د غولولو لپاره دي چې په دې باور کوي چې دا څيزونه د دين برخه دي حال داچې داسې نه ده او دا ټول بدعت ګڼل کيږي (آراء تبتدع) يعنې هغه نوښتونه چې د دين برخه ګرځول کيږي حال دا چې د دين برخه نه د ي. په داسې موقعو کې د دين مخالفت کيږي کله چې دا نوې رايې د دين په نامه خلکو ته

---

۱. اِنَّمَا بُدِءَ وُقُوعُ الفِتَنْ اهواء تتبع و احكام تبتدع يخالف فيه كتاب الله و يتولى عليها رجال رجالا على غير دين الله فلو ان الباطل خلص من مزاج الحق لم يخف على المرتا دين ولو ان الحق خلص من لبس الباطل انقطعت عنه السن المعاندين و لكن يوخذ من هذا ضغث ومن هذا ضغث فيمزجان فهنا لک يستوي الشيطان على اوليائه و ينجو الذين سبقت لهم من الله الحسنى (ابن ابي الحديد ، شرح نهج البلاغه ۳ ټوک ۲۴۰ مخ)

وړاندې شي قران پرېښودل کيږي او د خلکو تر منځ په اړيکو کې د ديني معيارونو خيال نه ساتل کيږي دا وخت دي چې ټولنيز اړيکي د دين په مخالفو چارو بدليږي او که ځينې کسان د باطل پيروي کوي له دې امله ده چې فتنه ګر انو ځينې حق عناصر د باطل په ټولګې کې ځاي کړي دي چې خلک غولوي او باطل ته يې بيايي او په دې ډول هغه کسان چې د فتنې اراده لري باطل له حق سره ګډوډوي او خلکو ته يې وړاندې کوي، که يو کس غواړي د ګلونو غنچه برابره کړي له هربوټي يو ګل شوکوي او بيا دغه ګلونه له يو بل سره يو ځاي کوي که ټول ګلونه بدبوي او زهرجن وي څوک يې نه اخلي خو که په دغو بدبويه او زهري ګلونو کې يو څو د ښه بوي ګلونه کېښودل شي کيداي شي ځينې کسان يې واخلي اوپه دې تصور چې خوشبوداره ګلونه دي که بوي يې کړي کيداي شي مسموم شي. دغه مثال ته په پام سره په داسې شرايطو کې چې حق له باطل سره ګډ وي شيطان کولاي شي ځينې کسان ښکار کړي په خلکو کې هغه خلک د شيطان ښکار کيږي او غوليږي چې د حق او باطل په ګډوډي نه پوهيږي او دوکه خوري او له حقه د باطل د جدا کولو لپاره پوره پوهه نه لري. د دوي سترګې په مثبتو ټکو لګيږي او د حق عناصر هغوي ځانته جذب کوي خو له دې غافله چې د دغه حقه عناصرو په منځ کې زهرجن او مسموم عناصر هم شته چې د دوي د زوال او تباهۍ سبب ګرځي. په دې منځ کې يوازې هغه کسان نجات مومي چې د الهي تقدير او محکم نظام او حکمت په اساس د حق د پيدا کولو لټه وکړي او هغه ومومي دوي د شيطان له افتونو خوندي پاتې کيږي.

### ۳. متشابه مفاهیم د فتنه جوړولو لپاره یو لاس وند

هغه کسان چې غواړي په ټولنه کې فتنه جوړه کړي حق او باطل له یو بل سره ګډ وډوي چې په ټونه کې د خبرې د مشتبه کولو زمینه برابره کړي دا کسان ښکلې او غولوونکي شعارونه ورکوي او له دې سره په یو وخت له هغو سره ناحقه خبرې هم تړي په دغه شان موردونو کې له متشابهو ناڅرګندو او داسې الفاظو استفاده کوي چې څو معناوې لري. او هغه الفاظ چې روښانه دي او څوک پکې غلطي نه کوي نه استعمالوي.

دا کسان په ویناوو بحثونو لیکونو کتابونو او شعارونو کې داسې الفاظ کاروي چې څو څو معناګانې لري. په دې ډول لکه څرنګه چې د دغو کلماتو صحیحې معنې اخستلای شو او ښه مصادیق ورته په نظر کې نیول کیدای شي د هغو لپاره د باطلې یا داسې معنا چې باطل مصداقونه هم لري تصور کیږي.په نننۍ زمانه کې د ازادۍ اصطلاح د دغه ډول الفاظو ښه مصداق دي او هر څوک چې د ا زادۍ لفظ اوري مثبته معنا یې ذهن ته راځي خو د حق او باطل د ګډوډولو په وخت نه ویل کیږي چې ایا له دغه ازادې مطلب له خداي عقل دین او انساني ارزښتونو ازادي ده او که نه له جهل د اسارت له بندونو او له شیطاني وسوسو ازادي مقصد دي. که څرګند وویل شي چې له ازادۍ یې مطلب داسارت له بندونو ازادي ده دا شعار په هیڅا بد نه لګیږي ځکه چې هیڅوک نه غواړي چې پردي خلک دې په هیواد واکمن وي یا یې په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي غوره دا ده چې یوه ټولنه پخپله په خپل برخلیک واکمنه وي او نور خلک د هغوي په چارو کې لاس ونه وهي خو له

خدایه ازادي بیا هیڅکله ښه کار نه دي او ځانونه دخداي له بندګۍ نه شو ازادولاي. له عقل او ارزښتونو ازادي هم داسې ده.

امیر المومنین په یو بل ځاي کې فرمایي: اِنَّمَا سُمِّیَتِ الشّبهَةُ شُبهةَ ِلاَنّهَا تَشبَهُ الحَقّ[1] شبهې ته ځکه شبهه وایي چې له حق سره شباهت او ورته والي لري. که باطل له حق سره ورته والي نه درلود او له یو بله یې پېژندل اسان واي نو فتنه به نه جوړیده په دې اساس باید ووایو چې فتنې د حق او باطل د مخلوطلو په نتیجه کې جوړېږي.[2]

---

۱. شیخ حر عاملي وسائل الشیعه ۲۷ ټوک ۱۲۱ مخ.

۲. په دې اساس کوم کسان چې په رښتیا د اصلاح او سماونې ارادي لري او فتنه ګر نه دي او نه غواړي د اصلاح له کلمې ناوړه استفاده وکړي. باید هڅه وکړي چې الفاظ په سم ډول خلکو ته وړاندې کړي او حق او باطل له یو بله جدا کړي او له ‹اصلاح غوښتنې› خپل مقصد روښانه کړي. حال دا چې کله په دوي کې ځینو ته وویل شي له دغو کلماتو خپل مطلب واضح کړئ ځواب ورکوي چې خلک پخپله د هغه معنا معلوموي. او مونږ اوس دا لغات په کلي او مبهم ډول استعمالوو وروسته به خلک په خپله پوه شي چې د اصلاح په شان د کلمې مطلب څه دي حال دا چې که دوي کوم بد غرض ونه لري باید ووایي چې له افساده ددوي په خیال څه مطلب دے. او نن کومه چاره فاسده ده چې دوي غواړي هغه اصلاح کړي. که اساسي قانون باید اصلاح شي نو هغه کومه برخه ده چې اصلاح ته ضرورت لري. ؟ البته هغوي په خپله پوهیږي چې مقصد یې څه دي او د خلکو دغولولو لپاره دا ډول خبره کوي. کوم اعتراض چې دوي په اساسي قانون لري دا دي چې په اساسي قانون کې راغلي دي د ایران قوانین باید اسلامي وي له اصلاح ددوي مطلب له اساسي قانونه د اسلام او ولایت فقیه لیرې کول دي.

د رهبرۍ ستر مقام په ډاګه هغه موارد چې باید اصلاح شي په ګوته کړي دي او فرمایي: نن مونږ باید د فقر توپیر، بډو اخستلو او فساد په زمینو کې اصلاح ته ضرورت لرو.) ایا له دغه ډول صفا او ښکاره خبرو سره څوک مخالفت کوي ؟ ایا په دغه صفا خبرو سره څوک ګمراه کیږي؟ دا خبرې د ټولو انسانانو فطري غوښتنه او د ټولو انبیاوو او اورپاوو غوښتنه ده. ټول غواړي چې له فقر بیوزلۍ توپیر ظلم بې انصافۍ ناوړه استفادې او بډو اخستلو سره مقابله وشي. او کومې چارې چې د دغو مواردو لپاره ضروروي دي اصلاح شي البته داصلاحات ښه دي. خو ځینې کسان خپل مقصد په ډاګه نه بیانوي ځکه چې

کومو کسانو چې د امام حسین په زمانه کې د بني امیه وو واکمنانو وغولول هغوي هم د دغه ډول دوه ګونه خبرو او مبهمو تبلیغاتو تر اغیز لاندې راغلي وو.

دغه فتنه ګرې کورنۍ حق او باطل له یو بل سره ګډ کړ او له مبهمو اوغیر شفافو کلماتو یې کار واخست چې خلک په ګمراهۍ او حیرانۍ کې پاتې شي او دوي بیا په مناسب فرصت کې له دغه لالهاندۍ او ګمراهۍ استفاده وکړي. نو له دې امله ده چې دحق او باطل روښانول اهمیت لري.

## ۴. په قران د خپلې رایې تپل

د اسلام په لومړیو وختونو کې د خلکو د انحراف یو بل عامل په خپله رایه د قران تفسیر او په دغه اسماني کتاب د خپلې رایې او نظر تپل وو تاسو ته پته ده چې د پیغمبر لپاره د معصوم ځای ناستي یو بل حکمت د خلکو د انحراف مخنیوي په غلطه لاره د هغوي د تللو مخه نیول او د قران د نظر بیانول دي.

خو دخداي د رسول له وفاته وروسته په لومړۍ ورځ د خلکو د حرکت لاره بدله شوه. امیر المومنین د خپل حکومت او د خلفاوو د

---

اراده لري حق او باطل له یو بل سره ګډ وډ کړي چې له هغو ناوړه استفاده وکړاي شي که یوکس په حقیقت کې د ټولنې د اصلاح په فکر کې وي باید صفا خبره وکړي او هڅه وکړي ابهامات او شکونه ختم شي. چې څرګنده شي حق څه دي او باطل څه دي. او خلک په اسانه خپله لاره انتخاب کړي. هر څوک چې غواړي یو تعبیر او اصطلاح له ابهاماتو سره مطرح کاندي ناوړه اراده لري. هر څوک چې خپله خبره صفا او بې له څه ابهام او شک پاتې کولو کوي او په جار خبره کوي په دې ډول چې مطلب او مصادیق یې ښکاره وي بې غرضه کس دي ځکه چې خپله خبره صفا کوي او په خپل کلام کې ابهام نه پریږدي.

حکومت په ديرشو کلونو کې ډيرې هڅې وکړې. چې دخلکو فکر سم کاندي او د هغوي د فکري بې لاريو مخه ونيسي خو يوې وړې ډلې نه شول کولای د داسې ډلې په مقابل کې چې د هيواد ټول سياسي پوځي قدرت يې په لاس کې در لود دومره اغيزه نه شي کولاي. هغه امام حتیٰ خلافت ته له رسيدلو وروسته د هغو خلکو په ټول کې چې له دوي سره يې بيعت وکړ. په ځلونو د هغوي له ناپوهی، غفلت او بې پامی ګيله وکړه. د دوي د پنځوکلونود ظا هري خلافت په دوران کې هم دوي ته کافي فرصت په لاس ورنه رغي چې خپل ټول وخت د خلکوپه تعليم او تربيې ولګوي. مثلا د صفين لوي جنګ په دغه وخت کې وشو چې ډير وخت يې واخسته او پکې يو لک مسلمانان ووژل شول.دغه جنګ او داسې نورو جنګونو امير المومنين ته هيڅ فرصت په لاس ورنه کړ چې هغه حضرت د خلکو د شعور او دپوهې د سويې د لوړولو هڅه وکړي سره له دې کله کله به امير المومنين له فرصته په استفاد ې سره ځينې حطبې ورکولې او خلک به يې له غلطيو او انحرافاتو غږول.

هغه حضرت په دغو خطبو کې په ډيرو مواردو کې په عجيبو تعبيراتو سره د داسې کسانو نوم اخلي چې خلک بې لارې کوي دا په داسې حال کې دي چې لا د خداي د رسول له وفاته څو لسيزې نه وې تيرې. امام په داسې يو خطبې کې وفرمايل. شبهې ته يې ځکه د شبهې نوم ورکړي چې له حق سره شباهت لري. خو دخداي د وليانو څراغ يقين او راهنمايي يې د هدايت نښې او علامتونه دي. خو

دخداي دشمنان په داسې حالاتو کې خلک ګمراهۍ ته بلي او دهغوي راهنما او ښښه ړوندوالي دے.[1]

کله چې د ټولنې په فرهنګي فضا کې مبهم او تياره ماحول جوړ شي او شبهه ناکې خبرې دود شي يوازې ډير لږ کسان چې د خداي وليان او لوړ او تکړه عالمان دي له يقين او هدايته برخمن کيږي او د شبهې له تياره فضا نجات مومي. ته وا په دې لاره کې دهدايت لپاره ځينې ښې يو خاص لوري ته لګيدلي دي او د خداي وليان د خپل باطني نورانيت په مرسته د حق او باطل ښې له يو بله جدا کوي او دحق به لور روانيږي.

خو دخداي دشمنانان په دغه شبهه ناکو شرايطو کې هم پخپله د باطل په لور ور ځي او هم نور ګمراهۍ ته بلي. په دغه لاره کې دهغوي راهنمايي ړوندوالي دي. له ړوندوالي تر کومه حده د لارې به موندلو کې کار اخستلاي شو؟ د دوي زړونه دومره ړانده دي او د هدايت رڼا له دوي داسې اخستل شوې ده چې هيڅ لارښوونکي نه لري. او نور خلک هم د ګمراهۍ په لور بلي. په دې اساس کله چې شبهه پيدا شي او فکري او فرهنګي فضا تياره مشتبهه او توره شي. يوازې دخداي وليان دي چې د يقين په مرسته له شبهې ژغورل کيږي. خو نور هماغه راز په ګمراهۍ او حيرت کې پاتې کيږي.

اميرالمومنين (ع) فرمايي: او بل چې عالم ورته ويل کيږي - په داسې حال کې چې عالم نه دي - د خداي کتاب په خپله رايه

---

[1]. اِنَّمَا سُمِّيتِ الشّبهَةُ شُبهةَ لاَنَّهَا تَشبَهُ الحَقّ فاما اوليا، الله فضياوأهم فيها اليقين و دليلهم سمت الهدى و اما اعداءالله فدعاءهم فيها الضلال و دليلهم العمي (ابن ابي الحديد، شرح نهج البلاغه . ۲ ټوک ۲۹۸ مخ)

تفسیروي او حق یې له خپل هوس او خوښې سره برابر کړي دي. نو دهغه ظاهر د انسان دي خو زړه او باطن یې د حیوان. نه د حق او هدایت لاره پیژني چې پیروي یې وکړي او نه ګمراهي پیژني ې ځان ترې وساتي. [دا سړي] د ژوندیو مړي دي.[1] که دغو خبرو د هغه وخت په تړولنه کې مصداق نه درلود امیر المومنین به نه بیانولې. هغه حضرت د داسې کسانو خبره کوي چې ځانونو ته عالمان وایي حال دا چې له علمه هیڅ برخه نه لري. او د انحرافي افکارو یوه ټولګه یې راغونډه کړې ده چې هغو ته علم وایي. دغو کسانو د نورو ګمراهۍ او نادانۍ راغونډې کړي او ویاړي چې د نورو له خبرو خبر دي او ګمان کوي چې همدا علم دي؛ داسې کسان چې پخپله له حقیقي علمه بې برخې دي قران د خپلې رایې مطابق تفسیروي.

او د هغه مطالب د خپل نظر په اساس معنا کوي. دا رایې د ګمراهیو ټولګې دي. دوي چې ځانونو ته عالم پوه او فلسفي وایي ددوي ظاهر او شکل د انسان دي خو د حیوان زړه لري. د دوي د کوششونو نتیجه او سرمایه د شبهو مجموعه ده چې د علم په نامه یې راغونډه کړې ده. د امام علي (ع) په وینا دا کسان ژوندي نه دي بلـــکه مړي دي چې ځانونه یې په ژوندیو کې ځاي کړي دي.

امام علي د داسې کسانو له لاسه ژاړي ځکه چې دوي سبب شوي چې سطحي نظره خلک چې په مسایلو سم نه پوهیږي په هغوي مین شي. په تیره بیا هغه وخت چې د دوي خبرې په ښکلې او ادبي پیکټ

---

۱. و اخر قد تسمی عالما ولیس به قد حمل الکتاب علی ارائه و عطف الحق علی اهوائه فالصوره صوره انسان والقلب قلب حیوان لا یعرف الهدی فیتبع ولا باب العمي فیصد عنه و ذ لک میت الإحیاء، (تیر سند ۱ ټوک ۳۸۲ مخ)

کې وړاندې شي کله چې دغه شبهه اچوونکي افکار په ټولنه کې خپاره شي په ټولنه کې دحقيقي معلوماتو او ثابتو عقيدو سويه ټيټيږي په تيره بيا هغه وخت چې دا خبرې د داسې کسانو له خولې واريدل شي چې ځانونه يې په ټولنه کې عالمان معرفي کړي دي په داسې حالاتو کې خلک په شک کې لويږي او له ځانه پوښتنه کوي چې په دغو متضادو خبرو کې کومې ومني ورو ورو دهغوي عقيده کمزورې شي.او د فکر او عقيدې په ضعف کې ښکيل شي په دې طريقه هغه کسان چې له دغو خلکو په ناوړه استفادې پسې وي ښه لمړۍ او ښکار لاسته راوړي، ځکه چې د دغو کسانو عقيدې او افکار کلک منطقي او عقلي بنياد نه لري. هغوي له نورو ځينې خبرې اوريدلي او هغه يې خوښې شوي دي او له دې امله چې دهغوي له حالاتو سره هم برابرې وې په دغو خبرو يې باور کړآ ځکه چې طبعا انسان هغه څه چې په طبعې يې برابر وي زر او په اسانه مني.

## ۵ بدليدونکي ټولنيز حالات

د رسول الله مبارک له وفاته وروسته هغه حالات چې هغه حضرت پيدا کړي وو په يو ډول بدل شول. او همداراز هغه وخت چې امام علي ظاهري خلافت لاسته راوړ هم حالات يو قسم ته بدل شول. دا بدلونونه هغو کسانو پيدا کول چې په يو ډول له پيغمبر سره نزدې وو ځينې د پيغمبر خسرونه او ځينې يې د پيغمبر بيبياني وې او د طلحه او زبير په شان کسان د پيغمبر نزدې اصحاب ګڼل کيدل. دا مسله د خلکو د حيرانۍ بې لارۍ او لالهاندۍ سبب ګرځيدله په داسې حالاتو کې چې شبهې په ټولنه کې دود شوې وې او په ظاهره

عالمان د خلکو په ګمراه کولو لګیا وو امام علي باید دخلکو پام دې ته اړولي واي چې د هغوي عقیدې او عمل غلط دي. او ډیرې هغه خبرې چې په تیرو پنځه ویشت کلونو کې هغوي ته ویل شوي او هغه کارونه چې د دغو اعتقاداتو په بنیاد شوي غلط دي. خو د امام علي (ع) د خلافت موده تر دې لنډه وه چې دا ټول انحرافات او غلطۍ اصلاح کړي.او ډیر وخت یې په جنګ کې تیر شو.

د پیغمبر په زمانه کې هم له کفارو او مشرکانو سره ډیر جنګونه وشول د امیر المومنین د وخت جنګونو د پیغمبر د وخت له جنګونو سره فرق درلود د امام علي د وخت جنګونه د مسلمانو ډلو تر مینځ وشول، له داسې ډلو سره چې د یوې مشره د پیغمبر اکرم (ص) بي بي وه او د جنګ کومانده د رسول الله مبارک دوو لویو اصحابو په غاړه درلوده چې یو یې د هغې د تره زوي و. د امیر المومنین (ع) په وخت کې دا جنګونه دومره اوږده شول چې خلک ستړي شول له همدې امله د امام حسن (ع) په وخت کې د سولې وړاندیې سملاسي ومنل شو. امام حسین هم له داسې نسل سره مخامخ و چې له اسلامي تعلیماتو او معارفو پوره نه وو خبر. په درسته ټولنه کې داسې کسان پیدا شوي وو چې انحرافي افکار او شبهې به یې خپرولې او خلکو به له هغوي اغیز اخسته ورو وور خبره دې حد ته ورسیده چې هغه کس چې ټاکل شوې وه د پیغمبر د خلافت په مسند تکیه ووهي په ښکاره د اسلام د اوامرو په خلاف عمل کاوه او شراب یې څښل داسې یو کس به د اسلام داحکامو د خپراوي مسوول کیده او خلکو به یې بیعت کاوه. اخر نه یوازې د شام بلکه د مدینې خلکو هم بې له

یو څو تنو له یزید سره بیعت وکړ. په داسې شرایطو کې د نظر بدلون او د فکر ځپځپانتیا طبیعي خبره وه.

د امام حسین په زمانه کې حالات په دې ډول وو چې په ټولنه کې ثابته او کلکه فکري مبنا او بنیاد نه و پاتې چې خلک پرې تکیه وکړي شي ثابت ارزښتونه نه وو پاتې چې په هغو بارو شوي وای ټول باورونه او ارزشونه کمزوري شوي وو په داسې حالاتو کې که ځینو کسانو به کمزوري استدلال سره یوه خبره منله نو له دې امله چې کلکه فکري سرچینه یې نه لرله ډیې زر به مضطرب او لالهانده شول. په دې منځ کې د کوفې خلک چې د امام علي له وینا سره یې خاصه مینه درلوده او دشام د خلکو له شور ماشوره هم لیرې وو او لا په هغوي کې ویښ ضمیرونه موجود وو د اموي حکومت په مشکلاتو ښه پوه شوي وو او د معاویه دحکومت خطرې یې احساسولې. له بل پلوه یې د شام خلک هم د صفین په جنګ کې پیژندلي وو او دهغوي له چل ولونو خبر وو له دې امله اول د خپلو الهي ضمیرونو او سالم فطرت په اساس دې نتیجې ته ورسیدل چې د معاویه او تر هغه هم بدتر د یزید په شان کس له واکمنې د خلاصي لپاره ښه دا ده چې له امام حسین سره د خلیفه په توګه بیعت وکړي او په دې ډول یې امام حسین ته بلنه ورکړه. خو همدغو خلکو نه کلک ایمان درلود او نه یې سم معرفت او پوهه او په دوي کې یوازې یوه روغه فطري ګروهنه پیدا شوې وه. چې پیاوړې عقلي بنیاد او جرړه یې نه درلوده. دوي همداراز کلک مذهبي او انساني احساسات چې د دوي د ایمان او باور ملاتړي وي نه درلودل له همدې امله ډیې زر مضطرب او لالهانده شول او خپل نظر یې بدل کړ. دغه وخت و چې عبیدالله بن

زیاد کوفې ته ورغي او په داسې جامه کې کوفې ته ورغي چې خلکو فکر وکړ چې امام حسین راغلي دي. عبیدالله په داسې حال کې چې خپل مخ یې پټ کړي و له یو شمیر کسانو سره کوفې ته ننوت او په دارالاماره یې قبضه وکړه. له هغه وروسته یې دکوفې د خلکو د ایمان له کمزور ی په ناوړه استفادې او ویرولو او لالچ ورکولو سره هغوي د امام حسین له ملګرتیا منعې کړل. هغه د قبیلو او ټپو مشران به تحفو او ډالیو سره کرار کړل. خلک یې هم د کوفې په جومات کې راغونډ کړل او هغوي ته یې وویل چې ټولو مسلمانانو له یزید سره بیعت کړ د او نن د حق حکومت د یزید حکومت د هر څوک چې له هغه سره مخالفت وکړي د اسلام او اسلام حکومت مخالف د هغه وویل ماته دنده راکړل شوې ده چې د داسې بلواوو او خپل سریو مخه ونیسم او زه نه پریږدم چې په دې ښار کې څوک بې له یزیده له بل چا سره بیعت وکړي. په دې ډول عبیدالله بن زیاد خلک له امام حسین سره له ملګرتیا وغړول همدارز یې حکم ورکړ چې د مسلم بن عقیل او هاني بن عروه په شان کسانو چې د غورځنګ مشران ګڼل کیږي د خلکو په مخکې سرونه ووهل شي او دهغوي بدنونه په کوڅو کې وګرځول شي. خلک هم د دغه حالت په لیدلو وویریدل او له میدانه وتښتیدل.

اوس دا پوښتنه پیدا کیږي چې که څه هم طبیعي ده چې سست ایمانه کسان چې کمزورې عقیدې لري په داسې حالاتو کې په تندی سره له ګوانښونو وویریږي او شاتګ وکړي. خو ولې دغو کسانو په امام حسین تورې راوویستې اوله هغه سره وجنګیدل.

## ۲. لالچ او نفاق د کربلا دغميزې اصلي لاملونه

د امام حسین په وخت کې د خلکو د انحراف ځینې عوامل لالچ ورکول او تطمیع وه. که هغه وعدې چې د عمر سعد په شان کسانو ته ورکړل شوې وې نه واي هیڅکله به د هغه په شان کس له امام سره جنګ ته نه و تیار شوي عمر بن سعد عام کس نه و د هغه پلار سعد بن ابي وقاص یو لوي صحابي او د خلفاوو په وخت کې د پوځ کوماندان و. سعد هغه کس و چې ایران یې فتح کړ او په قادسیه جنګ کې بریالي شو۱ له دې امله یې ډیر پلویان درلودل او د ایران په مرکز د حکومت کاندید و. په هغه زمانه کې ایران په ټولو اسلامي هیوادونو کې یوه ښه او ایډیاله صوبه ګڼل کیده د ري د حکومت یعنې د ایران د مرکز وعده عمر بن سعد ته ورکړل شوې وه په هغه وخت کې په حکومت کې یوازې د قانون اجرا کول نه وو شامل بلکه حاکم به (مالک الرقاب) او ټول هیواد خلکو او بیت المال خاوند و. او په خپله خوښه به یې په هغه کې تصرف کولای شو. په بله ژبه د بني امیه وو په زمانه کې حکومت دیکتاتوري او سلطنتي و. ځینو کسانو لا له هماغه پیله ایمان نه درلود او یوازې د دنیاوي چارو په تمه یې د اسلام اظهار کړي و.

نو د دې پوښتنې ځواب چې خلک څرنګه دې ته تیار شول چې امام حسین ووژني دا دي چې ځینې په پیسو واخستل شول ځینې نور بیا به ګواښ او د بني امیه وو د ظالمانه وژلې له ویرې او بلاخره اکثره او عام خلک د معاویه په تبلیغاتو او شیطاني چلولونو وغولیدل. په داسې حالاتو کې د خلکو لپاره د شعوري انتخاب څه

۱. ابن اثیر، اسدالغابه في معرفةالصحابه ۲ ټوک ۲۹۰، ۲۹۲ مخونه

لاره نه پاتې کيده له دې امله کله چې مسلم ابن عقيل کوفې ته لاړ او خلکو ته يې مسائل بيان کړل خلک له هغه سره شول خو ډير زر يې خپل بيعت مات کړ او د امام استازے يې د د شمن په وړاندې يوازې پريښوده. په د ې ډول هغه کسان چې پخپله يې امام حسين ته ليکونه ليکلي وو او هغه يې د حکومت منلو ته بللي و په کربلا کې دهغه حضرت په وړاندې ودريدل او په امام يې توري راوويستلې بلکه د پيغمبر د لمسي د وينې د بهيولو لپاره له يو بله مخکې شول په دې طريقه وو چې د عاشورا په سهار کله چې عمر سعد غوښتل خپل لښکر د امام حسين د خيمو په لور روان کړي لمونځ يې وکړ او بيا يې وويل:

يا خيل الله اركبي و بالجنه ابشري[1] (اي د خداي سپرو په خپلو اسونو سپاره شئ او د جنت زير ي واخلئ)

عمر سعد د دې لپاره چې حکومت لاسته راوړي د امام حسين وژل يې جنت ته د رسيدو لاره وګڼله!

دا تاريخي حقيقتونه د ټولو انسانانو لپاره قيمتي عبرتونه دي امام حسين يو زر ديارلس سوه کاله مخکې شيهد شو او عمر سعد هم له منځه لاړ خو نه د امام حسين لاره او نه ديزيد او عمر سعد نظر له مينځه تللاي دي. نو د دغو دوو لارو مصداقونه بايد وپيژنو او په دې هم پوه شو چې د دنيا او اخرت عزت د خداي د بندګۍ او د امام حسين د لارې په منلو کې دي.

۱. ابي مخنف، وقعة الطف، تحقيق استاد محمد هادي يوسفي غروي۱۹۳مخ

## د عاشورا پاڅون او د اسلامي معارفو ژوندي کول

د پيغمبر (ص) له وفاته وروسته که څه هم اسلامي خلافت په غلطه لاره روان شو خو د اسلامي احکامو قوت په ټولنه کې محفوظ پاتې شو ځکه چې لا د پيغمبر اصحاب په خلکو کې موجود وو او د هغوي په غوږونو کې د رسول الله مبارک کلام انګازې کولې.او چا جرات نه شو کولي چې په ښکاره د اسلام له احکامو سره مخالفت وکړي. مثلا يوه ورځ دوهم خليفه د خلکو د ازمويلو لپاره منبر ته وخوت او وې ويل که يوه ورځ زه د اسلام له احکامو وغړيږم تاسو به څه کوئ؟ ايا بيا به هم زما اطاعت کوئ؟ په دې وخت کې يو عرب پاڅيده توره يې راوويسته او وې ويل: که يوه ورځ ته کوږ شې په دې توره به دې نيغ کړو.[1]

نو په هغه وخت کې د اسلام له احکامو سره د جوت مخالفت زمينه نه وه برابره. په هغه وخت کې جوړ شوي بدعتونه هم په دې ډول وو چې خلک له اسلام سره د هغو مخالفت ته نه متوجې کيدل، ځکه چې پخپله يې د پيغمبر سيرت او کړه ليدلي او دهغه حضرت ويناوې يې اوريدلې وې، او دهغه حضرت د وينا او سيرت مخالفت يې نه شو زغملاي.

د عثمان له وخته حالات ورو بدل شول او خبره دې حد ته ورسيده چې معاويه په رسمي ډول د ايران او روم د بادشاهانو په شان حکومت کاوه او ځان يې د مسلمانانو د اختيار خاوند ګاڼه. په داسې حالت کې که امام حسين هغه شان چلند کولای څنګه چې د

---

۱. ر ک : سيد محمد قطب عدالت اجتماعي در اسلام، تر جمه محمد علي ګرامي سيدخسرو شاهي ۳۲۷ مخ

خلفاوو په زمانه کې امام علي کړې و نو هیڅ اثر یې نه درلود او چا د هغه خبرو ته پام نه کاوه ځکه چې د اسلام په باره کې د خلکو معرفت او پوهه او د هغوي ایمان او محرک کمزوري شوي و. د پیغمبر له وخته د پنځوسو کلونو په تیریدو سره په مسلمانانو کې نوي نسل پیدا شوي و چې اسلام یې سم نه پیژانده او د اسلام په احکامو او ښوونو یې عمل ته څه خاصه ګروهنه نه درلوده. په داسې حالاتو کې د اسلامي ټولنې د مشر لپاره نوې فرائض پیدا کیږي. معاویه د مدینې له خلکو د یزید لپاره چې ټولو پیژنده او د هغه له اخلاقو او فاسدو کړو خبر وو بیعت واخسته بې له ګوته په شمیر کسانو ټولو د هغه بیعت وکړ.

د اول او دوهم خلیفه په زمانه کې د اسلام له احکامو سره جوت مخالفت نه و شوي له دې امله که ویل به یې چې دا کار د خداي او د پیغمبر د سنت مخالف دي خلکو به ورنه ځان ساته، خو د دریم خلیفه عثمان په وخت کې خلک د بیت المال د لوټ مار او خوړلو کتونکي وو او د امام علي په وینا خلکو لیدل چې د حکومت چاروالي (د هغه ځاروو په شان چې د سپرلي واښه خوري، بیعت المال نغري)[1] خلکو لیدل چې خلیفه یو ګورنر ټاکي او هغه ځانته

[1] . یوه خبره تر هغه وخت ارزښت ضده ګڼل کیږي چې قباحت یې په ټوله کې له مینځه نه وي تللاي، مثلا هغه وخت چې د پهلوي حکومت اراده لرله په ایران کې بې حجابي دود کړي په اوله کې د چا باور نه کیده چې یوه ښځه چې اواز یې نامحرمو نه دي اوریدلاي او مخ یې نه دي لیدلاي بې پردې په خلکو کې ښکاره شي خو کله چې په اوله کې یې جشن جوړ کړ او د ښار یو څو لویو او مشهورو کسانو چې په حکومت پورې یې زړه تړلي و یا ویریدل چې کوم خطر ورته پیښ نه شي خپلې ښځې بې پردې دغه جشن ته راوستې او د دغه جشن له

مانې جوړوي او په سلګونو مريان او وينځې اخلي، ډير مالونه راغونډوي او هيڅوک په هغه اعتراض هم نه کوي. د دغو کارونو په ليدلو سره ورو ورو د هغو قباحت ختم شو او خلکو دا خيال کاوه چې د دغه شان کارونوکول دومره باک نه لري. ځکه چې که باک يې لرلے نو واکمنانو او د مسلمانانو د خليفه استازو او ګورنرانو به داسې نه کول. اخر خبره دې ته ورسيده چې يزيد په ښکاره شراب څښل له سپيو او بيزوګانو سره به يې لوبې کولې او چا پرې اعتراض نه کاوه. حال دا چې له دې مخکې حالت داسې و چې که ثابته به شوه چې يو کس شراب څښلي دي نو په متروکو به وهل کيده خو په دغه وخت کې د مسلمانانو خليفه هر ورځ شراب څښل. په داسې حالاتو کې که امام حسين يوازې په دې نصيحت بسنه کړې واي چې اې خلکو ګناه مه کوئ، څوک چې شراب څښي جهنم ته به ځي چا به دهغه خبرو ته پام نه و کړي او که په دغه خبره يې ټنيګار کړي واي کيداې شي ترور کړي يې واي. لکه څرنګه يې چې امام حسن (ع) ته دهغه د ميرمنې په لاس زهر ورکړل معاويه ډير شخصيتونه په زهرجنو شاتو سره ووژل هغه به ويل: اِنّ للهِ جُنودا مِنَ العَسل[1] خداې د شاتو لښکريان لري. معاويه حتیٰ خپل نزدې دوستان ترور کول. که امام حسين په داسې حالاتو کې يوازې په موعظې فرهنګي فعاليت او د مسلو په بيانولو بسنه کړې واي هيڅ اثر يې نه کاوه.

---

جوړيدو وروسته د هغوي تصويرونه خپاره شول ورو ورو د بې پردګۍ قباحت له مينځه لاړ، پې دې ډول چې ډيرو ميرمنو په خپله خوښه څادرز وغورځولې

۱. محمد باقر مجلسي، بحارالانوار ۳۳ ټوک ۵۸۹ مخ ، ۳۰ باب

په داسې حالاتو کې چې نه د جهاد او پوځي فعاليت شرايط برابر وو او نه درس او موعظې اغيز کاوه د امام حسين لپاره يوازې يوه لاره پاتې وه او هغه د اسلام د ژغورلو لپاره له خپل مقام او عزته استفاده وه.ځکه چې لا په خلکو کې داسې کسان وو چې امام حسن او دهغه ورور امام حسين يې د پيغمبر په اوږو ليدلي وو او شاهدان وو چې پيغمبر څومره له هغوي سره مينه لرله دهغوي خوله او غاښونه به يې ښکلول او خلکو ته به يې دهغوي په هکله سپارښتنه کوله او فرمايل به يې: هر چا چې له دوي سره مينه وکړه له ما سره يې مينه کړې ده او هر چا چې له دوي سره دشمني وکړه له ماسره يې دشمني کړې ده.[1] له دې امله خلکو لا د زړه په تل کې د پيغمبر له کورنۍ سره مينه لرله او که څه هم د هغوي پيروي يې نه کوله خو په فطري ډول يې له اهل بيتو سره مينه لرله. حتیٰ د يزيد په ماڼۍ کې چې کله د هغه وينځې او ميرمنې خبر شوې چې د کربلا اسيران د پيغمبر دکورنۍ غړي دي اعتراض يې وکړ.

په دې اساس هغه حضرت له موجودو شرائطو په استفادې او تدبير سره دا حرکت په دې ډول برابر کړ چې له خپل پاڅون او شهادته ډيره استفاده وکړي شي. له هغو شرايطو چې د امام حسين لپاره برابر شول دا وو چې د کوفې ـ د امام علي د پلازمينې ـ خلک چې کلونه يې له منبره د امام علي ويناوې اوريدلې وې کله چې پوه شول چې ټاکل شوې ده يزيد د هغه حضرت د خلافت په مسند کښيني له ځان سره يې فکر وکړ چې د دغه کار د مخنيوي

[1]. خوارزمي ، مقتل الحسين، ۱ ټوک ۱۴۱ مخ

لپاره بله هيڅ لاره نيشته بې له دې چې امام حسين کوفې ته وبلي او د حکومت منلو ته يې اړباسي.

امام حسين سره له دې چې د کوفې خلک يې ښه پيژندل او ورته معلومه وه چې هغوي په خپلې وعدې وفا نه کوي، دا فرصت غنيمت وګاڼه چې د هغه پروګرام لپاره چې په ذهن کې يې درلود له هغه کار واخلي يعنې د فساد ظلم او کفر د حکومت په خلاف شهادت غواړې مبارزه.

نو د دې سبب چې امام حسين دغه لاره غوره کړه دا وه چې نورې لارې بندې شوې وې او هغه حضرت يوازې دخپل او خپلوانو د عزت او وينې په قربانولو او او خپلو خويندو او بچيانو په بندي کولو سره کولاي شول اسلام ژوندي وساتي که هغه مبارک دا کار نه وي کړي هغه بهير به چې د عثمان د حکومت له دوران – د معاويه په زمانه کې - پيل شوي و جاري پاتې شوي وي او اسلامي احکام به په تيره بيا په شام کې بلکل هير کړي شوي وو.

په دې اساس نه يوازې د اهلبيتو او تشيع معارف د سيد الشهداء د وينې په برکت ژوندي پاتي شو بلکه په هماغه اندازه اسلام چې داهل سنتو وروڼو په لاس کې دي هم ساتل شوي دي د امام حسين زمينه سازي سبب شوه چې د هغه له شهادته وروسته د اسلامي ټاټوبي په م ختلفو ځايونو کې پاڅونونه او حرکتونه پيل شي که له دې مخکې فرهنګي زمينه برابره شوې نه وه دامام حسين شهادت به دومره کاميابي نه وه لرلې اود بني اميه وو حکومت يې نه شو لړزانه کولاي. د عاشورا له پاڅونه وروسته د توابينو او داسې نور حرکتونه وشول که څه هم په هغو کې يو هم ونه کړي شول چې يو

مزبوت مرکزي حکومت جوړ کړي خو بني اميه وو هم دوام ونه کړ او نور يې ونه کړي شول د اسلامي حکومت په نامه د اسلام له احکامو او تعليماتو سره لوبې وکړې. د امام حسين د پاڅون په نتيجه کې خلک متوجې شول چې بني اميه د رسول الله مبارک په حقه خليفه نه دي او دا لومړي خدمت و چې سيد الشهدا په خپل پاڅون سره وکړ.ځکه چې له دې مخکې خلکو داعقيده لرله چې هر څوک په دغه ګدۍ کښيني د هغه اطاعت واجب دي که څه هم يو زنا زاده وي چې د حکم کولو او لمونځ کولو په وخت مست، په نشه کې او بې عقله وي.

امام حسين خلک پوه کړل چې واکمن بايد معصوم وي يا د معصوم په حکم ټاکل شوي وي او د خداي د احکامومطابق حکم وکړي که داسې نه وي نو حاکم له نورو خلکو سره فرق نه لري. د هغه چا اطاعت بې چون وچرا واجب دي چې معصوم وي او خداي تعالی دهغه د عصمت ضمانت کړي وي. نور کسان چې د معصوم له لوري يا په خاص او يا په عام اذن ټاکل کيږي په هغه بڼه کې يې حکم منل واجب دي چې د شرعې د احکامو مطابق عمل وکړي او که نه وي دهر واکمن اطاعت فرض نه دي. ډير اهلسنت ورڼه اوس هم عقيده لري چې که يو کس د وخت د اسلامي حکومت په خلاف پاڅون وکړي وينه يې مباحه ده. خو که همدا مهدور الدم کس په خپل دغه حرام کار کې کامياب شي او حکومت په لاس کې واخلي پر نورو د هغه اطاعت واجب دي. اوس هم ډير اهل سنت دا عقيده لري. امام حسين خلک پوه کړل چې نه يوازې د داسې کس اطاعت مطلقا واجب نه دي بلکه که هغه د شرعې خلاف کار وکړ بايد اول په هغه

نیوکه وشي او سمه لاره ورته وښودل شي او په بله مرحله کې هغه وګواښل شي او تر دې حدي باید پرمخ لاړ شو چې که د اسلام بقا او د اسلامي ارزښتونو ساتنه د وینې به بهیدو کې وي باید په دې لاره کې له وینې تیر شو.

## د امام حسین له زمانې سره زمونږ د زمانې ورته والي

نن سبا دایران ټولنه د اسلام د لومړیو وختونو له ټولنې او د امام حسین له زمانې سره ډیر مشابهت لري. او که څوک وغواړي اسلامي ټولنه له خپلې اصلي لارې وغړوي باید له دریو اوزارو یعنې لالچ ورکولو او تطمیع، ګواښ او تبلیغ یا پروپاګندې استفاده وکړي. بیشماره منافقان د اسلامي انقلاب د ختمولو لپاره په هیواد کې دننه له هماغه چلونو او کارونو کار اخلي چې د اسلام د لومړیو وختونو منافقانو د امام حسین په هکله استعمالول. البته نن سبا د منافقانو پر خیانت سربیره د بهرنیو هیوادونو مرستې هم ورسره یو ځای شوي دي. که څه هم نیغ په نیغه رول داخلي منافقان لوبوي او د امریکا په شان قدرت نیغ په نیغه لاسوهنه نه کوي. خو په داخل کې عوامل او ګوډاګیان پیژني او هغوي د تبلیغاتي وسیلو، مالي مرستو او نورو اوزارونو لکه د فتنې ترور او بلوا په جوړولو سره مزبوتوي.

له هماغې لارې چې داسلام دښمنانان وتوانیدل اسلام داغي او منحرف کړي او اخر یې امام حسین شهید کړي شو نن هم داسلام دښمنانان غواړي دا غورځنګ له خپلې لارې کوږ کړي

نن سبا د ډله ایزو رسندونو وسایل لکه مطبوعات د تبلیغاتو تر ټولو لویې وسیلې دي. چې په هغو کې حقیقتونه اپوټه ښیي او له تومت او تورونو کار اخلي. په تیره بیا هغه یرغلونه چې د اسلام د دښمنانو په هدایت او ملاتړ سره د دیني سپیڅلتیاوو په خلاف کیږي او د اسلام ضروري او بدیهي احکام چیلنجوي. د اسلام پراختیا ته په پام سره دغه دشمنې لا پیچلې شوي دي. له دې امله هغه کسان چې خدمت کوي اجر یې زیات دي لکه څرنګه چې هغه کسان چې خیانت کوي

ګناه یې لویه ده. ځکه چې نن سبا د خیانت او خدمت دایره لویه شوې ده. هغه وخت چې معاویه د خلافت په ګدۍ کښیناست په یو شمیر داسې کسانو یې حکومت کاوه چې د نر اوښ او د اوښې فرق یې نه شو کولای.[1] هغه د جمعې لمونځ د شورو (چهارشنبې) په ورځ وکړ او چا اعتراض ونه کړ.[2] په کوفې کې د بني امیه وو یو لوی امیر ولید بن عقبه د سهار لمونځ د نشې په حالت کې څلور رکعته وکړ. کله یې چې هغه ته وویل چې څلور رکعته دې وکړل، وې ویل چې نن مې طبیعت برابر و که زړه مو غواړي چې نور هم درته وکړم.[3] که څه هم نن سبا د هغو ځوانانو چې په انقلاب کې لوی شوي دي غولول اسان کار نه دي خو د دښمنانانو چلونو او سازشونه هم پیچلې شوي دي.

---

۱. مسعودي مروج الذهب دریم ټوک ۴۱ او ۴۲ مخونه

۲ . همدغه تیر سند

۳. تیر سند ۲ ټوک ۳۵۲

د امام حسین له زمانې سره د ننني ټولنې دپرتلې وړ یو بل اړخ د انسانیت ډیرو ټیټو درجو ته د ځینو کسانو غورځیدل او په مقابل کې د انسانیت ډیرو لوړو درجو ته د ځینو کسانو رسیدل دي. په حقیقت کې د عاشورا په پیښه کې ځینې کسان په رذالت کې دې حد ته ورسیدل چې بیلګه یې له هغې مخکې د جاهلیت په دوران کې نه پیدا کیده. په عربو کې له اسلامه مخکې د حرمله هومره ظالم او شقي سړي نه پیدا کیږي چې د یو شپږ میاشتني ماشوم مرۍ چې د ځنکدن په حال کې و او د عمر وروستۍ شیبې یې وې په درې سره زهر جن غشي سره پرې کړي.

قران مجید دغه مطلب ته اشاره کوي او فرمایي:

وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا[1] (هغه آیتونه چې له قرانه مو ناز ل کړي دي د مومنانو لپاره شفا او رحمت دي خو د ظالمانو لپاره بې له تاوان او خسرانه بل څه نه زیاتوي.)

قران لکه څنګه چې مومنان هدایتوي د ظالمانو فساد ګمراهي او کفر هم زیاتوي د فطرت په نړې کې د قران مثال د باران د اوبو په شان دي که باران په داسې ځاي کې چې ګلونو کیږي وورېږي تازه او خوشبو داره ګلونه زیاتیږي، خو په هغه ځاي کې چې زهرجن بوټي کیږي هلته د باران ورښت سبب شي چې دغه بوټي نور زهرجن شي. د هغه وخت په ټولنه کې هم د اسلام د راتګ په سیوري کې ځینې لوړ رتبه کسان لکه ابوذر، میثم تمار عمار او سعید بن جبیر وغیره

١. اسرا/٨٢

وررزل شول همداراز داسې کسان چې دعاشورا په شپه يې امام حسين ته وويل که اويا ځله شهيدان شو بيا هم ارمان لرو چې ستا په ملگرتيا کې شهيدان شو[١] خو له بل پلوه قساوتونو او ظلمونو هم وده وکړه په دې ډول چې داسېس کسان پيدا شول چې د خداي هدايت يې تر پښو لاندې کړ او دخداي له رحمته يې مخ واړوه. او اخر يې شقاوت او سخت زړه توب نور هم زيات شو.

د ايران اسلامي انقلاب هم داسې کسان وروزل چې د اسلام په تاريخ کې کم ساري دي د پيغمبر (ص) په زمانه کې د غسيل الملايکه حنظله کيسې به له انقلابه مخکې ځوانان حيرانول حنظله پيغمبر يو صحابي و چې له احد جنگه يو ورځ مخکې يې واده وکړ او د پيغمبر په اجازه يې لومړۍ شپه له خپلې ميرمنې سره تيره کړه او بله ورځ سهار احد غزا ته لاړ هغه له دې مخکې چې د جنابت د غسل وخت پيدا کړي په جنگ کې شهيد شو رسول الله مبارک د هغه په هکله وفرمايل: پرښتې وينم چې له اسمانه يې اوبه راوړي دي او حنظله لامبوي. په همدې مناسبت هغه په غسيل الملايکه (هغه کس چې ملايکو لامبولي وي) مشهور شو[٢] د ايران د اسلامي انقلاب په بهير کې او د سپيځلې دفاع په وخت د ايران خلکو د حنظله په شان ډير ځوانان وليدل او داسې ځوانان چې ارمان يې کاوه چې جنازه يې پيدا نه شي.[٣]

---

١. شيخ مفيد الارشاد، ٢ ټوک ٩٢ مخ

٢. ابن اثير اسد الغابه في معرفة الصحابه ٢ ټوک ٥٩ مخ

٣ . شيخ مصطفى رداني پور چې يو اصفهاني طلبا و څو کاله مخکې يې په جبهې کې شرکت درلود تر دې چې د لښکر کوماندان شو لا يې واده نه و کړي ده ويل زما ارمان دا دے چې له سييدې جينۍ سره واده وکړم چې له بي بي زهرا (ع) سره محرم شم هغه لس زره

له بل پلوه د ایران د اسلامي انقلاب په بهیر کې داسې ملحده منافقان تربیت شول چې په شیطانې او نفاق کې یې بیلګه کمه پیدا کیږي. دا کسان په ټولنه کې احترام او موقعیت لري. ځکه چې هغوي پیاوړې تبلیغاتي دستګاوې او وسایل په لاس کې لري او دهغو په مرسته په خپلو موخو پسې دي. مثلا دغه کسان غیرت د تاوتریخوالي په نامه غندي او تساهل او له ګناهانو سترګې پټول دودوي. په دې ډول له خلکو غیرت اخلي چې هیڅوک د اسلام به اساساتو او ارونو د ناځوانه یرغلونو په وړاندې اعتراض ونه کړي. او که څوک اعتراض وکړي هغه ته تاوتریخجن او تشدد پسند وایي. او شخصیت یې چیلنجوي. دا د لومړي عامل یعنې تبلیغاتو اثر دي چې د معاویه د زمانې په شان ورنه پوره پوره کار اخلي. همدا راز له دوهم لامل یعنې د پیسو او مقام له لالچه د خپلو ګوندي اهدافو لپاره کار اخلي. له دې وروسته هم په مختلفو طریقو د خپلو مخالفانو د ګواښولو لمبر راځي.

## د عاشورا غورځنګ، د اسلامي انقلاب بیلګه

اسلامي انقلاب د دعاشورا له غورځنګه سرچینه واخسته او که امام حسین په هغه زمانه کې پاڅون نه و کړي د ایران اسلام انقلاب به هیڅکله نه و راغلي، خو له انقلابه وروسته ورو ورو د هغه وخت د ټولنې کمزورۍ په خلکو کې ښکاره او تکراریږي.

---

تومانه قرض کړل او له یوې سیدې جینۍ سره یې واده وکړ . شیخ مصطفي له څو کاله جنګه وروسته د واده په دریمه ورځ جبهې ته ستو ن شو او شهید شو هغه له خدایه غوښتي وو چې جنازه یې پیدا نه شي او دا ارمان یې پوره شو

نن زمونږ په ټولنه کې داسې کسان شته چې د مسوولانو په ګناه، بدعت یا د دین د ضروریاتو په انکار اعتراض، غیبت ګڼي او وايي چې دا د اسلام حکومت د کمزوري کېدو سبب کېږي. لکه څرنګه چې معاویه هغه وخت چې امام حسین د یزید فسق بیان کړ وویل چې ته د یزید غیبت کوې.[1] که په واکمنانو د اعتراض ور خلاص نه وي د اسلام بنیاد له مینځه ځي. او د معاویه کیسه تکرارېږي او یو ځل بیا د دین په نامه پاچاهي ظلم په خلکو واکمنېږي امام حسین د داسې واکمن په مقابل کې چې د دین په خلاف یې عمل کاوه ودرید او په دې ډول یې دا دود په اسلامي ټولنه کې روان کړ. اول په نصیحت او موعظې سره او ورپسې په نورو طریقو سره. تر دې چې که د اسلامي ارزښتونو ساتنه د وینې ورکولو ته ضرورت لري مومن باید سر ښندنې ته تیار وي. له همدې امله امام خمیني فرمایل: مونږ هر څه چې لرو له امام حسینه یې لرو امام حسن او ا مام حسین دواړه امامان او د جنت د ځوانانو سرداران وو او امام حسین له ځانه د مشر ورور درنښت کاوه. خو داچې مونږ امام حسین زیات یادوو دا دي چې دهغه حضرت لپاره داسې حالات پیدا شول چې یو ډول فداکاري یې غوښتله او دا شرایط نورو امامانو ته برابر نه شول. په همدې اساس هغه بزرګوار بیلګه وګرځیده داسې بیلګه چې د قیامت تر ورځې پورې کار ورکوي.

تر هغه وخته چې په خلکو کې داسې روحیه موجوده وي د اسلام دښمنان هغوي ته د تمې په سترګه نه ګوري. دښمن هغه وخت په اسلام حکومت کې نفوذ ته هیله من کیږي چې په ټولنه کې دا ډول

---

[1] . ابن قتیبه، الامامه والسیاسه، ۱ ټوک ۱۸۲ مخ

روحیه کمزورې شي دلته ده چې دشمن پر هغوي په خپل بري ډاډ پیدا کوي. ځکه چې داسې خلک بیا له مرګه ویریږي.

امام خمیني زمونږ په زمانه کې لومړي کس و چې خلکو ته دغه ډول درس ورکړ هغه وویل همیشه تقیه واجبه نه ده بلکه په ځینو ځایونو کې حرامه ده او انسان باید دخپل سر تر حده ودریږي.

امام خمیني زمونږ په زمانه کې د حسیني سنت ژوندآ کوونکےآ و د هغه حرکت اسلام ته نوي روح او مسلمانانو ته نوي عزت ورکړ. هغه عزت چې د دوي دحرکت په برکت مسلمانانو ته نصیب شو د اسلام د څوارلسو سوو کلونو په تاریخ کې مثال نه لري[1] دا عزت د امام حسین د پیروۍ په سیوري کې حاصل شو. د دغه روحیې ساتل سبب کیږي چې خداي تعالی زمونږ عزت زیات کړي. خو که دا روحیه له لاسه لاړه شي او د شهادت د جذبې په ځاي د نیا غوښتنه او راحت طلبي راشي او داقتصادي چارې او هوساینه دانسان لپاره تر ټولو مهمه چاره شي د ټولنې ځوړتیا له همدغه ټکي پیل کیږي. توجه پکار ده چې د خداي سنت او طریقه دا نه ده چې که یو قوم عزت لاسته راوړ خداي تعالی یې ورته تل وساتي د دغه عزت د بقا ضمانت تر هغه وخته ورکړل شوي دي چې خلک یې وساتي.

---

١ . مسلمانان په تیره بیا ایرانیان له انقلابه مخکې له ډیر ذلیل حالت سره مخامخ وو. زه چې کله ځیني مسلمانو هیوادونو ته تلم کله چې د هغه ځاي مسلمانان پوهیدل چې زه ایرانآ یم ماته به یې ویل «اخو الیهود» او مونږ ته یې هیڅ توجه نه کوله او حتی زمونږ د سلام ځواب به یې هم نه راکوه خو له اسلامي انقلابه وروسته ایرانیانو نه یوازې په اسلامي هیوادونو بلکه پخپله په امریکا کې هم د ډیر لوي عزت خاوندان شول د امریکایي افسرانو سپیني مانۍ ته نزدې له دې امله چې ما د امام خمیني جامه په تن وه زما درنښت به یې کاوه!

## انقلاب او د بې لارۍ خطر

د بني اسراييلو کيسه په انقلاب کې د انحراف او کږلارۍ لپاره تر ټولو لوي د عبرت درس دي، خداي تعالی په قران کې د هيڅ يو قوم د بني اسراييلو هومره ستاينه نه ده کړې، خداي تعالی بني اسراييلو ته فرمايي:

وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ[1] (تاسو مو پر ټولو نړيوالو لوړ وګرځولئ).

خداي تعالی موسیٰ او هارون راوليږل چې هغوي د فرعونيانو له ولکې خلاص کړي خو څه موده وروسته د ازميښت لمبر راورسيد. حضرت موسیٰ چې يو څو ورځې طور غره ته لاړ هغوي د سخوندر عبادت پيل کړ همدغه کسان چې خداي ورته عزت ورکړي و او فرمايلي يې وو چې فَضَّلْتُكُمْ عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ امر ورته وشو چې خپل مخونه پټ کړئ او په توره يو بل ووژنئ. بني اسراييل چې د سخوندر عبادت يې پيل کړي و په يو ورځ د يو بل په لاس ووژل شول. کله يې چې دخداي دامر پيروي ونه کړه د خالي په ورځ د ښکار له بنديز سره د مخالفت په وجه په دوې کې په زرګونه خلک مسخ شول او بيزوګانو په شکل شول. په يو بل آيت کې دوي ته په خطاب کې فرمايي:

وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَـٰلَمِينَ[2] (هغه څه چې خداي تاسو ته درکړي دي د نړې هيڅ خلکو ته يې نه دي ورکړي.)

---

۱. بقره (۲) ۴۷ او ۱۲۲

۲. مائده (۵) ۲۰

خو په دغه خلکو کله يې چې دخداي د نعمتونو قدر ونه پيژاند الهي عذاب نازل شو. هغه خداي چې ارحم الراحمين دي د سزا په وخت اشدالمعاقبين هم دي. دا دخداي نه بدليدونکي دود دي چې که د نعمت قدر مو ونه کړ نعمت له تاسو اخستل کيږي. بايد له هغه ورځې وويريږو چې دا عزت په خطر کې ولويږي د اسلام په لومړيو وختونوکې د واکمنانو درباريانو عالمانو او خواصو او ناپوهه خلکو په لاس د مسلمانان عزت به خطر کې ولويده اوس هم خطره په لومړۍ مرحله کې د حاکمنانو لخوا اسلام ګواښي هغه ټول کسان چې په يو ډول د دغو کسانو په پياوړي کولو[1] کې اغيزمن وو په دغو ټولو ګناهونو کې تر هغه وخته چې پايلې او اثار يې پاتې وي شريک دي لکه څرنګه چې په روايتونو کې راغلي دي.

مَنْ سَنّ سُنّةْ سَيئةٍ كَانَ عَليه وَزْرُهُ وَ وِزْرَ مَنْ عَمِلَ بَهَا[2] (څوک چې ديو بد دود او کار بنياد کيږدي هم خپله ګناه په غاړه وړي او هم د هغه کس ګناه چې په دغه دود يې عمل کړي دي.

همداراې خداي تعالی فرمايي

وَمَن يَشْفَعْ شَفَعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُۥ كِفْلٌ مِّنْهَا[1] (هر څوک چې د يو ناخوښه څيز يا کس سپارښتنه وکړي د هغه په شر کې هم ونډه لري.

---

۱ . هغه کسان چې بدعت جوړوي اسلامي ضد قوانين په مقننه قوه کې تدوينوي او په مجريه قوه کې يې اجرا کوي په تيرو څو کلونو کې ډير بدعتونه جوړ شوي دي لوړ رتبه مسوولانو اسلامي ضد کړنې کړي دي له هلکانو او جينکو يې حيا اخستې ده د چهار شنبه سوري په شان دودونه يې رواج کړي دي د هلک او جينۍ د اختلاط مسله يې پيدا کړې ده د دغو کارونو تر شا هغه نخبه او پوه کسان وو چې د مال شتو او مقام تمه يې لرله او عام ناخبره خلک هم په هغوي پسې روان وو او دغه ډول کسانو ته يې رايه ورکړه .

۲ . محمد باقر مجلسي، بحارالانوار ۷۱ ټوک ۲۰۴ مخ

ځيني کسان دا فکر کوي چې راي (ووټ) ورکول داسې کار دي چې يوازې په هغوي پورې مربوط دي حال داچې داسې نه ده راي ورکول حق نه د ي بلکه دنده او فرض دي. بايد په انتخاباتو کې شرکت وشي او اصلح کس وپيژندل شي. او رايه ورکړل شي.په راي ورکولو کې مسامحه او بې پروايي جايزه نه ده. د هوس له مخې رايه ورکول له اسلام سره لوبې دي. اول بايد تحقيق او څيړنه وشي چې کوم يو کس د هيواد د چلولو لپاره تر نورو زيات صلاحيت لري.

داسې يو کس ته چې غواړي د هيواد برخليک په لاس کې واخلي د داسې يو امانت سپارل د يوې جينۍ تر ودولو کم نه دي. کله چې تاسو غواړئ يوه جينۍ واده کړئ نو د غوښتونکي اوهلک په هکله تحقيق کوئ ايا په ټولنه کې د يو اصلح کس د معلومولو لپاره همدغه يو څو پوسټرې او عکسونه او شعارونه چې په ديوالونو لګيږي کافي دي؟ راي ورکول يو فرض دي نه شخصي حق. په دې دنيا کې يو کس د راي ورکولو په وجه نه مواخذه کيږي خو د قيامت په ورځ هر کار چې ستا د راي په وجه شوي وي او هر اثر چې په هغه مرتب شوي وي انسان په هغه کې شريک دي. که دا اثر خير وي په ثواب کې يې شريک دے او که ګناه فساد فحشا بې عفتي بډې اخستل او نورې ګناهانې وي راي ورکوونکےآ په هغوکې هم شريک دي. همداراز له دې کا ره خلاصون هم نيشته چې مثلا يو کس ووايي چې زه ووټ نه ورکوم ځکه چې دا يو فرض او دنده ده. که دا چاره يو حق و انسان له هغه استفاده کولاي شوه لکه څرنګه يې چې

---

۱. نساء (۴) ۸۵.

دغه حق پرېښودلای هم شو خو داسې نه ده راي ورکول يو شرعي اوواجب مسووليت دي بايد اصلح کس وپيژندل او رايه ورکړل شي.

له تېرو بايد سبق واخستل شي که يو کس د ځينو ګناهکارو او مفسدو کسانو په پياوړي کولو کې شريک و بايد توبه وکړي او په کورنۍ کې په خبرو اترو کې او دوستانو ته دهغه کس په معرفي کولو کې بايد توجه ولري چې څوک مزبوتوي، د اسلامي حکومت خبره او د خلکو به ځان مال او ناموس د کسانو واکمنول ډېره لويه او مهمه شرعي چاره او دنده ده.

## مونږ په کومه جبهه کې يو د حسين په سپايانو کې که د کوفې په لښکر کې

د کوفې د خلکو د روحيې له بيانولو وروسته اوس دا خبره پيدا کيږي چې ايا مونږ هم نن سبا له دې چې د کوفيانو په شان چلند وکړو په امان کې يو.؟ مونږ کوفيان بې وفا ګڼو او شعار ورکوو چې علي يوازې نه پرېږدو قطعا زمونږ خلک دغه عقيده لري او دا شعار د زړه له کومي ورکوي. خو د زمانې پيښې داسې لوړتياوې او ځوړتياوې پيدا کوي چې د انسان روحيه بدلوي څکه چې له دې مخکې نورو کسانو هم داسې خبرې کړې وې خو د زمانې د حالاتو او شرايطو د بدليدو په وجه يې فکر او باور بدل شو. ضروري ده چې هر پوه او هوښيار کس له ځان سره سوچ وکړي چې که د امام حسين په زمانه کې موجود و نو له کومې ډلې سره به و؟ ايا په رښتيا له دغه دوه اويا لږکي سره به و يا د کوفې او شام د ديرش يا هم يو لک شل زره کسيز لښکر کې به شامل و. يا په هغو کسانو کې چې بې پلوه

پاتې شول. البته مونږ په زیارت کې وایو چې: یا لیتنا کنا معکم و نفوز معکم.... یا لیتني کنت معکم فافوز فوزا عظیما...... اي کاش مونږ هم په کربلا کې واي او د امام حسین په رکاب کې شهیداي شوے واي. ښایي دا ارمان د زړه له کومې وي خو ایا دا ډاډ لرلاي شو چې که په هغو شرایطو کې راګیر شوي وو نو نظر او عقیده به مو نه وه بدله شوې؟ ایا دا یقین لرلاي شو چې په امام حسین به مو توره نه راویستله یا به بې پلوه نه پاتې کیدو.؟ لکه څرنګه چې ځینې کسان وو لکه عبیدالله بن حر جعفي چې اما م حسین پخپله له هغوي سره خبرې وکړې او هغوي سې ملګرتیا ته وبلل. امام حسین دغه کس ته ورغي او له هغه سره یې خبرې وکړې او هغه یې خپلو سپایانو ته وباله خو هغه په ځواب کې وویل چې خپل اس او توره تا ته درکوم. امام هم د هغه په ځواب کې وفرمایل توره او اس دې واخله او له دغه ځایه لاړ شه. که په دې ځاي کې پاتې شې او زمونږ د مرسته غوښتلو غږ واورې او له مونږ سره مرسته ونه کړې ځاي به دې جهنم وي. له دې ځایه وتښته چې زمونږ اواز وا نه اورې[1] ایا که مونږ په هغه زمانه کې وو تر عبید الله بن حر جعفي به مو ښه عمل کړې واي؟

که مونږ غواړو چې ځانونه وازمایو باید وګورو چې هغه حالات چې په هغه وخت کې وو د هغې په شان زمونږ په زمانه کې هم شته که نه؟ که هغه شان حالات وي ایا په مونږ یې بده اغیزه کړې ده او که نه؟ ایا مونږ په رښتیا داسې یو چې ځانونه دامام حسین په ملګرو کې وشمارل شو؟ که هغه دلایل چې د کوفې خلک له اما م حسینه

---

۱. شیخ مفید، ۲ ټوک ۸۲ مخ

لیرې شول زمونږ په ټولنه کې وي مونږ هم باید وویریږو چې داسې نه وي هغه انحرافات زمونږ په ټولنه کې هم پیدا شي.

په هغو کې یو عامل د شناخت او پیژندنې کمزوري وه. که زمونږ عقیدې سطحي دي او منطقي او عقلي ملاتړ نه لري. باید دخپل کار او عاقبت لپاره اندیښمن ووسو. مونږ یوازې همدومره پوهیږو چې امام خمیني و او له هغه وروسته باید د هغه د ځاي ناستي په توګه د رهبرۍ د ستر مقام حضرت آیت الله العظمی خامنه اي خبره ومنل شي. خو په دې نه پوهیږو چې د ولي فقیه د اطاعت د واجبوالي دلیل څه دي که د دې مسلې په دلیل پوه نه شو، د یوې شبهې په مطرح کیدو سره زمونږ عقیده کمزورې کیږي، حال دا چې د امام علي (ع) د وینا مطابق د شبهې په مقابل کې د خداي د دوستانو نجات په دې دلیل دي چې یقین لري او د هغوي عقیدې په قطعي او کلکو دلیلونو ولاړې دي. که زمونږ په زمانه کې شبهه دود شوه، استاد په کلاس کې شبهه ناکې خبرې وکړې او چا ورته ځواب ورنه کړ د پوهنتون استاد په کلاس کې شبهه خپره کړه او چا څه ونه ویل که چا وویل چې دین د حکومتونو افیم دي او چا هغوي غلي نه کړل باید وویریږو چې هغه بلا چې کوفیان ورسره مخامخ شول په مونږ هم راشي که د اسلام احکام تر پښو لاندې شول او خلک له د ې مسلې په ارامه او بې پروایۍ سره تیرشول باید وویریږو داسې ورځ بیا رانه شي چې خلک دوباره د یزید بیعت وکړي. تساهل او تسامح (بې پروایي) د بې دینې د کلتور مقدمه ده. که مونږ د دین د احکامو په مسله کې بې پروا شو باید له هغه ورځې وویریږو چې هغه کانه چې له کوفیانو سره وشوه له مونږ سره هم وشي. که څه هم کیداي شي

وویل شي چې دکوفې خلک په هغه وخت کې تر نورو ښه وو ځکه چې د مدينې د خلکو حالت په دې ډول و چې امام حسين له هغه ځايه وتښتيده د مدينې خلکو له هماغه اوله له يزيد سره بيعت وکړ حال دا چې کوفيانو اول سيد الشهدا د خلافت لپاره وباله.

يو لامل چې د کربلا د پيښې سبب شو په هغه زمانه کې د مسلمانانو د عقيدې او د فکر د بنيادونو کمزوري کيدل وو اوس بايد مونږ له تاريخه عبرت واخلو که د ولايت فقيه د ملاتړ شعار ورکوو که هغه ښه کې په هغه وفادار پاتې کيداي شو چې زمونږ عقيده د منطقي او کلک دليل په اساس زمونږ په ذهن کې رسوخ وکړي، مونږ بايد له ولي فقيه د اطاعت په دليلونو ښه پوه شو. که نه وي د شبهو په لومه کې ګيريږو او ايمان به مو ځپځپانده شي. او شک به د هغه په ځاي راشي د شک په راتللو سره په يوه لاره کې مردانه او په کلکه ګام نه شو کيښودلاي. که يو ديارلس کلن هلک په ځان پورې لاس بم تړي او تر ټانک لاندې کيږي دا په دې وجه ده چې يقين لري چې د شهادت په وخت يې سر دامام حسين په ځولۍ کې دي او دا تفکر چې دا خبرې احساساتي او تبليغاتي شعارونه دي هماغه د ابوسفيان خبره ده چې (لا جنة و لا نار) که د پوهنتون استاد د الهياتو په پوهنځي کې وويل (معلومه نه ده چې هر څه چې خداي ووايي رښتيا دي او د خداي په رښتينوالي هيڅ دليل نه لرو) او که د هيواد د لوړ رتبه مسوولانو د تاييد وړ وينا وال وويل (په قران هم نيوکه کيدلاي شي او ټول قران زمونږ په لاس کې نيشته)[1] او ټول د

---

۱۱ پيام هاجر ۲۹۲ شميره، ۳، ۹، ۷۸

دغه خبرې په وړاندې غلي شول ايا دا ډاډ لرلاي شو چې مونږ به د امام حسين په دوه اويا يارانو کې شامل وو؟

په دې اساس بايد هڅه وکړو خپل فکري او اعتقادي بنيادونه په مذهبي غونډو او رغنده محفلونو سره پياوړي کړو. او له بل پلوه د اسلام او انقلاب ارزښتونه ژوندي وساتو لکه څرنگه چې د نن زمانې شيطاني چلولونه د امام حسين له وخت سره ډېر ورته دي. له هغو سره د مقابلې لاره هم هماغه لاره ده چې امام حسين مونږ ته وړاندې کړه. له دغه شيطاني عملونو سره د مقابلې لومړي شرط په دنيا پورې زړه نه تړل دي. امام حسين خپل بچيان دوستان او ملگري داسې ورزل چې کله ديارلس کلن قاسم (ع) له امام حسينه وپوښتل چې ايا هغه به شهيد شي که نه؟ امام له هغه پوښتنه وکړه چې ستا په نظر مرگ څرنگه دي؟ قاسم وويل:

الموت احلى عندي من العسل.[1] (مرگ ماته تر شاتو زيات خوږ دي)

د قاسم دا خبره شعار نه و بلکه هغه هغه څه چې د زړه په تل کې يې وو. په ژبه راوړل. له پيچلو شيطاني توطئو او سازشونو لپاره بايد په دنيا پورې له زړه تړلو ځان وساتو. چې د شهادت او له مرگه د نه ويريدو روحيه پيدا شي. لکه څرنگه چې خداي تعالى فرمايي:

قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓا۟ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ[2] ([اي پيغمبره] ووايه اي يهوديانو، که

---

۱ . وسيلة الدارين في انصار الحسين (ع) ۲۵۳ مخ

۲ . جمعه (۶۲) ۶

ګمان کوئ چې تاسو د خداي دوستان یئ او نور خلک داسې نه دي نو د مرګ ارمان وکړئ»

ځکه چې که انسان له یو چا سره مینه کوي نو د هغه له ملاقات او کتنېسره هم مینه لري او د محبوب له دیداره نه تښتي. باید عملاً په دې لاره کې حرکت وکړو او خپل اوږده امیدونه او ارمانونه له ځانه لیرې کړو. د دنیا په پړقا پړوق ونه غولیږو او د خداي په لاره کې مرګ لوي ویاړ وګڼو. په دې بڼه کې ده چې د غورځنګ ساتنه کولاي شو. دا هغه درس دي چې امام حسین انسانانو ته ورکړي دي. د شهادت غوارړو

ځوانانو به برکت وه چې انقلاب کامیاب شو. ځوانانو په علي اکبر او قاسم پسې اقتدا وکړه او بوډاګانو په حبیب ابن مظاهر پسې د اسلامي غورځنګ د بقا لپاره هم باید دا روحیه وساتو او پیاوړي یې کړو.[1]

۱. په یو ښار کله چې مې وینا وکړه د کور د مالک کور ته ستون شو . د هغه دیارلس کلن زوي ماته وویل زه له تا سره خصوصي خبره لرم، ښایي دمور او پلار په مخکې شرمیده کله چې له دغه ښاره ستنیدو هغه هلک راته وویل ما تر اوسه خپله خاصه تا ته نه ده کړې یوې غاړې ته شو او ومې ویل خبره دې وکړه . وې ویل : ماته دعا کوه چې خداي مې شهادت په نصیب کړي .

# شپږم څپرکی

## د عاشورا د پاڅون هدفونه

د عاشورا د لوي او بې ساري پاڅون په هکله یوه لویه پوښتنه له دغه حرکته د سید الشهداء د هدف او مقصد په هکله پوښتنه ده دغه پوښتنې ته کلي ځوابونه وکړل شوي دي منجمله دا چې دهغه حضرت پاڅون د دین د احیاء امر بالمعروف او د امت د اصلاح لپاره و. خو دا پوښتنه پخپله جزیي او فرعي پوښتنې لري. د سید الشهدا په دغه حرکت سره څهٔ اصلاح کیدله؟ او په دغه رودې سره دین څرنګه ژوندے کیږي؟ ایا هغه حضرت په خپل مقصد کې کامیاب شو او ایا په خپل پاڅون سره یې وکړے شول اسلامي امت او حکومت اصلاح کړي. او د مفاسدو مخه ونیسي؟

د امام حسین خبرې پخپله دغه پوښتنو ته ښه ځواب دے. له دې امله ددې لپاره چې د هغه حضرت د پاڅون په علت پوه شو او په دې هکله دهغه حضرت ځینو ویناوو ته پام کوو. او بیا دهغو په مختلفو برخو غږیږو.

## الف: د مفاسدو اصلاح، د امام حسین د قیام اصلي مقصد

د هغه حضرت ویناوو ته په پام سره د امت اصلاح دهغوي د پاڅون تر ټولو لوي هدف و. له څرنګه چې خپل ورور محمد حنفیه ته د هغوي په وصیت لیک کې راغلي دي:

اِنِّي لَمْ اَخْرُج اَشِراً وَلا بَطِراً وَلا ظَالِماً وَ اِنَّمَا خَرَجْتُ لِطَلَبِ الاصْلاحِ فی اُمّة جَدّي.[1] (زه نه د سیل او تفریح لپاره قیام کوم او نه د دې لپاره چې په ځمکه کې فساد او ظلم وکړم، بلکه یوازې د خپل نیکه په امت کې د اصلاح لپاره پاڅون کوم)

د لطلب الاصلاح په تعبیر کې څو ټکي پټ دي. ځکه چې امام نه دي فرمایلي چې انما خرجت للاصلاح. بلکه فرمایلي یې دي انما خرجت لطلب الاصلاح، یعنې زه د اصلاح په طلب او لټون کې پاڅون کوم. همداراز د دغه تعبیر بیلګه په هغه وینا کې هم شته چې هغوي علماوو او پوهانو ته کړې وه. او امام حسین دا وینا هغه وخت وکړه چې لا له یزید سره د مبارزې او قیام هیڅ خبره نه وه. د دغه خطبې په پای کې امام دعا کوي او فرمایي:

اللّهُمّ اِنكَ تَعلمُ انه لَمْ یَکُن ما کان منا تنافسا فی سلطان ولا التماسا من فضول الحطام، و لکن لنری المعالم من دینك و نظهر الاصلاح فی بلادك.[2] (اې ربه ته پوهیږې چې هغه څه چې مونږ کړي دي د قدرت د لاسته راوړلو د سیالۍ لپاره یا د ډېر دولت او نعمت د لټون لپاره نه دي بلکه د دې لپاره وو چې ستا د دین تعلیمات او اسلامي معیارونه خلکو ته وښیو او ستا په ټاټوبو کې اصلاح وکړو.)

یعنې وښیو چې دین څه دے او نښې یې کومې دي او په کومو معیارونو او څه ډول دین داران له بې دینانو پیژندلي شو. د (نظهر الاصلاح فی بلادک په جملې کې د نظهر لغت دوه معناوې لرلي

---

۱. محمد باقر مجلسي، بحارالانوار، ۴۴ ټوک ۳۲۹ مخ، ابن شهر اشوب، مناقب آل ابي طالب، ۴ ټوک ۸۹ مخ

۲ . حسن بن علي بن شعبه، تحف العقول، ۲۳۷، ۲۳۹ مخونه

شي.: اول دا چې روښانه کړو چې اصلاح څه ده او بله دا چې اصلاح متحققه او پلې کړو. او هغه پر فساد غالبه وګرځوو.

## د اصلاح مفهوم

نن سبا اصلاح یا ریفارمز یوه هغه اصطلاح ده چې په سیاسي ادبیاتو کې ډیره استعمالیږي. او د رهبرۍ ستر مقام حضرت اية الله العظمی خامنه اي یې هم ډیره کاروي. مونږ د دغه اصطلاح د جاج لپاره اول د هغې معنااو بیا په قران او روایتونو کې دهغې د استعمال موارد بیانوو بیا به هغه موارد بیان کړو چې زیاتره پکې دغه اصطلاح استعمالیږي. اصلاح د عربۍ ټکے دے او د ص، ل،ح له جرړې راوتلے دے. دا کلمه دوه معناوې لري.: یوه د صلح له مادې او بله د صلاح له مادې. د صلح په معنا اصلاح د پخلا کولو او د د دوو کسانو یا ډلو ترمینځ داختلاف او شخړې د ختمولو لپاره راغلې ده په دې معنا اصلاح په قران کې د ښځې او میړه تر منیځ د اصلاح لپاره راغلې ده.

فَٱبۡعَثُواْ حَكَمٗا مِّنۡ أَهۡلِهِۦ وَحَكَمٗا مِّنۡ أَهۡلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصۡلَٰحٗا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيۡنَهُمَآۗ[1] [د هغې میړه او میرمن په مسله کې چې له یو بل سره اختلاف لري] د ښځې د کورنۍ لخوا یو مینځګړے او د میړه د کورنۍ لخوا یو مینځګړے غوره کړئ که ښځه او میړه په رښتیا غواړي سوله او پخلاینه وکـــړي. خداې بۀ دهغوي په منیځ کې روغه راولي.

۱. نساء (۴)، ۳۵

همداراز په يو بل ځاي کې د ښځې او ميړه د پخلا کولو په هکله فرمايي:

وَإِنِ ٱمۡرَأَةٌ خَافَتۡ مِنۢ بَعۡلِهَا نُشُوزًا أَوۡ إِعۡرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يُصۡلِحَا بَيۡنَهُمَا صُلۡحًاۚ وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞ[1] او که يوه ښځه د خپل ميړه د مخ اړولو يا نه پخلا کيدلو انديښنه لري په دغو دوو ګناه (باک) نيشته چې په خپل مينځ کې سوله وکړي او سوله ښه ده.

د دغه اصطلاح مثال يو بل تعبير هم لري چې ډير کارول کيږي او په قران کې هم راغلے دے او هغه د (ذات البين) تعبير دے چې د دوو کسانو يا ډلو د پخلا کولو په معنا دے چې له يو بل سره اختلاف لري. قران فرمايي: وَأَصۡلِحُواْ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ[2] په روايتونو کې هم د ذات البين لپاره د ډير اجر وعده ورکړل شوې ده. مثلا فرمايلي يي دي: که دوه مومنان يا دوه ډلې يا دوه کورنۍ په خپلو کې اختلاف او شخړه لري او ناراضه دي کوشش وکړئ سره پخلا يې کړئ. او د دغه کار ثواب د يو کال له لمونځونو او روژو زيات دے[3] د اصلاح ذات البين لمن د اسلامي ټولنې د خلکو د دوو ډلو ترمنيځ اختلاف ته هم غځيږي چې له يو بل سره جنګيږي.

---

۱. نساء (۴)، ۱۲۸

۲. انفال (۸)، ۱.

۳. شيخ صدوق، ثواب الاعمال و عقاب الاعمال، ۱۷۹ ، ۱۸۰ مخونه

وَإِن طَآيِفَتَانِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱقۡتَتَلُواْ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَا...[1] دلته هم قرآن حکم کوي چې کوشش وکړئ د هغوي په مينځ کې سوله وکړئ. فاصلحوا بينهما.

په دې اساس د اصلاح کلمه په هغه ځاي کې چې دوه کسه يا دوه ډلې له يو بل سره جنګيږي د سولې او پخلا کولو په معنا راغلې ده. او په دغه ځايونو کې د اصلاح معنا د هغوي پخلا کول دي.

د اصلاح د کلمې يو بل استعمال د صلاح له مادې دے. صلاح د فساد په مقابل کې ده. او معمولا په فارسۍ کې د (شايستګی) په معنا ترجمه کوي. صالح کار يعنې نيک او غوره کار. او صالح کس يعنې نيک او غوره کس. په دې معنا اصلاح د فساد په مقابل کې او د نيک او غوره کار د کولو يا د فساد د ليرې کولو په معنا ده. څوک چې غواړي نيک کار وکړي او په ټولنه کې موجود فسادونه عيبونه اونيمګړتياوې ختمې کړي هغه ته مصلح وايي. او هغه کس ته چې د ټولنې د چارو د خرابولو او د فساد د جوړولو اراده لري هغه ته مفسد وايي.د مفسد فی الارض تعبير هم له همدې اصطلاح او جرړې اخستل شوے دے.

د اصلاح دا معنا د اصلاح ذات البين يا د دووکسانو او ډلو د پخلا کولو له معنا سره تعلق نه لري. ځکه کوم کس چې غواړي يو فساد ختم کړي يا يو غوره کار وکړي له کوم خاص کس سره مخامخ نه دے نو ويلے شو چې دا اصلاح چې د صلاح له مادې ده دوه ډوله مصداقه لري يو د ښه اوغوره کار ترسره کول اوبله د فساد او غلط

[1] . رک ۳ : حجرات (۴۹) ، ۹

کارونو ختمول او د تباهۍ او ورنکارۍ مخه نيول. د اصلاح دا دوه مصداقونه په قران کې هم ذکر شوي دي منجمله إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ[1] چې د هغو کسانو په معنا دے چې توبه يې وکړه او اصلاح يې وکړه. واصلحوا يعنې عملوا عملا صالحا. د غلطو کارونو او ګناهانو چې کړې يې وې اصلاح يې وکړه. يعنې ښه او غوره کار يې وکړ. خو هغه څه چې زياتره اجتماعي مفهوم لري او د امام حسين په ويناوو کې مطرح شوې او د نن سبا په سياسي اجتماعي ادبياتو کې کارول کيږي د مفاسدو اصلاح ده چې د افساد په مقابل کې استعماليږي.

خو د اصلاح مفهوم چې نن سبا استعماليږي په سياسي اصطلاحاتو کې يې خاصه ځانګړتيا پيدا کړې ده او د ريفورم[2] په معنا او د انقلاب په مقابل کې کارول کيږي. وايي چې کوم بدلونونه په ټولنه کې راځي کله ارام او تدريجي وي او سست اهنګ او بهير سره ښه خپلوي چې په دې ښه کې ورته ريفورم وايي او کوم کسان چې په ټولنه کې د دا ډول بدلون غوښتونکي وي اصلاح غواړي نومول کيږي. او د هغه انګليسي معادل (ريفورميست)[3] کلمه ده. په مقابل کې هغه کسان چې غواړي په تندۍ سره حالات بدل کړي انقلابي دي. انقلاب د تيز او ناڅاپي ټولنيز بدلون په معنا دے چې کله کله په تاوتريخوالي سره راځي. د ايران اسلامي انقلاب د دې يوه بيلګه ده. د اصلاح کلمه، د يوې سياسي اصطلاح په مقام کې او

---

١ بقره (٢) ١٢٠، نساء (۴) ١۴٢

٢. Reform

٣. Reformist

د انقلاب په مقابل کې د اصلاح لپاره خاصه معنا ده. دا اصطلاح لغوي جرړه نه لري. او ديني او مذهبي اصطلاح هم نه ده. بلکه نوې سياسي اصطلاح ده چې د انقلاب په مقابل کې استعماليږي. له دې امله په قران او رواياتو کې اصلاح په دې خاصې معنا نه ده استعمال شوې. نو کله چې امام حسين فرمايي: خرجت لطلب الاصلاح فی امت جدي، د دوي مقصد دا خاصه معنا نه ده. ځکه کوم کار چې دوي وکړ ارام او له تاوتريخوالي خالي نه و. بلکه جنګ و او يو سپيڅلي هدف ته د رسيدلو په لاره کې د شريفو انسانانو قرباني او وژل کيدل وو.

د رهبرۍ ستر مقام په خپلو ويناوو کې دې خبرې ته اشاره کوي چې کله مونږ وايو اصلاح نو دهغې خاصه معنامو ترې چې نن سباي په سياسي اصطلاح کې استعماليږي مقصد نه وي بلکه زمونږ مطلب له هر ډول فساد سره مبارزه او د مفاسدو ختمول دي که هغه په تدريجي ډول وي او که په دفعي او انقلابي ډول. له دې امله يې وفرمايل د ايران اسلامي انقلاب پخپله ډيره لويه اصلاح وه سره له دې چې د نن سبا په سياسي اصطلاح کې هغه ته اصلاح نه وايي د دوي مطلب دا و چې کله مونږ د قران او روايتونو په اصطلاح د اصلاح خبره کوو د هغې اعمه معنا په نظر کې نيسو. که هغه په تدريجي ډول اصلاح وي او که دفعي او انقلابي ډول او په تندۍ سره. له همدې وجې د ايران اسلامي انقلاب ډيره لويه اصلاح وه ځکه چې ډير مفاسد يې له مينځه يوړل که څه هم دا کار په نسبتا تيزۍ سره وشو البته د غورځنګ دوران پنځلس کاله اوږد شو تر دې چې کامياب شو. خو کله چې انقلاب کامياب شو تير نظام په دفعي

ډول او په یو ځای بدل شو او تیر سیاسي سیټ اپ ناڅاپه بدلون ومونده. نوي اساسي قانون جوړ شو او یو بنیادي او هر اړخیز بدلون راغی.

## د اصلاح په تعریف کې د ارزښتي نظام اغیزې

په قران کې صلاح او فساد ډیر عام ارزښتي مفاهیم دي کوم مفاهیم چې مونږ استعمالوو کله د هستونو (موجودونو څیزونو) او نیستونو (نا موجودو) په محدودې کې وي او کله هم د بایدونو او نابایدونو، یعنې کوم څیزونه بایده ده چې وي اوکم باید نه وي. هغه مفاهیمو ته چې معنا او مطلب یې بایدونه او نبایدونه وي ارزښتي (اقدار) وایي. دا جملې مثلا کوم کار ښه دی؟ کوم کار باید وکړو؟ کوم کار بد دی؟ کوم کار نه دی پکار؟ دا ټول ارزښتي مفاهیم دي. صلاح او فساد هم دوه ارزښتي مفاهیم دي صلاح یعنې یو ښه او غوره کار چې باید وشي. او فساد یعنې داسې څیز چې باید مخه یې ونیول شي او ونه کړی شي. نو کله چې صلاح او فساد تحلیلوو د هغو په معنا کې بایدونه او نبایدونه وینو. ارزښتي مفاهیم کله محدود وي او په خاصه زمینه کې کارول کیږي او کله هم ډیر وسیع او پراخ او ټول ښه اوبد کارونه پکې شاملیږي. په دې اساس هغه مفاهیم چې ټول ښه یا بد کارونه پکې شاملیږي، دې ته عام ارزښتي مفاهیم وایي. په قران کې عام ارزښتي مفاهیم شته (صلاح) او (فساد) یو له دغو مفاهیمو دی د قران په نورو عامو ارزښتونو او اقدارو کې معروف او منکر شامل دي معروف یعنې ښه کار او منکر یعنې بد کار.

(خیر او شر) هم عام ارزښتي مفاهیم دي چې په قران کې په همدې خصوصیت سره بیان شوي دي د ارزښتي مفاهیمو او اقدارو یو خاصیت دا دے چې تجربي او عیني معیارونه نه لري. مثلا دا جملې لکه (موسم ګرم دے) یا (دلته رڼا ده) په عیني تجربي سره ښودلای شو. ځکه چې که موسم داسې وي چې انسان خوله کیږي او ګرمي یې کیږي نو هوا ګرمه ده. خو که موسم داسې وي چې انسان لړزیږي نو موسم سوړ دے. په همدې ډول رڼا او څراغ هم ښودلے او په ګوته کولے شو. او ویلے شو چې دا بلب بل دے او که ګل یې کړو نو تیاره کیږي.د دغو چارو صحیح والے یا غلطوالے په حسي او عیني تجربې سره روښانه کیږي. په دې ډول ویلے شو چې (دلته رڼا ده) (موسم ګرم دے) یا (موسم ګرم نه دے) په شان خبرې او قضیې صحیح دي او که غلطې. خو ارزښتي مفاهیم دا سې نه دي او په حسي تجربې سره د هغو ښه والے یا بد والے نیغ په نیغه نه شو ثابتولاي. له بل پلوه د (ښه اوبد) (صلاح او فساد) (او معروف او منکر) په شان مفاهیم د یو خاص نظام او سسټم تابع دي. مختلفې ټولنې د ځان لپاره خاص ارزښتي نظامونه لري. یعنې ځینو کارونو ته ښه او ارزښتناک او ځینو کارونو ته بد او بې ارزښته کارونه وایي. کیدے شي یو کار په یو سسټم او ټولنه او نظام کې یو ارزښته لري او په بل نظام کې بل.یعنې په یو کې ښه وي او په بل کې بد. مثلا په یوې ټولنې او نظام کې درناوے اوعزت په یو خاص شکل سره کیږي او هغه ښه ګڼي حال دا چې همدغه کار په بله ټولنه کې بد ګڼل کیږي. نو (صلاح) او (فساد) ارزښتي نظامونو او سسټمونو ته په پام سره مختلف دي. او داسې نه ده چې ټول خلک یو کار ته ښه او یو کار ته بد ووایي.

دې ته په پام سره چې ‹صلاح او فساد› او اصلاح او فساد ارزښتي مفاهيم او اقدار دي. که په يو مورد کې استعمال شي مونږ دا پوښتنه کولے شو چې ‹اصلاح› د کوم ارزښت او اقدار مطابق اوکوم ارزښتي نظام مطابق؟ ايا له اصلاح ستا مطلب په لويديځ او د مغرب په معنا ده او که نه د اسلام په معنا؟

لکه څرنګه چې د رهبرۍ ستر مقام وفرمايل:‹زمونږ په ټولنه کې اسلامي انقلابي او ايماني اصلاح د منلو وړ ده. خو امريکايي اصلاح او ريفورمز د منلو وړ نه ده› په دې اساس له غربي اصلاح سره د اسلامي اصلاح د فرق په هکله بايد ووايو چې اصلاح د يوې ټولنې د ارزښتي او کلتوري نظام تابعه ده چې دا اصلاح پکې کارول کيږي. بايد وګورو چې په هغه ټولنه کې کوم کار ښه او کوم کار بد ګڼل کيږي. او د ښه او بد او غوره يا ناغوره کار د تللو لپاره کوم معيار لري. نو په دې اساس د دې لپاره چې معلومه کړو کوم کار ښه او کوم کار بد دے اول بايد دښه اوبد معيار معلوم کړو يعنې وګورو چې مونږ کوم ارزښتي نظام منلے دے. ايا اسلامي ارزښتي نظام مو منلے دے او غواړو چې اصلاح د دغه ارزښتي نظام په اساس تر سره کړو. يعنې غواړو هر څيز چې اسلام يې ښه ګڼي وکړو اوهر کار چې اسلام يې بد ګڼي ونه کړو او ورسره مبارزه وکړو. يا نه غواړو هغه څه چې لويديځ او لويديځوالو ‹مغرب› يې وايي چې ښه دي تر سره کړو که څه هم د اسلام د اوامرو په ضد وي. او هغه کار چې هغوي وايي چې بد دے ورسره مبارز ه وکړو که څه هم داسې کار وي چې اسلام غوښتے دے.

لازمه ده چې په دې هکله وضاحت وکړو چې ټول خلک په ټولو کلتورونو او فرهنګي ثقافتي اختلافاتو سره سره د ځينو کارونو په بد والي پوهيږي او مني يې. مثلا که يو کس هسې په هسې بل کس ووهي او هغه ته بد رد ووايي يا يې بې ګناه ترور کړي يا يو کس د قانون خلاف او بې له دې چې په چا يې ظلم کړے وي ووژني، يو کس د بل چا په مال هسې په هسې خيټه واچوي يا دهغه په ناموس تيرے وکړي. په داسې بڼه کې ټول خلک د داسې کس مذمت کوي اوغندي يې. او دهغه کار غلط او بد ګڼي. په حقيقت کې ټول خلک دا ډول چارې ـ چې دظلم او ستم مصداقونه دي ـ پيژني او په ټولو کلتورونو کې هغه ته بد ويل کيږي. له بل پلوه داسې چارې شته چې ټول خلک دهغه په ښه والي يوه خوله دي. مثلا دخلکو د سلامتيا لپاره خدمت کول، مثلا کې يو کس يو دول درمل کشف کړي او خلکو ته يې ورکړي.نو ټول خلک دهغه دا کار ښه ګڼي.

خو ټول ښه اوبد کارونه داسې نه دي ځينې موارد په مختلفو ټولنو کې بيلابيل ارزښتونه لري مثلا دا چې امريکا د کلتور د نړيواليدا او ګلوبلايزيشن غوښتونکې ده. په دې معنا چې غواړي خپل کلتور په ټوله نړۍ وتپي. په بله ژبه د کلتور د وحدت خبره کوي يعنې په ټوله نړۍ د لويديځ دکلتور تپل. دا په دې وجه دي چې هغوي ځينې کارونه ښه او ځينې بد ګڼي. او له نورو غواړي چې نور هم داسې فکر وکړي. مثلا دا چې دوي باور لري چې سختې سزا ګانې لکه د لاي غوڅول، وهل، يا اعدام (پانسي کول) بد او ناخوښ کارونه دي. له دې امله يې د بشري حقوقو په اعلاميې کې راوړي دي چې ټول هيوادونه بايد تاوتريخجنې سزا ګانې ختمې کړي.

ځینې سزاګانې لکه د اسلام جزایي احکام چې د هغوي له نظره تاوتریخجنې سزا ګانې ګڼل کیږي دا سزاګانې د دوي په ګمان زیږې او تر تشدده سزاګانې دي او د بشري حقوقو اعلامیه دهغو د لغوه کولو غوښتنه کوي یعنې د دغو سزاګانو لګولو او حتیٰ د دا ډول قوانینو وجود دهغوي په نظر د فساد مصداقونه دي او باید اصلاح شي. دلته اصلاح د دغه ډول قوانینو د لغوه کولو اوختمولو په معنا ده. حال دا چې موږ مسلمانان د اسلامي کلتور په اساس باوري يو چې باید په هغه څه چې اسلام فرمایلي دي عمل وشي او که داسې نه وي نو فسا د شوے دے. په اسلام کې د فساد معنا د الهي حدودو او قوانینو پريښودل دي. نه دهغو اجرا او عملي کول. د دې په مقابل کې لویدیځوال په دې نظر دي چې د اسلامي حدودو اجرا افساد او بد کار دے. باید له هغو سره مبارزه وکړو، قوانین ختم کړو. او په هغو دعمل مخه ونیسو. او دا به اصلاح وي. دا اصلاح د لویدیځ د کلتور په بنیاد ده. لکه څرنګه چې د بشري حقوقو په اعلامیې کې هم راغلي دي. له تاوتریخوالي او تشدد سره له مقابلې د هغوي مطلب له داسې احکامو او قوانینو سره مقابله ده. که نه وي د عامو تاوتریخوالو بدوالے او سپک والے خو ټول مني د ا چې کنځل کول او بد اخلاقي کول بد کار دے په دې خبره کې زمونږ او د لویدیځ په مینځ کې فرق نیشته. او ټول دا کارونه بد ګڼي. خو اختلاف په دې کې دے چې له غل سره څرنګه چلند پکار دے. ایا د غل لاس پرې کولے شو؟ او ایا یو قاتل قصاص کولے او پانسي کولے شو.؟ ایا بلواګر محارب ګڼل کیږي او که داسې وي نو دهغوي سزا به څه وي؟ لویدیځوال باوري دي چې له دغه ډول کسانو سره زیږ او تریخ چلند

د فساد په مصداقونو کې راځي. او نن سبا ماډرنه دنیا دا خبره نه زغمي. اوباید هغه پرېښودل او اصلاح شي. که په کومو قوانیینو کې دغه احکام وي هغه د لویدیځ د متمدنه ژوند لیاقت نه لري. نو باید اصلاح شي.خو د اسلام له نظره اصلاح د لویدیځوالو د نظر بلکل اپوټه ده. که په یوې برخې کې الهي حدود پرېښودل شوي وي باید اجرا شي چې اصلا ح شي. که یو قانونود اسلام د قانون په خلاف وي باید هغه بدل شي چې اصلاح شي. که یو قانون د اسلام مطابق وي اصلاح او که نه وي افساد شوے دے.

## د منافقانو له نظره اصلاح

له پخوا راهسې د اصلاح په شان له اصطلاحګانو ناوړه استفاده او د هغو غلط استعمال د منافقانو یوه طریقه پاتې شوې ده. منافقان دوه مخي خلک دي همیشه داسې خبره کوي چې دوه مخه او دوه مطلبه لري. او حق او باطل د دواړو لورو لپاره توجیهدے شي. دوي همیشه دحق اوباطل په مینځ کې وي. نه خالص حق مني او نه پوره باطل. له دې امله که د حق خاوندان کامیاب شي دوي ځانونه دحق د جبهې پلویان معرفي کوي او وایي: أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ[1] (ولې مونږ له تاسو سره نه وو؟) خو که باطل لورے بریالے شي واي مونږ له اوله هغوي منعې کول: مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَـٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَـٰٓؤُلَآءِ[2] دا فرصت غواړي کسان هیڅ یو لورے نه مني. بلکه یوازې په خپلو

---

۱. نساء (۴)، ۱۴۱
۲. نساء (۴) ۱۴۳

ګټو پسې دي. لکه څرنګه چې نن سبا هم د ټولنې په ځينو کسانو کې دا روحيه او خوي ليدل کيږي. هغه وخت چې دهغو منافعو اقتضا کوله انقلابي وو خو کله چې نور واک ته ورسيدل. دوي ځانونو ته اصلاح طلب او اصلاح غواړي وويل او د مقابل لوري په صف کې ودريدل. دا کسان هره ورځ دحالاتو په بدليدو سره مخ بدلوي او دا د منافقت يوه ځانګړتيا ده.

د نفاق دخاوندانو يوه بله ځانګړتيا دا ده چې هميشه ځانونو ته مصلح وايي. خداي تعالی د هغوي په هکله فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٨﴾ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ[1]

(په خلکو کې داسې کسان شته چې وايي مونږ په خداي او دقيامت په ورځ ايمان راوړے دے [خو دروغ وايي] دوي مومنان نه دي [ګمان کوي چې] خداي او مومنان غولوي. حال دا چې يوازې ځان ته دوکه ورکوي خو پخپله نه پوهيږي)

د هغوي يوه ادعا دا ده چې:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ قَالُوٓاْ إِنَّمَا نَحۡنُ مُصۡلِحُونَ[2] (که دوي ته وويل شي چې د ځمکې په مخ فساد مه کوئ [او جرم او جنايت او د قانون خلاف کارونه مه کوئ] وايي: مونږ مصلحان يو.)

خو له اصلاح د دوي مطلب بل څه دے. کله چې خداي تعالی دوي ته وايي چې لا تفسدوا. مطلب دا چې خداي تعالی دهغوي کار د الهي

---

١. بقره (٢)، ٩،٨

٢. بقره (٢)، ١١

او قراني ارزښتي نظام مطابق فساد ګڼلے او هغوي له دې کاره منعې کوي. خودوي يو بل ارزښتي نظام منلے دے. نن سبا د هغوي د خوښې نظام د امريکا يا لويديځ په ارزښتي نظام کې انځورولے شو. د رسول الله مبارک په زمانه کې هم د پيغمبر د اسلامي نظام په وړاندې يو الحادي ارزښتي نظام و. فرق نه کوي هر څه چې له اسلامه بهر وي الحاد او کفر دے که هغه د لويديځ ارزښتي الحادي نظام وي که د رسول الله مبارک د زمانې الحادي ارزښتي نظام. ځکه چې د اسلام له نظره د کفر ټول ډولونه يو شان دي. الْكُفْرُ مِلّةً وَاحِدة، له دې امله قران د دوي په ځواب کې فرمايي: اَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ. د فصل ضمير او الف او لام چې په حصر دلالت کوي د دې خبرې بيانوونکے دے چې حقيقي مفسدان دوي دي همدا کسان چې ادعا کوي چې مونږ اصلاح کوو په حقيقت کې دروغجن دي.

زمونږ په نننۍ ټولنه کې د نفاق بيلګې ډيرې پراخې دي. منجلمه د ځينو کسانو خبرې چې وايي مونږ مذهبي روڼ اندي يو. خو په دې نه پوهيږي چې مذهب څه دے. کله چې د وحي خبره شي وايي چې وحي يوه شخصي تجربه ده. يعنې يو کس يو ډول حال پيدا کوي او په دغه حال کې ګمان کوي چې خداي ورسره خبرې کوي. او دا تصور وحي ده.کله چې د دين خبره شي نو وايي په اصل کې دين يوه شخصي اوذاتي مسله ده. نه ټولنيزه مسله. دين نه اقتصاد لري نه سياست. نه د اجتماعي مسلو لپاره څه لري او نه د اخلاقي ارزښتونو لپاره، ارزښتونه هم د دين برخه نه ده. ځکه چې ارزښتونه بدليږي. او هره ورځ د انسانانو د سليقې اوذوق مطابق پکې بدلون راځي. دوي وايي چې دين د يو لړ ټاکل شويو او خپله جوړ کړے

شويو ادابو مناسکو او دودونو ټولګه ده چې د پرستش او عبادت په عنوان سره موجوده ده. د يو داسې څيز عبادت چې انسان ګمان کوي چې دهغه خداي دے کله ممکنه ده چې دا مفهوم د بت پالنې په شکل کې ښکاره شي کله هم د خدا پرستۍ او هم د دوو خدايانود منلو په شکل کې او کيدے شي ځينې پکې د څو خدايانو عبادت کوي. دين همدا دے په دوي کې هيڅ يو له بل سره فرق نه لري. دا يوه مستقيمه لاره ده او هغه بله مستقيمه لاره. د هغه بت چې له کاڼو جوړ دے منل يو صراط مستقيم دے او د هغه خداي منل چې مسلمانان وايي چې له جسم او جسمانياتو پاک او مطلق کمال دے عبادت کول يوه بله صراط مستقيم ده. دا لارې په خپلو کې څه خاص فرق نه کوي. ځکه چې په دوي کې هيڅ يوه خبره حقيقي نه ده او ټولې دروغ دي او په دروغو کې هم فرق نيشته. داسې کسان نه يوازې د دين دارۍ ادعا کوي بلکه ځانونو ته د خلکو ديني مشران هم وايي.

داسې کسان د اصلاح غوښتنې ادعا لري. خو د کوم ارزښتي نظام مطابق اصلاح غوښتنه دوي پخپله وايي په نړۍ کې هيڅ ثابت او پايدار ارزښتي نظام نيشته او کيدے هم نه شي. البته کله چې داسلامي احکامو په هکله خبرې کوي د نورو دغولولو لپاره مني چې دا احکام اسلام احکام دي خو د يو زر څلور سوه کاله مخکې وخت لپاره مناسب دي.خو نن سبا حالات بدل شوي دي او اسلام هم خوځنده دين دے او هره ورځ بدليدے شي. له دې امله داسلام احکام هم بايد بدل شي

خو حقيقت دا د ے چې اسلام دغه ډول اصلاح ته افساد وايي

## ښه او مطلوبه اصلاح

اوس باید وګورو چې امام حسین چې د خپل پاڅون هدف يې اصلاح ګڼلې ده څه ډول اصلاح په نظر کې لرله ایا د ځان جوړ او بدلیدونکي نظام په چوکاټ کې اصلاح؟ یا لکه څرنګه چې پخپله يې فرمايلي دي په هغو احکامو عمل کول چې نیکه يې راوړي دي.

د امام حسین له نظره د اصلاح د معنا د روښانه کيدو لپاره غوره ده د امام هغه حضرت حسین يوه خطبه چې د کربلا په لاره کې يې ورکړې ده وجاجوو د بيضه په کور کې وفرمایل:

اَيّها النّاسُ اِنَّ رَسُول الله قال: مَنْ رَایٰ سُلطاناً جائرا مستحلا لحرام الله ناکثا عهده مخالفا لسنة رسول الله یعمل فی عباد الله بالاثم و العدوان فلم یغیر علیه بفعل و لا قول کان حقاً علی الله ان یدخله مدخله الا و ان هولاء قد لزموا طاعة الشیطان و ترکوا طاعة الرحمن و اظهرو الفساد و عطلوا الحدود و استاثروا بالفیء و احلوا حرام الله وحرموا حلاله انا اَحَقُ مَن غَیّرَ....[۱]

وضاحت:

که څوک وګوري چې يو ظالم او سلطه غواړے کس په نورو په زوره واکمن شوے دے. د خداي وعده اود عبوديت عهد ماتوي[۲] او د پيغمبر له سنتو سره مخالفت کوي او له خلکو سره په ظلم او زياتي سره چلند کوي که چا داسې زورور سړے وليده او په خپل عمل او وينا سره يې هڅه ونه کړه چې موجود حالت بدل کړي خداي حق لري

۱ . ابي مخنف، وقعة الطف، څیړنه محمد هادي یوسفي غروي، ۱۷۲ مخ

۲ . خداي تعالیٰ دعبوديت د عهد په باره کې په قران مجيد کې فرمايي : **أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ۝٦٠ وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ** (يس، ۶۱، ۶۰)

چې هغه هم له هماغه ظالم سره دوزخ ته بوځي چې هلته له ظالمانو سره يو ځاي وي. ځکه چې د منکر په وړاندې غلي پاتې کيدل د هغه کس چې دا عمل کوي د کار تاييدول دي.

بيا فرمايي: تاسو ته پته ده چې بني اميه وو د شيطان اطاعت پيل کړے دے او دخداي له پيروی، يې مخ اړولے دے. ځکه چې دخداي عهد دا و چې د شيطان عبادت ونه کړي: أَن لَّا تَعْبُدُواْ ٱلشَّيْطَٰنَ ۖ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ دوي د خداي په مقابل کې د شيطان اطاعت کوي خو دخداي له امره سر غړوي.

واظهرو الفساد. دوي فساد ظاهر کړ او هغه يې په ټولنه کې پيدا کړ. حضرت د تير عبارت لپاره په عطف تفسيري سره فرمايي: و عطلوا الحدود. د خداي حدود يې پريښودل. هلته چې بايد د غل لاس پرې کړي نه يې پرې کوي. هلته چې بايد زاني او زانيه په کوړو ووهي نه يې وهي او په کوم ځاي کې چې بايد نور الهي احکام جاري کړي نه يې کوي د امام حسين په لغت کې دا ډول چاري د الهي حدودو تعطيل کول او د فساد له مصداقونو دي.

واستاثروا بالفی (بيت المال يې ځان او خپلو خپلوانو او نزديکانو ته ورکړ.) هغه بيت المال چې بايد په ټولو مسلمانانو ولګيږي هغه امکانات او اسانتياوې چې پکار ده ټولو مسلمانانو ته ورکړل شي دوي خپلوانو او نزديکانو ته ورکړل.

و احلوا حرام الله: (د خداي حرام يې حلال کړل) د هغه چا دخبرو په شان چې اسلام سيال ګڼي او د فقې د خوځندوالي او تحرک په پلمه ځينې کارونه چې تر اوسه حرام وو حلال ګڼي.دوي په دغو خبرو سره

په يو ډول په خلکو باندې چاره مشتبه کوي چې حتیٰ دينداران هم پوښتنه کوي چې ايا ممکنه ده چې ګډا (نڅا) يوه ورځ حلاله شي. يا کله به دهلک او جينۍ روابط جايز کيږي؟

امام حسين په هغه زمانه کې خپل ځان د رسول الله مبارک په وينا دعمل کولو او د داسې واکمن په کړچار د اعتراض کولو لپاره تر ټولو غوره او لايق کس ګڼلئ. له دې امله فرمايي: و اني احق من غيره. زه د دغه حالت د سمولو لپاره تر ټولو غوره کس يم.او زما حرکت د غو چارو د اصلاح لپاره دے.

نو دامام حسين وينااو ته په پام سره د اصلاح مصداق چې ـ خپل ورور حنفيه ته په وصيت ليک کې يې راوړې ـ د الهي حدودو اجرا، د مسلمانانو د بيت المال عادلانه ويش، او د ټولو خلکو تر مينځ د اقتصادي اداري او قانوني امکاناتو عادلانه تقسيم او له قومي ګوندي وغيره توپيرونو سره مقابله وه. امام حسين پاڅيده چې دغه فسادونه ختم کړي. زمونږ په ټولنه کې هم داسې کسان شته چې له اصلاح غوښتنې دغه معنا اخلي لکه څرنګه چې د رهبرۍ ستر مقام وفرمايل: مونږ ټول د دغه ډول اصلاح کتونکي يو. هيڅ يو مسلمان د داسې اصلاح مخالف نه شي کيدے. مګر هغه کسان چې په خداي او د دين په احکامو ايمان نه لري. او په دروغه او د خلکو دغولولو لپاره د دنيدارۍ ادعا کوي.

هغه اصلاح ښه ده چې داسلام او د هغه د ارزښتي نظام په اساس وي. نه د لويديځ د ارزښتي نظام مطابق. ځکه چې کفار د اسلام دښمنان دي. او هغوي د ځان لپاره بيلګه نه دي ګرځول پکار.دوي له اسلامي ارزښتونو سره مخالف دي حال دا چې مونږ مسلمانان د

دغو ارزښتونواو دخداي داحکامو اجرا غواړو. لويديځ وايي دا خبرې د بشري حقوقو د اعلاميې مخالفې دي. خو زمونږ په نظر کې ښه هغه دي چې اسلامي ورته ښه ووايي او بد هغه دي چې اسلام يې بد وګڼي.

امام حسين په يو بل تعبير سره چې دې ته نژدې دے فرمايي:

اِنّ هَولاءِ القَوم لَزَمواِطَاعَة الشيطان و ترکوا طاعة الرحمن و اظهروا الفساد فى الارض و ابطلوا الحدود و شربوا الخمور. (دغه قوم (بني اميه) د شيطان اطاعت په ځان لازم کړے دے او د رحمان پيروي يې پريښې ده په ځمکه يې فساد ښکاره کړ او حدود يې باطل کړل او شرابخوري يې وکړه.

امام فرمايي: دوي د خداي حدود تر پښو لاندې کړل. د حدودو باطلول او تعطيل کول په خپلو کې فرق لري ځکه چې باطل کول تر تعطيل کولو اوچت دي کله کيدے شي وويل شي چې نن سبا حالات داسې نه دي چې مونږ الهي حدود اجرا کړو خو کله ويل کيږي چې دا حکم بې ځايه دے او د انسانيت او د انساني ارزښتونو مخالف دے. له څرنګه چې جبهه ملي د قصاص د حکم په هکله وويل.[1] نن هم د دوي منونکي په ډاګه داخبره کوي او د برلين د کانفرنس په شان غونډو کې رسما اسلامي احکام غندي او وايي چې دا احکام بايد بدل شي.[2]

۱ . رک . ميزان، ژمے ۱۳۵۹ او سپرلے ۲۰۱۳

۲ . رک . کيهان، ۲۳، ۲۴، ۲۵، د ۱۳۷۹ کال د اوري مياشته د برلين د کانفرنس راپورونه

امام حسين په دې خطبه کې هم د مني د خطبې په شان چې د عالمانو او پوهانو په ټول کې يې ورکړه د بني اميه وو د حکومت په وړاندې په دريدو او قيام ټينګار کوي: اَنَا اولی بنصرة دين الله و اعزاز شرعه.[1] (زه تر نورو زياته شايستګي لرم چې د خداي د دين مرسته وکړم او د هغه د شريعت د احکامو عزت وساتم)

بني اميه وو د خداي شريعت ځنډې ته کړے و او له ټولنې يې ليرې کړے و امام حسين ځان ژمن ګڼي چې د دني مرسته وکړي او شريعت عزتمن وګڼي امام په دوام کې فرمايي:

والجهاد فی سبيله لتکون کلمة الله هي العليا.[2] (زه بايد دخداي په لاره کې جهاد وکړم. چې د خداي خبره تر ټولو لوړه وي)

مطلب دا چې څوک د خداي په خبرې خبره ونه کړي نه دا چې دنن سبا په ظاهره روڼ اندو په شان ووايي چې سمه ده چې دا دخداي خبره ده خو دا خبره د څوارلسو سوو کلونو مخکې لپاره مناسبه وه او نن مونږ په خپل مصلحت ښه پوهيږو. امام حسين خپلوورور حنفيه ته وصيت کوي چې:

اِنَّمَا خَرَجْتُ لَطَلَبِ الاصلاح فی امة جدي، (زه د خپل نيکه د امت د اصلاح لپاره پاڅون کوم. د طلب له کلمې ښايي د امام حسين مقصد دې خبرې ته اشاره وي چې زه نه وايم چې کولے شم دا کار وکړم اوټول مشکلات اوستونزې ليرې کړم خو په دې لاره کې ګام پورته کوم او هڅه کوم که خلک هم په خپلې دندې عمل وکړي او زما مرسته وکاندي دا کار به وشي او مفاسد به اصلاح شي.خو که خلکو مرسته

---

١ . سبط ابن جوزي، تير.

٢ . هماغه سند .

ونه کړه ما خو به په خپلې دندې عمل کړے وي البته باید ووایو چې د امام حسین مقصد چې (طلب الاصلاح) و په ډیر ښه ډول پوره شو ځکه چې داسې بدلون یې راوسته چې اوس له څوارلسو سوو کلونو وروسته هم په لویدیځ او ختیځ کې خلک د هغه په یاد کې ژاړي او د هغه په یاد د خداي د دین د احیا لپاره پاڅون کوي. د دغه خوځښت یوه میوه د ایران اسلامي انقلاب و. د اسلام په تاریخ کې دامام حسین د حرکت ډیرې میوې لیدل کیږي که څه هم یو هم د اسلامي انقلاب هومره برمناکه نه وه.

## ب: امر بالمعروف او نهي عن المنکر

امام حسین په خپل امت کې د اصلاح له غوښتلو وروسته امر بالمعروف او نهي عن المنکر د خپل پاڅون یو هدف ګڼي فرمایي:

وَ ان امر بالمعروف و انهی عن المنکر (او داچې امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړم)

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مفهوم څرګند دے. خو د هغه امر بالمعروف چې په کتابونو کې راغلے دے او خاص شرایط لري او د هغه امر بالمعروف په مینځ کې چې امام حسین وکړ او په هغه یې عمل وکړ څه فرق دے. دا څه ډول امر بالمعروف او نهي عن المنکر دي چې دهغه لپاره باید له ځان او بچیانو تیر شو او په وچه کلکه دښته کې له هغو کسانو سره چې د امام ام بالمروف ته یې هیڅ پام ونه کړ وجنګید او شهید شو؟

په فقهي کتابونو کې دامر بالمعروف او نهي عن المنکر لپاره شرایط ذکر شوي دي. په امر بالمعروف کې ضروري ده چې انسان

پخپله تاوان ونه مومي حال داچې امام حسين په يو يقيني ضرر په باور سره امر بالمعروف وکړ. ايا دا عمل د امر بالمعروف له احکامو سره چې مونږ يې پيژنو سمون خوري.؟ ځينې وايي دا امر بالمعروف يو داسې حکم دے چې يوازې له امام سره مخصوص دے. او دغه چارې دهغوي په حق کې يو ډول اسماني جنبه لرله. ځينې نور وايي چې هر يو امام خاصه دنده لرله چې د خداي له لوري ورته ټاکل شوې وه. او دا عمل دعامو خلکو لپاره ملاک نه دے او په نورو نه لاګو کيږي. اوس بايد وګورو چې ايا دا ځوابونه صحيح او قانعوونکي دي که نه.

د دغو رايو د جاج او ځواب نه مخکې په قران روايتونو او اهل بيتو او امامانو په حديثونوکې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اهميت ته اشاره کوو.

## د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اهميت

زمونږ په ټولنه کې چې اسلامي کلتور پکې واکمن دے منجمله لومړۍ مسله چې په کورنو او ښوونځيوکې ماشومانو ته ښودل کيږي د دين اصول او فروع دي. د دين په فروعاتو کې اوم او اتم لمبر د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دے. يعنې امر بالمعروف او نهي عن المنکر هم د لمونځ او روژې په شان واجب دے. نو ويلے شو چې ټول خلک پوهيږي چې دا دين له ضرورورياتو دي. په دې خبره کې هيڅ شک او شبهه نيشته او څوک نه شي ويلے چې زما په خيال په اسلام کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر واجب نه دي.

همداراز د امر بالمعروف او نهي عن المنكر په هكله ډېر روايتونه او آيتونه لرو چې د هيڅ شک ځاي باقي نه پرېږدي[1] په دې اړه له معصومانو ډېر روايتونه راغلي دي. شيخ طوسي په تهذيب كتاب او همداراز كليني په اصول كافي كې روايت كړې دې چې امام محمد باقر (ع) جابر ته وفرمايل: په اخره زمانه كې به داسې خلک وي چې ديوې خاصې ډلې پيروي به كوي چې ريا كار دي او تظاهر كوي چې قاريان او د خداي عبادت كوونكي دي. دوي تازه

---

۱. ځينې آيتونه:

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى ٱلْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ۚ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ (او بايد په تاسو كې ځينې كسان داسې وي چې ښو چارو ته خلک رابلي او له بدو يې منعې كوي او همدغه كسان كامياب دي) آل عمران (۳) ۱۰۴ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلْأُمِّيَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ...، (هغه كسان چې دامي رسول او استازي پيروي كوي چې د هغه (نوم او ننبه) په تورات او انجيل كې د هغوي په نزد شته (بيشكه چې هغوي نيكۍ ته بلي او له بدو چارو يې منعې كوي) اعراف (۷)، ۱۵۷

يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُسَـٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ مِنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ (په خداي تعالىٰ او د قيامت په ورځ ايمان لري او امر بالمعروف او نهي عن المنكر كوي او په ښو كارونو كې بيړه كوي او دوي غوره كسان دي) آل عمران (۳)، ۱۱۴ .

فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦٓ أَنجَيْنَا ٱلَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذْنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ بِعَذَابٍۭ بَـِٔيسٍۭ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ (نو كله يې چې هغه نصيحت چې هغوي ته يې كړې و هير كړ هغه كسان مو چې له بدو كارونو يې منعه كوله وژغورل او ظالمان مو په عذاب اخته كړل) اعراف (۷) ۱۶۵

وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ (او مومن سړي او مومنې ښځې له يو بل سره دوستان دي چې امر بالمعروف او نهي عن المنكر كوي او لمونځونه كوي. توبه (۹) ۷۱

يَـٰبُنَىَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأْمُرْ بِٱلْمَعْرُوفِ وَٱنْهَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ (اي زويه، لمونځ وكړه او امر بالمعروف او نهي عن المنكر كوه. لقمان (۳۱)، ۱۷

کاره او ساده دي. نه په ځان امر بالمعروف واجب گڼي او نه نهي عن المنکر. مگر هغه وخت کې له تاوان او ضرره خوندي وي. دوي هميشه په دغه لاره کې دځان لپاره غذر او پلمې جوړوي.)[1]

هغه خاصه ډله چې خلک يې په عمل او وينا باور کوي داسې کسان دي چې خلک يې د عالم او موجه شخصيتونو په توگه پيژني او خبره يې مني د دغو کسانو ځانگړتياوې دا دي:

يتقرون و يتنسکون: دوي تظاهر کوي چې قاري او عابدان دي (يتقرون) د قرا له مادې راوتلې ده. د اسلام په لومړيو کې هغه کسان په لوړو علمي درجو گڼل کيدل چې په قران او قراني علومو ښه پوهيدل او نورو ته يې تعليم ورکولے شو. دغو کسانو ته به يې (قرا ء) ويل. مثلا کله به يې چې غوښتل چې ديو ښار يا هيواد يا سيمې لپاره چې تازه مسلمان شوي وو مبلغ وليږي نو يو له دغو قراوو به يې ليږه. او هغوي به خلکو ته د قران تعليم ورکاوه. او تفسيراوه به يې. او په دې ډول به يې هغوي د اسلام له ښوونو سره اشنا کول. له دې امله قراء د اسلام د لومړيو وختونو لوي عالمان اوپوهان گڼل کيدل خو په دې مينځ کې داسې کسان هم وو چې هسې ظاهري لباس به يې د قراوو و. حال دا چې د غه کار صلاحيت به يې نه درلود. هغوي به يوازې په دغه کار تظاهر کاوه. نن سبا روحاني نما او نيمچه ملايان د دغه ډول قراوو لپاره برابره اصطلاح کيدلے شي امام

---

١ . عن جابر عن ابي جعفر (ع) قال : يكون في اخر الزمان قوم يتبع فيه قوم مراأون، يتقرؤون و يتنسكون حدثاء، سفهاء، لا يوجبون امرا بمعروف و لا نهيا عن منكر الا اذا امنوا الضرر، يطلبون لانفسهم الرخص والمعاذير .....

باقر (ع) فرمايي د اخرې زمانې خلک به د داسې ملايانو او قراوو پيرويان شي چې تظاهر کوي چې عالمان او قاريان دي.

همداراز دا کسان په عبادت تظاهر کوي (يتنسکون) د نسک له مادې دے. او ناسک هغه کس دے چې عبادت کوي. تنسک يعنې د عبادت تظاهر کول. هغه کسان چې عابدان نه دي خو د خلکو په مخکې داسې عمل کوي چې خلک خيال کوي چې دوي عبادت کوونکي دي.

حدثاء او سفهاء: د دغو کسانو نور صفات په کار کې نابلدي او سطحي نظري ده لا يوجبون امرا بالمعروف ولا نهيا عن منكر لا اذا امنوا الضرر: دا کسان چې خلک دهغوي خبره مني ځانونه په امر بالمعروف او نهي عن المنكر مكلف نه ګڼي او د خلکو په مينځ کې دامر بالمعروف او نهي عن المنكر د واجبوالي خبره نه کوي. مګر په هغه ځاي کې چې هغوي ته تاوان ونه لري. دوي خلکو ته داسې القا کوي چې امر بالمعروف او نهي عن المنكر يوازې هغه وخت واجب دے چې په هغه عمل د انسان لپاره کوم مشكل پيدا نه کړي.

يطلبون لانفسهم الرخص والمعاذير:دا په تقوا تظاهر کوونکي هميشه ديوې پلمې په لټه کې وي چې له خپلې دندې ځان خلاص کړي. ځکه چې امر بالمعروف او نهي عن المنكر ارو مرو مشكلات او پايلې په ځان پسې لري او کوم کسان چې ورته نهي عن المنكر کيږي د نهي کوونکي له خواشا خپريږي. او له هغه سره دوستۍ ته زړه نه ښهٔ کوي.

په دې ډول دغه کسان عالم وزمه او ملا وزمه دي او په هيڅ توګه د دې صلاحيت نه لري چې دخلکو مشري او لارښوونه وکړي دوي

حقیقي عالمان له ډېره لیرې کوي او پخپله دهغو په ځاي راځي دا کسان د دې لپاره چې حقیقي عالمان له لارې وغړوي داسې کارونه کوي چې حقیقي عالمان د خلکو له نظره ولووي. له دې امله هڅه کوي د هغوي کمزوري ټکي پیدا کړي. اسان کار چې په دې لاره کې یې کولاي شي دا دے چې د هغه عالم په وینا یا عمل کې کومه غلطي پیدا کړي او هغه ډېره لویه وښیي. عالمان خو هم معصوم نه دي او ممکنه ده کله کله ترې غلطي وشي ځکه چې غیر معصوم انسان هر څومره تقوا هم چې ولري حتیٰ که عصمت ته نژدې هم وي بیا هم له غلطۍ خوندي نه دي. له دې امله کیدے شي په غلطۍ سره کوم خلاف کار وکړي. یا حتیٰ ښایي یو کار واجب وګڼي او بیا معلومه شي چې غلطي یې کړې ده. نو ممکنه ده چې په ډېرو ښو عالمانو او ښو شخصیتونو کې هم کمزوري ټکي پیدا شي. دا په ظاهره عالمان فرصت ته په تمه وي چې په حقیقي عالمانو کې کمزورے ټکے پیدا کړي او هغه لوي وښیي.او حقیقي عالمان د خلکو په نظر کې کمزورے کړي او شخصیت یې ترور کړي چې خلک له حقیقي عالمانو لیرې شي.

امام محمد باقر دحدیث په دوام کې فرمایي:

یَتْبَعُوْنَ زَلاّتَ العُلماء وفساد علمهم، دوي هغه غلطۍ او تیروتنې چې د حقیقي عالمانو په کړو کې کیږي تعقیبوي.

یُقْبِلُون علی الصلاة والصیام و مالا یَکْلِمُهُمْ فی نفس و لا مال.دا عالم وزمه کسان د خلکو په مخکې لمونځ روژه او داسې کارونه کوي چې مال او ځان ته یې خطر نه وي. حال دا چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کیدے شي د نسان مال او ځان ته تاوان ورسوي.

وَ لَوْ اَضَرَّتِ الصّلاةُ بِسَائِرِ مَا يَعْمَلونَ باموالهم و ابدالهم لرفضوها كما رفضوا اتم الفرائض و اشرفها، که يو وخت داسې راشي چې لمونځ کول هم د هغوي ځان او مال ته دمشکل د پيدا کيدو سبب شي لمونځ هم پريږدي.

ځکه چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د پرېښودلو ملا ک هم ضرر ا و تاوان و. که لمونځ هم د دوي مال او ځان ته ضرر پيښ کړي د هماغه معيار په اساس دا هم پريږدي. له ځرنګه يې چې ډيره کامله او شريفه فريضه يعنې امر بالمعروف او نهي عن المنکر يې د مال او ځان د تاوان په وجه پرېښې ده. له دې ويرې چې داسې نه وي ګټو ته يې خطر پيښ شي. نوکه لمونځ هم هغوي ته تاوان ولري پريږدي يې. امام محمد باقر (ع) په دې ځاي کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر اتم فرائض او اشرف الفرائض او حتیٰ تر لمانځه هم لوړ ګڼي. دوي په دوام کې هم د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د اهميت يادونه کوي. ان الامر بالمعروف و النهى عن المنكر فريضة عظيمة. امر بالمعروف او نهي عن المنکر ډيره لويه فريضه ده. چې نور واجبات هم په هغه پورې تړلي دي. بها تقام الفرائض، له دې امله د دين ا ودهغه داحکامو بقا او ژوند په امر بالمعروف او نهي عن المنکر پورې تړلي دي. که په دغو دوو واجباتو عمل ونه شي نور واجبات هم له منځه ځي.

بيا هغه حضرت نيتجه اخلي چې: هنا لك يتم غضب الله عليهم، کله چې خلک داسې شول او په دا ډول کسانو پسې روان شول په هغوي دخداي غضب کامل کيږي او خلک ټولو خلکو ته سزا ورکوي فَيَعُمُّهُمْ بِعِقابه فيهلک الابرار فى دار الفجار، کله چې دخداي عمومي عذاب او قهر په ټولو خلکو نازل شو لامده او وچ او ښه او بد په يو

ځاي سوزوي. والصغار فی دار الکبار، حتیٰ واړه ماشومان هم له لويو سره د خداي په عذاب ککړيږي.

امام يو ځل بيا د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په اهميت تاکيد کوي او فرمايي:ان الامر بالمعروف والنهي عن المنکر سبيل الانبياء، امر بالمعروف او نهي عن المنکر د پيغمبرانو لاره ده.

کوم کسان چې غواړي د پيغمبرانو په لاره کې ګام کيږدي بايد امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړي او که بله لاره يې ووهل د پيغمبرانو لارويان نه دي.

و منهاج الصالحين،امر بالمعروف او نهي عن المنکر د صالحانو روده ده.

فريضة عظيمة بها تقام الفرائض، لويه فريضه ده او نور واجبات د همدې په برکت ولاړ دي.

و تامن المذاهب: د لارو امنيت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په سيوري کې حاصليږي.

وتحل المکاسب، کسبونه دهغه په سيوري کې حلاليږي. که خلک غواړي چې حلال کسب او روزګار ولري بايد دامر بالمعروف او نهي عن المنکر په عمل کولو هڅه وکړي. کنه وي ورو ورو به دهغوي په کسب کې سود داخل شي. او خلک به حلال او حرام له يو بله نه شي جدا کولے کله چې حالات داسې شول حلال له حرامو سره ګډوډيږي.

و ترد المظالم، که يو کس د بل چا حق ضايع کړے وي، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دوديدل سبب کيږي چې په ټولنه کې حق حقدار ته ستون شي.

و تعمر الارض، د امر بالمروف او نهي عن المنکر يو برکت د ځمکې اباد ے د ے.امر بالمعروف او نهي عن المنکر د اقتصادي ګټه غوارړو په لاس د ژواک چاپيريال د خرابيدو مخه نيسي. ځکه چې دا کارونه د منکراتو په دائره کې راځي. و ينتصف من الاعداء، کله چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر پر ځاي شو دښمنان هم دانصاف خيال ساتلو ته اړيږي. کله چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوونکې د قدرت او وس خاوندان وي دښمنان جرائت نه شي کولے چې ظلم او زياتے وکړي. او په مومنانو بريدونه وکړي.

په اخره کې امام فرمايي:و يستقم الامر، کارونه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په سيوري کې سميږي. دا هماغه اصلاح ده ځکه هغه وخت کارونه سميږي چې مفاسد ليرې شي. دا دامر بالمعروف او نهي عن المنکر له برکتونو او نتيجو څخه دي.

## د منکراتو په وړاندې د مسلمانانو دنده

امام محمد باقر د(ع) د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د عملي اجرا لپاره ځينې پړاوونه بيانوي

۱. فانکروا بقلوبکم: د ټولنې د منکراتو په وړاندې د مسلمانانو لومړۍ دنده له هغه په زړه کې انکار او د کرکې احساس او د بيزارۍ او نفرت څرګندول دي. قطعا له ګناه سره د مقابلې لومړے ګام د هغې په وړاندې د زړه غبرګون او غوسه او غضب د ے. د دې په مقابل کې په ټولنه کې په ګناه په زړه کې خوشاليدل د نفاق نښه او دهغه لومړۍ مرحله ده. ځکه چې که انسا ن د خداي په حکم راضي نه وي زړه په دې چې دخداي احکام نه اجرا کيږي خوشاليږي. نو د ګناه په

وړاندې لومړے قدم دا دے چې انسان پرې خپه شي چې ولې په ټولنه کې ګناه کيږي.

۲. والفظوا بالسنتکم: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دوهمه مرحله د ګناه او معصيت په کيدول په ژبې سره اعتراض دے. دا پړاو چې لومړے عملي ګام ګڼل کيږي ښه ده چې په نرمۍ او مهربانۍ سره وشي.

۳. و صکوا بها جباههم: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دريمه مرحله تند او تيز چلند دے.د صکوا بها جباههم د تعبير مطلب دا دے چې د هغوي تندي ووهئ. کله چې نرمې خبرې او پاسته نصيحت کار ور نه کړ او د ګناهکار کس د لا جرئت او سپين سترګې توب سبب شو بايد له دغه ډول کس سره تن چلند وشي او په سخت اعتراض سره د هغه د ګناه مخه ونيول شي.

البته دغه ډول چلند د نورو دملامتيا او اعتراض سبب کيږي.حتي کيدے شي د نهي کوونکي کس دوستان هغه د دغه تريخ سلوک له امله ملامته کړي.خو امام محمد باقر (ع) فرمايي ولا تخافوا فی الله لومة لائم، د خداي په لاره کې د ملامتوونکو له ملامتيا مه ويريږئ که څه هم ستاسو نژدې دوستان ولې نه وي. ځکه چې که خلک د نورو د ملامتيا او غندنې له ويرې امر بالمعروف او نهي عن المنکر پريږدي بلا نازليږي او وچ لامده هر څه له ځان سره سوزوي.

نو په دې اساس له امر بالمعروف او نهي عن المنکر نه وروسته په لاندينيو دوو حالتونو کې يو پيدا کيږي. يا دا چې ګناهکار کس د امر بالمعروف او نهي عن المنکر تر تاثير لاندې راځي او له ګناه او غلطو کارونو لاس اخلي چې په دې بڼه کې ستاسو فرض پوره شوي

دي او له دغه کس سره نور بايد په ارامښت او مهربانۍ سره سلوک وشي. له دې امله امام محمد باقر (ع) فرمايي:
فان اتعظوا و الى الحق رجعوا فلا سبيل عليهم، که د حق په لور ستانه شول او له خپلو ګناهونو يې توبه وکړه نور نو بيا ملامتيا ښه نه ده.

خو که هغوي له خپلو غلطو کارونو او ګناه لاس وا نه خسته خداي تعالى فرمايي:إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَظۡلِمُونَ ٱلنَّاسَ وَيَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ[1] (خو اعتراض په هغو کسانو دے چې په خلکو ظلم کوي او په ځمکه کې په ناحقه سرکښي کوي.) دوي ته سخت عذاب پروت دے. که دوي د ناصحانو نصيحت وا نه وريده او په خپل ظلم او کړلارۍ ټينګار وکړي مومنان يوه بله دنده هم لري امام فرمايي: هناک فجاهدوهم بابدانکم،. په دې ښه کې له هغوي سره جهاد وکړئ. په دې صورت کې زمونږ فرض له نرمو خبرو او سخت چلنده هم وراوړي. داسې کسان د اسلام دښمنانان دي اوبايد له دوي سره مبارزه وشي. له داسې کسانو سره چې په ګستاخۍ سره او په ډاګه د اسلام د احکامو انکار او د اسلام د سپيڅلتياوو سپکاوے کوي بايد مبارزه وشي او د زړه له کومي له هغوي سره دشمني وشي او په دې مقام کې د دين د مهربانۍ او محبت د اړخ خيال نه دي ساتل پکار.ځکه چې د اسلام نرمي او رافت دغو کسانو ته نه شامليږي.

البته کله چې مومن له دغه ډول کسانو سره مخالفت کوي بايد د خپل نيت او د شيطان د مکر په فکر کې هم وي دا کار د لمانځه په

---

۱. شورىٰ (۴۲)، ۴۲

شان يو عبادت دے شيطان په هغه کس پسې نه ورځي چې لمونځ نه کوي چې هغه ريا کارۍ ته وهڅوي ځکه چې هغه خو بلکل لمونځ نه کوي او روژه نه نيسي چې ريا کاري وکړي. خو کله چې يو کس لمونځ او عبادت کوي په تيره بيا په جومات کې او د خلکو په مينځ کې شيطان هغه ريا کارۍ ته وسوسه کوي له دې امله ويلے شو شيطان له هغه کس سره چې د نصيحت يا عزادارۍ په مراسموکې شرکت نه کوي او د فساد او مفسدې ځايونو ته ورځي څه کار نه لري. هغه خو پخپله د دوزخ لاره نيولې ده.خو کله چې دغه کس د نصيحت او عزادارۍ مجلس ته راغے شيطان يې وسوسه کوي چې خلکو ته ځان وښيي چې ژاړي او يا ځان د اهلبيتو او امامانو زړه سواندې او مينه وال وښيي. نو شيطان په هغه کس پسې ورځي چې د حق په لاره کې وي. شيطان له هغه کس سره چې امر بالمعروف اونهي عن المنکر نه کوي غرض نه لري بلکه دهغه ملګرے او دوست دے او هغه پخپله د شيطان له يارانو ګڼل کيږي خو کله چې غواړي امر بالمعروف اونهي عن المنکر وکړي لاره يې له شيطانه جدا کيږي او شيطان دغه ډول کس وسوسه کوي.

نو پکار ده چې د مبارزې په وخت خپل نيت خالص کړو او زړه له ځان ښودنې او قدرت غوښتنې پاک کړو. که نه وي هغه ټول زحمتونه او خوارۍ چې په نفساني اوشيطاني انګېزو او وسوسو سره شوي دي عبث دي. او هيڅ اجر او ثواب نه لري. ځکه هغه عبادت ارزښت لري چې دخداي لپاره او دخداي د امر د پوره کولو لپاره وي. امام په دوام کې فرمايي:

و ابغضوهم بقلوبکم غير طالبين سلطانا ولا باغين مالا ولا مريدين بالظلم ظفرا، له هغوي سره د زړه له کومې دشمني وکړئ او په دې چاره کې نه د قدرت په لټه کې اوسئ او نه د مال په هڅه کې.او مه دا غواړئ چې د سرکښۍ له لاري په نورو لاسبري شئ.

هغه کاميابي مطلوبه او ښه ده چې د سمې او مشروعې لارې لاسته راغلي وي نه له هرې لارې. په سياسي لوبو کې د دغو اصولو خيال نه ساتل کيږي.او هدف وسيله توجيهوي خو په اسلام کې داسې نه ده اسلام د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د حکم په څنګ کې حتیٰ سر ته دخطر د پيدا کيدو تر حده سپارښتنه کوي چې د شيطاني وسوسو خيال هم ساتئ. داسې نه وي چې خيال وکړئ په هره بيه او له هرې لارې کاميابيدل پکار دي. حتیٰ که له نامشروعې لارې هم وي. بلکه د خداي د حدودو او احکامو بايد سم خيال وساتل شي او نيت د خداي لپاره وي.

خو دا چې ولې بايد له هغو کسانو سره چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په وړاندې مقاومت کوي مبارزه وشي امام فرمايي چې حتیٰ يفيئوا الی امر الله و يمضوا علی طاعته، تر دې چې له مخالفته لاس واخلي او د باطل له لارې ستانه شي. او دخداي امر ته سر کيږدي. او د الهي اطاعت په اساس سلوک وکړي.

## د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د پريوښودلو انجام

امام باقر (ع) د روايت په پاي کې يوه بله سپارښتنه کړې ده د حضرت شعيب کيسه بيانوي چې خداي تعالی حضرت شعيب ته وحي وکړه چې د قوم يو لک کسان به يې ووژل شي چې څلويښت زره يې

ګناهکار وو او شپيته زره نور ښه او صالح کسان. حضرت شعيب په دې خبره حيران شو او پوښتنه يې وکړه بدان خو د عذاب مستحق دي خو په ښو کسانو ولې عذاب نازلوې؟ خداي تعالی وفرمايل د ښو کسانو عذاب او سزا له دې امله ده چې هغو له ګناهکارو سره روغه جوړه او ګډ ژوند درلود او زما د غضب په مقام کې يې په هغوي عضب ونه کړ يعنې په ګناهانو خپه اوغوسه نه شو[1] د حديث په عربي متن کې د ‹داهنوا› لفظ راغلي دے د هغه مصدر مداهنه ‹دهن› له مادې دے. يعنې غوړول او غوړه مالي کول چې په فارسۍ کې ورته سازش او ساز باز ويلې شو. ځکه چې د يو شي غوړول د دې سبب کيږي چې له بل سره له ټکره او په تيزه له جنګيدو يې مخه ونيول شي. له دې امله هغه عمل ته چې د اختلاف او کړکيچ سبب نه شي مداهنه وايي. په دې اساس که انسان په ځينو مواردو کې غوسه نه شي د خداي عذاب پرې نازليږي. دا چې اسلام د محبت او مهربانۍ دين دے هميشه په نرمۍ او مهربانۍ سره کار نه کيږي بلکه په ځينو مواردو کې سختي او زيږوالے هم ضروري دے.

د امير المومنين حضرت علي ‹ع› په يو حديث کې راغلي دي له ګناه سره په مقابله کې تر ټولو کم اقدام دګناهکارو سره په تريو تندې او سوړ چلند دے.[2] تر دې حده فرض له هيچا نه ساقطيږي. البته له ګناهکار سره مهرباني که د لارښوونې او ددې لپاره وي چې هغه خپلو غلطيو ته متوجې کړي باک نه لري او دهغه د هدايت لپاره

---

١ . قال ابو جعفر : اوحی الله الی شعيب النبي (ع) اني لمعذب من قومک مائة الف اربعين الفا من شرارهم وستين الفا من خيارهم . فقال يا رب هولاء الاشرار فما بال الاخيار فاوحی الله عز وجل اليه : انهم داهنوا اهل المعاصي و لم يغضبوا غضبي

٢ . شيخ طوسي، تهذيب الاحکام. ٢ ټوک ١٧٢ مخ ٢٢ باب ۵ روايت

یو چل ګټل کیږي. امام صادق (ع) په دې هکله فرمايي: خداي تعالی دوه پرښتې ماموري کړې چې یو ښار تباه کړي کله چې هغه ښار ته ورسیدې یو کس یې په هغه ښار کې ولید چې دعا یې کوله او خداي ته یې فریاد او زاري کوله او ژړل یې. یوې پرښتې بلې ته وویل دا سړے وینې؟ بلې ورته وویل هو. خو ته له هغه سره کار مه لره او هغه څه چې خداي درته ویلي دي تر سره یې کړه. اولې پرښتې وویل زه هیڅ نه کوم مګر دا چې اول خپل رب ته ستنه شم. نو سملاسي خداوند متعال ته ورغله او عرض یې وکړ. اي خدایه زه هغه ښار ته لاړم خو ستا پلانکے بنده مې تا ته په دعا او زارۍ ولید. خداي تعالی وفرمایل هغه څه چې امر مې درته کړے وې کړه. ځکه چې هغه داسې کس دے چې هیڅکله یې د مخ رنګ زما لپاره د غوسې په وجه نه دے بدل شوے.[1] نو په دې اساس لکه څنګه چې په هغو کسانو چې فاسقان دي او په ښکاره ګناه کوي او له خپلو ګناهونو نه دي پښیمانه د خداي عذاب نازلیږي همداراز په هغو کسانو هم نازلیږي چې نهي عن المنکر نه کوي او د ګناهکارانو معصیت او ګناه په هغوي کې بدلونه نه راولي او تندے یې نه تریووي که څه هم په خپله عبادت ګذاره وي.

---

۱. عن ابي عبدالله (ع) ان الله عز وجل بعث ملکين الى اهل مدينه ليقلباها على اهلها فلما انتهيا الى المدينه وجدا رجلا يدعواالله ويتضرع فقال احد المليكن لصاحبه اما ترى هذه الداعي فقال قد رايته ولکن امضي لما امر به ربي فقال لا ولکن لا احدث شيئا حتى اراجع ربي فعاد الى الله تبارک و تعالىٰ فقال يا رب اني انتهيت الى المدينه فوجدت عبدک فلانا يدعوک و يتضرع اليک فقال امض بما امرتک به فان ذا رجل لم يتمعر وجهه غيظا لي قط (کليني، کافي، ۵ ټوک ۵۸ مخ ۸ روایت

د اصحاب سبت کیسه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د پرېښودلو يوه بله بېلګه ده. د حضرت موسیٰ (ع) په شریعت کې د خالي په ورځ ښکار منع و اوس هم په یهودیت دین پابنده یهودیان او دود پال د خالي په ورځ اور نه لګوي. څه نه پخوي حلاله نه کوي او ښکار ته نه ځي. ځینې یهودیان د سیند یا سمندر په غاړه اوسېدل دوي به لیدل چې د خالي په ورځ کبان د امنیت احساس کوي او د سمندر غاړې ته راځي خو په نورو ورځو کې داسې نه کېږي اخر په هغوي کې ځینې کسان ونه سهیدل او له دغه فرصته د استفادې لپاره يې یو چل جوړ کړ. دوي د دریاب په غاړه کې تالاوونه جوړ کړل د خالي په ورځ به يې د تالاوونو خولې پرانستې او کله به چې د دریاب اوبو له ځان سره کبان دغو تالاوونو ته راوړل نو هغوي به تالاوونه بند کړل چې د خالي ورځ تیره شي او هغوي يې بله ورځ ونیسي. خداي تعالی د دې کار په وجه هغوي مسخ کړل او د بیزوګانو په شکل يې کړل. [1]

وَسْـَٔلْهُمْ عَنِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَتْ حَاضِرَةَ ٱلْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِى ٱلسَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ ۙ لَا تَأْتِيهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ....فَلَمَّا عَتَوْا۟ عَن مَّا نُهُوا۟ عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ [2] له دوي د هغه ښار (د خلکو) په باره کې پوښتنه وکړه چې د دریاب په غاړه و وپوښته چې د خالي ورځې (له حکمه) يې تیرے کاوه، کله به چې دخالي (شنبې) په ورځ کبان داوبو سر ته راتلل او په

١. محمد باقر مجلسي، بحارالانوار، ١۴ ټوک ۴٩ مخ، ٣۴ روایت
٢. اعراف (٧) ١٢٣ و ١٢٢

نورو ورځو کې به د هغوي په لور نه راتلل، مونږ دا ډول دوي په نافرمانۍ سره وازمایل..، او له دې امله چې له هغه څه چې منعې شوي وو په مقابل کې یې سرغړونه وکړه دوي ته مو وویل چې د شړل شویو بیزوګانو په شان شئ.

هغه ټول کسان چې په الهي قهر اخته شول ټول داسې نه وو چې د خداي دحکم په خلاف یې ښکار کړے وي بلکه په دغو عذاب شویو کسانو کې داسې هم وو چې په دغه ورځ به یې ښکار نه کاوه. په کلي ډول دغه کسان په دریو ډلو ویشل شوي وو.

یوه ډله هغه کسان وو چې دخداي د امر په خلاف یې دخالي په ورځ ښکار کاوه، دوهم هغه ډله وه چې پخپله یې ښکاره نه کاوه خو دخالي په ورځ د کبانو ښکار کوونکي یې له دغه کاره نه منعې کول، دریمه ډله هغه کسان وو چې هم یې پخپله دخالي په ورځ کبان نه نیول او هم یې نور کسان له دغه کاره منعې کول.

هغه دوهمه ډله چې کب نیونکي به یې له دغه کاره نه منعې کول هغو کسانو ته چې له دغه کاره به یې نهي کوله ویل: د دوي نهي کول او منعې کول څه فایده لري دوي په خپل حال پریږدئ خداي تعالی به یې پخپله تباه کړي.

خداي تعالی د دغو دوو ډلو خبرې داسې نقل کوي.

وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ ٱللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا قَالُوا۟ مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ[1] (او کله چې په هغوي کې یوې ډلې وویل: ولې دغه قوم ته نصیحت کوئ چې خداي تعالی پرې د سخت

---

۱. اعراف (۷) ۱۶۴

عذاب نازلوونکے او یا یې تباه کوونکے دے؟ وې ویل: دا (حکم) ستاسو د رب په مخکې یو معذرت دے او ښایي چې پرهیزګاره شئ)

په هر حال په دغه دریو ډلو کې هغه کسان چې نهي عن المنکر یې کوله که څه هم نهي یې اثر نه درلود خو وژغورل شول او هغه دوه نورې ډلې د خداي په عذاب ککړ شول.[1]

فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ....،[2] نو له دې امله چې هغه نصیحت چې هغوي ته یې کړے و هیر کړ، هغه کسان مو چې له منکره یې نهي کوله وژغورل.

۱ . محمد باقر مجلسي، بحارالانوار، ۱۴ ټوک، ۴ مخ ۴ باب ۳۴ روایت
۲ . اعراف (۷) ۱۲۵ .

# اوم څپرکي

## د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مصداق او مفهوم

د معروف کلمه له عرف رواتلې ده چې معني يې ده ښه او خوښ.او خداي پالي له هغه داسې کار اراده کوي چې د خداي خوښ وي. منکر هم له نکر مادې راوتلې او معنا يې د معروف کار په خلاف ده. او د دين دارانو په عرف کې هغه کار ته وايي چې خداي تعالی پرې نه راضي کيږي په دې ډول امر بالمعروف يعنې د نيکو کارونو امر کول او نهي عن المنکر يعنې له بدو او سپکو کارونو منعې کول. دا دوه عمله د زمان مکان او د کسانو د عمر شرايطو او مقتضياتو ته په پام سره په مختلفو ډولونو تر سره کيږي دغو رودو ته د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مصداقونه ويلای شو.

## د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د معنا پراختيا

امر بالمعروف او نهي عن المنکر د شرعې يوه ډيره مهمه دنده او واجب دي چې د هغه په اهميت کې روايتونه داسې فرمايي.

فريضه عظيمه به تقام الفرائض [1] (لويه دنده ده چې ټول فرايض او واجبات دهغه په وسيله قايميږي.

يا

اتم الفرائض و اشرفها و افضلها[2] (امر بالمعروف اونهي عن المنکر تر ټولو کامل اولوړ تکليف او واجب دي

---

۱. اصول کافي، ۵ ټوک ۵۵ مخ، ۱روايت. تهذيب الاحکام ۲ټوک۱۸۱مخ ۲۱ روايت

۲ . همدغه سند

خو د دغو لويو فريضو د مقام د پيژندلو لپاره ضروري ده چې د هغو دايره وپيژنو. د امر بالمعروف او نهي عن المنكر پړاوونه د جاهل له تعليمه پيل کيږي. او تر جهاده دوام مومي. په دې اساس د امر بالمعروف لومړۍ مرحله هغه کسانو ته د شرعي واجباتو ښودل دي چې له هغو ناخبره وي. دا خبره چې د روايتونو به تعبير ورته د جاهل تعليم ويل شوي زياتره د هلکانو جينکو لپاره د شرعي دندو او احکامو تعليم ته ګرځي البته لکه څرنګه چې دواجباتو تعليم او د هغو ترسره کولو ته دخلکو هڅول واجب دي مستحبي دندې هم شته چې دهغو امر مستحب دي. د جاهل له تعليمه وروسته بايد هغه کسانو ته چې له شرعي حکم او دندې ناخبره نه دي خو خپله شرعي دنده نه تر سره کوي يا يې کوم منكر عمل کړي دي په دې مرحله کې ضروري ده چې هغوي له خپلې دندې خبر کړي شي.

إنّما يؤمر بالمعروف و ينهى عن المنكر مومن فَيَتَّعِظُ او جاهل فيتعلّم[1] (کله يو مومن ته امر بالمعروف او نهي عن المنكر کيږي او په دې ډول موعظه کيږي او هغه مني کله هم جاهل وي او نه پوهيږي او په دې طريقې سره زده کړه کوي)

په دې مرحله کې د امر بالمعروف د اثر کولو شرط مطرح کيږي البته کله کله په ټولنه داسې فضا واکمنه وي چې شرعي احکام لوي اجتماعي ارزښت لري او پرېښودل يې لويه ګناه ګڼل کيږي او بې ارزښته کار بلل کيږي. په داسې شرايطو کې يو کس ته د بې لمانځه ويل د هغه لپاره لوي کنځل ګڼل کيږي په داسې حالاتو کې نهي عن المنكر ښه تاثير کوي. هغه احکام چې په علميه رسالو کې د امر

١ . محمد باقر مجلسي، بحار الانوار۱۰۰ټوک ۷۱مخ ۱باب ۳ روايت

بالمعروف لپاره ذکر شوي دي زیاتره د همدغه مرحلې په باره کې خبرې کوي. خو کله په ټولنه واکمنه فضا داسې نه ده او د واجب کار تر سره کول ارزښت او پرېښودل یې ارزښت ضد کار نه ګڼل کیږي او ګناهکارانو د غلطو کارونو او ګناهانو له کولو هیڅ شرم نه محسوسوي تر دې چې ښه په زغرده د ګناه اقرار کوي او که ورته وویل شي چې د احکامو د اجرا لپار ډیر زیارونه ګالل شوي دي. په ډاګه وایي چې مونږ اسلام نه غواړو. په دا ډول فرهنګي فضا کې له اسلام سره د مخالفت تظاهر کومه سپکه او بده چاره نه ګڼل کیږي.

د امام حسین په وخت کې په ټولنه واکمن شرایط هم همداسې وو. د اسلام قطعي احکام به پرېښودل شوي وو. د خداي په حدودو تیري شوي و. او کوم کس چې د معاویه له لورې د مسلمانانو د خلافت لپاره کاندید شوي و تل به یې شراب څښل اوښه په ډاګه به یې څښل هغه به له سپیو او بیزوګانو سره لوبې کولې او ټول خلک دهغه له دغه خصوصیته خبر وو[1] په داسې حالاتو کې د اسلام د احکامو یو په بل پسې انکار کیده او له حکومت سره د واړه مخالفت په وجه و مسلمان وینه بهیول کیده نهي عن المنکر او موعظې هم څه ګټه نه لرله. له همدې امله وه چې امام حسین وفرمایل:

فَعَلَیٰ الاسلام السلام إذ قد بُلِیَتِ الأُمَّةُ بِراعٍ مِثْلَ یزید[2] (کله چې په خلکو د یزید به شان کس واکمن شي نو د اسلام فاتحه دې ولوستل شي)

---

۱ . ر . ک : مسعودي، مروج الذهب دریم ټوک ۹۷ مخ
۲ . خوارزمي . مقتل الحسین ، لومړي ټوک ۲۲۸ مخ

البته د معاویه د حکومت په وروستیو کې هم بې له محدود ظواهرو له اسلامه بل څه نه وو پاتي، خو حالت داسې نه و چې واکمنان دې وتوانیږي په اسانه سره په ګناه تظاهر وکړي او خلک هم غلي پاتي شي.

په داسې حالاتو کې چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر بې اثره دي او خلک له هغه چا سره چې په دغه دندې عمل کوي دښمني کوي یا حتیٰ هغه وژني[1] څه باید وکړو؟ د جابر په روایت امام صادق (ع) فرمايي: په دغه وخت له هغوي سره جهاد وکړئ تر دې چې د خداي امر ته غاړه کیږدي[2] نو د امر بالمعروف دايره د جاهل له تعلیمه پیل کیږي او تر جهاده پر مخ ځي.

په تیر وخت کې د شیعوو د روایتونو په کتابونو کې د امر بالمعروف په نامه جدا کتاب نه و بلکه د (جهاد) د کتاب په پاي کې به یې یو باب امر بالمعروف ته بیلاوه د شیخ طوسي تهذیب الاحکام کتاب په دې ډول دی له دې امله ویلای شو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مفهوم په دوه ډوله استعمال لري: اول هغه استعمال چې په علمیه رسالو کې راغلي په دا ډول استعمال کې جهاد هیڅکله نه شاملیږي ځکه چې په دغه ډول امر بالمعروف کې د تاوان د نه لرلو شرط ضروري دی حال دا چې په جهاد کې دا شرط معنا نه لري. او د تاوان احتمال او کله کله خو یقین وي. د امر

---

۱ لکه څنګه چې خداي تعالیٰ په قران کې فرمايي: وَيَقْتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِٱلْقِسْطِ مِنَ ٱلنَّاسِ هغوي هغه کسان چې خلک انصاف او عدالت ته رابولي وژني (آل عمران (۳) ۲۱ آیت)

۲ . آل عمران (۳) ۱۰۴

بالمعروف ډول د جهاد مصداق دي  چې په هغه کې د ضرر احمتال بلکه یقین موجود دي او کله انسان ته یقین وي چې وژل کیږي.

د امر بالمعروف دریم ډول د جاهل تعلیم دي ځینې فقیهان وايي چې د يَدْعُونَ إِلَى ٱلْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ[1] د آیت اوله برخه چې خیر ته بلنې او د جاهل تعلیم ته ورګرځي امر بالمعروف نه ده. دوي په دې باور دي چې که څوک له ديني دندې ناخبره وي او په دې وجه پرې عمل ونه کړي هغه ته د دغه چارې ورښودل امر بالمعروف نه دي بلکه امر بالمعروف د هغه دندې او فریضې یاد اوري ده هغه چاته چې ورځینې خبر وي خو کوي يې نه.

نو د امر بالمعروف پیژندل شوي مفهوم هغه وخت مصداق پیدا کوي چې اسلامي حکومت پیاوړي وي. او اسلامي ارزښتونه په ټولنه واکمن وي په داسې حالاتو کې خلک د بد کار او ګناه په کولو شرمیږي او نهي عن المنکر په هغوي اثر کوي. دا ډول امر بالمعروف هماغه شرطونه لري چې په فقهي منابعو او عملیه رسالو کې راغلي دي. البته دا شرطونه هغه امر بالمعروف ته نه شاملیږي چې د جهاد په معنا دي. امام خمیني (ره) په دې هکله فرمایي (تقیه جایزه نه ده ولو بلغ ما بلغ) په داسې مواردو کې باید امر بالمعروف وشي که څه هم ډیر کسان ووژل شي. په دې اساس امر بالمعروف او نهي عن المنکر په خپلې عامې معنا کې له یو پلوه د جاهل تعلیم او پوهاوي ته ویل کیږي او له بل پلوه د جهاد تر مرحلې رسیږي، ځکه چې د جهاد مقصد د خداي د خبرې لوړاوي او واکمني ده. لتکون کلمة الله

---

۱. همدغه سند

هي العليا، له امر بالمعروف او نهي عن المنكر د امام حسين هدف د هغه عام مفهوم دي نه دهغه محدوده متعارفه معنا. د ضرر او تاوان نه احتمال د امر بالمعروف او نهي عن المنكر د دغه معنا يو شرط دي. ځکه چې امام حسين ته يقين و چې وژل کيږي به دوي د امامت پر علم او هغو روايتونو او خبرونو سربيره چې له خپل پلار او نيکه يې د خپل شهادت په هکله اوريدلي وو د مادي علم له لارې هم پوهيدلاي شو چې شهيديږي به. ځکه چې ډيرو کسانو هغوي عراق ته له سفره منعې کړي وو. او ويلي وو چې که عراق ته لاړ شي وبه وژل شي. او هغه حضرت ته يې د هغوي له پلاراو ورو سره يې د کوفيانو د سلوک يادونه ورته کړې وه. هغه حضرت به په ځواب کې فرمايل خداي دې تاسو ته خير درکړي چې ماته نصيحت کوي، خو زه دنده لرم چې بايد تر سره يې کړم.[1]

## د جهاد له معنا سره د امر بالمعروف د معنا رابطه

په فقهي کتابونو کې جهاد په درې ډوله دي. ابتدايي جهاد، دفاعي جهاد او له باغيانو او بلواګرو سره جهاد. لومړی ډول يعنې ابتدايي جهاد د امام په حکم او د خداي د ولي له لارې د هدايت د خنډونو د ليرې کولو لپاره تر سر کيږي چې اسلامي حکومت وکولي شي اسلام په نړۍ کې خپور کړي. او الهي معارف ټولو ته ورسوي، او په دې ډول د هدايت لاره پرانستل شي. له دې امله خداي تعالی فرمايي:

---

۱. ابو محمد احمد بن اعثم کوفي، الفتوح پينځم ټوک ۷۲ مخ محمد بن جرير طبري، دلايل الامامه، يو سل يو اتيايم مخ

فَقَـٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ [1] (د کفر له مشرانو سره وجنګیږئ)

خو د جهاد دوهم ډول هغه وخت دي چې په مسلمانانو حمله وشي او هغه خپله دفاع وکړي. د جهاد دریم ډول هغه وخت مصداق پیدا کوي چې د مسلمانانو د دوو ډلو تر مینځ جنګ شي او د اصلاح بله لاره نه وي، مګر دا چې له هغه ټولي سره چې ظلم پرې شوي کمک وشي. یا د اسلام واکمن امر وکړي چې هغه کسان چې د اسلامي حکومت په خلاف پاڅیدلي له هغوي سره جهاد وشي.چې دغه مبارزې ته په اصطلاح کې له اهل بغي (بلواګرو) سره جهاد وايي.

خو د امام حسین قیام په دغو دریو ډولونو کې په کوم یو کې راځي؟ په لږ فکر سره دې نتیجې ته رسیږو چې د هغه حضرت پاڅون په دغه یو ډول کې هم چې په فقهي کتابونو کې راغلي نه راځي د هغه حضرت جهاد له کفارو سره ابتدایي نه و، دفاعي جهاد هم نه ګڼل کیږي، ځکه چې دفاعي جهاد له هغو کفارو سره کیږي چې په مسلمانانو یې حمله کړې وي. همدا راز د هغه حضرت پاڅون له باغیانو سره جنګ هم نه و. نو د امام حسین قیام کوم ډول جهاد و.چې هغوي د هغه د کولو لپاره خپله ټوله کورنۍ کربلا ته بوتله او حتیٰ تي خوړونکي ماشوم یې هم قربان کړ.

(جهاد) مختلفې اصطلاح ګانې لري. له یو پلوه د جهاد معنا دومره پراخه ده چې حتیٰ د اسلام د تبلیغ په لاره کې او له کفارو سره د مبارزې او د دشمن د کلتوري یرغل د مقابلې لپاره له خپل مال

---

[1] . توبه (۹) ۱۲

سره جهاد ته هم جهاد وایي. لکه څرنګه چې خداي تعالی په قران مجید کې فرمایي:

وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ[1] (په خپلو مالونو او ځانونو سره د خداي په لاره کې جهاد وکړئ)

البته دا د جهاد په مفهوم کې یو ډول پراختیا ده که څه هم د جهاد لغوي معنا دغو ټولو مواردو ته شاملیږي. جهاد یعني هڅه او کوشش. او د مفاعله باب ته په پام سره مجاهدت یعنې د یو دشمن یا یو خنډ په مقابله کې کوشش او هڅه کول. خو له مانع او خنډه مطلب د هغه په لغوي معنا کې یوازې توره نه ده بلکه ممکنه ده دا خنډ اقتصادي یا کلتوري او فرهنګي دشمن وي.جهاد دغه مورد ته هم وایي. هغه اقتصادي او اجتماعي فعالیتونه چې د دشمن له اقداماتو سره متناسب وي هغو ته هم جهاد ویل کیږي لکه څرنګه چې خداي تعالی په قران کې فرمایي:

وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ عَلَى ٱلۡقَٰعِدِينَ أَجۡرًا عَظِيمًا[2] (خداي هغه کسان چې په مال او سر سره جهاد کوي په یوې درجې سره تر ناستو کسانو لوړ ګرځولي دي.)

دجهاد یو ډول دا دي چې انسان خپل سر په خطر کې واچوي بل ډول یې هم له نفس سره جهاد دي. چې جهاد اکبر ورته ویل کیږي.[3]

---

۱. توبه (۹) ۴۱

۲. نساء (۴) ۹۵

۳ . د امام خمیني علیه الرحمة کتاب جهاد اکبر د اخلاقیاتو ا و له نفس سر ه دجهاد په هکله دي . همدا راز دویلو ده چې شیخ حر عاملي په وسایل الشیعه کې او په کتاب

نو له یو پلوه د جهاد مفهوم دومره پراخیږي چې په مال سره جهاد په تبلیغ سره، په ژبې او قلم او حتیٰ له نفس سره جهاد ته شاملیږي. دا په مفهوم کې پراختیا ده خو په فقهي او اصطلاحي مفهوم کې جهاد دامام حسین پاڅون ته نه شاملیږي ځکه چې کله کله مفاهیم دوه ډوله معناوې لري: یوه عامه معنا او یوه خاصه معنا، (خاصه معنا) یو خاص اصطلاحي مفهوم دي چې په خاصه فضا او خاصه ټولنه کې کارول کیږي، خو (عامه معنا) ممکنه ده هماغه لغوي معنا وي یا دا چې د اجتماعي بدلونونو په وجه نوې مصادیق پیدا کړي او پراخه شي.

په دې ډول د جهاد عامې معنا ته په پام سره یعنې د دشمن په خلاف د خداي په لاره کې جهاد کول، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ډېر موارد د جهاد مصداق ګرځیدلای شي. له بل پلوه که امر بالمعروف او نهي عن المنکر د هغې په عامه معنا په نظر کې ونیسو تقریبا د جهاد ټول مصداقونه، بې له نفس سره جهاد پکې شاملیږي.ځکه چې ښو کارونو ته د نورو رابلل او له بدو کارونو د هغوي منعې کول د خداي په لاره کې د کوشش او هڅې مصداق دي او په دې ډول دا دوه مفهومونه په یو بل کې داخلیږي. د پام وړ ټکي دا چې هر کله چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر د جهاد په څنګ کې راشي معنا یې له یو بل سره فرق کوي او په دغه حالت کې جهاد امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته نه شاملیږي او امر بالمعروف هم جهاد ته نه شاملیږي خو که هر یو جدا جدا راشي نو د بل معنا هم

---

جهاد کې د جهاد د بحثونو له کولو وروسته د جهاد بالنفس او اخلاقي مسایلو په هکله غږیږي.

پکې شامليږي. دغه سريزې ته په پام سره ويلاي شو چې له امر بالمعروف او نهي عن المنكر نه د امام حسين مطلب چې هغه يې خپل مقصد بللي دي د هغه فقهي اصطلاحي معنا نه ده چې يو شرط يې د ضرر او تاوان داحتمال نيشتوالي وي. لکه څرنگه چې امام خميني (ره) د تقيې په بحث کې ليکلي دي تقيه په مهامو چارو کې لازمه نه ده. دوي په دې هکله مثالونه هم راوړ ي دي منجمله دا چې که دشمن غواړي چې کعبه ورانه کړي. په داسې مواردو کې نه شو کولي چې د خطر د امکان په پلمه نهي عن المنكر ونه کړو. بلکه په هر قيمت سره بايد دا دنده تر سره کړو. او دخداي د کور د ورانيدو مخه ونيسو. که څه هم د سر د تللو په بيه وي.

همداراز که د کوم امام يا پيغمبر ځان او سر په خطر کې وي نو د زخمي کيدو ځپيږې خوړلو يا تاوان په پلمه غاړې ته نه شو دريدلاي بلکه ضروري ده چې پيغمبر يا معصوم امام وژغورو. که څه هم په زرگونو تنه ووژ ل شي. امام خميني نور مثالونه هم راوړي او په کلي ډول وايي چې په هغو مواردو کې چې د اسلام حيثيت او اصل ته خطر وي تقيه جايزه نه ده.

ضروري ده چې نن سبا دا موردونه د وخت ټولنيزو مسايلو او حالاتو ته په پام سره وڅيړل شي. نن څوک پيغمبر او معصوم امام نه وژني. ځکه چې هغوي شته نه خو غواړي چې د پيغمبر پيغمبري او د امام ولايت له مينځه يوسي دوي وايي چې د پيغمبر له مرگه وروسته هيڅ ولايت نيشته[1] د وحي په باره کې هم وايي چې (وحي يوه شخصي چاره ده او د يو چا پيغمبري نه شي ثابتولاي. پيغمبر هم

---

١ . ر،ک عبدالكريم سروش. بسط تجربه ديني ٢٧ او ١٣٣ مخونه

دنورو په شان دي. او د نورو انسانانوپه شان غلطي کوي)[1] دا عمل د پيغمبر تر وژلو هم بد دي.ځکه چې د پيغمبر په وژلو سره دهغه مقصد له منځه نه ځي. لکه څرنګه چې د امام حسين وينې د هغوي هدف خوندي وساته. خو که پيغمبري او امامت ختم شي، د پيغمبرانو او امامانو له هدفه هيڅ نه پاتې کيږي. په وروستيو کلونو کې د اسلام په حيثيت ا و تنه ډيرې بريدونه شوي دي او ورځ په ورځ دين په ټولنه کې کمزوري کيږي.په دې ډول چې له هيواده بهر مسلمانانو هم داخطر محسوس کړي دي.او زمونږ په هيواد کې د معنويت په کمزورۍ ډير انديښمن شوي دي.

د دغه ديني او معنوي ځوړتيا په هکله دوو لاملونو ته اشاره کولاي شو: لومړۍ ډله ګمراه کوونکي مطبوعات او خپرونې او کتابونه چې وزارت ارشاد په دې مسله کې مسوليت لري، او بل عامل هغه اقدامات دي چې په هيواد کې کيږي چې د ګناه سپکوالي او قباحت په ټولنه کې ختم شي. او د ځوانانو او زلمکيانو د مقام د درناوي په پلمه خلک ګناه کولو ته وهڅول شي. البته په دې زمينه کې د بهرنيو ټيلويژنونو چې په سرحدي سيمو کې مبتذل فلمونه ښيي يا له سپوږمکۍ (ډيش انټيني) د غير قانوني استفادې له روله انکار نه شو کولاي. په دې مسله کې نور وزارتونه هم رول لري، خو د ارشاد د وزارت رول تر ټولو زيات دي.[2]

---

۱ . ر، ک : عصر ازادګان ۲۸ . ۱ . ۱۳۷۹ ، د تحکيم وحدت د دفتر په عزادارۍ کې د سروش د وينا راپور

۲. په ځينو بهرنيو سفرونو کې د امريکا انګلستان او نورو هيوادونو د مسلمانانو لپاره ځواب نه لرو

## د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مصداقونه

امر بالمعروف او نهي عن المنکر په کلي مفهوم کې هر هغه هڅې ته وايي چې په نورو د اثر اچولو لپاره کيږي چې هغه د يو واجب او فرض کار ته وهڅول شي يا له حرام کاره منعې کړی شي. دا هڅه په عمل کې په مختلفو طريقو سره تر سره کيږي دا عملي رودې هماغه د امر بلمعروف او نهي عن المنکر مصداقونه دي. په کلي ډول د امر با لمعروف او نهي عن المنکر لپاهر درې مصداقونه په نظر کې نيولي شو.

### ۱. د جاهل تعليم

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اولنی مصداق د اسلامي احکامو تعليم او ښوونه ده. کيداي شي يو کس په مختلفو دلائلو له اسلامي احکامو او قوانينو ناخبره پاتې وي. مثلا تازه بالغ شوی وي يا د اسلام له مرکز او اسلامي ټاټوبي ليرې وي يا په داسې سيمه کې ژوند کوي چې په بشپړه توګه تر کافرانو لاندې وي. دغه ډول کس ته په اصطلاح کې (قاصر جاهل) وايي يعنې هغه کس چې د اسلام له احکامو او دهغو د اجرا په طريقه ناخبره وي. له دې امله چې داسلامي احکامو د زده کولو شرائط هغه ته نه دي فراهم شوي اوهغه په دې لاره کې کوتا هي کړې وي. داسې کس ته د اسلامي احکامو تعليم ورکول واجب دي. دا کار بايد په ملايمت او نرمۍ سره وشي ځکه چې دغه کس په خپل جهل کې ګرم نه دی. همداراز په دغه تعليم کې بايد د زده کوونکي د عمر ځاي، مقام د ژوند

شرائطو او د پوهې او استعداد درجې ته پام وشي. او له مناسبو تعليمي رودو استفاده وشي

په احکامو د جاهل بل ډول ( مقصر جاهل ) دى. مقصر يا ګرم جاهل هغه دى چې د زده کړې وس يې درلود خو کوتاهي يې کړې ده. په دې بڼه کې که جاهل مقصر د زده کولو غوښتنه وکړي د هغه د غوښتنې منل واجب دي خو که غوښتنه ونه شي او نورو ته پته وي چې هغه په خپل فرض نه دى خبر يا د هغه په زد ه کړې کې يې کوتاهي کړې ده پر دې سربيره چې بايد هغه ته تعليم ورکړى شي د هغه د زده کړې لپاره بايد داسې ردوه غوره کړى شي چې هغه وهڅيږي. قاصر جاهل خو د تعليم لپاره انګيزه لرله خو د زده کړې شرائط ورته برابر نه شول او له دې امله يې احکام زده نه کړل خو د مقصر جاهل لپاره د زده کړې شرائط برابر وو خو هغه په دې کار کې غفلت کړى دى. نو دهغه د راهنمايۍ لپاره بايد اول په هغه کې انګېزه پيدا کړى شي. دداسې کس لپاره بايد د تعليم دقيقه روده غوره کړى شي. چې پخپله د تعليم زده کولو ته تيار شي. په بله بڼه کې که يوازې د غاړې دخلاصولو لپاره له هغه وغوښتل شي چې ديني احکام زده کړي او هغه يې ونه مني د امر بالمعروف د کوونکي له غاړې دنده نه ساقطيږي. د مقصر جاهل په تعليم کې بايد لا ځير او پيچلې روش په کار واچول شي. اوس نو دا دنده ښايي د يو کس يا د يوې ادارې او وزارت لکه د تعليم د وزارت په غاړه وي.

دريم ډول د مرکب جاهل تعليم دى. دهغه کس تعليم چې په خپل خيال حکم او دهغه د ترسره کولو په طريق پوهيږي خو غلطي کوي. مثلا ځينو کسانو ځينې ديني مسائل لکه د لمانځه قرائت غلط زده

کړی دی خو خیال کوي چې عمل یې صحیح دی. یا په اجتماعي چارو کې غلطي کوي. حال دا چې په خپل خیال یې خپل فرض پوره او سم سر ته رسولی دی..

مثلا د ایران له اسلامي انقلابه مخکې چې د ټولنې فرهنګي او دیني شرایط ډیر بدل وو ځینو کسانو په تندۍ تریو تندي او حتیٰ په سپکاوي سره امر بالمعروف کاوه . او خپله روده به یې هم سمه ګڼله. خو په حقیقت کې د ناپوهۍ په وجه د خپلو دندو په ترسره کولو کې یو ه بله ګناه یعنې د یو مومن کس سپکاوي هم کاوه. داسې کس ته هم باید تعلیم ورکړی شي خو دد غه کس د تعلیم روده د تیرو دوو ډولونو په پرتله لا پیچلې ده. له داسې کس سره باید ډیر په نرمۍ خبره وشي چې تیار شي په دې ډول چې اول دا احتمال ورکړي چې ښايي غلطي کوي. ځکه چې هغه ګمان کوي چې کار یې بلکل صحیح دی. په دوهمې مرحلې کې کله یې چې ومنله چې غلطي کوي نو بیا باید ورته سمه طریقه وښودل شي.

یوه ورځ امام حسن او امام حسین یو بوډا سړی ولیده چې غلط اودس کوي نو اراده یې وکړه چې هغه ته سم اودس وښیي. نو هغه ته ورغلل او سلام یې وکړ او وې ویل چې مونږ دواړه ورونه اودس کوو او تاشو وګورئ چې په مونږ کې د کوم یو اودس تر بل غوره دی. بوډا ومنله او دواړو دهغه په مخکې اودس وکړ. بوډا ودرید او دهغوي د اودس له لیدلو وروسته یې وویل زما مور اوپلار له تا زار شه تاسو دواړو سم وضو وکړ دا زه یم چې اودس مې غلط دی. [1]

۱. ابن شهر اشوب، مناقب آل ا بي طالب، دریم ټوک ۱۲۸ مخ

دريِ واړه مورده  يعنې هم جاهل قاصر هم مقصر او هم مرکب تعليم او زده کړې ته محتاج دي. او هغوي ته بايد شرعي احکام ورزده کړی شي. خو دهر ډلې لپاره بايد د هغوي له عمر استعداد  او ټولنيز پوزيشن سره متناسب چلند وشي چې انسان په امر بالمعروف او نهي عن المنکر کې کامياب شي. دا چې انسان يوازې د اتمام حجت لپاره يو څه ووايي دا کافي نه ده. په اسلامي ټولنه کې بايد داسې کسان ان اداري وي چې په مناسبو رودو سره د تعليم دنده په غاړه واخلي. ددغه هر يو مورد شرايط سره فرق کوي. له دې امله بايد دقت وشي چې څوک د تعليم  مسوول دی. کومو کسانو ته تعليم ورکول کيږي کوم کسان دتعليمي ادارو مشري په غاړه لري. کوم ډول معلمان درس ښيي. او هغه اداره چې د دې چارې تکفل لري بايد دد غو ټولو شرائطو خيال وساتي. او خاصه روده غوره کړي. مقصد د  جاهل تعليم دی. نه د غاړې خلاصول. بايد په دغو دريو واړو موردونو کې چې د جاهل له تعليم سره اړه لري تند سلوک او بدني برخورد او سزا ورکولو ته ضرورت نيشته. بلکه ټول همت بايد ښه يادولو  ته وي.

## ۲. ياد اوري او موعظه

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر يو بل مصداق موعظه او نصيحت کول دي. دا ډول هم مختلف صورتونه لري. که يو کس د پوهې له مخې او قصدا يوه څو حالته لرلی شي، ممکنه ده  هغه کس په خلوت کې يوه ګناه کړې وي او بل کس پرې اتفاقي خبر شوی وی حال دا چې هغه نه غوښتل چې له کاره يې څوک خبر شي. او که پوه

شي چې څو پرې خبر شوي دي نو شرمنده کيږي. دلته که څه هم امر بالمعروف او نهي عن المنکر لازم دي خو بايد په دې ډول تر سره شي چې هغه کس شرمنده نه شي.ځکه چې د يو انسان شرمنده کول د مومن د ځورولو په دايره کې راځي چې حرام دي. نو په دې مورد کې بايد داسې عمل وشي چې انسان متوجې نه شي چې امر بالمعروف کوونکی دهغه له ګناه خبر شوی دی. او بايد د کلي مسائلو په ويلو سره هغه نصيحت کړی شي. نه دا چې د هغه را ز د نورو په مخکې افشا شي او نور يې هم له ګناه خبر شي. ځکه چې د نورو د ګناه افشا کول پخپله لويه ګناه ده. که يو کس په پټه يوه وړه ګناه وکړي او بل کس د نهي عن المنکر په پلمه د هغه ګناه دنوور په وړاندې ښکاره کړي او هغه سړی شرمنده شي دا پخپله يوه ګناه ده او د يو مومن د ګناه ښکاره کول پخپله لويه ګناه ده حال دا چې کيدی شي د هغه کس ګناه وړه ګناه وي.

نو که يو کس په پټه ګناه وکړي که لويه ګناه هم وي څوک حق نه لري چې هغه افشا کړي او ګناه يې نورو حتیٰ مور او پلار ته ووايي. ځکه چې کيدی شي هغه کس خځل شي او بې عزته شي. او د يو مومن له عزت سره لوبې کول حرام دي. مګر په هغه مورد کې چې د ګناه کار کس اصلاح په دې پورې منحصره وي چې ګناه يې د نورو په وړاندې بيان شي، يعنې ګناهکار کس په هيڅ ډول تيار نه وي چې له ګناه لاس واخلي مګر دا چې د نورو په وړاندې رسوا او افشا شي. او له ګناه منعې شي. او دهغه دمنعې کولو يوازينی لاره دا وي چې يو بل کس ته وويل شي چې هغه يې منعې کړي. يوازې په دې مورد کې جايزه ده چې د ګناهکار سړي ګناه بل کس ته وويل شي. البته تر

خپله وسه که ممکنه وي باید دغه کس چې له ګناه خبر شوی وي اول هڅه وکړي چې ګناهکار له ګناه منعې کړي خو دا کار باید په دې ډول وشي چې هغه متوجې نه شي چې دی یې له ګناه خبر دی ځکه چې خداي تعالی ستار العیوب دی او نه راضي کیږي چې د مومن راز نورو ته څرګند کړی شي.

ډیر کسان له دې خبرې غافله دي او ګمان کوي چې هره ګناه چې وشي په تیره بیا که لویه ګناه وي باید افشاګري وشي. او هغه کس صلاحیت لرونکو کسانو ته معرفي شي یا هغه تعزیر کړی شي. او که داسې ګناه یې کړې چې حد لري باید حد ورباندې جاري شي. په داسې حال کې چې حتیٰ د داسې ګناه چې د حد سبب کیږي افشا کول هم جایز نه دي مګر په داسې صورت کې چې څلور مومن او عادل کسان ګواهي ورکړي چې دغه کس یې دګناه په حال کې لیدلی دی. چې په دغه بڼه کې دغه څلور کسان حق لري صلاحیت لرونکي مرجع ته د دغه ګناه خبر ورکړي. خو که درې کسان قاضي ته خبر ورکړي چې پلانکي کس ګناه کړې ده او څلورم کس حاضر نه شي قاضي باید په دغه درې کسانو باندې حد جاري کړي اسلام تر دې حدې دیو بنیادم عزت او ابرو ته درناوی کوي. او غوښتي دې دي چې دخلکو رازونه ښکاره نه شي. البته که ګناه په دې ډول وي چې څلورو کسان په یو وخت لیدلي وي تر دې حده چې هغوي ته کوم شک نه پاتې کیږي په دغه بڼه کې باید الهي حد جاري شي البته تر کومه حده چې ممکنه وي باید د خلکو رازونه ښکاره نه کړی شي. حتیٰ دا هم نه دي پکار چې په دې ډول حرکت وشي چې ګناهکار کس متوجې شي چې نور د هغه له ګناه خبر دي او شرمنده شي.

خو کله کله ګناهکار کس یو بې پروا کس وي دغه کس که څه هم په خلوت کې یوه ګناه کړی خو له دې چې که نور خلک د هغه له ګناه خبر شي ده ته هیڅ پروا نه کوي او نه شرمیږي. د داسې کس په معامله کې د هغه کس په شان چې په ګناه شرمیږي د خبرې پټ ساتل ضروري نه دي. خو په عین حال کې باید په داسې ډول هغه ته نهي عن المنکر وشي او په پټه او خصوصي توګه هغه ته تذکر ورکړی شي چې هغه کسان چې دهغه له ګناه ناخبره دي خامخا خبر نه شي. او دا کار د ګناه د خپراوي او دګناه د قباحت د ختمیدو سبب نه شي. په اول ډول کې چې ګناهکار کس نه غواړي چې له ګناه یې څوک خبرشي او فسق نه ښکاره کوي باید دهغه راز پټ وساتل شي او عزت یې خاورې نه کړی شي په عین حال کې باید هڅه وشي ګناهکار کس متوجې او متنبه شي.مثلا په کلي خبرو سره هغه خپلې ګناه ته متوجې کړی شي یا یو حدیث او کیسه بیان کړی شي چې په هغه اثر او نصیحت وکړي.

خو که یو کس په ګناه او فسق تظاهر کوي او د نورو په مخکې ګناه کوي او په دغه کار شرمیږي هم نه د داسې کس په معامله کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر تر نورو سخت دی. سره له دې چې له دغه شان کس سره چلند مرحلې لري. خو د راز د ساتلو مسله ضروري نه دي ځکه چې هغه له دې چې ګناه یې نورو ته ښکاره شي باک نه لري او د خپل عزت په فکر کې نه دی. نور په دې بڼه کې بل کس دهغه عزت نه شي ساتلی. دلته هم باید د امر بالمعروف او نهي عن المنکر لپاره ځینې مراحل ووهل شي. په اول ګام کې باید هغه ته په نرمۍ او ادب او احترام سره وویل شي او ورنه وغوښتل شي چې

ګناه پرېږدي. او د دغه کار له دنياوي او اخروي نتيجو خبر کړی شي. چې وهڅېږي او ګناه پرېږدي. حتیٰ که ممکنه وي د هغه د جذبولو او هڅولو لپاره له زباني تشويقه پرته نور تشويقونه هم وشي. مثلا کوم کسان چې وس لري هغه ته ميلمستيا وکړي او يا يې په سفر له ځان سره بوځي دا ډول تشويق د ګناه په ډول او هغو اطلاعاتو پورې اړه لري چې انسان ترې خبر وي نو په اوله مرحککه کې بايد دغو کسانو ته په نرمۍ ادب او تشويق سره امر بالمعروف او نهي عن المنکر وشي.

که نهي عن المنکر په اوله مرحله کې اثر ونه وکړ لمبر دوهمې مرحلې ته رسيږي. په دغه مرحله کې اول انسان بايد تندی ټول او تريو کړي. خو کې د تندي ټولولو او تريو کولو هم څه ګټه ونه کړه. بايد په غوسې او تندۍ سره له دغه شان کس سره سلوک وشي. او په امرانه لهجې سره ګناهکار کس له ګناه منعې کړی شي. د امر بالمعروف متيقن مصداق چې د امر بالمعروف ټولې معنې پکې اجرا کيږي همدا قسم دی. که امرانه خبرو هم اثر ونه کړ ګناهکار کس ګواښلی شو چې که له ګناه يې لاس وانه خست صلاحيت لرونکو مقاماتو ته به يې په ګوته کړو. صلاحيت لرونکې مراجع مثلا پوليس يا قضاييه قوه هم حق لري د قانون مطابق له هغه سره چلند وکړي. البته تعزير او بندي کول مرحلې لري چې په قانون کې راغلي دي. دغه مرحلې بايد په امر بالمعروف او نهي عن المنکر کې رعآيت شي. چې بې علته په چا زياتی او بې احترامي ونه شي.

د ويلو ده چې په دې کار کې افراط او تفريط نه دی پکار. ځينې پيښې د ځينو نورو کارونو غبرګونونه دي. ځکه چې کله کله سست

چلند او تفریط سبب کیږي چې د یو معروف کار د اصل انکار وشي. اسلام د هر یو ځیز لپاره حد او اندازه ټاکلې ده. په دې زمینه کې تر هغه حده چې ممکنه ده پاید په نرمۍ او مهربانۍ سره چلند وشي خو که دغه ډول چلند اثر ونه کړ باید د یو کس په مصلحتونو د ټولنې مصلحتونه قربان نه شي. بلکه ضروري ده په دې ډول عمل وشي چې د ګناه قباحت په ټولنه کې ختم نه شي. په اسلامي ټولنه کې حریمونه باید خوندي وساتل شي. یو کس چې ګناه کوي باید د شرم احساس وکړي که په اسلامي ټولنه کې دارزښتونو خیال ونه ساتل شي نور مشکلات پیدا کیږي. البته دغه ټول مراحل ـ بې له امرانه لهجې او د قانوني کاروایۍ له ګواښه ـ د موعظې مصداقونه دي.

دموعظې او نصیحت معنا دا ده چې یو کس په خبرو او وینا سره ښه کار ته تشویق کړو. او د ښه کار کولو او د بد کار پریښودلو ګټې هغه ته ووایو. او همداراز د بد کار له تاوانونو یې هم خبر کړو. چې خلک د ښهٔ کار دکولو لپاره انګیزه ومومي او تشویق شي خو امرانه لهجه دا ده چې چاته ووایو چې باید دغه کار وکړي. ټول مسلمانان باید په دغه مرحله کې خطاکار کس ته امر وکړي. په دې مرحله کې د نصیحت او موعظې پړاو نه دی بلکه ضروري ده چې خطاکار کس ته امر وشي چې له ګناه لاس واخلي. دا د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قطعي مصداق دی. چې پکې علو او استعلا شرط دی. د علو او استعلا مطلب دا دی چې له لوړ دریځه یو کس ته وویل شي چې دا کار باید وکړي او دا کار باید پریږدي. د دغه

مرحلو له تیرولو وروسته که ګناهکار کس هماغه شان په خپلې ګناه ټینګار وکړ نو خبره نورو مرحلو ته رسیږي.

## ۳. له سازشونو سره اجتماعي چلند

د شرعې او د اسلامي ټولنې د مصلحت خلاف کار کله کله په ساده ډول او فردي انګیزې یا د ګستاخۍ او بې ادبۍ له مخې کیږي او کله هم یو پیچلی او پلان شوی اقدام وي چې ځینو کسانو ورته پلانونه کړې وي. په بله معنا ممکنه ده د یو منکر تر شا یوه نقشه او پروګرام موجود وي او ځینو کسانو د دې لپاره دغه منکر برابر کړی وي چې اسلامي او اسلامي نظام ته تاوان ورسوي. او ناکامه کړي. مثلا وایي: دومره بد او سپک کارونه وکړئ چې دغه کارونه د خلکو په نظر کې عادي او عام شي. طبعا دغه کسان اسلامي سره مینه نه لري. دوي یا منافقان دي او له زړه ایمان نه لري یا د پردیو تالي څټې ګرځیدلي دي او غواړي په ټولنه کې د اسلام حاکمیت ختم کړي. په دې بڼه کې ټولنه له مختلفو خطرونو سره مخامخیږي. چې باید مبارزه ورسره وشي. دا ضررونه ممکنه ده د کلتوري اقتصادي، هنري ا خلاقي او حتیٰ پوځي کارونو په چوکاټ کې اسلامي ټولنې ته داخل کړی شي. او په داسې بڼه کې له هغو سره مقابله د یو کس یا د یو ساده امر بالعروف د وس کار نه دی. او یو بل ډول مبارزې ته اړتیا لري. او دا د هغو امر بالمعروف او نهي عن المنکر چې تر اوسه مو ورته اشاره وکړه له مصداقونو نه دی. او په علمیه رسالو او د مسایلو په کتابونو کې نه دی راغلی.

دا ډول امر بالمعروف او نهي عن المنکر له یرغل سره مقابله ده او دیو کس د وس کار نه دی او له دې سره په مقابله کې هغه ساده طریقې چې مخکې مو بیان کړې فایده نه کوي.دا ډول تیري شیطاني چاره ده چې پیچلې نقشې او پلانونه لري. او باید دهغه د مقابلې لپاره فکر وکړی شي. او پروګرام ورته جوړ کړی شي. دا تیری ممکنه ده د تماکو د کیسې په شان د یو اقتصادي اقدام په چوکاټ کې وي.همداراز ځینې موارد یې خاصې پیچلتیاوې لري چې یوازې ماهر کسان یې پیژندلی شي. مثلا یو اقدام د تیلو دبیې کمول دي چې په مسلمانانو د ګوذار کولو په توګه ترې استفاده کوي. دا یو خیانت او اقتصادي منکر دی چې پلان شوی دی چې په نړیوالو نقشو سره یې پلانونه شوې ده. په دې ډول چې حتیٰ یو هیواد هم په یوازې سره نه شي کولی هغه تر سره کړي بلکه د نړۍ د مختلفو هیوادونو شیطانان باید په خپلو کې غړمله شي چې د په مسلمانانو دغه ډول اقتصادي ګوذار وکړي. او د تیلو بیو د یو بیرل لپاره له دیرشو ډالرو اتو ډالرو ته راکوزه کړي. دا ډول منکر ضرري منکر دی. چې د یو هیواد په ټولو خلکو بلکه په ټولو مسلمانانو واردیږي. او باید په ګډه ورسره مقابله وشي. ځکه چې د دغه منکر په تر سره کیدو سره په مسلمانانو د کافران سلطه ثابتیږي. دا په داسې حال کې دي چې خداي تعالی په دغه چاره نه راضي کیږي. چې کافران که څه هم په اقتصادي مسلو کې په مسلمانانوبرلاسي شي او خپلې ناولې موخې په هغوي وتپي.

وَلَن يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لِلۡكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ سَبِيلًا[1] "او خداي تعالی هيڅکله په مومنانو کافرانو ته برلاسی نه دی ټاکلی"

نو د دغه ډول منکراتو په هکله بايد مسلمانان په ګډه ميدان ته شي او د مناسبو حل لاره د پيدا کولو لپاره د نظر خاوندان فکر وکړي او پلانونه وکاندي چې د ددغه ډول منکراتو سره مقابلې لپاره يوه مناسبه حل لاره پيدا شي. کله چې دا لاره پيدا شي بايد ټول مسلمانان يې اجرا کړي. کله ممکنه ده حل لاره اقتصادي بايکاټ وي. مثلا د امريکايي سامان د اخستلو بايکاټ وشي. په دغه وخت په ټولو مسلمانانو لازمه ده چې دغه امر ومني. په دې ډول د امريکايي سامانونو اخستل حرامېږي. که څه هم ضروري وي چې دغه سامان له بل هيواده په دوه برابره بيې واخستل شي. خو د دښمنانو له خائنانه توطئو سره مقابلې لپاره چې ضرر يې ټولو مسلمانانو ته رسيږي په دغه بايکاټ عمل نهي عن المنکر دی او په ټولو مسلمانانو واجب دی. په اسلامي ټولنه کې نهي عن المنکر تر دې حده پراختيا لري.

په پوځي مسايلو کې دنهي عن المنکر اجرا هم ډيره روښانه ده. ځکه چې تل دښمنان سازشونه کوي چې په پولو کې نفوذ وکړي يا خپل عوامل راوليږي چې ترهه ګري او ترورونه وکړي. يا مثلا په پوليسو او پوځ کې خپل نفوذي عوامل داخل کړي. په دې زمينه کې پيچلي مسايل شته دي چې بايد د نظر خاوندان يې مطالعه کړي او وې جاجوي.

---

۱. نساء (۴)، ۱۴۱

په هر حال په ټولنه کې باید له ګناه سره مقابله وشي او د مقابلې یوازینۍ لاره فردي فیصلې نه دي بلکه واجبه ده چې په اوله مرحله کې د نظر خاوندان او متخصصان په خپلو کې کښیني او مشورې وکړي او پلانونه وکاندي بیا اسلامي دولت د هغو د اجرا حکم ورکړي. په دغه وخت د دغه طرحې اجرا په ټولو خلکو واجبیږي او په طرحې د عمل وجوب هم په نهي عن المنکر د عمل کولو له امله دی او هم له اسلامي دولته داطاعت په وجه چې د مسلمانانو د ولي امر د اطاعت په معنا دی.

بل فرض دا دي چې په وه سمه کې ولي امر یا اسلامي دولت حاضر نه وي یا اسلامي دولت بلکل واکمن نه وي یا واکمن وي خو د دښمنانانود دسیسو مخه نه شي نیولی. منجمله دا چې ممکنه ده یو شمیر نور کسان اقتصادي او تجارتي سرچینې په لاس کې واخلي او خپلو موخو ته د رسیدلو لپاره دولت له انجام شوي عمل سره مخامخ کړي. په دې موقعیت کې. پخپله خلک د د ښمن له دسیسو سره د مقابلې لپاره پلانونه وکړي. او دښمن ته ماته ورکړي. ځکه چې اسلامي دولت په هر دلیل نه شي کولای دغه سازشونه شنډ کړي.

همداراز ممکنه ده اسلامي دولت د دښمنانو له دسیسو خبر وي او له هغو سره د مقابلې توان هم ولري خو په دې برخه کې کوم اقدام ونه کړي. په دغه حالاتو کې پخپله خلکو واجبه ده چې د خطر د لیرې کولو لپاره اقدام وکړي. او له سازشونو سره د مقابلې لپاره پلانونه وکړي. او اجرا یې کړي. که څه هم د خلکو دغه اقدام ممکنه ده د ټولنې لپاره موقتي اقتصادي ضرر ولري. خو ور وسته دغه ضرر

جبرانیږي. په هر حال دا یوه واجبه چاره ده. چې متاسفانه موارد او اړخونه یې سم نه دي جاجول شوي.

په دې اساس هر کله چې د داخلي یا بهرني دښمن له لوري یو خطر په یوې زمینې کې اسلامي ټولنې ژوند وګواښي، په مسلمانو خلکو واجبه ده چې د عالمانو، متخصصانو، او د تجربې د خاوندانو له علمه په استفادې سره د دغه خطر د مقابلې لپاره قطعي پریکړه وشي او د دښمن د سیسې شنډې کړي

## له کلتوري یرغل سره مقابله

کلتوري یرغل یو تر ټولو لوي خطر دي چې د دښمنانو لخوا اسلامي ټولنه ګواښي، کلتوري یرغل تر یوه حده د مسلمانانو د ټولنې له کلتوري کمزورۍ سر چینه اخلي.

کلتوري یرغل په دین یرغل دي لکه څرنګه چې د رهبرې ستر مقام فرمایلي دي : «دښمنانانو د خلکو ایمان په نښه کړي دي »دا خبره جدي ده او د یو داسې کارپوه له خولې راوتلې ده چې دا ډول مسایل تر بل هرچا ښه درک کوي. په داسې شرایطو کې یوازې په فردي دندو لکه لمانځه او تعلم بسنه او له دغو چاره ځان نه شي تیرولاي. دولت هم له دغه دندې ځان نه شي غړولي. مختلفې ځانګې هم باید یوازې په خپل منځي جګړو پسې نه وي. او داسې نه شي چې هر څومره د مسلمانانو مشر چغې وهي چې د کلتوري یرغل په فکر کې هم اوسئ او د پوهنتونونو د اسلامي کولو لپاره دیوې په چارې په فکر کې شئ. څوک پام ونه کړي. که څه هم دولت اسلامي دي. او ولي فقیه د نظام په سر کې دي. هغه کسان چې باید دهغه

دامر منونکي وي د فرض احساس نه کوي. ایا په زماني کې پښه په پښه اچولاي او کیناستلي شو. چې داسې نه وي دې ته تاوتریخوالي او زیږوالي وویل شي؟ ایا کولاي شو په دې بڼه کې د تسامح او نرمۍ خبره وکړو. حال داچې د رهبرۍ ستر مقام بیا بیا وایي چې کلتوري یرغل او شبخون روان دي. او دښمن ستاسو د دین او کلتور د تباه کولو په حال کې دي. ایا په داسې حالاتو کې چې د ښمن د ځوانانو په ایمان حملې پیل کړي دي. ایا اوس هم د وظیفې احساس نه دي پکار؟ که یو کس په خپل کور کې او په نرمې ګرمې بسترې کې پروت وي. او ناڅاپه یوه تیزه چغه واوري چې سیلاب راغلي دي تښتئ. ممکنه ده چې دغه کس پاڅي او ووایي چې دا په نیمه شپه چغې څوک وهي. او بیا اوده شي. خو کله چې له خوبه سم پاڅي او څو ځله دغه اواز واوري خبره سنجیده اخلي. او بیا له دغه کسه چې ده ته یې چغې وهلې د ځان او کورنۍ د ژغورل کیدو په وجه مننه کوي. یا مثلا که یو کس چغه کړه چې اور اور، او خلک په نیمه شپه له خوبه پاڅوي. هغوي وروسته له دې چې خطر ته متوجې شي پوهیږي چې دغه سړي یې څومره لوي خدمت کړي دي. او هیڅکله په هغه اعتراض نه کوي. مادي چارې هم داسې دي. او که یو کس څوک د زلزلې سیلاب اور او بمبارۍ خطر ته متوجې کړي. هغوي د دغه کار په فایدې پوهیږي او دهغه مننه کوي. خو معنوي چارې داسې نه دي. او اهمیت یې په اسانې سره نه درک کیږي. او ټول خلک له خیر خواه او دلسوز کسه چې خبرداري ورکوي هرکلي نه کوي او ښایي هغه ته تاوتریخ غواړي ووایي او کراري ته یې وبلي. که د خطرې په وخت په تیره بیا د معنوي خطرې په وخت چې خلک

د هغه په هکله چنداني حساس نه دي په ارامه خبره وشي څوک نه راوينښيږي ځکه چې د انسان طبيعت زياتره له محسوسو څيزونو سره اشنا دي. او هغه څه چې دهغه له احساساتو ليرې وي زر پرې باور نه کوي. که مونږ ته څوک ووايي چې مال يې درنه يوړ نو مونږ زد پوهيږو خو څوک راته ووايي چې دين يې درنه يوړ باور نه کوو او د لمانځه په لوستلو او د روژو په نيولو ځانونه ډاډه کوو حال دا چې که پام وکړو زمونږ د سږ کال ايمان د تير کال له ايمان سره فرق کوي تير کال مو په خداي او رسول ايمان درلود خو سږ کال شک کوو مثلا سږ کال کيداي شي زمونږ ذهن ته دا خبره راشي چې هغه څه چې عالمان يې وايي ښايي صحيح نه وي. ځکه چې ځينې کسان چې د لندن په پوهنتون کې يې درس ويلي دي داسې خبرې کوي چې د ملايانو له خبرو سره په تضاد کې دي او ښايي تر دغو ملايانو ښه په مسايلو پوه شي. د انسان دين په دې ډول ورو ورو پيکه کيږي او هغه هغه وخت په خود راځي چې نور يې له دينه هيڅ نه وي پاتې خو کوم کس چې هوښيار او ويښ وي له ليرې د دښمن شتون احساسوي او د اخته دي. د دښمن خطر ته د ټولنې دا ډول متوجې کول په يو ډول نهي عن المنکر دي . لوي خطرونه د ټولنې ايمان ګواښي چې که پام ورته ونه شي تاوان يې ټولو خلکوته رسيږي. ځکه چې که ځوانان بې ايمانه شي اخلاقي مفاسد منجمله نشه، ايډز جنايت او قاچاق په ټولنه کې خپريږي.

خداي تعالی د ټولنو د کلتوري ځوړتيا په هلکه فرمايي:

﴿لَّهُمْ عَذَابٌ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَشَقُّ ۖ﴾[1] "هغوي د دنيا په ژوند کې عذاب لري او داخرت عذاب لا سخت او دروند دي"

د هغوي د دنيا عذاب، د کورنيو ړنګيدل، له ميړونو سره د ښځو بيشماره اختلافونه د بچيانو غلط تربيت د سپکو عادتونو خپريدل په نشه ايزو موادو اخته کيدل او داسې نور.

ددې لپاره چې ټولنه په داسې بدو پايلو اخته نه شي بايد له اوله د ټولنې د کلتوري مسايلو په وړاندې حساس شو او د ټولو مشکلاتو حل د اقتصادي مشکلاتو په حل پورې ونه تړو. له دې امله هغه کسان چې ګمان کوي د ټولنې ستونځې د اقتصادي مشکلاتو په ليرې کيدو سره ختميږي ډيره غلطي کوي. ځکه چې هيڅکله فقر د داډول مشکلاتو سبب نه دي. البته کله کله فقر او اقتصادي ګډ وډي د دغه ډول انحرافاتو له زياتيدو سره مرسته کوي خو علت تام نه دي. سره له دې چې د اقتصادي مشکلاتو هواري د دولت دنده ده خو د دولت يوازينۍ دنده د اقتصادي مشکلاتو هواري نه دي د دولت تر ټولو لومړۍ او لويه دنده د دين اخلاقو ، معنوياتو او د معنوي ارزښتونو ساتل دي له هغه وروسته نورو مسلو ته لمبر رسيږي. البته د تقدم مطلب اهميت دي او په اصطلاح د رتبې تقدم دي نه د وخت تقدم.

البته د ويلو ده چې نن سبا ځينې کسان په هر ډول تلقين کوي چې که اقتصادي مشکلات هوار شي نورې ټولې ستونزې هواريږي حال دا چې داسې نه ده او اقتصادي هوساينه هيڅکله ټول مشکلات نه

---

١ . رعد (١٣) ٣۴

هواروي. ځکه چې په دې ښه کې امریکا چې تر ټولو هوسا هیواد دي او د سړي سر عاید یې تر نورو هیوادونو زیات دي . باید د نورو ټولنو په پرتله کم اجتماعي مشکلات ولري، حال دا چې دهغه څه په اساس چې د امریکا مطبوعات یې اعتراف کوي. په هر سیکنډکې په دغه هیواد کې څو جنایتونه کیږي.سره له دې چې د سکول ټول ماشومان له ساتونکي سره ښوونځي ته ځي او په ټولو سکولونو کې وسله وال پولیس ځاي پرځاي دي او.... خو داسې ورځ نیشته چې د دغه هیواد په ښوونځیو کې کوم جنایت ونه شي. البته په اجتماعي مشکلاتو کې د فقر د تاثیر انکار نه شي کیدي او لږ تر لږه اثر یې د دغه مشکلاتو زیاتیدل دي خو داسې نه ده چې هر کله د غربت او فقر مسله هواره شوه ټول مشکلات هواریږي بلکه ددې په اپوټه کله کله پیسې زیات مشکلات په ځان پسې لري.

## د ټولنې د بیدارولو لپاره د جهاد او شهادت جذبه

کله چې اسلامي دولت او مسلمانو خلکو له منکراتو سره په تیره بیا له هغو منکراتو سره چې له ټولې ټولنې سره اړوندیږ مقابله وکړ ه هدف پوره شوي دي. خو کله کله داسې وي چې اسلامي دولت په خپلې دندې عمل نه کوي. او مسلمانانان هم وظیفه شناس نه دي او د خپلو دندو په ترسره کولو کې سستي کوي دا چاره په تاریخ کې ډیر مصداقونه لري او له مسلمانانو ډیرې بې وفاګانې لیدل شوي دي او بعیده نه ده چې ډیري مسلمان خلک د خپلو دندو په پوره کولو کې کوتاهي وکړي.

د اميرالمومنين له شهادته د سيدالشهدا (ع) تر شهادت پورې شل کاله وخت و په دې موده کې چې امام حسين په مدينه کې و ځينو کسانو قدرت په لاس کې درلود چې د مسلمانې ادعا يې کوله هغوي بت پالي او دخداي منکر نه وو او په ظاهره يې د خداي او د رسول د اوامرو انکار نه کاوه ځانونه يې د رسول الله خليفه ګڼلو لمونځونه يې کولو او د جمعې لمونځ يې کاوه. عمر بن سعد د عاشورا په ورځ مخکې له دې چې د امام حسين په ملګرو حمله پيل کړي لمونځ وکړ او وې ويل :

يا خيل الله ارکبي و بالجنة ابشري[1] "اي د خداي لښکره سپاره شئ او تاسو ته د جنت زيري دي"

همداراز هغه کسان چې د امام حسين په زمانه کې يې ژوند کاوه ټولو لمونځونه کول او دمسلمانۍ ادعا يې کوله او حکومت هم اسلامي و. په داسې بڼه کې امام حسين تر شلو کلونو ونه توانيد د حکومت د نامشروعوالي خبره وکړي، مګر په پټه او خصوصي توګه. او له ډيرو کمو کسانو سره. او له همدې امله امام د معاويه له مرګه وروسته په ظاهره د مدينې واکمن ته تسليت ووايه.

په وروستيو دورو کې هم معصومو امامانو خلکو ته په ډاګه نه شول ويلاي چې حکومتونه باطل دي ځکه چې خلفاوو د اسلام په نامه حکومت کاوه نه د کفر په نامه، که دخداي منکر هم وو ظاهروله يې نه او د رسول الله د خيلفه په نامه يې حکم کاوه. لکه څرنګه چې هارون الرشيد د امام موسیٰ کاظام له بندي کولو مخکې د پيغمبر اکرم مزار ته ورغي او معافي يې وغوښتله او غذر يې وکړ چې اي

---

۱. شيخ مفيد الارشاد، ژباړه محمد باقر ساعدي خراساني، ۴۴ مخ

دخداي رسوله زه ستا بچي د اسلامي ټولنې د مصلحت ، د امن د راوستلو او له ټولنې داختلاف د ختمولو لپاره بندي کوم.[1]

کله شرايط په دې ډول دي چې يوازې په پټو او خورو ورو فرهنګي فعاليتونو سره د خلکو د دين اصل ساتلي شو.په دې هيله چې يوه ورځ د هغوي معرفت زيات شي او وتوانيږي لا مهم کارونه وکړي. تقريبا د امام سجاد له زمانې له وروسته څخه په مختلفو دلايلو ټولو معصومانو داسې پروګرام درلود. يوشمير مسلمانانو د امامانو په محضر کې او د هغو بزرګوارانو په هڅې سره د اسلامي کلتور په اساس تربيت وموندہ. او داسلام ټاټوبي په خواشا کې خپاره شول او دخلکو د هدايت هڅه يې وکړه. د دغه ادعا شاهد د امامزادګانو بيشميره زيارتونه دي چې په مختلفو سيمو کې يې د خلکو هدايت کاوه. او دهغوي فعاليتونه په فرهنګي فعاليتونو کې منحصر وو او هڅه يې کوله چې د خلکو د دين اصل له مينځه لاړ نه شي.

همداراز په مني کې مشرانو ته د امام حسين د وينا يوه برخه دا وه چې زه ويريږم چې اصل حق ورک شي. په دې ډول هغه حضرت د داسې حالت انديښمن و چې خلک ونه توانيږي حق له باطله وپيژني. او د باطل او حق د پيژندلو کومه لاره نه وي. په د اسې پوزيشن کې نه په تبليغاتي فعاليت او نه په پيسو سره څه کيدلي شي. همداراز جنګ او جهاد هم فايده نه کوي. ځکه چې د حق جبهه پلويان نه لري. او قدرت او پيسې هم د باطل په لاس کې دي. د معاويه په زمانه کې د تبليغاتو او د ويرولو او ګواښلو له امله په ټولنه د

---

۱. تير سند ۵۸۲مخ

ساډوبی فضا واکمنه شوې وه مخالفان يې يا ځړول يا يې وژل . نه چا د پاڅون جرات کاوه او نه چاته طاقت او توان پاتې و. په داسې حالاتو کې ټولنه داسې حرکت ته اړمنه وه چې د يو کس يا د يوې ورې ډلې د وس کار نه و. تبليغ هم تاثير نه درلود. ځکه چې ټول وسايل د امويانو په لاس کې وو او د امام فرياد يوازې د يو څو کسانو غوږ ته رسيده. او تر شلو کلونو هغه حضرت مجبوره و چې په پټه له خپلو ملګرو سره خبرې وکړي.

په دغه شرايطو کسې تر ټولو ښه اقدام هماغه کار و چې امام حسين وکړ. هغه حضرت په اسلامي ټولنه کې داسې حرکت پيدا کړ چې تر قيامته به يې پر ټولنه اغيز پاتې وي. هغه لړزا يې چې راوستله باقي به وي او وبه نه دريږي. د امام حسين پاڅون هغه پيښه ده چې نه شي تحريفيدي او دهغه غلط تفسير وشي. حال دا چې په قران کې هرمحکم آيت هم په غلط تفسير سره تحريفيدي او هغه په نوي قرائت سره دوباره لوستل کيدي شي. حديث هم په اسانه دروغ جعلي او له اسراييلياتو بللي شو. يا په نهآيت کې ويلاي شو چې دا معنا او مفهوم يو ډول قرائت دي او د دې لپاره بل قرائت هم کولي شو. د تقليد مراجعو اومجتهدانو ته هم وايي چې تاسو خپله پوهه مطلقه مه ګڼئ. نور قرائتونه هم شته. خو د امام حسين حرکت داسې دي چې نه شي تحريفيدي. د هغه حضرت د پاڅون يوازيني تفسير دا دي چې يوه پاکه ډله وه چې دخداي په لاره کې او د دين د احيا لپاره يې ځانونه او عزيزان قربان کړتر اوسه هيڅ يو تاريخ ليکونکي او باضميره انسان د کربلا د پيښې بل تفسير نه دي وړاندې کړي. البته نن سبا داسې کسان پيدا کيږي چې ممکنه ده د کربلا له پيښې

نوې تفسير وړاندې کړي او ووايي چې دامام حسين پاڅون غلط و او د کربلا پيښه د بني اميه وو په وړاندې د هغه د نيکه د تاوتريخوالي غبرګون و. ځکه چې دامام حسين نيکه دهغوي پلار نيکونه وژلي وو. او هغوي هم په کربلا کې د پيغمبر لمسيان ووژل دا هغه تر ټولو شيطاني تفسير دي چې تر اوسه د کربلا له پيښې وړاندې شوي دي. او تر اوسه داسې تعبير مخينه نه ده لرلې. له دې مخکې دوست دښمن و مسلمان کافر، مشرک او بت پرست، ټولو کربلا د کيسې په وړاندې د تعظيم سر ټيټ کړي دي.

په دې ډول وه چې حسين د هدايت ډيوه شوه. هغه ځلانده څراغ چې د دښمنيو توپانونه او دښمنۍ يې هيڅکله نه شي ګلولي.

دا هم په عامه معنا د نهي عن المنکر لپاره يو بل مصداق دي. خو امام حسين هماغه ډول چې وې فرمايل د نهي عن المنکر هدف ته ورسيده. : اريد ان امر بالمعروف و انهي عن المنکر . د دغه امر بالمعروف او نهي عن المنکر ميوه انسانانو ته د حق او باطل ورپيژندل او هدايت و. او دا اصل د انبياوو او د خديا د وليانو دنده ده. د هدايت د دندې له تر سره کولو وروسته که خلک تيار شول چې دهغوي مشري ومني. دوي حکومت هم جوړوي، که څه هم د حکومت جوړول د هغوي دنده ده. دا دنده په هغه صورت کې بنه نيسي چې خلک يې ومني او له هغوي سره مرسته وکړي. لکه څرنګه چې اميرالمومنين به شقشقيه خطبه کې وفرمايل :

لَوْلا حُضُوْرُ الحَاضِرِ وَقِيامَ الحُجَةِ بِوُجُودِ النّاصِرِ...لاالقيْتُ حَبْلَهَا عَلىٰ غَارِبِها....

که ډیر کسان نه وي حاضر شوي او مرسته یې نه وه کړې چې حجت تمام شي....بیشکه چې د خلافت د اوښ جلب به مې د هغوي به کوهان وراچولای وای.

کله چې خلک چمتو شول او مرسته یې وکړه. زه به هم په خپله دنده عمل وکړم. په دې ډول خو که خلک حاضر نه شول د حکومت د جوړولو دنده ساقطیږي، خو د هدایت دنده باقي ده. د انبیاوو او اولیاوو د هدایت دنده د غیبت په ورځو کې د دین عالمان په غاړه لري:

العلما ء ورثة الانبياء[1] نو دا دنده هیڅ کله نه ساقطیږي او که بله لاره نه وي باید د امام حسین په شان خلک په خپل شهادت سره هدایت کړو. او په دې ډول حق او باطل هغوي ته وښودل شي. په دې بڼه کې که خلک انصاف ولري پوهیږي چې دا کار د دیني دندې په خاطر تر سره شوي دي. البته د داډول امر بالمعروف او نهي عن المنکر موارد ډیر کم دي. له بل پلوه د داسې دندې تشخیص ډیرې پوهې ته ا ړتیا لري اود امر بالمعروف او نهي عن المنکر د دندې او فرض د پوره کولو لپاره له هر څه تیریدل ډیرې سر ښندنې ته اړتیا لري له دې امله دا سې شخصیتونه ډیر کم پیدا کیږي.

---

۱. عالمان د پیغمبرانو وارثان دي.

# اتم څپرکے

په اوسنيو حالاتو کې د دولت او خلکو دنده

مخکې مو وویل چې دامام حسین په زمانه کې حالات دومره خراب او تیاره وو چې د اسلام د دشمنانو له دسیسو او نقشو سره د مقابلې، د حق د پیژندلو او د اسلامي ټولنې د بیدارولو یوازینۍ لاره هماغه لاره وه چې امام حسین خپله کړه: جهاد او شهادت، دغه پاڅون داسې برکت درلود چې له هغه وروسته د یو معصوم امام په زمانه کې هم د دا ډول پاڅون ضرورت پیښ نه شو. او موقعه او فضا پیدا شوه چې نور امامان وتوانیدل د اسلامي تعلیماتو او معارفو د تبلیغ پراختیا او تعلیم لپاره شاګردان وروزي، او په مختلفو سیمو کې د تبلیغي او ارشادي حرکتونو لپاره ځینې ملګري تربیت کړي او په دې ډول یې د اسلامي نړۍ په بیلابیلو هیوادونو کې اسلامي معارف خپاره کړل. همدارز لیرې خبره ده چې بیا په اسلامي ټولنه کې داسې حالات پیدا شي او اسلامي ټولنه دومره تیاره او ګډه وډه شي چې له باطله د حق پیژندل ناشوني وي. او شهادت او سربښندنې ته ضرورت پیښ شي. خو په هر حال کلي مسایل د مصداقونود وجود یا کثرت تابع نه دي. بلکه حکم یې هغه وخت چې یو مصداق یې هم پیدا شي په ګوته کیږي. که څه هم لیرې خبره ده چې یو داسې قیام چې دغه ډول ځانګړتیاوې او پراختیا ولري ضروري شي. البته دا ممکنه ده چې داسې حالات پیدا شي چې د محدودو پاڅونون ضرورت پیښ شي. لکه څرنګه چې د رهبرۍ ستر

مقام حضرت اية الله العظمی خامنه اي په خپلو ويناوو کې دغه ډول امکان ته اشاره کوي.[1]

په هر حال دا مسله د پام وړ ده، ځکه چې له دشمنانان سره د ټکر لپاره د اسلامي ټولنې تيارے د هغوي د نفوذ او کاميابۍ امکان کموي. خو که يو وخت مسلمانان د غفلت په خو ب ويده شي.او په مختلفو بڼو د دشمنانانو د پروپاګنډو تر اغيز لاندې راشي او خپل ديني غيرت بايلي دشمنانانو ته تمه پيدا کيږي. له همدې امله مو په امر بالمعروف او نهي عن المنکر مفصلې خبرې وکړې او ومو ويل چې امر بالمعروف په خپلې عامې معنا کې ځينو نورو عنوانونو ته هم شامليږي چې تعليم او نصيحت يې هم دوه عنوانونه دي او اخر دا چې که د حالاتو تقاضا وي جهاد هم کيدے شــــي د امر بالمعروف او نهي عن المنکر يو مصداق وګرځي او واجب شي.

## د احکامو او معارفو د ښودلو لپاره د حکومت او ټولنې دنده

ومو ويل چې تعليم او ښوونه درې ځانګې لرلے شي: د جاهل تعليم، غافل ته تذکر او يادونه او د ګمراه ارشاد او لارښوونه. لومړے صورت دا دے چې ځوک په اسلامي ټولنه کې له ځينو معارفو او تعليماتو بې برخې وي خو لا ورته د دې شرايط نه وي برابر شوي چې د دين په هکله ضروري معلومات لاسته راوړے شي. داسې کسانو ته بايد تعليم ورکړل شي. دا د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په

---

[1]. د ځوانانو په غونډه کې د آيت الله العظمیٰ خامنه اي وينا ۱۳۷۹ /۲/۱ (دتهران عيدګاه)

عامه معنا دهغه يو مصداق دے. دوهمه معنا دا ده چې يو کس په يو ډول له مسلې خبر دے خو حالات او ماحول يې داسې دے چې بلکل د دغه ډول حکم او مسلې غافله شوے دے. په هر حال د انسان دريځونه او لورنيوني د هغه د ذهنياتو تابعې دي او د اکثرو انسانانو ذهنيات د هغه دخواوشا ماحول او چاپيريال او ليدنو او اوريدنو تابع دي. مسايلو ته د انسان توجه غالبا د چاپيريال د شرايطو تابعه وي. که چاپيريال فاسد او ککړ وي کيدے شي ډير خلک له خپلو فرايضو غافله شي. او که دوي ته وويل شي چې په اسلام کې دغه فرض او دنده موجوده ده مني يې، خو له دې چې دا خبره په دوي هم فرض ده او دوي ذمه واري هم ده له دې غافله وي. په داسې حالاتو کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر هماغه غافل ته تذکر ورکول او ياد اوري ده يا په لغوي معنا کې متنبه کول يعنې ويښول.

دريم مصداق د ګمراه او ضال لارښوونه ده. هغه کس چې سم معرفت نه لري خو ځان عالم اوپوه ګڼي مرکب جاهل دے. داسې کسي فکر کوي چې له خپلو فرايضو خبر دےخو په غلطه وي. د داسې کس د ارشاد او لارښوونې لپاره بايد هغه ته وويل شي چې ته غلطي کوې.او هغه ته لاره او مقصد وښودل شي. دې ته وايي د ضال يا ورک لاري لارښوونه، د امر بالمعروف دا درې ډوله د تعليم په برخه کې راځي. تعليم هم کله په فردي ډول وي چې هر کس په خپلې کورنۍ او اولادونو کې دنده لري چې که په هغوي کې کوم کس جاهل او يا ناپوهه وي پوه يې کړي او لاره ورته وښيي.:

خداي تعالی فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ[1] اي هغو کسانو چې ايمان مو راوړے دے، ځانونه او خپله کورنۍ د دوزخ له اوره وساتئ هغه اور چې خشاک يې خلک او کاڼي دي.

لکه څنګه چې انسان فريضه لري په خپلو شخصي دندو عمل وکړي په هغه فرض دي چې کورنۍ، نزدې کسانو او هغو کسانو ته چې دهغه تر اغيز لاندې دي هم لارښوونه وکړي. دا دنده په لوړه سويه کې دعالمانو او هغو کسانو لپاره چې د تعليم په برخه کې متخصص دي تر نورو درنه. ژوره او پراخه ده چې بايد په اسلامي ټولنه کې يې تر سره کړي. او کله چې ټولنه د مختلفو ادارو په وسيله چليږي بايد يوه خاصه اداره او ارګان دا کار په غاړه واخلي. د ويلو ده چې په پخوانيو ټولنې کې چې نسبتا په ساده ډول به اداره کيدې د نن په شان دغه ډول وزارتونه او کاري ويش او اداره جات نه وو. مثلا د اسلام په لومړيو وختونو کې به زيات نه زيات دريو کسانو د يوې سيمې چارې چلولي يو کس به يې د والي يا ګورنر په توګه يوې سيمې ته ليږه بل به يې د معلم او قاري په توګه يعنې داسې کس چې قران به يې زده و او نورو ته به يې ورزده کاوه. او عالم به هم و او په اسلامي احکامو او معارفو کې به ورته خلکو مراجعه کوله دريم کس به هم خزانه دار و. چې مالونه په يې راغونډول او حساب کتاب خاوند و د وخت په تيريدو سره او د ټولنيزو اړيکو په پيچل کيدو

---

۱. تحريم (۶۶)، ۶

سره د دغو ادارو او جوړښتونو شمير زيات شو. تر دې چې نن سبا کابينه وي او تر شل ديرشو پورې وزارتونه.

زمونږ په زمانه کې دغه درې تعليمات لږ تر لږه درې وزارتونه په غاړه لري:

د ښوونې اوروزنې وزارت چې د تعليم او د متعارفو ديني او دنياوي علمونو په ترڅ کې دنده لري چې ماشومانو ته لازمې دينې زده کړې او پوهه هم ورکړي. په دې برخه کې انصاف خو دا دے چې په اسلامي حکومت کې او له دې مخکې په تير رژيم کې هم د ښوونې او روزنې وزارت تر ټولو ښې ادارې وې چې ټولنې ته يې خدمت کړے دے.

د دې خبرې لپاره دليلونه شته دي: منجمله دا چې د تعليم د وزارت اکثره کسان هغه استادان او معلمان دي چې د متوسطې پرګنې خلک دي چې له دينې ټولنه سره يې سروکار دے. او کلکې دينې عقيدې لري. اوله همدې امله د خپل کار لپاره د مسووليت احساس کوي.

د لوړو زده کړو وزارت هم د ټولنې د تعليم ځينې مسوليت په پوهنتونونو کې په غاړه لري. د اسلامي فرهنګ او ارشاد وزارت (په پاکستان او افغانستان کې د کلتور وزرات) هم په دغه ډول ادارو کې راځي چې د اسلامي ارشاد لفظ پخپله دهغوي په فريضې دلالت کوي. خو له بده مرغه نن د دغو دوو وزارتونو عمل په مطلوبه سويه نه دے. او سره له دې چې څو کاله کيږي چې د اسلامي انقلاب ستر لاربنود د پوهنتونونو په اسلامي کيدو ټينګار کوي په دې زمينه کې جدي کار نه دې شوے. شايد يو دليل يې دا وي چې ځينې

مسوولان د دغه کار لپاره جدي هوډ نه لري. البته د دغه کار لپاره هم خپل دلایل دي منجمله دا چې د پوهنتونونو ډیر استادان او حتیٰ د دغو ادارو مدیران له هیواده د بهرې واکمنې فضا تر اغیز لاندې دي ځکه چې هغوي غالبا څو کاله په اروپا کې تیر کړي دي یا د لویدیځوالو تر لاس لاندې وو. او دهغو خلق او خو معلومات او کلتور زیاتره لویدیځ ته ورته دے تر دې چې اسلام ته ورته وي. نو کوم کسان چې د دوي په لاس روزل کیږي د هغوي حال به هم تر دوي ښه نه وي.

د اسلامي ارشاد او کلتور وزارت هم نن سبا کمزورے کړچار لري. تر دې حده چې دغه وزارت ځینو مشرانو ویلي دي چې د دغه ادارې اسلامي نوم د هغوې له کړچار سره څه تړاو نه لري.او د دغه وزارت دنده هماغه د شاه دوخت د فرهنګ او هنر د وزارت دنده ده دوي وایي مونږ دخلکو له دین سره غرض نه لري خو باید لرغونے او ملي فرهنګ او رقص او سندرې او داسې نور څیزونه ژوندي کړو. د ایران ملي کلتور او ژبه باید په نورو هیوادونو کې دود کړو. او له اسلام سره غرض نه لرو. ۱

په داسې حالاتو کې چې دغه دولتې ادارې په خپلو ټولنیزو دنده عمل نه کوي خلک دنده لري چې پخپله دغه مسولیت په غاړه واخلي. په اصل کې هم دا دخلکو دنده ده خو د نن زمانې د ټولنې پیچلو حالاتو دغه کار دولت ته سپارلے دے.

دلته باید د دولت دنده هم څرګنده کړو.او دا چې ایا داسې دندې او فرایض شته چې د دولت په غاړه دي او خلک پکې رول نه لري.

---

۱. زه د دغو خبرو خاص مورد تاریخ، او دتاریخ اوریدونکي او مخاطبان ګنم.

ياد دي په اپوته داسې دندې او فرايض شته چې پخپله خلک يې بايد تر سره کړي خو له دې امله چې د خلکو د وس کار نه دے يا هغوي يې په کافي اندازه دکولو لپاره کسان او انګيزه نه لري. دولت د خلکو په نيابت سره دغه چارې منظموي. ښوونه او روزنه هغه چاره ده چې دخلکو په غاړه ده او هغوي بايد په خپله هڅه وکړي چې په ټولنه کې اسلامي معارفو او تعليمات دود کړي.خو نن سبا د اجتماعي شرائطو په وجه د دغه فرض يوه برخه د دولت په غاړه اچول شوې ده. او حکومت بايد دغه چارې منظمې او برابرې کړي. او خلک هم بايد له دولته دهغه کول وغواړي. نو که دولت په هر دليل دغه فريضه سمه ادا نه کړے شي د خلکو له غاړې فرض نه ساقطيږي.

په اوسنيو حالاتو کې هم په تيره بيا دا چې د اسلامي کلتور او ارشاد وزارت او د لوړو زده کړو وزارت په خپله دنده عمل نه کوي د خلکو يوه دنده د ماشومانو او ځوانانو تعليم دے. د دغه واجب تعليم نه مطلب د ديني چارو تعليم دے. هغه څه چې نن سبا ورته ضرورت دے او مونږ يې دامر بالمعروف او نهي عن المنکر مصداق ګڼو ديني تعليمات دي. يعنې ځوانان بايد په دې ډول په دينې تعليماتو وپسولل شي چې هيڅکله د هغه غلطې فضا او تبليغاتو چې د اسلام فکري او عقيدتي دشمنانو پيدا کړې ده تر اثر لاندې را نه شي. چې دين يې کمزورے او ايمان يې سست نه شي. او د دين په اصولو او ارونو کې شک ونه کړي ددغه مسووليت لويه برخه د روحانيت او علماوو په غاړه ده. عالمان بايد هڅه وکړي. په دې زمينه کې په مختلفو سويو کتابونه وليکي استادان تربيت کړي

مختلف اوږده او لنډ حضوري او غيابي کلاسونه رسمي او غير رسمي کلاسونه او کورسونه کيږدي. چې وکړے شي له دغو امکاناتو استفاده وکړي [1] دا ډول تعليم د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د مصدق په توګه په مونږ واجبيږي.

په عامه معنا د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دوهم ډول موعظه او نصيحت دے. موعظه د ټولو فريضه ده. د هغو کسانو نصيحت چې نزدې وي يا زمونږ تر تکفل لاندې وې يا هغه کسان چې مونږ پرې فکري اغيز لرو. ټول مسلمانان دنده لري د خپلو معلوماتو په حد کې خپلو بچيانو ته نصيحت او موعظه وکړي.هغوي ته د خير او شر لاره وښيي او وې هڅوي چې خپل وګړنيز او ټولنيز واجبات تر سره کړي دا مسووليت په پراخه سويه نور کسان او ارګانونه هم لري لکه واعظين او وينا وال، واعظين بايد په ننيو شرايطو کې د دغه مسووليت په اهميت پوه شي. او په خپلو غونډو او مجالسو کې د ټولنې د اړتياوو د ليرې کولو هڅه وکړي. او هغوي بايد د کم اهميته او تکراري بحثونو له مطرحولو ډډه وکړي او ځوانانو ته د ښويدو ځايونه او ګړنګونه په ګوته کړي.

---

١. له نيکه مرغه په دې زمينه کې په تيره بيا د پوهنتونونو د محصلانو لپاره ګامونه پورته شوي دي او د محصلانو د بسيج په مرسته هر کال کابو دوه زره کسان زده کړې کوي . د هغوي لپاره کتابونه ليکل شوي دي چې د رهبرۍ ستر مقام يې سپارښتنه کړې ده دا کتابونه د وسله والو ځواکونو په پوهنځيو کې ښودل کيږي او نور محصلان زده کوونکي او استادان هم دغه کتابونه لاس ته راوړلي شي هغوي بايد يو استاد پيدا کړي يا له موجودو کيسټونو استفاده وکړي چې ځانونه مجهز کړي او د دشمن په شبهاتو ونه غوليږي . د امام خميني خيړنيزې اوښوونيزې موسسې او د طرح ولايت دفتر چې په بيسج دانشجويي پورې تړلے دے تر اوسه په دې هلکه شش ټوکه کتابونه تيار کړي دي او دا کتابونه په ځلونو جاجول شوي او بشپړ شوي دي .

## د دشمنانانو د سازشونو په وړاندې د حکومت او ټولنې دنده

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مهمه برخه چې متاسفانه په تيره بيا د امام خميني له غورځنګه مخکې ورځينې خلکو غفلت کړے دے داسلام په خلاف له روانو سازشونو سره مبارزه ده. دا توطئې په مختلفو سياسي اقتصادي فرهنګي او پوځي برخو کې کيږي. البته په يو اسان اقدام او د يو څو ورځو په زده کړې سره ځانونه دغه ډول امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته نه شو تيارولے. بلکه دا کار پيچلو زده کړو او ډير سنجول شويو پروګرامونو او د هغوي له شيطاني سازشونو سره سم پلان ته اړتيا لري ځکه چې دهغوي توطئې په ډيرو زياتو خرچونو او د کلونوپه پلان سره تر سره کيږي. د دې يوه وړه بيلګه د رهبرۍ د ستر مقام په خبرو کې کتلاي شو چې وايي: دشمنانانو زمونږ ځينې مطبوعات خپلې اډې ګرځولي دي چې له هغو د اسلام او د اسلامي نظام په خلاف کار واخلي.[1] د هيواد دننه مطبوعات د ځينو ځان پلورو کسانو په لاس چې ښايي ځينې يې د بيت المال په بجټ سره چليږي د امريکا صهيونستانو او ځينو نورو دشمنانو په اډو بدل شوي دي او دهغوي په مقصدونو روان دي.او له هغوي سره په سازشونو کې مرسته کوي. هغه کار چې د رهبرۍ د ستر مقام په وينا بي بي سي، يا دامريکا غږ راډيو يې بايد وکړي، دوي يې کوي دا د هغو اقداماتو يوازې يوه برخه ده چې

---

[1] ر.ک: د ځوانانو په غونډه کې د رهبرۍ د ستر مقام ويناوې ۱/۲/۱۳۷۹ (تهران مصلی)

دشمن يې د اسلامي جمهوري نظام په خلاف کوي. خو له دغه توطئې سره مقابلې لپاره چې يوازې يوه مطبوعاتي توطئه ده څه کولے شو؟ له دغه مرموز شيطاني حرکت او پراخ او تلل شوې خوځښت سره مقابله ډير فکر او سوچ ته اړتيا لري دا موردونه دي چې بايد مونږ سوچ ته وهڅوي چې په دغه ډول مسايلو کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر جدي وګڼو دلته د فردي ګناه خبره نيشته چې مثلا يو کس ګناه وکړي او بل ورته تذکر ورکړي بلکه کيدے شي د منکر د اسلام حيثيت په خبر کې واچوي او هغه ورځ راورسيږي چې زمونږ هر څه د د شمن په لاس ورشي. مونږ هم بايد دشمن وړوکے ونه ګڼو. البته بايد د خداي په مهربانۍ او د امام زمان عج الله فرجه الشريف په لطف او مرسته هم ډاډه ووسو خو د دې ډاډ معنا دا نه ده چې په ارام کښينو او څه کار ونه کړو بايد په خداي په توکل او د هغه په مرسته په اعتماد سره هڅه وکړو ځکه چې د خداي مرسته ثابته ده.

إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ[1] که تاسو د خداي مرسته وکړئ خداي به ستاسو مرسته وکړي.

خو دخداي مرسته په دې شرط ده چې مونږ هر څه چې په وس کې لرو په اخلاص سره يې د خداي په لاره کې وکاروو. هغه وخت خداي تعالی زمونږ نيمګړتياوې جبرانوي.

---

١. محمد (۴۷) ۷

## د امر بالمعروف او نهي عن المنكر د فريضې د هيريدلو علتونه

سره له دې چې له ۱۳۴۱ کاله تر اوسه (۳۱۷۹) يعنې د امام خميني د غورځنګ له رسمي پيله تر اوسه اته ديرش کاله تيريږي او د امام خميني خبرې خلکو اوريدلي او ليکنې يې له خلکو سره موجودې دي او دهغوي وصيت ليک او منشور هم شته، خو مونږ اوس هم نه پوهيږو چې له کوم ځايه او څرنګه بايد پيل کړو. له دې مخکې هم وويل شول چې زمونږ د ټولنې يوه ستونزه د تساهل او تسامح د کلتور د دودولو لپاره په دا ورستيو کلونو کې د شيطاني تبليغاتو تاثير دے. په هره پلمه مختلف کسان په مختلفو بيانونو سره که څه هم ممکنه ده ځينې يې روغ نيت هم ولري، تر دې حده مو د نوور د افکارو په زغملو کې تسامح او تساهل او داسې نورې خبرې تکرار کړي دي چې اخر يې تر يو حده په ټولو اثر کړے دے. که څه هم ممکنه ده استثنا هم ولري. ټولو بارو کړے دے چې په دې زمانه کې او په دې حالاتو کې ډيره سختي نه شو کولے او په اصطلاح زيږوالے نه شو ښودلے، او بې له تسامح او تساهله هر کار ته زيږوالے او تاو تريخوالے وايي.. نن سبا د ديني غيرت لرل د اسلام د احکامو لپاره په ځان کې تعصب او سخت پلوي توب لرل، په دې باندې عقيده چې حق او اصل يوازې يو څيز دے او دهغه احکام بايد اجرا شي. او داسې نورې خبرې، دې ته سخت دريځي او تحجر ويل کيږي. نن سبا ماډرنه نړۍ داسې خبې نه خوښوي. او په اپوټه د ديني پلورليزم او کثرت ګرايۍ بازار ګرم دے.داخبرې دومره ليکل شوي او ويل شوي دي چې هر څوک يې په يو ډول تر اغيز لاندې راوستے دے. که

غواړو چې د غفلت له دغه خوبه راپاڅو باید د تساهل او تسامح لومه وشلوو. اسلام اسان دین دے.او اساني او یسر لري. خداي تعالی فرمایي:

يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ[1] "خداي تعالی ستاسو لپاره د اسانۍ او راحتي اراده کړې ده" خو تساهل سترګې پټول او سهل انګاري نه لري.د اسلام دین اسان دے. خو کوم څه چې دي په هغه کې سهل انګاري او بې پروایي جایزه نه ګڼي. په اسلام کې تساهل او سترګې پټول نیشته الحنيفية السهلة السمحة[2] د سهل انګارۍ په معنا نه ده. اسلام اسان دین دے خو دا اسان دین باید په سنجیده توګه اجرا کړو. باید اجازه ورنکړو چې حتیٰ د ستنې د سر هومره تاوان ورته ورسیږي. خو په هر حال دا روحیه دود شوې ده او دهغه په دودیدو سره زمونږ ځوانان تر اغیز لاندې راغلي دي. په شعر. ناول، تهیټر، فلم سینما او داسې نورو څیزونو سره، او هڅه یې کړې ده زمونږ په ټولنه کې دا عقیده پخه کړي په دې ډول چې هر یو کس یې تر اغیز لاندې راشي. خو مونږ ته پکار دي چې دا د غنې تار وشلوو. دین داري، غیرت، تقوا پابندي او جدیت او پریکنده والے غواړي. او اسلام هیڅکله د سهل انګارۍ او دسترګو پټولو اجازه نه ورکوي. که غواړو چې د شیطانانو په لومه کې ښکیل نه شو او اسلامي نظام ته خطر پېښ نه شي اول باید دغه لومه وشلوو.

---

۱. بقره (۲)، ۱۸۵

۲. رسول الله مبارک فرمایلي دي : لکن بعثني بالحنيفية السهلة السمحة (خو خداي تعالیٰ زه له اسان دین حنیف سره مبعوث کړے یم.) (محمد باقر مجلسي، بحارالانوار، ۲۲ ټوک، ۲۲۳ مخ، ۵ باب، ۳ روایت)

خو دوهم ګام د یو کلتوري کمزروی له امله دے. او دا کمزوري د هغو کارونو نتیجه ده چې د وخت په تیریدو سره په تیره بیا د شاه رژیم په وخت کې شوي دي او په مونږ کې هم ځینې کسان په هغو کې شریک وو.دا کمزوري د نورو د کارونو په وړاندې یو ډول بې پروایي ده.دا چې هر یو کس باید خپل کار وکړي او له بل چا سره کار ونه لري. هر یو کسا باید د خپل صوابدید مطابق کار وکړي او له نورو سره مشورې او ملګرتیا ته ضرورت نیشته.په یوازې سره دکارونو د کولو روحیه او په کارونو کې نورو ته د ضرورت نه احساس یو خطرناک کلتوري نقص او نیمګړتیا ده چې زمونږ په ټولنه کې موجوده ده. مونږ هیڅکله د ټولنیزو دندو د سرته رسولو لپاره د اغیزمنې او زیاتې پیوستګی او یووالي هڅه نه ده کړې. دا چاره علتونه لري چې د ځینو لپاره یې مونږ عذر لرو. اسلام مونږ یو والې او پیوستون ته بللي یو: المؤمن آلف مالوف[1] (مومن هغه دے چې له نورو سره مینه او ورور ولي ولري او نور هم له هغه سره مانوس شي.)

امیر المومنین علي فرمایي:

من استبد برایه هلك[2] (کوم کس چې یوازې په خپل فکر کې وي تباه کیږي)

خداي تعالی هم مومنان یو والي او یو زړه والي ته بللي دي او ورځینې یې غوښتې چې له تفرقې لاس واخلي.

وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْ[1] (ټول د خداي په رسۍ منګولې ښخې کړئ او ډلې ډلې مه کیږئ)

---

۱. هماغه تیر سند ۲۷ ټوک ۳۰۹ مخ، ۱۴ باب، ۴۱ روایت

۲ . نهج البلاغه، لنډې ویناوې، ۱۲۱

اسلام هم د پيوستون او يووالي حکم کوي له په يو روايت کې چې مومنان د يوې تنې غړي بلل شوي دي

رسول الله مبارک په يو حديث کې فرمايي:

المؤمِنُ اَخُ المؤمن کالجسد الواحد[2] (مومن د مو من ورور او د يو بدن په شان دي)

سعدي دا حديث په يو شعر کې داسې راوړے دے.

بنی آدم اعضاء یکدیگرند      که در آفرینش زیک گوهرند

چو عضوی بدرد آورد روزگار   دگر عضو ها را نماند قرار

په دغه روايت کې مومنان د يوې تنې د غړيو په شان بلل شوي دي خو سعدي يې دايره يو څه پراخه کړې او وايي چې انسانان د يو بل غړي دي له دې امله د رسول الله مبارک په حديث د عمل لپاره مومنان ـ يعنې هغه کسان چې غواړي په خپلې دينې دندې عمل وکړي او نه غواړي چې اسلام کمزورے شي ـ بايد هڅه وکړي له يو بل سره زيات اړيکي ولري او ديو بدن د غړيو په شان دې اوسي

خو هغه مشکل چې د اسلام د زړه سواندو او مومنانو د بې اتفاقۍ سبب شوے دا دے چې کابو له يوې مياشتې مخکې تر اوسه يې داسې ښودلې ده چې مثلا ديوتشکل په چوکاټ کې يو اجتماعي کار بايد د يو گوند او پارټۍ په شکل وي. د مشروطيت له لومړيو تر اوسه گوندونو ښه مخينه نه ده لرلې حتیٰ د اسلامي انقلاب له کاميابۍ وروسته هم چې کوم گوندونه جوړ شول ښه انجام يې نه درلود.د انقلاب په لومړيو کې که څه هم د جمهوري

---

۱ . آل عمران (۳) ، ۱۰۳

۲ . محمد باقر مجلسي. بحارالانوار، ۲۱ ټوک ۱۴۸ مخ، ۴۳ باب ۲۵ روايت

اسلامي ګوند موسسان اروابناد ډاکټر بهشتي ډاکټر باهنر، ښاغلی خامنه اي او ښاغلی هاشمي رفسنجاني وو، خو امام د ګوند په جوړولو چنداني ټينګار نه درلود.

دوي فرمايل: که تاسو غواړئ چې ګوند ولرئ بايد ګوند مو جمهوري اسلامي وي.) دا خبره له دې سره فرق لري چې ووايي ضرور بايد ګوند ولرئ.

په هر حال مونږ ته داسې بيان شوې ده چې سياسي او ټولنيز فعاليتونه يا فردي دي يا ګوندي. له ګوندي کاره هم څه خاص ښه يادونه نه لرو. نو په دې اساس يوازې فردي او شخصي کار کوو، له دې غافله چې يوه دريمه لاره هم شته. په دغو کې هيڅ روده د اسلام د خوښې روده نه ده.اسلامي روده هماغه ده چې امام خميني ورته ورسيده. خو متاسفانه په هغه هکله ضروري څيړنې ونه شوې.

## د ټولنيزو فعاليتونو لپاره د اسلامي جوړښتونو جوړول

د اسلامي تشکلاتو په باره کې چې اسلامي طريقه هم دا ده چې په ګډه کار وشي هغو اقداماتو ته اشاره کولی شو چې د امام خميني د غورځنګ په لومړيو کلونو کې وشول په هغه وخت کې د امام خميني عاشقان او مينان په تيره بيا له تهرانه هغه حضرت ته ورغلل او عرض يې وکړ چې ځان او مال يې د اسلام او امام خميني په اختيار کې دے. او د کار د طريقې په هکله يې له امامه لارښوونه وغوښتله دغو کسانو څو مذهبي او د سينه زنۍ ټولنې لرلې.امام وفرمايل: راشئ دا ټولنې سره نزدې کړئ اويو آيتلاف (ټل واله) جوړه کړئ. هره ټولنه دې مستقله وي او په خپلې محلې کې دي وي هره يوه دې

ځانته غړي ولري. د کار روده، ویندویي او اهل منبر او مداح دې هم پخپله دغه ټولنه غوره کړي. خو هر هیئت دے له بل هیئت سره چې په ګاونډ کې یې دے رابطه ولري او په ګډو چارو کې دې له یو بل سره ملګرتیا وکړي. مشترک اصول دې برابر کړي او د خپلې داخلي خپلواکۍ په ساتلو سره دې په مشترکو چارو کې له یو بل سره ملګرتیا وکړي.[۱] په دې ډول دوی وفرمایل چې مذهبي انجمنونه دې له یو بل سره آیتلاف وکړي او موتلفه آیتلاف یا ټلواله دې جوړه کړي.

په دغه څلورو ټولنو کې د یوې مشر حضرت ایة الله العظمی خامنه اي و. د بل ښاغلے هاشمي رفسنجاني د بل ښاغلے باهنر او زه دهغوی په خدمت کې وم. وروسته دغه هیئتونه د دې لپاره چې له یو بل سره آیتلاف وکړي له امام خمیني وغوښتل چې خپل یو استازے وټاکي او امام هم ډاکټر بهشتی وټاکه. نن هم که غواړو فعالیت وکړو. باید یو تشکل او تنظیم ولرو. او په ګډه کار وکړو. البته نه د ګوند په چوکاټ کې. سره له دې چې مونږ ګوندي کار چورلټ نه نفي کوو خو د ډله ایز فعالیت تر ټولو ښۀ شکل چې له اسلامي ارزښتونو سره سمون ولري هماغه بیلګه ده چې امام وړاندې کړه. د ګوندي تشکیلاتو په فعالیت کې څو مشکله او ستونزې دي چې په دغه ډله ایز شکل کې هغه نیشته. ګوندونه تل د څو کسانو لخوا جوړیږي چې په اصل کې هغوی د کار چلوونکي وي او په ګوند واکمن تفکر هم دهغوی وي. دوی ادعا کوي چې د ګوند له غړیو رایه اخلي او په

---

۱. د (موتلفه هیئتونو) نوم له هماغه وخته پیدا شو . او نن چې دا نوم د کومې ډلې دے دلته زه نه غواړم چې دهغې ملاتړ یا یې مخالفت وکړم .

راي سره انتخابيږي خو په اصل کې داسې نه ده او پروګرامونه همدغه مشران جوړوي او ګوند چلوي. که کومه مشري وي همدوي ته رسيږي رول همدوي لوبوي او له دې امله چې دګوند مشران وي چې په انتخاباتو کې ـ که هغه د پارليمان انتخابات وي او که نور ـ په کاميابۍ سره حکومت په لاس کې اخلي نو ددو ي اصلي محرک دا وي چې په هر طريقه وي د دوي ګوند برياليے شي. په ګوند کې دننه هم له دې امله چې د مشرۍ په ليکه کې راشي ډير فعاليت کوي چې په هره بيه ځان لوړ او مشر کړي. په حزبي او د پارټيو په فعاليتونو کې مادي او دنياوي انګيزې ډيرې اغيزمنې وي. ځينې ګوندونه په ټول ټاکنو کې د کاميابۍ لپاره د ښاروالۍ له ماله د ښاروالۍ له کارکوونکو، ګاډو د بانکونو له پيسو د پوهنتونونو د ښوونې او روزنې د وزارت مدرسو او داسې نورو دولتي ادارو له امکاناتو استفاده کوي او کړې يې هم ده. سره له دې چې په اساسي قانون کې راغلي دي چې په انتخاباتو کې له دولتي امکاناتو کار اخستل منعې دي. خو په هغه روده کې چې امام وړاندې کړې ده. دغه ډول ستونزې نه پيدا کيږي. په مذهبي ټولنو او هيئتونو کې د کسانو انګيزه دين دے. او که يو کس په دغو ټولنو کې انتخاب شي چې زيات رول ولوبوي د دې لپاره ده چې واقعا د ټولنې کسانو دا معلومه کړې ده چې دغه کس ښه خدمت کولے شي په دغو جوړښتونو کې بله انګيزه نيشته په ګوند(پارټۍ) کې له بهرنيو امکاناتو ناوړه تبليغاتواوداسې نورو مسلو د غلطې استفادې امکان وي خو په مذهبي ټولنې کې داسې نه ده. يا يې احتمال ډير کم دے. د ډله ايز کار دغه دوه شکلونه له يو بل سره د پرتلې وړ نه دي.

هغه کسان چې په ديني انجمنونو کې برخه اخلي مذهبي انګيزه لري. او هڅه کوي چې مذهبي شعاير او ارزښتونه ښه وپيژني.د ګوندونو لوي افت هغه سيالۍ دي چې په هغوي کې موجودې وي که د بل ګوند کانديدا د دغه ګوند تر کانديدا زيات صلاحيت ولري. د ګوند غړي د ګوند د فيصلې او وفادارۍ په وجه د خپل ګوند کانديدا ته چې غير اصلح هم دے رايه ورکوي. حال دا چې په مذهبي ټولنو کې دا ډول محرکونه کمزوري دي.

نو ضروري ده چې مونږ قوي مذهبي تشکيلات ولرو خو نه په لويديځ ماډل سره.ځکه چې په اسلام کې د ګوند بيلګه نيشته. که څه هم دا روده ممکنه ده ښيګړې هم ولري خو منفي اړخونه يې تر مثبتو ډير دي او د مذهبي هيئتونو هماغه زوړ او اسلام شکل تر هغه غوره دے.

نو د اسلام د دښمنانو له نقشو سره مقابلې لپاره دوه حرکتونه ضروري وو چې يو له تسامح اوسهل انګارۍ سره مبارزه او د ديني غيرت او مذهبي روح او حساسيت زياتول او او بل هم د فردي او ځانله سره له کار سره مقابله او په ګډه کار. مونږ بايد دا کلتور په ځان کې مزبوت کړو. چې له هغوي شيطانانو سره چې د اسلام دين نظام او حيثيت يې په نښه کړے دے په فردي او بيله بيله کار سره مقابله نه شو کولے بلکه ضروري ده چې په ګډه کار وشي.ګډ کار هم تشکيلاتو، اړيکو او پيوستون ته اړتيا لري. خو که له ګوند پرته بله هيڅ لاره نه وه ګوند جوړول هم جايز دي. امام خميني هم دا روده چورلټه نه ده نفي کړې خو ددوي اصلي نظر اوسپارښتنه هماغه د مذهبي ټولنې او هيئتونو يوځاي کيدل او ټلواله وه. له دې امله

مومن او زړه سواندي ځوانان باید هڅه وکړي چې په خپلې محلې کې یو جومات چې ډېر امکانات او جامعیت لري وټاکي او د خپل چم ټول ځوانان او پیغلې هغه ته وبلي. ځوانان پخپله طبعا په یو بل د اثر اواغیر په لارو چارو پوهیږي. مثلا د ښوونځي او پوهنتون په ټولګي کې تکړه شاګرد کولے شي ټول کلاس له ځان سره غړمله کړي.ځوانان او زلمکیان ښۀ پوهیږي چې په دې زمینه کې څه باید وکړي. ضروري دا ده چې ماشومان او هلکان جینکۍ وهڅول شي چې دخپلې محلې ټول هلکان جینکۍ راغونډ کړي خو که څوک د انقلاب په لیکه کې نه وي اول باید له هیئته بهر له هغه سره خبرې وشي او اړیکي ورسره ټینګ شي. او دهغه د هدایتولو هڅه وشي. تر هغه چې رسما د د دغو تشکیلاتو غړے شي. د اطمینان وړ وګرځي.

د دغو هیئتونو له جوړولو وروسته هم باید هڅه وشي په موجودو کسانو کې داسې کسان چې ډېره وړتیا لري کارونه په غاړه واخلي. او زیات فعالیت وکړي. شورا دې جوړه کړي مشورې دې وکړي فکرونه په صادق زړه سره یو ځاي کړي پخپله دې فکر وکړي او پخپله دې فیصلې وکاندي داسې نظام به ولسي وي لویدیځه دموکراسي هسې دروغ دي او د لویدځه اکثره خلک پکې هیڅ رول نه لري.ولسواکي دا ده چې ټول خلک په یو ځاي کې له تبلیغاتو او پروپاګنډو اوله ګواښۀ او تمې لیرې پخپله فیصله وکړي او بې له دې چې کومه ویره او زور پرې وي هغه څۀ چې کوي یوازې د ذمه وارۍ په احساس سره یې کوي په اسلامي ولسواکه حکومت کې هر یو کس د خپلې دینې دندې په اساس یو داسې کس غوره کوي چې

اسلام ته ښه خدمت وکړے شي. که څه هم ممکنه ده په دې روده کې هم ناوړه استفادې وشي.خو دا موردونه به ډیر کم وي. حال دا چې لویدیځه ډیموکراسي د شخصي غرضونو لپاره په دوکه ورکولو ناوړه استفادې او غلطو پروپاګنډو ولاړه ده.مسلمانان باید هڅه وکړي چې خپلې غونډې پیاوړې کړي او پخپلو کې دمینې روح مزبوت کاندي اود اسلام اوامر هیر نه کړي د امام صادق (ع) یو حدیث دې چې فرمايي:

فَاِنّ المؤمِنَ اذا لقی اخاه المؤمن فقال له مرحبا كتب الله له مرحبا الی یوم القیٰمة فاذا صافحه انزل الله فیما بین ابهامیهما مئة رحمة تسعة و تسعین لأشدهما حبا لصاحبه[1]

کله چې مومن له خپل مومن ورور سره ملاقات وکړي (او له هغه سره روغ بړ وکړي) او هغه ته مرحبا ووايي خداي تعالی دهغه لپاره تر قیامته مرحبا لیکي، او کله چې هغه ته لاس ورکوي او مصافحه کوي خداي تعالی په هغه سل رحمتونه نازلوي. چې نه نوي رحمتونه یې دهغه کس لپاره دي چې له بل سره ډیره مینه کوي. په دې ډول اسلام هڅه کوي مومنان او هغه کسان چې یو هدف لري او په خداي دایمان په اساس او د لوړو هدافو د تحقق په لاره کې له یو بل سره دوستانه اړیکې لري د یو بل له عیبونو دې سترګې پټیې کړي اوله یو بل سره دې په مینې سره سلوک کوي. له معصومو امامانو نقل شوې ده چې که یو مومن یوازې د بل مومن د ملاقات لپاره دهغه ور ته ورشي خداي تعالی یوه پرښته استوي چې له دغه مومنه پوښتنه وکړي چې دڅه لپاره د دغه کس دروازې ته راغلے یې. هغه پرښته د

---

١ . شیخ صدوق . ثواب الاعمال وعقاب الاعمال . ١٧٨ مخ

خداي له لوري راځي او له هغه دا پوښتنه کوي. دغه کس ورته وايي:راغلے يم چې خپل مومن ورور وګورم. پوښتنه ترې کوي ايا له هغه مالي سوال لرې؟ وايي، نه، پرښته بيا پوښتنه کوي څه بل څه حاجت ترې لرې؟ وايي: نه، پرښته وايي نو دڅه لپاره د هغه کتل غواړې؟ مومن وايي يوازې د دې لپاره چې ياد شوے مې و او غواړم چې وې وينم. خداي تعالى پرښتې ته وايي چې دغه مومن ته ووايه:

اَيَّایَ زُرْتَ وَ عَلیّ قراك۱ (ته زما ملاقات ته راغلے يې نو ستا ميلمستيا او اجر او ثواب زما په غاړه دے)

داډول حديثونه په دې باره کې يوازې د يوه بيلګه ده. مسلمانانو ته پکار ده چې له يو بل سره د مينې محبت رابطه ولري زړه بدی ليرې کړي او دخداي رسۍ کلکه ونيسي او په خپلو کې متحد ووسي.

د اسلام دشمنانان د وحدت له کلمې هم غلطه استفاده کوي او هر وحدت په هر ډول چې حاصل شي ښه ګڼي حتیٰ که په يو ځاي کې قدرت د نااهلانو او بې کفآيته کسانو په لاس کې وي بايد ټول يې تابع شي. چې وحدت حاصل شي. حال دا چې که داسې يو والے ښه او مطلوب وي نو له دې امله چې د نړۍ اکثره خلک کافر او مشرک دي مسلمانان هم بايد کافران شي! همدا راز اوس چې په اسلامي نړۍ کې ډيرے مسلمانان شيعه نه دي شيعه هم بايد له خپلې عقيدې لاس واخلي! حال داچې داسې وحدت او يووالے په هيڅ صورت

۱. ر.ک: کليني، الکافي، ۲ ټوک ۱۷۲ مخ

مطلوب او ښۀ نه دے.یوازې دحق په چورليز يو کيدل ښه دي. خداي تعالی په قران کې فرمايي:

أَنْ أَقِيمُوا۟ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا۟ فِيهِ[1] (دخداي دين قايم کړئ او هيڅکله په دين کې اختلاف او ډل بندي مه کوئ)

نو په دې اساس معيار بايد دين وي او د دين په چورليز راټوليدل پکار دي. نه دا چې له بې دينانو سره يو ځاي شو. له دښمنانو سره يو ځاي کيدل بې له تباهۍ بله نتيجه نه لري. ممکنه ده د وحدت لپاره دوه معيارونه مطرح شي چې د دواړو جاروت يو څيز ته وي. په يوه برخه کې د (اسلام احکام) او په بله برخه کې (ولي فقيه) د وحدت ملاک وي. د هغه کسانو لپاره چې واقعا غواړي دين په ټولنه کې د هغه چا په لاس چې د زمانې د امام (عج) له خوا ماذون وي، اجرا شي.دا دوه معياره مهم دي.د ولي فقيه په لاس د اسلام دقوانينو حاکميت د وحدت معيار ګرځيدلے شي. د سليقو او ذوقونو اختلافونه ډير دي او هيڅکله هم نه ختميږي. د هر چا د کړو طريقه مختلفه وي او د موخو د پلي کولو رودې هيڅکله يو شان نه شي کيدے.خو دا دوه مورده دټولنې د يووالې پارسنګ ګرځيدلے شي. ټول وغواړي چې اسلامي احکام اجرا شي. هغه هم د داسې کس په لاس چې اول خو په تير بيا په ټولنيزو مسايلوکې تر نورو زيات اسلام پيژاندے وي او دوهمه دا چې دخداي او د دين د وليانو له لوري ماذون وي. چې غاصب نه وي. نو که ولايت فقيه مو ټينګ کړ دين هم پکې شته. ځکه چې ولي فقيه د اسلام مخالف حکم نه کوي.

---

۲. شوری (۴۲)، ۱۳

نو ويلے شو چې د ولايت فقيه په چورليز يو والے حاصليدلے شي. خو په نورو معيارونو لکه ولسواکي، لويديځو ارزښتونو او د اسلام له حدودو او قوانينو په ازادۍ يو والے هيڅکله صحيح نه دے. [1]

او د اسلام او هيواد لپاره هيڅ گټه نه لري. بلکه د دين په اساس وحدت چې اوس يې سمبل او بيلگه ولي فقيه دے هغه وحدت دے چې اسلام يې خبره کوي.

له دې امله بايد د همفکرانو او ملگرو په انتخاب کې دا اصل په نظر کې نيول پکار دي چې ايا دوي داسلامي احکامو د اجرا غوښتونکي دي او که نه.؟ ځيني نور کسان هم شته چې د احکامو د پريښودلو او د اسلام د سپيڅلي دين د شريعت له قوانينو د خلاصيدو لپاره اسلام په بل ډول قرائتوي او وايي: دا ستاسو نظر او پوهه ده تاسو خپله پوهه په نورو مه لاگو کوئ. او له اسلامه نور اخستونونه هم شته. دا ډول خبرې د دين له انکارولو پرته بل څه نه دي ځکه چې کله د اسلام جزايي احکام پريښودل شول.او نور شرعي

---

١  د دغه ازادۍ ځيني نمونې په برلين کانفرنس کې وړاندې شوې او معلومه شوه چې دوي کوم ډول ازادي غواړي . هغه ورځ چې مونږ د تهران په پوهنتون کې وويل دوي کومې ازادۍ غواړي، ټولې ورځپاڼې زما  په خلاف لام بندي شوې، او د هيواد لويو شخصيتونو په ما اعتراض وکړ . اوس وگورئ چې د هغه پوهنتوني ډلې او نورو ډلو استازي په کوم وحدت پسې وو او کومې ازادۍ يې غوښتې او په کومې ذلت او خوارۍ سره يې دغه کانفرنس جوړ کړ . دوي دخپل ځان هيواد او ولس عزت له خاورو سره خاورې کړ . البته د اسلام او دمسلمانانو عزت تر دې لوړ دے چې دغه پليت کسان يې  خاورې کړے شي . وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ (سوره منافقون  (٦٣) ٨،   خو دوي د خپلې نجسې خولې په اندازه د اسلامي ټولنې سپکاوے کاو ه

احکام یې هم داسې اعتبارونه وګڼل شول چې حقیقي او عقلي بنیاد نه لري، په داسې بڼه کې نو له دینه هیڅ نه پاتې کیږي. هغه کسان چې واقعا د دین د احکامو اجرا غواړي او په قران او سنتو پابند دي.او د امام خمیني غورځنګ چې خپل ټول عمر یې د سوچه اسلام لپاره ولګاوه په حقه وګڼې، باید داسلام د احکامو د پلي کیدو غوښتونکي وي. البته نه هغه اسلام چې د هارورډ، لندن او اکسفورډ تعلیم یافته کسان یې وړاندې کوي، چې پر مونږ د لویدیځوالو برداشت وتپي، بلکه له ا سلامه د خداي پیغمبر، معصومو امامانو او په تیرو څوارلسو سوو کلونو کې له اسلامه د ټولو عالمانو قرائت او برداشت، مونږ باید دغه اسلام وغواړو، ځکه چې له دې پرته بل اسلام نیشته او هر څه چې دي کفر او الحاد دي. چې دوي ورته له اسلامه د بل اخستون نوم ورکړے دے. مونږ هیڅکله دوه اسلامه نه لرو او په راتلونکي کې به هم نه وي.

په دې ځاي کې سپارښتنه کوم چې مومن ځوانان دې مذهبي غونډې ژوندۍ کړي اود هغه چورلیز دې جومات وګرځوي او کوشش دې وکړي چې په خپلې محلې کې هغه ټول کسان چې په اسلام ایمان لري او د اسلامي احکامو پلي کیدل غواړي او ولي فقیه مني وغواړي، له ټولو سره مهربان او مینه ناک وي. د هغوي په غلطیو سترګې پټې کړي. او وړې وړې غلطۍ یو بل ته مه وریادوي. تر خپله وسه له هغوي سره مرسته وکړي. که دنیاوي مال نه لري او بیوزله وي کمک یې وکړي او لږ تر لږه په خوږه ژبه له هغوي سره ملګرتیا وکاندي.پکار ده چې هماغه روحیه چې د انقلاب په ورځو کې او له هغه وروسته د جنګ په ورځو کې په خلکو واکمنه وه.او

خلکو د اسلام په لاره کې خپله ډوډۍ هم روکوله درباره ژوندۍ شي.
چې اتحاد زيات شي او مسلمانان ديوې تنې په شان شي.
وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ[1] (له خپلې اړتيا سره سره نورو ته پر ځان ترجيح ورکوي)

د دغه ډول هيئتونو او انجمنونو له جوړولو وروسته ضروري ده د مخاطبان د فکري غذا لپاره يو چاره ولټول شي. البته په دغه فکري تغذيې کې اصلي چورليز قران او د امامانو کلام دے. او دهغو د لا زيات وضاحت او تفسير لپاره بايد له هغو کسانو چې د فکر سموالے يې د اسلامي شخصيتونو لخوا تاييد شوے دے. استفاده وشي. منجمله د شهيد مطهري کتابونه چې حضرت امام خميني هم دهغوي کتابونه تاييد کړي دي. د دغه ډول کتابونو په شتون کې نه ده پکار چې مونږ د نويو خبرو په پلمه له داسې ليکنو پسې لاړ شو چې مشکوکې دي يا يې دروغوالے او خطاوالے ښرګند دے. ځکه چې داسې نه ده چې هر څه چې زاړه وي بد وي او هر څه چې نوي وي ښه وي. ځکه چې قران هم څوارلس سوه کاله مخکې نازل شوے دے، بلکه د دې په اړوند امام علي په نهج البلاغه کې فرمايي: چې په دين کې هره نوې خبره داخلول بدعت او ګمراهيده.[2]
البته صحيح وضاحتونه اوتفسيرونه چې د صحيح تحقيق په اساس وي او د قران او سنت نه نوې خبرې راوباسي. دا بيا په دين کې بدعت او تفسير بالراي نه دے. په تاريخ کې د ټولو عالمانو دنده هم

---

۱ حشر (۵۹) ۹

۲. و ما احدثت بدعة الا ترک سنة فاتقوا البدع والزموا المهيع. ان عوازم الامور افضلها و ان محدثاتها شرارها (نهج البلاغه، ۱۴۵ خطبه

دا وه چې قران او د پيغمبر (ص) سنت د صحيح، معقول او معتبر روش په اساس توضيح کړي او وې سپړي هغوي هيڅکله په خپله خوښه او د اسلام د دښمنانو د خوشالولو لپاره کار نه کاوۀ.

نو زمونږ هڅه بايد دا وي چې قران سنت او د اسلام روح ښه وپيژنو او وکولے شو هغه شبهې او اعتراضونه چې په اسلام کې پيدا کيږي ځواب يې ووايو. او د دې په څنګ کې د نړۍ له ورځنيو مسايلو کې هغه دايران وي او که د بل کوم هيواد زيات اشنا شو او سياسي تحليل او شننه ولرلے شو.

مشکل دا دے چې زيات خلک ګمان کوي چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر يو فردي کار دے او که غواړو دين ته خدمت وکړو زيات نه زيات دا ضروري ده چې په مظاهرو کې برخه واخلو او نعرې ووهو. حال دا چې دا يو غلط خيال دے. او شعار ورکول د کار پيل دے. کله چې دعاشورا لسيزه ختمه شي د سينه وهلو او وير مراسم ورو ورو کميږي او مونږ هغه حرارت او جوش چې د امام حسين په نامې اوياد سره مو لاس ته را وړې له لاسه ورکوو حال دا چې داپروګرامونه بايد پيل وي د دې لپاره چې زمونږ اصلي کار شورو شي. او هغه جاري وساتو. هغه نورانيت چې د عزادارۍ په برکت مو لا س ته راوړے هغ وساتو او هغه يووالے او يو زړه والے چې حاصل شوے پياوړے کړو. نه دا چې تر بل کاله پورې هر څه پريږدو[1]

---

١. مومنو ځوانانو ته سپارښتنه کوو چې د خپل چم هلکان په يو پاک او بې وټه انجمن يا هيئت کې راغونډ او منظم کړي چې دين ښه وپيژني او د ضرورت په وخت کې له دغه ټولنې استفاده وکړے شي. کله چې دغه هيئت ټينګ شو هڅه دې وکړي چې له ګاونډي هيئت سره اړيکي ټينګي کړي د دې لپاره چې د انجمنونو کار ښه وچليږي له هر انجمنه شل کسان دې يوه شورا جوړه کړي او که ضروري وي د هيئت ټولو غړيو ته دې خبر ورکړي. دا

دا غونډې بايد جاري وي، خو ضروري ده چې په هغو کې دبحث چورليز د اسلامي معارفو يادول، د شبهو ځواب ورکول او د باوري کسانو له شننو په استفادې سره د هيواد له سياسي حالاتو سره بلدتيا وي. که څه هم د امام حسين لپاره عزاداري او ماتم د دغو غونډو روح دے خو بايد ياد ولرو چې له شپې تر سهاره سينه وهل هم صحيح نه دي. او دا کار زمونږ مشکل نه هواروي. ځکه چې د سيدا لشهداء نامه مونږ راغونډوي چې اسلام لاښه وپيژنواو د اسلام له دشمنانو سره ښه مقابله وکړے شو.

کار د همدغه شورا دغړيو په وسيله په لنډ وخت کې وشي . لکه څرنګه چې د انقلاب په لومړيو وختونو کې په همدې طريقه د امام خميني پيغام په يوه شپه کې په خلکو کې ويشل کيده . او په خلکو کې ديووالي اوپيوستون ډير لوړ روح پيدا شوے و . که څۀ هم دغه روحيه مو زر له لاسه ورکړه يا مو که پوره له لاسه نه وي ورکړي ډيره کمزورې شوې ده . د دغه روحيې او خوي پياوړې کول د اسلام له دښمنانو سره د مقابلې او د هغوي کسانو ترمنځ چې په اسلامي احکامو او ولايت فقيه عقيده لري د انساني او اسلامي پيوستون د ټينګولو لپاره ډيره ښه لاره ده . که دغه ډول رابطۀ او اړيکي ټينګ شول په يقين سره نه يوازې امريکا بلکه ټوله دنيا هم که يوځاي شي دغه اسلامي هيواد ته تاوان نه شي رسولے

# نهم څپرکے

امر بالمعروف او نهي عن المنکر په قران کې

په قران کريم کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په هکله ډير آيتونه په بيلابيلو تعبيروونو او لحنونو سره راغلي دي چې په هغو کې دوو آيتونو ته اشاره کوو خداي تعالی په توبې سورې کې فرمايي:

ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلْمُنَـٰفِقَـٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ۚ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ۗ إِنَّ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ[1] (منافق سړي او منافقې ښځې په خپلو کې يو دي او خلک بدو کارونو ته بلي او له ښو کارونو يې منعې کوي او لاسونه مروړي. خداي يې هير کړے دے. نو خداي هم هغوي هير کړي دي ځکه چې منافقان فاسق او سپک خلک دي)

وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ[2] (مومن سړي او مومنې ښځې هم له يو بل سره پيوستون لري خلک نيکو کارونو ته بلي او له بدو يې منعې کوي او لمونځ کوي او زکات ورکوي او د خداي او دهغه د رسول پيروي کوي دا هغه کسان چې خداي تعالی پرې خپل رحمت کړے دے او خداي تعالی عزتمن او حکيم د ے)

---

١ توبه (٩) ، ٦٧

٢. توبه (٩) ٧١

غواړو د دغو دوو آيتونو وضاحت وکړو.

## د امر بالمعروف او نهي عن المنکر اصطلاحي معنا

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مهنا او مفهوم ډېر ډېر روښانه او واضح دے. امر بالمعروف يعنې ښو کارونو ته بلل او نهي عن المنکر يعنې له بدو کارونو منعې کول. خو د کلماتو د بدلون په بهير کې د هغو معنا کله پراخيږي او کله هم رالنډيږي. په ځينې مواردو کې د يو لغت کارول د دې سبب کيږي چې د هغه مفهوم د خپل اصل له مقتضا زيات پراخ شي او دايره يې لويه شي.دلته هم همداسې ده. فقيهان او عالمان چې کله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په هکله خبرې کوي وايي چې د امر په کلمه کې د (علو) يا (استعلا) چاره پټه ده، يعنې هغه کس چې امر کوي يا بايد تر ماموره لوړ وي يا هم ځان په داسې لوړ دريځ کې وګرځوي او له لوړ دريځه خبره وکړي. د دې مطلب دا شو چې چاته خواهش او ورځينې غوښتنه کول امر نه دے دا چې يو کس ووايي (مهرباني وکړه دا کار وکړه) دا امر نه دے د امر کلمه اقتضا کوي چې بايد استعلا (اوچت دريځ) پکې موجود و ي. حتیٰ ځينو فقيهانو احتياط کړے او ويلي يې دي چې امر بالمعروف اونهي عن المنکر هغه وخت تحقق مومي چې امر کوونکي پکې د دغه (استعلا) خيال وساتي.

## دامر بالمعروف او نهي عن المنکر مراتب

کله چې په آيتونو او روايتونو کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د واجبيدو په حکمت غور کوو نو د دغه کلمې په مفهوم کې

يو ډول پراخوالے په نظر راځي.د بيلگې لپاره په روايتونو کې د امر بالمعروف او نهي عن المنكر ځينې مراتب بيانوو چې په امر بالمعروف او نهې عن المنكر کې په پراختيا او دهغه دمفهوم په وسعت پوه شو.

دغه مراتب په دې ډول دي

١ . د زړه احساس: کله چې په روايتونو کې د امر بالمعروف او نهي عن المنكر پړاوونه جاجوو وينو چې د نهي عن المنكر لوړه مرحله په زړه سره انکار دے. يعنې کله چې انسان په يوې ټولنې يا کس کې بې لاري ويني په خپل زړه کې هغه وغندي او زړه يې په دغه چاره خپه شي. دا د نهي عن المنكر لومړې پړاو دے

٢. د خپگان ځرګندول: د هغه څه په بنياد چې په روايتونو کې راغلي دي په دوهمه مرحله کې انسان ته پکار ده چې په مخ کې په دغه کار خپل خپگان او ناخوښي ځرګنده کړي. کله چې انسان په ټولنه کې له يو سپک کار او گناه سره مخامخ کيږي بايد په زړه کې په هغه د خپگان په ترڅ کې په خپل مخ باندې هم له هغه دناخوښۍ اظهار وکړي او تندے تريو کړي. په روايتونو کې راغلي دي چې که يو کس گناه وليدله او تندے يې تريو نه کړ دقيامت په ورځ به يې په اورکې تندے گونځے وي.

٣ . په ژبه اظهار: دريم پړاو په ژبه د خبرې راوستل او تذکر يا ياداوري ده. دا هم بيا ځانته پړاوونه لري. په لومړي پړاو کې که زمينه برابره وه او د خبرې د اثر کولو لپاره حالات برابر وو بايد په نرمه ژبه امر بالمعروف وکړے شي.او که په نرمه ژبه ياداورۍ فايده نه لرله په دوهم پړاو کې بايد په سخته ژبه د منکر مخه ونيول شي.

۴. بدني مقابله : كه خطاركار كس ته په ژبې سره ياداورى ګټه ونه كړه بله مرحله بدني مقابله او سلوک دے. دا دامر بالمعروف او نهي عن المنكر بله محرله ده چې كه په خوږه او سخته ژبه امر بالمعروف او نهي عن المنكر اثر نه كاوه. او شرائط برابر وو او د بدني برخورد ضرورت پيښ شو بايد دغه كار وكړے شي.

البته په اسلامي ټولنه كې چې اسلامي حكومت موجود دے فيزيكي او بدني سلوک بايد رسمي او دولتي اجازت ولري.

**۵**. جهاد: هغه پړاوونه چې تر اوسه ذكر شول د امر بالمعروف او نهي عن المنكر دود او متعارف پړاوونه دي خو په روايتونو كې د دې كار لپاره نورې مرحلې هم ذكر شوي دي چې جهاد هم پكې شامليږي. په كلي ډول د جهاد ټول قسمونه په امر بالمعروف او نهي عن المنكر كې راځي. حتیٰ ابتدايي جهاد هم چې د خلكو لپاره دچارو د روښانولو په غرض كيږي اومقصد يې د خلكو دهدايت د خنډونو ليرې كول دي په حقيقت كې د امر بالمعروف يو ډول دے.ځكه چې په ابتدايي جهاد كې ټولنه هغه څه ته چې حق دي تياريږي او سمې لارې ته هدايتيږي همداراز د دفاع په عنوان جهاد هم يو ډول نهي عن المنكر دے. ځكه چې دفاعي جهاد د دې لپاره دے چې په ټولنه كې حق باقي پاتې شي او ټولنه كافره يا ګمراه نه شي.

د جهاد يو بل قسم له باغيانو او بلواګرو سره جهاد دے[1] دا هم د نهي عن المنكر يو مصداق كيدلاي شي.ځكه چې له هغه فساد سره

---

۱. بغات هغه كسان دي چې په اسلامي هيواد كې دننه بلوا او وژلې (ترهه ګري) كوي او بايد له هغوي سره جنګ وشي

چې د بلواګرو د ګډوډۍ په وجه ورسره ټولنه مخامخيدے شي جهاد کوي او دهغه مخه نيسي.

همداراز جهاد نور خاص مصداقونه هم لري چې ښايي ډير کم پيښ شي.مثلا کې په خاصو حالاتو کې دنړۍ په يوه سيمه کې د اسلام بنياد ته خطر پيښ شي اسلامي دولت او مسلمانان بايد دهغه مخه ونيسي.

دلته دا پوښتنه پيدا کيږي چې په کومو مواردو کې خلکو ته د بدني مقابلې او چلند اجازه شته؟ د دې پو ښتنې ځواب داسې ويلے شو چې که په يو وخت يا يو ځاي کې اسلامي دولت نه وي يا داسلامي دولت کمزورے او بيکاره وي او له منکراتو سره د مقابلې وس نه لري او خلک احساس وکړي چې په دغه ټاټوبي کې د اسلام اساس په خطر کې دے ضروري ده چې د نهي عن المنکر لپاره پاڅون وکړي چې د اسلام حقيقت او احکام خوندي وساتل شي. او په ټولنه کې اسلامي ارزښتونه ژوندي شي.

۲ . شهادت غوارے حرکت : کله ممکنه ده چې په يوه ټولنه کې مزبوت اسلامي حکومت چې د فساد ـ په عقيده کې فساد يا په عمل کې فساد ـ مخه ونيسي، نه وي، يا بلکل حکومت کافر وي او داسې کسان داسلام په نامه حکومت وکړي چې په حقيقت کې د نفاق خاوندان وي. يعنې په هغوي کې منافق او اهل نفاق عناصر موجود وي او د دې امکان نه وي چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړي. يا هغه کسان چې د فساد د مخنيوي او د چارو د سمولو لپاره امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي دومره وس ونه لري چې په زورورو واکمنانو کامياب شي. او حق عملي کړي دلته

ممکنه ده چې دغه کسان د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په فریضې کې داسې حرکت وکړي چې پکې په مظلومۍ سره شهیدان شي او دهغوي شهادت د اسلام د بقا سبب وګرځي.د دې چارې ښکاره بیلګه د امام حسین قیام و. هغه حضرت فرمایل: له دې پاڅونه زما مقصد د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ژوندي کول دي. دا حرکت چې امام پکې شهید شو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر کالم مصداق و.دا امر بالمعروف یوازې په ژبنۍ یاداورۍ د تندې په تریوولو یا عام بدني برخورد پورې محدود نه شو بلکه یو داسې حرکت و چې په خپل عظمت برم او خاصې ژورتیا سره یې تاریخ بدل کړ او تر کومه چې انساني ټولنه باقي وي د هغه اثار به پاتې وي البته داسې پیښې په تیره بیا په دومره عظمت سره ډیرې کمې کیږي.

## د نورو په وړاندې د مسوولیت احساس

ایا انسانان باید په ټولنه کې احساس وکړي چې د نورو په وړاندې ذمه واري لري او د یو بل په عمل ورته ځارنه پکار ده او که نه؟ دا هغه حقیقت دے چې کم او زیات په متمدنو ټولنو کې د درجو اختلاف ته په پام سره چې په مدنیت کې یې لري، تل موجود و. ښایي یوه ټولنه هم داسې پیدا نه شي چې یو څه تمدن ولري او په خلکو کې یې دغه د ذمه دارۍ احساس نه وي.

انسان باید د نورو د کړو او سلوک په وړاندې د مسوولیت احساس وکړي خو د دغه مسوولیت د احساس پړاوونه په بیلا بیلو ټولنو کې په هغوي واکمن ارزښتي نظام او سستم ته په پام سره

مختلف دي. په مختلفو ټولنو کې دښو او بدو کارونو مصداقونه د هغوي ارزښتونو او اقدارو ته په پام سره بيلا بيل دي. او د نور د کړو په وړاندې د خلکو د حساسيت اندازه د انسان او انساني ټولنې په هکله د هغوي په تفکر پورې اړه لري. دا مطلب مفصل بحث ته ضرورت لري خو دلته ورته مونږ لنډه شان اشاره کوو.

د فرد په چورليز ولاړ ارزښتي نظام او د ټولنې په چورليز ولاړ ارزښتي نظام:

په يو کلي ويش کې د انسانانو په هکله په ټولنو کې موجود تفکر په دو ډلو ويشلے شو. فرد ګرا او فرد ګروهې ټولنې، او جامعه ګرا يا ټولن ګروهې ټولنې په دوې کې هره يوه بيا هم ځانته مراتب لري په ژوند کې ځينې انسانان يوازې په خپل فکر کې وي.که هوساينه غواړي يوازې دځان لپاره يې غواړي او که پرمختګ غواړي هغه هم يوازې دځان لپاره. دغو کسانو ته فرق نه کوي چې دا راحتي او ترقي مادي وي او که معنوي. د دغه ډول کسان د فعاليت او کار چورليز له ځانه د تاوان غړول او د ځان لپاره ګټه لاسته راوړل دي.

په بل لوري کې بيا داسې کسان هم شته چې ځانونه له نورو سره په اجتماعي ژوند کې شريک او تړلي ګڼي. او يوازې په خپل فکر کې نه وي دغه کسان کې څه خير او برکت غواړي د ټولو لپاره يې غواړي او که په ترقۍ پسې وي د ټولو ترقي غواړي حتیٰ که معنوي پرمختګ او د اخرت نيکمرغي غواړي هغه هم د ټولو لپاره غواړي.

## انسان ته د اسلام نظر

د خداے د نبیانو دینونه په تیره بیا د اسلام سپیڅلے دین ټولن ګروهه نظر لري. اسلام هڅه کوي انسان داسې وروزي چې د ژوند په ټولو پړاوونو کې په درستو انسانانو په تیره بیا داسلامي ټولنې په غړیو نظر ولري. مثلا په لمانځه کې چې یو فردي عبادت دے[1] او د حمد سورې په قرائت کې لمونځ ګذار د عبودیت د اظهار په وخت خداي ته داسې نه وايي چې: (زه ستا عبادت کوم) بلکه وايي (ایاک نعبد) یعنې مونږ ستا عبادت کوو. که یو انسان د شپې په زړه کې عبادت ته دریږي او لمونځ کوي باید ووايي (مونږ ستا عبادت کوو) او که یو انسان په دشته کې چې هیڅوک نه وي لمانځه ته ودریږي نو هم وايي چې (ایاک نعبد) هیڅکله په لمانځه کې نه شو ویلے چې (ایاک اعبد) یعنې زه ستا عبادت کوم. بلکه باید ووایو (ایاک نعبد و ایاک نستعین) یعنې مونږ یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا مرسته غواړو. نو مومنان باید د یو بل په فکر کې وي. همداراز چې کله لمونځ ختم شي لمونځ ګزار وايي:السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین. السلام علیکم ورحمة الله و برکاته. البته د پیغمبر په ذات سلام او درود ویل او دا ویل چې (السلام علیک ایها النبي) دا د دې لپاره دي چې د پیغمبر شخصیت لوي مقام او امتیاز لري. خو لمونځ یوازې په السلام علیک ایها النبي، نه ختمیږي بلکه په السلام علینا و علی عبادالله الصالحین السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، پاي ته رسیږي. انسان په لمانځه کې تل نور مومنان د ځان په څنګ کې ویني او همداراز کله چې

---

[1] . البته د دینونو ټول پیروکار په یو ډول دخداي په درګاه کې د عبودیت ځرګندونه کوي او مونږ مسلمانان دخداي په وړاندې دخپل عبودیت اظهار د لمانځه په شکل کې کوو .

غواړي له لمانځه ووځي بيا هم بايد په ټولو مومنانو سلام وکړي. دا اسلامي تربيت دے. په ټولو اسلامي اوامرو او دستورو کې که هغه فردي عبادتونه وي او که ټولنيز. که اقتصادي مسايل وي او که اجتماعي او روزنيز حتیٰ په جهاد دفاع او په ټولو ځايونو کې مسلمانان بايد ځانونه له نورو سره شريک وګڼي. دا دے اسلامي تر بيت.

## انسان ته د لويديځ (غرب) نظر

لويديځ تربيت په تيره بيا په وروستيو دوو پيړيو کې فرد ګرا او فرد ګروهے دے په لائيک (بې دينی) تفکر کې انسان يوازې د خپل مصلحت او ګټې په فکر کې وي له همدې امله په لويديځ کې ډيرې نژدې او انسانې اړيکې او احساسات په ختميدو دي.کورنۍ ړنګيږي او ډير داسې ميندې پلرونه بچي او ښځې او خاوندا ن شته چې له يو بله جدا ژوند کوي. ګاونډيان له يو بله نه خبريږي. په دغه نظر کې د انسان فکري چورليز شخصي ګټې او خوند اخستل دي.

## د نورو په عملونو د ټولنې د څارنې ضرورت

له دې ورتير چې فردي تفکر او ګروهنه ډيرې نيمګړتياوې او بدۍ لري که فرد ګروهنه (ځان محوريت) هم انسان ته د نظر بنياد وي په ټولنه کې د نورو په کار څارنې او اجرايي مسووليته په چورلټ ډول ځان نه شو خلاصولے. ځکه چې دانسانانو ګټې او مصالح او خوندونه او غمونه کړاوونه په خارج او واقعي دنيا کې په يو بل پورې تړلي دي. او انسان که هر څومره د خپلو ګټو په فکر کې شي

پوهیږي چې دهغه شخصي فایده هم د نورو له مرستې پرته نه حاصلیږي. که انسان وغواړي چې په ژوند کې خوند ولري. په یوازې سر دغه خوند نه شي اخستلے. بلکه باید یو بل کس هم وي چې له هغه سره دغه خوند واخستل شي که انسان وغواړي چې په اجتماعي فعالیت، تجارت یا داسې نورو ډګرونو کې ترقي وکړي په یوازې سر نه شي کامیابیدے بلکه مجبوره دے چې له نورو سره ملګرتیا وکړي.که انسان غواړي چې مناسبه روغتیا ولري او چاپیریال یې سم او روغ وي په یوازې سر دغه چاره نه شي حاصلولے یوه چاپیریال هغه وخت سالم پاتې کیږي چې نور یې هم په سلامتیا کې لاس وکړي. د مثال په توګه په ننني نړۍ کې د سیګرټو تاوان ټولو ته ثرګند شوے دے. له دې امله په ځینو عمومي ځایونو لکه بند کوټو او هالونو وغیره کې د سیګرټو څکول بند دي نوکه یو انسان غواړي سیګریټ وڅکوي باید بهر ته ووځي.او له څکولو وروسته کوټې یا هال ته ستون شي. ځکه چې که هر څوک په یوې کوټې او هال کې سیګریټ څکوي نور هم مجبوره دي چې لوږے یې راکاږي.او دا دهغوي لپاره زیانمن دے. نو قطعا هغه کسان هم چې د ځان پالنې او ځان ګروهنې روحیه او تفکر لري هم مجبور دي چې ددغه مسلې خیال وساتي. په دې هکله یو ښکلے مثال موجود دے وایي چې یو څو کسان په یوې کشتۍ کې سپاره وو یو کس په کشتۍ کې په هغه ځاي کې چې ناست و د کشتۍ سوري کول پیل کړل. نورو په هغه اعتراض وکړ چې ولې کشتۍ سوری کوې؟ هغه وویل چې زه خو خپل ځاي سورے کوم او ستاسو له ځاي سره غرض نه لرم. نورو خلکو د هغه لاس ونیوه او وې ویل: سمه ده چې ته خپل ځاي سورے

کوې خوکله چې په کشتئ کې سورے وشي او اوبه راننوځي اوبه بيا ما او تا نه پيژني او ټول غرقوي.

په ټولنيز ژوند کې هم انسان يوازې د خپلو ګټو په فکر کې نه شي کيدلے. او داسې نه شي کيدے چې يوازې له خپل کار سره کار ولري. او د نورو په کار کې لاسوهنه ونه کړي. کله چې انسان وليدل چې يو کس ټولنې ته تاوان رسوي بايد د هغه لاس ونيوے شي او له دې کاره منعې کړے شي. دلته دغه کس ته ټولنه دا اجازه نه ورکوي چې ووايي دا خو زما خپل ځاي دے يا دا زما خپل کور دے يا مې خپل ښار دے. بلکه کله چې د يو کار تاوان ټولو ته رسيږي. دغه شان ټولنه هر څومره چې هم فرد ګروهه او شخص ګرا وي لږ تر لږه د خپلو شخصي ګټو د ساتلو لپاره د نورو په کار کې دخالت کوي او د هغه مخه نيسي چې ټولنې ته تاوان ونه رسوي. په نتيجه کې په هغو ټولنو کې هم چې په کا مله توګه پکې شخصي مفادات او فرد ګروهنه واکمنه ده تر يو حده عمومي څارنه شته

## د نورو په کارونو د ټولنې د څارنې حدود

په لويديځو ټولنو کې چې فرد ګروهنه پکې واکمنه ده ټول پوهيږي چې که تر يو حده پورې د نورو په کار کې دخالت ونه کړي ټولو ته تاوان رسيږي.له دې امله ضروري ګڼي چې ټولني په ځينو کارونو څارنه ولري. خو که ديو کس عمل ـ که هغه هر څومره بد او سپک ولې نه وي ـ له هغوي سره اړه ونه لري او دهغوي مادي ګټو ته تاوان پيښن نه کړي، له هغه سره کار نه لري. دوي باور لري چې د دغه سپک عمل تاوان په خپله دغه کس ته رسيږي او د ټولنې نور وګړي

په دې مسله کې له هغه سره کار نه لري. د «زما يې پرې څه» او «ستا يې پرې څه» په شان خبرې په داسې ځايونو کې استعمالېږي. دا هماغه فرد ګروهنه ده خو هغوي بيا په داسې ځايونو کې چې تاوان يې نورو ته هم رسيږي حساسيت ښيي.که تاوان يوازې يو کس ته رسيږي د ټولنې نور کسان وايي. زما يې پرې څه. يا زما څه کار دے. حتیٰ که دغه شان يو کس ته څوک ووايي چې خپل بدن ته تاوان مه رسوه، په ځواب کې وايي: ستا يې پرې څه.

## په معنوي چارو د څارنې په مسئله کې د لويديځ نظر

تر دې ځايه پورې په مادي چارو کې د فرد ګروهنې او ټولن ګروهنې خبره وه چې په انسانانو پورې اړه لري اوس بايد وګورو چې په معنوي چارو کې دغه څارنه څه ډول ده. که يو کار ټولنې ته معنوي ضرر رسوي ايا هلته د نورو په کار څارنه کولے شو تر اوسه خو مو په مادي چارو کې د فرد ګروهنې او ټولن ګروهنې خبرې کولې د فرد ګروهنې تقاضا دا ده چې که ديو کس کار مونږ ته ګټه يا تاوان نه رارسوي نو بايد پرې يې ږدو. داهغه نظر دے چې نن سبا کم يا زيات په لويديځې ټولنې واکمن دے چې په اصطلاح کې ورته انډيويژوليزم[1] وايي. لويديځوال د نورو په کار څارنه يوازې په مادي چارو کې صحيح ګڼي، او په هغو ځايونو کې چې د يو کس کارونه په معنوي چارو پورې مربوطيږي لکه کفر ايمان حق او باطل په دغه ځاي کې دخالت او لاسوهنه جايزه نه ګڼي. په بله ژبه په

---

۱. Individualism

لویدیځ کې په هغو ځایونو کې چې د خلکو عمل په دین، اخلاقو او معنویاتو پورې اړه لري بلکل د لاسوهنې اجازه نه ورکوي.

## په معنوي چارو د څارنې لپاره د اسلام نظر

اسلام په معنوي چارو او په ځینو مادي چارو کې چې په فرد پورې اړه لري د څارنې د نه ضروري والي له دواړو نظرونو سره مخالف دے. اسلام خلک په دا ډول روځي چې همیشه د نورو په فکر کې وي. حتیٰ په لمانځه کې چې یو کس له خپل معبود سره معنوي رابطه لري مسلمانان باید د جمعې ضمیر او صیغه استعمال کړي نه د واحد. په ټولنیزو چارو کې هم وګړي له یو بل سره اړیکي نه لري ټولنیزه څارنه یوازې په مادې چارو پورې نه محدودیږي بلکه مسلمانان باید معنوي چارې ته هم فکر وکړي. که یو کس داسې کار کوي چې په ټولنه کې د معنوي فساد سبب کیږي باید هغه له دغه کاره منعې کړے شي.حتي په معنوي چارو کې له بدو او منکراتو منعې کول زیات ضروري دي. ځکه چې هغه څه چې د انسان له روح او معنوي چارو سره اړه لري تر مادي چارو زیات مهم دي.ځکه چې مادیات فاني او ختمیدونکي دي خو معنویات پاتې کیږي. لکه څرنګه چې صحیح نه ده چې د هغه کس په وړاندې چې ځان ګړنګ ته غورځوي چپ پاتې شو یا یو کس چې غواړي ځان له پله وغورځوي او غرق کړي یا په اور کې واچوي او وسوزوي غلي پاتې کیدل نه دي پکار ځکه چې د انسان ضمیر اجازه نه ورکوي چې یو انسان ځان ووژني او دځان په خلاف هر کار چې یې زړه غواړي وکړي

اگر بيني كه نابينا و چاه است　　اگر خاموش بنشيني گناه است

نو کله چې په دنیاوي چارو کې له یو کاره چې د انسان په تاوان دے او درد او تاوان یې وقتي دے د هغه منعې کول ضروري دي په معنوي چارو او ګناه کې چې د خداي تعالی د ابدي عذاب سبب ګرځي په دې کې خو په اولي طریقي سره ضروري ده چې بل انسان منعې کړے شي.خداي تعالی په قران کې فرمایي: كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ[1] (کله چې د هغوي پوستکے پوخ شي او وسوزي، د هغه په ځاي بله څرمنه راخیږوو چې عذاب وڅکي)

دخداي تعالی د ونیا مطابق دا بهیر چې کافران په اور کې سوزي او د هغوي پوستکے سوزیږي اوبیا د هغه په ځاي بل پوستکے راخیږي دا بهیر نه ختمیدونکے دے. دا هغه کسان دي چې دخداي له امره یې سر غړولے او ګناهانې یې کړي دي. نو کله چې تاسو وینئ چې یو کس داسې ګناه او غلط کار کوي چې تاوان او سزا یې تر دې سل چنده زیاته ده چې یو کس ځان په اور کې وسوزوي یا په اوبو کې غرق کړي، ایا د انسان ضمیر اجازه نه ورکوي چې د دغه کس لاس ونیسي او له ګناه یې منعې کړي. نو په دې اساس په اسلام کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر یوازې په مادي چارو او تاوانونو پورې نه اړوندیږي بلکه اسلام وایي چې د ګناه مخه هم ونیسه ځکه چې ګناه کار دخداي په ابدي عذاب اخته کیږي.

---

۱. نساء (۴) ۵۶

## امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته د قران نظر

په هغو ټولو آيتونو کې چې په امر بالمعرو ف او نهي عن المنکر دلالت کوي د توبې سورې اوه شپيتم او يو اويايم آيت خاصه ځانګړتيا لري[۱] په دغو دوو آيتونو کې خداي تعالى فرمايي: مومن سړي او مومنې ښځې په يو بل ولايت لري، او د دغه ولايت په رڼا کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي. دا ولايت که په هره معنا واخلو که د محبت په معنا وي او که د واک او قانوني طاقت په معنا، يا په بله هر معنا ددې لپاره ده چې مومنان يو بل له بدو کارونو منعې کړي. ځکه چې که انسان غواړي په ټولنه کې يو کس له ګناه منعې کړي بايد په هغه يو ډول واک او قانوني طاقت ولري چې دغه کار وکړے شي.

په لويديځ کلتور کې دا ډول حق چاته نه ورکوي چې د نوو د ګناه کولو مخه ونيسي. يا د نورو کسانو په معنوي چارو کې لاسوهنه

۱. وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (مومن سړي او ښځې د يو بل دوستان دي خلک نيکو کارونو ته بلي او له بدو کارونو يې منعې کوي . او لمونځونه کوي او زکات ورکوي او د خداي او دهغه دپيغمبر اطاعت کوي . البته خداي تعالىٰ په هغوي خپل رحمت نازلوي او خداي د قدرت او حکمت خاوند دے .) (توبه، ۷۱)

ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ۚ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ۗ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ. (منافقان سړي او ښځې د يو بل پلويان دي خلک بدو کارونو ته بلي او له نيکو کارونو يې منعې کوي . او لاسونه مروړي .خداي يې هير کړے دے او خداي هم هغوي هير کړي دي ځکه چې منافقان سپک او فاسق خلک دي (توبه ۶۷)

وکړي. که څوک دغه کار وکړي هغه ملامتوي. خو په اسلام کې داسې نه ده. د اسلام په دین کې ټول انسانان د یوې تنې دغړیو په شان دي. لکه څرنګه چې ځانونه له ګناه ساتي همداراز دنده لري. چې نور هم له ګناه وساتي. په اسلام کې په انساني او احساساتي نظر سربیره چې انسان اړیاسي چې نور د ګناه په وجه په اور کې له سوزیدو منعې کړي. د خداي تعالی امر هم شته چې مومنان دې نه پریږدي چې نور خلک د ګناه په وجه وسوزي. دا کار لوي واجب کار دے. او په یو روایت کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر لویه دنده ګڼل شوې ده. چې نور واجبات او فرایض د همدې له امله پاتې کیږي.[1] امر بالمعروف او نهي عن المنکر په ټولنه کې د نورو فرایضو د اجرا ضامن دے. او په نورو واجباتو عمل په امر بالمعروف او نهي عن المنکر پورې تړلے دے. که په ټولنه کې په امر بالمعروف عمل وشي په نور واجباتو هم عمل کیږي. او که امر بالمعروف پریښودل شي نور واجبات هم پریښودل کیږي. نو د دې لپاره چې امر بالمعروف کوونکے وکولے شي بل کس ته په خبرې سره وواېي او عملا د هغه مخه ونیسي باید په هغه یو ډول ولایت ولري. یعنې قانون هغه ته یو ډول تسلط او واک ورکړي چې د بل کس مخه ونیوے شي دا یو ډول ولایت دے. ښایي په دې آیت کې چې والموء منون والمؤمنات اولیاء بعض دخداي تعالی مطلب همدا خبره وي. چې خداي تعالی مومنانو ته دغه ډول ولایت ورکړے دے. چې نورو مومنانو ته امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړي. د ولایت لپاره بله معنا چې دلته یې ذکر کولےشو، دوستي، ده. یعنې له دې امله

---

۱. کلیني الکافي، **۵** ټوک **۵۵** مخ

چې مومنان له یو بل سره مینه لري او په یو بل یې زړه سوزي. نو یو بل په ګناه او په داسې کار چې دهغه د ابدي سزا سبب کیږي له اخته کیدو منعې کوي. په مومنانو دغه واکمن محبت تقاضا کوي چې په هغوي کې امر بالمعروف او نهي عن المنکر موجود وي. په آیت کې دواړه معناوې اخستلے شو.

خداي تعالی دمومنانو په مقابل کې دمنافقانو خبره کوي. خو هلته د اولیاء کلمه نه کاروي بلکه فرمایي: ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلْمُنَـٰفِقَـٰتُ بَعْضُهُم مِّنۢ بَعْضٍ او د یامرون بالمعروف په ځاي وایي: يَأْمُرُونَ بِٱلْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمَعْرُوفِ د دغو دوو آیتونو بیان ته په پام سره ځو پوښتنې پیدا کیږي. چې اوس یې جاجوو.

## ولې قران د مومنانو په مقابل کې د منافقان لفظ کارولے دے.

پوښتنه دا چې ولې خداي تعالی د والمومنون والمومنات بعضهم اولیاء بعض یامرون بالمعروف و ینهون عن المنکر. په مقابل کې د (الکافرون والکافرات یامرون بالمنکر و ینهون عن المعروف) الفاظ نه دي کارولي او د مومنون په مقابل کې یې له منافقون استفاده کړې ده.

دې پوښتنې ته داسې ځواب ورکولے شو چې منافقان داسې کسان دي چې په اسلامي ټولنه کې ژوند کوي او په ظاهره وایي چې ایمان یې راوړ ےدے.او ظاهرا ټول اسلامي ارزښتونه مني. خو له زړه په هیڅ یو اسلامي ارزښت او احکامو عقیده نه لري. دوي په ظاهر کې د مسلمانانو ملګري دي خو په باطن کې دهغوي دشمنانان

دي او که مناسب فرصت لاسته راوړي مسلمانانو ته تاوان رسوي. د کافرانو په اپوټه چې په اسلامي ټولنه کې دننه نه دي.او که په مسلمانانو کې ژوند هم کوي هم په ښکاره کافران او د اسلامي ارزښتونو مخالف دي. نو مسلمانان يې پيژني او دځان او دهغوي په منځ کې کرښه راکاږي.

نو د منافقانو خطر تر کافرانو زيات دے. ځکه چې منافقانو په اسلامي ټولنه کې نفوذ کړے او په اسلامي ارزښتونو اعتراف لري. په ظاهره ايمان لري خو په هر مکر او حيلې سره هڅه کوي خلک له دينه جدا کړي. له دې امله خداي تعالی د مومنانو په وړاندې دمنافقانو د کلمې په راړولو سره خبردارے ورکوي چې مومنان دې دخپل دين خيال ساتي او پوه دې شي چې په اسلامي ټولنه کې دننه منافقان موجود دي چې د منکراتو امر کوي او له نواهيو نور انسانان منعې کوي

## په يو بل د مومنانو د ولايت مصلحت

بله شبهه دا چې خداي تعالی د منافقانو په مسله کې د مومنانو په شان د «اولياء» له کلمې استفاده نه ده کړې. چې د دوستۍ يا يو ډول د قانوني سلطې په معنا ده. دا خبره له دوو زاويو جاجولے شو. ځکه چې که دا کلمه د ولايت په معنا واخلو. چې پر يو بل د مومنانو د ولايت معنا ورکوي نو د دې لپاره چې مومنان وتوانيږي يو بل ته امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړي بايد قانوني واک او اجازت ولري. او خداي تعالی د هغوي لپاره يو ډول واک او ولايت جوړ کړے دے چې د يو بل په کارونو کې لاسوهنه وکړے شي. خو

منافقان چې په امر بالمنكر او نهي عن المعروف سره غواړي خلک بې دينه کړي. ولايت ته ضرورت نه لري ځکه چې ولايت يو قانوني حق دے او قانون په هيڅ يوه ټولنه کې د امر بالمنكر اجازت نه ورکوي.

(ولايت) د دوستۍ او مينې په معنا هم راتللے شي. په دې معنا چې ځينې مومنان د ځينو دوستان دي او له يو بل سره مينه کوي له دې امله کله چې ووينې چې بل دوست يې په تاوان کې دے نو هغه دغه ضرر ته متوجې کوي. مومنان له دې امله چې له يو بل سره مينه لري يو او بل ته امر او نهي کوي او نه راضي کيږي چې دهغه ايماني ورور يا خور د دوزخ په اور کې وسوزي. خو منافقان د مومنانو په شان له يو بل سره مينه نه لري. په هغوي کې هر يو کس د خپلې ګټې په فکر کې دے. که څه هم په ظاهر کې هغوي ګډ ژوند کوي او وحدت او مشارکت لري خو زړونه يې له يو بله ليرې دي. لکه څرنګه چې خداي تعالى دهغوي په هکله فرمايي:

تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ[1] (ته داسې انګېرې چې هغوي يو موټے دي خو زړونه يې سخت له يو بله ليرې دي)

د هغوي له يو بله په ليرو زړونو کې مينه او محبت نيشته. که دهغو ي ذاتي ګټې پوره نه شي په يو بل ورخيږي. او حتیٰ يو بل وژني. ځکه چې هر يو يې د خپلو ګټو په فکر کې دے. او که دوي سره راغونډيږي او په ځينو چارو کې په ګډه کار کوي د دې لپاره دي چې د خپلو مادي ګټو د لاسته راوړلو لپاره پراخه لومه وغوړوي. که

---

۱. حشر (۵۹) ۱۴

په دغه غونډېدو او يو کيدو کې مشکل پيدا کړي او د هغوي شخصي ګټې په خطر کې ولوېږي نو هر څه ختميږي او دهغوي په منځ کې هيڅ مينه نه پاتې کيږي. حال داچې مومنان له يو بل سره مينه لري او له همدې امله يې يو بل ته زړه سوزي. او يو بل ښو کارونو ته بلي او له بدو يې منعې کوي. ځکه چې غواړي ايماني ورور او خور يې په اور کې ونه سوزي. له دې امله خداي تعالی د امر بالمعروف او نهي عن المنکر لپاره هغوي ته داغه ډول ايماني ولايت ورکړے دے.خداي تعالی د مومنانو په هکله فرمايي چې هغوي د يو بل وليان دي خو دمنافقانو په هکله دغه خبره نه کوي.

## په اسلامي ټولنه کې دامر بالمعروف او نهي عن المنکر امکان

يوه بله پيچلې پوښتنه چې دلته پيدا کيږي دا ده چې څرنګه په يوه ټولنه کې داسې کسان پيدا کيږي چې د بدو کارونو او منکراتو امر کوي. ځکه چې په هره ټولنه کې منکر د بد او سپک کار په معنا دے. نو څرنګه په يوه ټولنه کې داسې کسان پيدا کيږي چې دسپکو او بدو کارونو امر وکړي؟ په اسلامي ټولنه کې چې ټول په ازښتونو اعتراف لري او په ايمان تظاهر کوي څرنګه ځينې کسان راځي او دمنکراتو امر کوي؟ څرنګه په اسلامي ټولنه کې ځينې کسان جرائت پيدا کوي چې خلک بد کار ته وبلي؟ قطعا دغسې کسان ځينې اهداف تعقيبوي او ډاډه دي چې ځينې کسان د هغوي پيروي کوي. ځکه چې که داسې وه چې خلک فسق او فجور او بدو کارونو ته وبلي خو څوک دهغوي خبره وانه اوري. نو دوي به د بدو کارونو د

امر انګیزه او محرک نه پیدا کاوه. نو له دې معلومیږي چې په ټولنه کې دهغوي بدو کارونو ته بلنه اثر لري او داسې کسان شته چې دهغوي خبره اوري. نو ځکه دومره هڅه کوي چې په ټولنه کې بد کارونه دود شي.

په دې اساس باید وګورو چې له معروف اومنکر نه مطلب څه دے. ممکنه نه ده چې له منکره مطلب ـ په منطقي او فلسفي اصطلاح کې ـ د حمل اولي په معنا منکر وي. او په ټولنه کې یو کس خلکو ته امر وکړي چې سپک او غلط کارونه وکړي او له ښو عملونو ډډه وکړي. داسې په غلطو امر کول په خلکو کې اغیز او اثر نه لري. ځکه چې ټول خلک په یو ډول په ارزښتونو باور لري.او چاته اجازه نه ورکوي چې په ښکاره څوک بد کار ته وبلي یعنې په ښکاره ووایي چې دغه غلط کار وکړه. مسلما هیڅ یو عاقل کس دغه خبره نه کوي هو هیڅ کس چې عقل لري دغه خبره نه اوري. له دې امله د منافقانو له خوا بدو کارو ته له بللو د قران هدف په اولي او ذاتي معنا نهې عن المنکر نه دے. بلکه مقصد یې دا دے چې منافقان د منکر او معروفو د مصداقونو په هکله امر او نهي کوي. هغوي خلک دا سې کارونو ته بلي چې منکر دي خو دوي د دغو بدو کاونو مصداقونو خلکو ته د معروفو په شکل کې وړاندې کوي او وایي چې دا ښهٔ کارونه دي.

منافقان له ځینو مفاهیمو مغالطه اچوونکو رودو او شیطاني تبلیغاتي طریقو په استفادې سره خلکو ته د منکر او غلطو کارونو امر کوي اوهغوي ناخوښو کارونو ته بلي هغوي اول زمینه برابروي چې یو لړ بد کارونه د خلکو په نظر کې ښه معرفي کړي او خلک

داسې فکر وکړي چې دا ښه کارونه دي. بيا خلکو ته وايي چې دغه ښه کارونه ـ چې په حقيقت کې د بدو کارونو مصداقونه دي ـ وکړي. له بل پلوه د ځينو ښو کارونو لپاره داسې تبليغ کوي چې هغه بد او ناوړه ښکاره شي. او بيا خلک د هغوله کولو منعې کړي. نن سبا زمونږ په ټولنه کې داسې ډير مثالونه تر سترګو کيږي او دنفاق او منافقت ريښو ته په پام سره چې اوس هم زمونږ په هيواد کې موجود دي په داسې کارونو حيرانيدل نه دي پکار. د بيلګې په توګه مخکې زمونږ په ټولنه کې زمونږ د ښځو لپاره د (حيا) په نامه ارزښت موجود و. قطعا حيا د ښځو لپاره يو ښهٔ صفت او ارزښت دے. البته حيا د ټولو لپاره ښه ده که سړي وي او که ښځې خو دا د ښځو لپاره يو لوي صفت دے. قران هم د حيا او استحيا د کلمو ستاينه کړي ده او حتیٰ د حضرت شعيب د لوڼو په کيسه کې چې يوه يې د پلار له لوري راغلې وه. چې حضرت خپل کو رته وبلي خداي تعالی د هغه جينۍ حيا په ستايونکې ژبه بيانوي. او فرمايي:

فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ قَالَتۡ إِنَّ أَبِي يَدۡعُوكَ[1] (په هغوي کې يوه جينۍ په ډيرې حيا او وقار سره راغله او ويې ويل زما پلار ته غوښتے يې)

حيا زمونږ په کلتور کې ډير ارزښت لري خو د منافقانو په کلتور او لغت کې له شرميدو او خجالت سره برابره ده. دوي وايي شرم او حيا هماغه خجالت او خځليدل دي. دوي وايي دا چې ښځه حيا لري يعنې خجالتي او شرمناکه ده.او خځليدونکے انسان په دنيا کې څه

---

۱. قصص، (۲۸) ۲۵

کار نه شي کولے. خجالتي کس يو بې همته کس دے او د اروا پيژندې علم وايي چې خجالت بد دے. اوپه دې اساس له يو هلکه د جينې شرميدل بد کار دے او دهغې لپاره نيمګړتيا حسابيږي. ځکه چې هغه خپله غوښتنه نه شي بيانولے او له هلکه خپل حق نه شي اخستلے. نو بايد جينۍ له هلکه شرم ونه کړي دا چې خلک وايي جينې بايد د نامحرم سړي په وړاندې شرم ولري دا غلطه ده. جينۍ بايد بې پروا وي او وکولے شي د نورو په مخکې خپله خبره وکړي او له ځانه دفاع وکړي.دوي حتیٰ د خپل دغه تفکر لپاره د درسول الله مبارک د لمسۍ بي بي زينب (ع) مثال راوړي.

که څۀ هم له ځانه د جينۍ دفاع يو شرعي او ښه کار دے خو له نامحرم سړي د ښځې حيا او شرم کول هم يو ارزښت دے. منافقان دا دوه مسلې يو شان ګڼي او په حيا او خځلتيا کې فرق نه کوي. نو د دې لپاره چې يو انسان خجالتي لوي نه شي بايد شرم او حيا پريږدي او د دې لپاره چې دا مسله حل شي بايد جينکۍ او هلکان له يو بل سره ګډه ناسته پاسته ولري. اودا اختلاط او ګډون دې حد هم ونه لري. په دې طريقې سره منافقان اول د هلکانو او جينکو اختلاط او معاشرت يوه کلتوري چاره ګڼي او بيا د دې کار لپاره تبليغ کوي. او حيا له منځه وړي. دا د امر بالمنکر ښکاره بيلګه ده همدا راز د چهارشنبه سورې د جشن ژوندي ساتل چې له اسلامه مخکې د کلتور بيلګه ده. دوي يې د ملي فرهنګ په توګه القا کوي.

نو که په ټولنه کې کلتوري زمينه پيدا نه شي. امر بالمعروف معنا نه پيدا کوي. او له بل پلوه په ټولنه کې د ضد ارزښتي مفاهيمو په دودودلو سره نور نو د امر بالمعروف لپاره کوم ځاي نه پا تې

کيږي. يعني تر دې حده په مقالو، ورځپاڼو ويناوو او رسندويو کې د نورو په اعتقادي اخلاقي او ارزښتي چارو کې لاسوهنه فضول کار او دخالت معرفي کوي چې بلکل يو کس ته نه وايي چې ولې لمونځ نه کوې. هغه په ځواب کې وايي: دا هسې د نورو په کا رونو کې ګوتوهل دي. او د نورو په کارونو کې ګوتې وهل ډير بد کار دے. په دې توګه له معروفه د منعې کولو معنا تحقق پيدا کوي.

# لسم څپرکے

د عاشورا له غورځنګه څینې سبقونه

د انسانیت ډیرو لوړو درجو ته د انسان رسیدل او ډیرو ټیټو درجو ته د بنیادم لویدل د کربلا د پیښې یو اړخ د ے. د عاشورا په حماسه کې یو شمیر ډیر لوړ شخصیتونه ښکاري چې په تاریخ کې یې سارے کم لیدل کیږي. د دغه ډلې هر یو کس د شرافت، انسانیت، کمال میړانې سربښندنې او نورو غوره خصلتونو له نظره په ډیرو لوړو درجو کې ولاړ دي.

د دغه بې سارې ډلې چورلیز د امام حسین بې مثاله شخصیت د ے. او د هغه وروڼه بچیان، ملګري او خاص دوستان د هغه حضرت د پاک وجود ګیر چاپیره راغونډ شوي دي.

هر یو انسان کې مسلمان وي او که غیر مسلمان د دغه ډلې د کیسې او سر ښندنې په اوریدو سره بې واره له هغوي سره مینه کوي. او په هغوي مینیږي. له دې امله په نورو دینونو کې هم ډیر کسان شته چې د حضرت سیدا لشهداء لیوال دي. منجمله دا چې ځینې زرتشتیان په محرم کې ماتم کوي. او د امام حسین د نامې په اوریدلو سره د هغوي په مخ کې دغم نښې ښکاره کیږي حتیٰ په هندوستان کې هندوان هم د امام حسین له نامې او شخصیت سره عشق لري او د عاشورا د نهمې اولسمې په ورځ ماتم او ویر کوي. د هندوستان په ډیرو ښارونوکې بت پاله هندوان د عاشورا او تاسوعا په ورځو کې اورونه بلوي او د امام حسین په یاد کې ابلې پښې په اور کې ګرځي.

دانسان ضمير وايي چې د داسي لوړ رتبه انسانانو په وړاندې د تعظيم سر ټيټ کړي او د هغوي په ياد کې خضوع وکړي. او له همدې امله حتیٰ کافران هم له دغه لوي شخصيت سره مينه کوي.

د دغه کسانو په مقابل کې داسې کسان دي چې د بشريت په تاريخ کې دومره سخت زړي پليت، ناځوانه او ځناور صفته کسان ډير کم پيدا کولے شو. خو څرنګه ممکنه ده ځينې کسان د کمال او فضيلت دومره لوړو درجو ته ورسيږي او ځينې بيا تر دې حده پليت او سپک شي؟ البته دا پوښتنه يوازې د کربلا دپيښې په هکله نه کيږي او دا دوه ډلې هميشه په تاريخ کې اوحتي نن هم موجودې دي. له دې امله ځينو کسان د دغه پوښتنې د ځواب لپاره هڅه کړې ده په علمي روده ددې خبرې وضاحت وکړي. چې دانسان د لوړاوي او پريوتلو علت څه دے. او څرنګه ځينې انسانان د کمال او فضيلت په لور ګام پورته کوي او په هغوي کې لوړ انساني صفتونه پيدا کيږي.او په مقابل کې ځينې يې ډيرو ټيټو درجو او ګړنګونو ته لويږي؟

د کربلا مسئله شخصي مسله نه ده چې په يو څو کسانو پورې اړوند وي بلکه لويه ټولنيزه ښکارنده ده چې د هغه وخت په ټولنه يې اغيزه وشيندله. او اوس د کابو څوارلس سوو کلونو په تيريدو سره يې هم په اسلامي ټولنه خپل اثر له لاسه نه دے ورکړے. له دې امله ځينو کسانو کوشش کړے دے چې د کربلا پيښه ـ د يو تاريخي بهير او ډله ايز حرکت په توګه ـ د ټولن پيژندنې له نظره وشني او وې جاجوي.

له بل پلوه، په معنوي کمالاتو او انساني فضيلتونو کې د انسان د ترقۍ او لوړاوے او په رذايلو کې د پريوتلو او ځوړتيا د علتونو او څرنګوالي په هکله بحث د اروا پوهنې (نفسياتو) په علم کې راځي. او په هغه کې د کسانو نفسيات ځانګړتياوې او په دغو خصوصيتونو سره د شخصيت د جوړيدو عوامل څيړل کيږي.

## د انسان په لوړاوي او ځوړتيا کې د وراثت او چاپيريال رول

په کلي توګه ويلے شو اروا پوهانو د انسان د شخصيت په جوړولو کې اغيز من عوامل په دوو ډلو ويشلي دي: لومۍ ډله وراثتي عوامل دي. هغه خصوصيات چې بچيان يې له ميندو او پلرونو په وراثت کې وړي. که والدين بد او رذيله صفتونه ولري. دا صفتونه په يو ډول بچيانو ته هم غځيږي، لکه څرنګه چې د بني اميه وو د کورنۍ ټول کسان فاسد وو او په مقابل کې د پيغمبر اکرم (ص) او د ګرانو امامانو (ع) پلرونه اونيکونه ښه پاک او با فضيلته کسان وو په دې توګه قطعا د دغو دوو ډلو دهر يو کس د شخصيت په جوړيدو کې وراثت هم يو عامل و. ځينې نور عوامل چې په کلي ډول د انسان د شخصيت په جوړيدو کې اغيزمن دي. د انسان چاپيريال او هغه ماحول دے چې هغه پکې اوسيږي. په بله ژبه د انسان ځينې شخصيتي ځانګړتياوې د هغه د تربيت او تعليم په اساس برابريږي او دا ځانګړتياوې په وراثتي لاملونو پورې چندانې اړه نه لري. د چاپيريال په حالاتو کې د کورنۍ ښوونځي، عمر، ټولنيز او طبقاتي شرايط شامليږي. چې د انسان د شخصيت په جوړيدو کې

اغیزمن دي. د اروا پوهانو جاجونې ښیي چې د هر یو انسان شخصیت د هغه ماحول او وراثت ته په پام سره جوړیږي. نو د دې پوښتنې ځواب چې ولې د امام حسین د ملګرو په شان کسانو دومره لوړ فضیلتونه او عظمت درلود دا دے چې هغوي له یو پلوه په شریفو او پاکو کورنیو کې زیږیدولي وو او له بلې خوا یې د تربیت ماحول پاک و. دا دوه عامله سبب شول چې هغوي پاک او خوښ صفتونه ولري. د دوې د مقابلې ډلې په اړوند چې په ناپاکو کورنیو کې زیږیدلي او په فاسد او پلیت چاپیریال کې لوي شوي وو. دا هغه کلي ځواب دے چې اروپوهان یې د انسان د شخصیت په جوړښت کې د اغیزمنو عواملو په هکله ورکوي.

په دې نظریې یو کلي اعتراض کیږي او هغه دا چې کیدے شي په یو شان ماحول او کور کې دوه شخصیتونه پیدا شي چې دوه ډوله وي حتیٰ د پیغمبرانو او امامانو په اولادونو او بچیانو کې هم داسې بد کسان موجود وو. د حضرت نوح (ع) زوے د دې ادعا لوي مثال دے. همدا راز جعفر کذاب چې د معصوم امام ورور او تره و. یو بد کس و. نو په دې اساس ویلے شو چې د وراثت او ماحول عامل کلي عامل نه دے. بلکه ممکنه ده چې ځینې نور عوامل هم د انسان د شخصیت په جوړیدو کې اغیز من وي. له بل پلوه کله کله داسې کسان هم پیدا کیږي چې شخصیت یې د خاص وراثتي او چاپیریال په فضا کې جوړ او پوخ شوے دے خو یو دم د غه شخصیت په خاص ماحول کې بدل شي. یو کس چې په کلونو یې په خاصو ځانګړتیاوو کې ژوند کړے دے په یوې پیښې سره بلکل بدل شي او یو بل شخصیت ترې جوړ شي. لکه حر ابن یزید ریاحي چې اول

یې د امام حسین د کاروان لاره بنده کړه. خو اخر یې توبه وکړه او هغه حضرت ته راغے او له حقیقي پتیالیو کسانو وګرځیده حر داسې مقام ته ورسید چې امامان او دخداي ولیان یې زیارت ته ورځي. او دهغه دمقام درننښت کوي. که دانسان شخصیت یوازې د وراثتي او دچاپیریال د عواملو معلول وي نو څرنګه بیا د یو کس شخصیت ناڅاپه بدلیږي؟ د کربلا په پیښه کې داسي نمونې هم تر سترګو کیږي.

زهیر بن قین هغه کس دے چې د بني امیه وو په پلوي توب مشهور و. او له (عثمانیانو) ګڼل کیده. هغه له مکې د کربلا په لور د امام حسین په سفر کې په لاره کې دهغوي قافلې ته نزدې شو. او د امام او دهغه په منځ کې ځینې خبرې وشوې. چې هغه یې بدل کړ.او زهیر بن قین د کربلا د لویې پیښې یو اتل او سپه سلار ګڼل کیږي[1] په دې ډول یو انسان چې یو عمر یې په یو شان لاره کې تیر کړے دے په یو څو شیبو کې یې له امام حسین سره په خبرو کې خپله لاره بدله کړه. شاید دا تصور وشي چې د حر او یا د زهیر ابن قین د شخصیت بدلون د امام حسین د کلام نتیجه وي. خو ځینې نور موردونه او بیلګې هم شته چې داسې نه دي ځکه چې امام حسین له عبیدالله بن حر جعفي سره هم ملاقات وکړ او هغه یې خپلې ملګرتیا ته وباله. خو هغه د امام حسین د بلنې په ځواب کې وویل زه خپل اس او توره تا ته درکوم خو پخپله نه غواړم په دې پیښه کې شریک شم.[2] نو که د امام حسین خبرې داسې تکویني اثر لرلے چې خلک یې

---

۱. ر. ک شیخ مفید، الارشاد، ۲ ټوک ۷۲، ۷۳ مخونه

۲ . ر. ک. دینوري، الاخبار الطوال ، ۲۵۰ مخ

يو دم بدلول نو بايد عبيدالله يې هم بدل کړے وے. نو ويلے شو چې که څه هم وراثت او چاپيريال دانسان د شخصيت په جوړښت کې لوي رول لري خو داسې نه ده چې دغه عوامل په يوازې سر د انسان شخصيت جوړ او قايم کړي او يا مونږ د دغو عواملو په اساس د يو کس شخصيت او عمل اټکل کړو.

نو په دې اساس په اروا پوهانو دا عتراض سم دے چې د انسان د شخصيت د جوړولو عوامل يوازې په وراثت او چاپيريال کې منحصر نه دے او دهغوي برخليک يوازې د دغو دوو لاملونو په اساس نه ټاکل کيږي. که د وراثت او ماحول اثر مطلق وګڼو. بايد يو ډول د جبر قايل شو ځکه چې په دې بڼه کې هر انسان د زوکړې په وخت بې له اختياره ځينې خصوصيات په وراثت کې له ځان سره راوړي او ځينې نور بيا له ماحوله او چاپيرياله زده کوي. يو ماشوم چې پيدا کيږي هغه پخپله دغه ماحول نه جوړوي بلکه ماحول له مخکې جوړ شوے وي او ماشوم په دغه چاپيريال کې پيدا کيږي او له هغه اثر اخلي او دانسان جوړښت هم د هغه په لاس کې نه دے.نو په دې اساس نه د انسان وراثتي عامل دهغه په لاس کې دے او نه د چاپيريال او ماحول عامل. په تيره بيا د کورنۍ عامل. بيا ماشوم مدرسې ته ځي د دغه ماحول هم چندانې دهغه په لاس کې نه دے. همداراز د ټولنې ماحول هم دهغه له لاسه بهر دے.

نو په دې اساس يو ډول غير اختياري عوامل د انسان شخصيت جوړوي چې وراثتي دي يا هم د ماحول او په دې ډول په حقيقت کې انسان مجبوره دے. نو که داسې وي د بدو او بې لارو کسانو غندل او ملامتول سم کار نه دے. او د دغه نظريې په اساس د هر چا د بې

لارې کيدو د لاملونو په هکله ويلےشو چې د هغه مور او پلار بې لارې وو يا هغه چې په کوم ماحول کې لوي شوے هغه سم نه و. له بل پلوه د يو ښۀ انسان د ښه والي په هکله بايد ووايو چې د هغه مور او پلار ښه وو او په ښه ماحول کې لوي شوے دے نو دغه درجې ته رسيدلے دے. نو په دې اساس د نيکانو او ښو کسانو ستاينه او د بدانو غندنه نامعقوله ده. داسې تفکر چې په يو ډول جبري نظريه ده، همدا اوس په ډير لويديځو هيوادونو کې دود ده. او په دغه هيوادونو واکمن نظر همدا دے. په لويديځ کې د تساهل او بې پروايۍ د کلتور د دوديدو يو عامل همدا ګروهنه ده. په دغو هيوادونو کې ګمان کوي چې د هر انسان ښۀ والے د غير اختياري عواملو لکه وراثت او ماحول پامته داره دے. په مقابل کې شرير او بد کسان هغه ټولنې چې هغوي پکې ژوند کوي فاسد کړي دي او وراثتي عوامل چې د هغه په اختيار کې نه دي د هغه په شخصيت کې اغيزه کړې ده. نو دا ډول کس نه شو ملامتولے له دې امله بايد د يو بل درناوے وکړو. او په زغم سره له يو بل سره چلند وکړو. همدا راز صبر او زغم پکار دے او تاو تريخوالے نه دے پکار. هيڅوک بايد د هغه د بد عمل په وجه ونه غندو ځکه چې دهغه د ژوند شرايط همداسې وو او هغه همداسې لوي شوے دے.

دا ډول تفکر طبعا د نورو په وړاندې يو ډول بې پروايي او سهل انګاري په انسان کې پيدا کوي. او له همدې امله په لويديځ کې په پراخه توګه دا تفکر ښکاري. نو بايد ځير ووسو چې د تساهل او تسامح کلتور چې د دغه جبري تفکر نتيجه ده په مونږ کې پيدا نه شي.او اسلامي هيوادونو ته ونه غځيږي. په مقابل کې د قران تعليم

او له خلکو سره د پیغمبرانو سلوک د دې په اړوند و. خو هغوي د یو کس ښه والي یا بد والي یوازې د میراث او یا ماحول له امله نه بلل.

## د قران آیتونو ته په پام سره د دغه نظریې جاج

قران مجید کله چې کافران فاسقان ظالمان ملحدان او قاتلان مخاطبوي هیڅکله هغوي نه بري کوي قران د انسانانو بد والي د هغو د مور او پلار یا ماحول د بد والي له امله نه ګڼي او له دغه ډول کسانو سره سخت چلند کوي. دغه الهي کتاب د هغو کسانو په هکله چې په غلطه لاره ځي، له تندو تعبیراتو او سختو ګواښونو کار اخلي.او په مقابل کې د ښو کسانو لپاره ښه تعبیرات هڅونې او ستاینې استعمالوي. په بله معنا د پیغمبرانو د بلنو چورلیز زیرے ورکول او یا ویرول یعنې انذار او تبشیر دے. او د ټولو پیغمبرانو په صفتونو کې مبشر او منذر راغلي دي.[1] پیغمبرانو زیرے دے چې خداي تعالی د ښو انسانانو لپاره ښې مهربانۍ فضل او رحمت لري. او په هغوي خپل برکتونه نازلوي. او دنیا او اخرت یې ابادوي. د زیري او بشارت معنا دا نه ده چې هغه کسان چې په دنیا کې بې پلار نیکونه ښه وو او په ښه ماحول کې یې ژوند کړے دے په اخرت کې به هم داسې وي.

همداراز په قران کې د انذار او خبرداري ډیر موارد په نظر راځي. (ګورئ چې ظلم ونه کړئ) (ګورئ چې کفر ونه کړئ) (پام کوئ چې له خداي سره شریک ونه ټاکئ.) (کوم کسان چې شرک کوي خداي به

---

۱. رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ (نساء) ۴ ، ۱۲۵

هيڅکله هغوي ونه بخښي)[1] (له خداي سره شرک لوي ظلم دے).[2] که شرک د وراثتي او د ماحول د عواملو په وجه وي نو بيا خو دهغو کسانو چې شرک کوي دومره زيات ويرول او خبردارے ورکول سم کار نه دے. ځکه چې هغوي خو ځکه شرک کړے دے چې په خپل لاس کې يې نه و.

قران همداراز پيمان ماتوونکي او کافران په سخته ګواښي (د کفر له سرغنو سره وجنګيږئ)[3] (په هر ځاي چې مو وموندل وې وژنئ)....[4] دا ډول آيتونه دهغو کسانو په هکله دي چې له ځينو کسانو سره يې وعدې کړې او تړونونه يې تړلي وو چې بايد د هغو خيال يې ساتلے وے خو تړون يې مات کړ او په انساني حقوقو يې تيرے وکړ.

که دانسان ښځوالے يا بد والے د وراثت او ماحول په عواملو پورې تړلي وي او انسانان پخپله اختيار ونه لري. د نيکو کسانو هڅولو او ستايل او د بدو کسانو او کافرانو او ظالمانو غندل او ګواښل به بې معنا وي. که څه هم ممکنه ده وويل شي چې په دنيا کې له کافرانو سره مقابله د ټولنې مصالحو او ګټو لپاره ضروري ده. خو بيا هم دا اعتراض د اخرت د سزا په مسله کې باقي پاتې کيږي ځکه چې په اخرت کې بايد ظالم د دوزخ په عذاب اخته شي حال دا چې دوي

---

١ . إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ . نساء، (۴) ١١٢

٢ . إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ (لقمان) ٣١ ، ١٣

٣ . فَقَاتِلوا اَئِمةَ الكُفْر (توبه) (٩) ، ١١

۴ . وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ (بقره) ٢ . ١٩١

اختيار نه درلود او د ماحول يا وراثت په وجه مجبوره وو! لكه ځرنګه چې خداي تعالى په قران كې فرمايي:

لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٞ[1] د هغوي لپاره په دنيا كې ذلت او په اخرت كې لوي عذاب دے. وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبۡقَىٰٓ[2] او د اخرت عذاب سخت او پاتيدونكے دے. وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ[3] او د اخرت عذاب لوي دے.

په دې اساس د قران مجيد له نظره انسان يوازې د وراثتي او د ماحول د عواملو او په كلي ډول د غير اخيتاري عواملو تر اغيز لاندې نه دے. بلكه يو دريم عامل هم شته چې تر يو حده دانسان په اختيار كې دے. خداي تعالى انسان ته داسې طاقت وركړےدے چې د هغه په مرسته د ټولو ژنتيكي او چاپيريالي عواملو سره مقابله كولے شي.او حتىٰ په داسې بڼه كې چې په فاسد ماحول كې ژوند وكړي هم كولے شي د دغه فساد او بديو په مقابل كې ټينګ پاتې شي.او پر خپلې ژغورنې سربيره نورو ته هم نجات وركړي. لكه ځرنګه چې خداي تعالى فرمايي:

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ[4] (خداي تعالى دهغو كسانو لپاره چې ايمان يې راوړے دے د فرعون د ښځې مثال رواړي.)

---

۱. بقره (۲) ۱۱۴

۲. طه، (۲۰) ۱۲۷

۳. زمر، (۳۹) ۲۲

۴. تحريم، (۲۲) ۱۱.

د فرعون میرمنې له هغه سره یو ځاي ژوند کاوه له هغه فرعون سره چې ویل به یې: أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ[1] (زه ستاسو لوي پروردګار یم) هر څه زما په اختیار کې او زما دي.

أَلَيۡسَ لِى مُلۡكُ مِصۡرَ وَهَٰذِهِ ٱلۡأَنۡهَٰرُ تَجۡرِى مِن تَحۡتِىٓ[2] (ایا د مصر ټاټوبے زما نه دے. او دا ویالې چې زما (تر ماڼۍ) لاندې روانې دي؟) نو زه ستاسو خداي یم.

فرعون په داسې ماڼۍ کې ژوند کاوه چې په هغه زمانه کې بې سارې وه. سره له دې دهغه میرمنه بي بي اسیه د هغه په څنګ کې داسې مقام ته ورسیده چې خداي تعالی هغه په قران کې د مومنو سړو او ښځو لپاره بیلګه ګرځولې ده. نو داسې معلومیږي چې حتیٰ په کفري او ککړ چاپیریال کې هم چې د فرعون په شان انسان واکمن وي انسان ځان سمولے شي، او خپله لاره بدلولےشي. البته کیدے شي وویل چې د بي بي اسیې په ایمان راوړلو کې کو م پیاوړے ژنتیکي عامل موثر دے. چې دهغه په وجه په خپل چاپیریال بریالے شوه. خو له هغو تاریخي شواهدو ورتیر چې دا خبره نه تاییدوي دي و شخصیت ناڅاپي بدلون په دې توجیه سره نه شو حل کولے. نو د انسان د شخصیت په جوړولو کې یو بل عامل هم شته چې باید وپیژندل شي.

د ټولنې لوي مصلحان او روزونکې چې اراده لري د انسانانو خدمت وکړي باید هغه عامل چې د وراثت او چاپیریال عامل

---

۱ . نازعات، (۷۹) ۲۴.

۲ . زخرف، (۴۳) ۵۱.

شنډولے شي وپيژني. او هغه پياوړے کړي. په دې اساس په داسې شرايطو کې چې ارثي او د ماحول د انسان د شخصيت په جوړښت کې خپل خاص اثرات لري کوم کسان چې غواړي ټولنه اصلاح کړي اوبدله يې کړي بايد له دغه دريم عامل کار واخلي. ځکه چې د اختياري بدلونونو لپاه له جبره عواملو کار نه شو اخستلے.

له علمي او فلسفي دليلونو ورتير چې د اختياري عواملو په هکله بحث کوي تجربې ثابته کړې ده چې پر وراثت او ماحول سربيره د انسان د شخصيت په جوړښت کې يو بل عامل هم اغيزمن دے د قران آيتونه او حديثونه هم دا خبره تاييدوي. حتیٰ هغه کسان چې انسان مجبور ګڼي په عمل کې جبر نه مني او کله چې يو خطاکار کس سره مخامخيږي هغه ملامتوي.

## ميلمه د کوربه په وژنتون کې

د معاويه له مړينې وروسته د ټولو اسلامي سيمو حتیٰ د مدينې خلکو له يزيد سره بيعت وکړ. مدينه چې د اسلامي نړۍ مرکز او د پيغمبر (ع) د لويو اصحابو او حسنينو (ع) د ژوند ځاي و او دهغه ځاي خلکو د خداي له کتاب او رسول سره پرل پسې اړيکي درلودل. دوي په ځلونو امام حسين د پيغمبر په اوږو ليدلے و او د هغه حضرت په باره کې يې د رسول الله مبارک له خولې ډيرې خبرې اوريدلې وې. خو دغو ټولو خلکو او مشرانو ـ بې له يو څو کسانو ـ ديزيد بيعت وکړ. په داسې حالاتو کې د کوفې خلکو امام حسين ته ليکونه وليږل او له هغه حضرته يې وغوښتل چې کوفې ته راشي او دهغوي مشري په غاړه واخلي. د کوفې دخلکو دا اقدام ښيي چې د

اميرالمومنين علي (ع) ويناوو په هغوي اثر کړے و او له همدې وجې يې اهلبيتو ته ګروهنه لرله. دا ليکونه په ډير احترام سره وليکل شول. خو د هغو ليکونکي له څه مودې وروسته دجنګ په ميدان کې د امام حسين مقابلې ته ودريدل. اوهغه حضرت يې شهيد کړ.

امام حسين د عاشورا په ورځ او له هغه مخکې څو ځله له هغوي سره خبرې وکړې او وې فرمايل: ايا تاسو پخپله ماته دا ليکونه نه دي ليکلي؟ ايا تاسو نه وئ چې زه مو دعلوي حکومت جوړولو ته وبللم او غوښتل مو چې له ماسره بيعت وکړئ. ايا تاسو نه ويل چې (لعل الله يجمعنا بك على الحق؟)[1]

خو که څه هم د کوفې خلکو له اهل بيتو سره د مينې څرګندونه وکړه او امام حسين يې کوفې ته بللے و خو په زړونو کې يې ايمان نه و کلک شوے او د اهلبيتو د امامت او د معصوم امام (ع) د اطاعت په مسله کې دهغوي پوهه کمه وه. کوفيان د بني اميه وو له ظلمه پوزې ته راغلي وو. او په ځان د هغوي له واکمنۍ هيريدل. او په فطري او طبيعي توګه يې د پيغمبر له اهلبيتو سره مينه لرله او په اهلبيتو يې کلک ايمان او له ولايته او امامته يې ژوره پوهه نه درلوده. دغه د پوهې کمزوري سبب شوه چې د عبيدالله بن زياد د دربار ګوډاګيان وتوانيږي په تبليغاتي يرغلونو سره د کوفې د خلکو طرز فکر بدل کړي. او په پيژندنه کې کمزوري يوازينۍ موثر عامل نه و بلکه تر دې مهم هغه ګروهنې وې چې د هغه په مرسته د اسلام او اهلبيتو دشمنانو د کوفې خلک له خپلې لارې وغړول دا ګروهنې

١. محمد باقر مجلسي، بحار الانوار. ۴۴ ټوک ۳۳۲ مخ

هماغه هوسونه او ارزوګانې وې چې د امام حسين په ملګرتيا کې نه حاصليدې. امويانو هڅه کوله په دغو عواملو تکيه وکړي. او د قبايلو مشران سپين روبي او لوي شخصيتونه هيله من کړي چې د ابن زياد د حکومت په منلو سره يې ارمانونه پوره کيږي. او په دې ډول هغه کسان چې په کلونو يې د امام علي ويناوې اوريدلې وې اودهغوي په غوندو کې برخه اخستلې وه او د هغه حضرت په رکاب کې له معاويه سر جنګيدلي وو وغوليږي او له عبيدالله بن زياد اويزيد سره بيعت وکړي او له امام حسين سره وجنګيږي.

## د هغه څه چې پکار دي او هغه څه چې موجود دي تر مينځ ارتباط

ارزښتونه يعنې ښيګړې او بد ګړې او بايدونه او نبايدونه د يو سم تحليل په اساس په پيژندنې او موجودو شيزونو ولاړ دي. په بل تعبير تړول بايدونه (يعنې هغه کارونه چې بايد وشي) د شتون او موجودو واقعيتونو په اساس ولاړ دي او په يو ډول له ځمکنيو حقيقتونو سرچشمه اخلي.[1]

انسان دوه ډوله شناخت او پيژندګلو لري چې دهغه په ژوند کې ډيره مهمه ده. اول د هستونو او موجودو ښيزونو پيژندل دي. په دې

۱. دا بحث کابو شل کاله مخکې زمونږ په هيواد کې مطرح شوے دے. ايا موجود ښيزونه او بايدونه (هغه څه چې پکاره ده وي) له يو بل سره اړيکي لري که نه؟ او ايا بايدونه له موجودونو ښيزونو پيدا کيږي که نه؟ له انقلابه مخکې په دې هکله ډير بحثونه کيدل چې دخداي په مهربانۍ حل شوي دي. دغه بحثونو اخر دا نتيجه ورکړه چې په يوې معنا بايدونه له هستونو او موجودو ښيزونو راوځي. او په ځينو هستونو عقيده د ځينو خاصو هستونو د پيدا کيدو سبب کيږي.

خبرې پوهيدل چې ايا انسان او نړۍ پالونکے او پرودګار لري او که نه؟ ايا داسې څوک شته چې د نړۍ پنځول او تدبير دهغه په لاس کې دے؟ دا د انسان په ژوند کې تر ټولو اصلي مسله ده. که د دې پوښتنې ځواب مثبت وي له دې وروسته نورې ډيرې خبرې پيدا کيږي لکه څرنګه چې که د دغه پوښتنې ځواب منفي وي هم ډير مسايل مطرح کيږي. که يو کس نعوذ بالله په دې عقيده وي چې خداي نيشته. د هغه لپاره به د عبادت او د خداي د منلو مسله نه وي مطرح. او د دينونو او مذهبونود شتونو او د حق او باطلوالي مسله نه پيدا کيږي. که خداي نه وي بايد د ټولو دينونو ټغر ټول شي. نو دا مسله ډيره مهمه او بلکې اصلي مسله ده چې انسان يې بايد په خپل ژوند کې حل کړي.

د شناخت او پوهې دوهم ډول د انسان حقيقت ته ستنيږي دې ته چې ايا انسان مادي مخلوق دے چې له يو څو کاله عمره ور وسته مري او په مرګ سره تماميږي؟ يا انسان له مرګه وروسته هم ژوند لري؟ په دې بڼه کې شايد له مرګه وروسته ژوند ابدي وي. دا دوه ډوله شناختونه تر بلې هرې چارې حتیٰ په پيغمبرانو باندې تر ايمانه هم زياتې مهمې دي. لکه څرنګه چې خداي تعالی دقران کريم په ډيرو آيتونو کې په خداي اود قيامت په ورځ په ايمان ټينګار کړے دے.او په دغو آيتونو کې د د دينونو پيغمبرانو او د اسماني کتابونو څه خبره نه ده شوې.

**وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ**[1] (او ځینې خلک وایي: مونږ په خداي او دقیامت په ورځ ایمان راوړے دے.)

**لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْأَخِرَ**[2] (بیشکه چې ستاسو لپاره د خداي د رسول په (اقتدا) کې ښه بیلګه موجوده ده. د هغو کسانو لپاره چې په خداي او د د قیامت دورځې او د خداي هیله (ایمان) لري.)اول باید د خداي د وجود او د قیامت د ورځې او ابدي ژوند مسله هواره کړو. له هغه وروسته په پیغمبرانو د قیامت په ورځ او په حساب کتاب د عقیدې خبره راځي. بیا دې ته لمبر رسیږي چې په دې دنیا کې څه وکړو چې نیکمرغه شو. دلته نو بیا پیغمبرانو ته د ضرورت خبره مطرح کیږي. که انسان د دغو دوو پوښتنو ځواب وومي، د هغه عمل او کړچار په یوه خاصه لاره روانیږي. او احساس کوي چې حساب کتاب شته او باید د خپل عمل څارنه وکړي چې داسې نه وي د قیامت په ورځ په اور کې وسوزي. خو که په اخرت عقیده ونه لري. د هغه عمل او کړه بیا بل شان وي. داسې کس هر څنګه چې یې زړه غواړي عمل کوي. او کاملا ازاد وي ځکه چې ګمان نه کوي چې د هغه دعمل حساب کتاب به وي..له دې امله لیبرالیسم د خداي او پیغمبر انکار ته ګرځي. که یو کس په  خداي او د قیامت په ورځ د عقیدې په څنګ کې لیبرالیسم هم ومني د هغه په عقیدې کې یو ډول تضاد موجود دے چې هغه ورته پخپله متوجې نه دے. دا دوه عقیدې په هیڅ ډول له یو

---

۱. بقره (۲)، ۸

۲ . احزاب (۳۳)، ۲۱

بل سره نه يو ځاي کيږي ممکنه نه ده چې يو انسان وغواړي چې ازاد وي او په خپله خوښه کار وکړي او په عين حال کې په قيامت او په حساب کتاب هم عقيده ولري. په حساب کتاب او قيامت عقيده لازموي چې د انسان عمل په دې ډول برابر شي چې په قيامت کې دخپل عمل ځواب ووايي. او دا خبره له ليبراليزم سره سمون نه خوري.

د خداي په وجود له عقيدې وروسته په قيامت د عقيدې مسله راځي. او دا چې ايا د انسان اصلي زندګي په قيامت کې ده که څنګه؟ او په دې اساس انسان بايد په دې دنيا کې داسې عمل وکړي چې په اخرت کې نيکمرغه شي. يا په مقابل کې حقيقي ژوند په دې دنيا کې دے او هر څه چې دي په دې دنيا پورې اړه لري او په نتيجه کې ورته په دې دنيا کې ورته يوازې ځان اهميت لري په دې بڼه کې له دې امله چې په زړه کې حقيقي ايمان نيشته له الهي سزا او ابدي عذابه ويره هم په دغه شان کس کې له بديو منع کوونکے اثر نه لري. په دې اساس هغه څه چې سبب شول د کوفې خلک تر دې حده بې وفا شي او د لعنت او کرکې سبب وګرځي له دنيايي چارو سره دهغوي بر خرته مينه وه.

## د وراثت او چاپيريال له نظره د يو شان کسانو د فرق سبب

له دې مخکې مو وويل چې د کربلا په ميدان کې دوه ډلې چې له يو بل سره يې بلکل فرق درلود د يو بل مخې ته ودريدې. يوه ډله داسې انسانان وو چې د پاکۍ لوړاوي او له خداي سره د نزديکت په اوج کې وو. او په بله ډله کې داسې په ظاهر دانسان په شکل کې کسان

وو چې بې حده ظالمان پليد وحشي او سخت زړي وو. د دغو دوو ډلو زيات فرق ته په پام سره چې يوه يې لوړو درجو او انساني پړاوونو ته دانسان د عروج او بله يې د حيوانيت تر ټولو ټيټو درجو ته دهغه د پريوتلو ښکاره بيلګې وې دا پوښتنه پيدا کيږي چې څرنګه ممکنه ده يوه ډله کسان د عزت او خداي ته د نزديکت دومره لويې درجې ته ورسيږي اوځيني نور بيا د حيوانيت ذلت او پستتۍ دومره ټيټې درجې ته ولويږي چې حتیٰ د انسان نوم ورته اخستل هم ښۀ نه دي. سره له دې چې دغه دواړه ډلې عقل وجدان او نور انساني لورينې لري او خداي تعالی د ټولو د هدايت لپاره پيغمبران راليږلي دي چې ټول له هدايته برخمن شي. ولې بايد د انساني مظاهرو او استعدادونو په وده او غوړيدلو کې د انسانانو ترمنځ دومره فرق وي. مخکې مو دا پوښتنه په دوو يعنې وګړنيزې او ټولنيزې سويې مطرح کړه.

څرنګه دوه ډلې يو بل ته مخامخيږي چې يوه يې د پيغمبر دکورنۍ په شان د انسانيت لوړې درجې مومي او بله يې دبني اميه وو په شان تر دې حدي لويږي چې تر هر داړونکې حيوانه زيات پريوزي. حال دا چې دا دواړه ډلې د قريشيو له قبيلې وې او مشترک نيکه يې عبد مناف و. په بله معنا سره له دې چې د دوي وراثتي ځانګړتياوې او ټولنيز حالات تقريبا يو شان وو يوې ډلې پکې دومره ترقي وکړه او بله دومره راپريوتله. دا يوه ټولنيزه مسله ده چې ټولن پيژاندي ورباندې بايد غور وکړي. دوي وايي د نړۍ په اکثرو سيمو کې د ښاري ژونده مخکې قبايلي ژوند دود و. او د ژوند دغه ډول ځانګړتياوې او خصوصيات لرل.د دوو قبيلو ترمينځ يا د يوې

قبيلې د دوو ټپو ترمينځ چې يو ځاي يې ژوند کاوه سيالي د قبايلي ژوند يوه ځانګړتيا ده. دا سيالۍ په مختلفومکاني او زماني حالاتو کې په مختلفو بڼو او حتیٰ دمذهبي سياليو په بڼه څرګنديږي او کله چې د دوو قبيلو ترمينځ سيالي سختيږي د هغوي تر مينځ خبره جنګ او وينه بهيدلو ته رسيږي. د ټولني پيژاندو له نظره د کربلا پيښه هم يوه داسې پيښه وه. بني هاشم او بني اميه چې دواړه د يوې قبيلې دوه ټپې وې له يو بل سره يې په مذهبي مسائلو او د کعبې حج او داسې نورو اقتصادي مسائلو په سر زاړه اختلافات درلودل او د هغوي تر مينځ سخته سيالي وه. چې د سختي دشمنۍ او کينې سبب شوې وه. تر دې چې رسول الله مبارک په بني هاشمو کې وګمارل شو دې خبرې د بني اميه وو حسد او سيالي په سختې کينې بدله کړه د دغو دوو ډلو سيالي روانه وه منجمله دا چې په بدر غزا کې بين هاشمو او ملګرو يې د بني اميه وو لوي کسان ووژل او دهغوي پاتي کسان يې په زړونو داغداره کړل په دې ډول د دغو دوو ټپو اختلافات اوج ته ورسيدل تر هغه وخته چې د مکې د فتحې په وخت بني اميه وو له مجبوريته او په ظاهره اسلام ومانه خو د هغوي زړې کينې هماغه شان په زړونو کې پاتې وې. اواخر بني اميه وو په کربلا کې د امام حسين او دهغه د يارانو په وژلو سره د پيغمبر له کورنۍ او بني هاشمو بدل واخست.

### د کربلا د پيښې په شننه د ټولن پيژاندو په نظر کره کتنه

د ټولن پيژاندو د نظر مطابق د کربلا پيښه د دوو قبيلو يا دوو ټپو تر منيځ د سيالۍ طبيعي نيتجه وه. کله هم ځينې نور عوامل له دغو

سیالیو سره یو ځای شوي او هغه یې زیاته کړې ده. نو د دوو قبیلو یا دوو ټپو اختلاف او سیالي یو طبیعي چاره ده. چې کله هم جنګ ته رسیږي. کله چې یوه قبیله په جنګ کې کامیابه شي او له بلې سره تریخ عمل وکړي باید په تمه ووسي چې یوه ورځ چې پخپله ماته وخوري نو له دې سره به هم دغه ډول عمل کیږي. او غچ به ترې اخستل کیږي.[1]

په دې اساس د ټولن پیژاندو له تحلیله هم د اروا پوهانو په شان دا نتیجه اخستل کیږي چې باید د تساهل او تسامح او نرمۍ خیال وساتو. او له تاو تریخوالي تیر شو. په کربلا کې تاو تریخوالے په

---

۱. څه موده مخکې د محرم په ورځو کې د (وینه په وینې نه مینځل کیږي) په نامه یوه مقاله په یوې ورځپاڼې کې د یو لیکوال په قلم چې وروسته یې په برلین کانفرنس کې هم برخه اخستې وه ولیکل شوه. هغه په دې مقاله کې کابو همدا د ټولن پیژاندو تحلیل راوړے و چې د کربلا پیښه کومه عجیبه پیښه نه ده چې روضه لوستونکي او ماتمیان یې د تاریخ لویه پیښه ګڼي. بلکه دا یوه طبیعي پیښه وه چې په بدرغزا کې د بني هاشمو په لاس د بني امیه وو د زیاتو مشران د وژل کیدو په بدل کې وشوه. بني امیه وو په بد ر کې دخپلو مشرانو د وژلې په انتقام کې دپیغمبر له کورنۍ سره همدغه کار وکړ. او په کربلا کې یې یو شمیر د بني هاشمو کسان ووژل. د مقالې دلیکوال په وینا هغه درس چې باید له دغه پیښې یې واخلو دا دے چې د تاو تریخوالي نتیجه تاو تریخوالے دے او له دې امله چې مسلمانانو په کربلا کې له زیږوالي کار واخسته او یو شمیر بني امیه یي ووژل. د دغه تاوترخجن عمل په ځواب کې بني امیه وو هم په کربلا کې یو شمیر بني هاشم ووژل. نو بهتره وه چې په دوي کې هیڅ یو لوري تاوتریخوالے نه و کارولے او په نتیجه کې به یې امام حسین نه شهیدیده. دا سې خبره هغه کسانو هم چې په ځینو لورو پورې منسوب دي په جمهوري اسلامي ورځپاڼه کې ولیکله. دا هغه کسان دي چې ځینې خیالونه یې په سر کې دي او هڅه یې کوله چې یوه ورځ په ارامې او تدریجي کودتا سره اسلام نظام نسکور کړي. داسې مقالې یې ولیکلې. او چا غبرګون هم ونه ښوده. دا وژونکې چوپتیا هم د تساهل او تسامح نتیجه وه. چې له دې مخکې د هغوي هم فکرانو دود کړې وه. (اکبر ګنجي، صبح امروز ورځپاڼه، ۳۲، ۲، ۷۸).

بدر کې د تاوتریخوالي نتیجه وه. که تاسو غواړئ چې حسین ونه وژل شي باید په د بني امیه قبیلې کسان ونه وژنئ. نو جنګ او وینه بهیول پریږدئ چې داسې پیښې رامنځته نه شي. په بله ژبه د ټولني پیژاندو او ارواپیژاندو د نظریو مطابق په جهاد دفاع او د امام حسین په حرکت چې د تاریخ تر ټولو سپیڅلے حرکت و اعتراض کولے او هغه ته غلط ویلے شو.

خو ایا دا علمي نظریه صحیح ده چې دغه ډول سیالۍ د قبایلي ژوند لازمه ده؟ ایا دا سیالۍ طبعا د وینې بهیدلو سبب ګرځي؟ ایا ویلے شو چې دا ډول بیښې په قبایلي ژوند کې دود دي او د کربلا پیښه هم د دوو قبیلو تر منځ یو جنګ و. ایا د دغه تحلیل نتیجه دا ده چې تاوتریخوالے او تعصب باید بلکل پریښودل شي. او له هر دین مذهب او فکر سره نرمي او سازیدل وشي؟ ایا باید هر چاته وخاندو او په هیڅ صورت کې تریخوالے نه دے پکار؟ که نه وي داسې پیښې به پیدا شي؟

په اجمال سره ویلے شو چې له انساني ارزښتونو دفاع چې لومړے یې ژوند او وروسې هغه چارې دي چې د انسان ژوند ته ګرځي او په نهآیت کې د سپیڅلو ارزښتونو دفاع، ټول د یو شعور لرونکي او پوه ژوندي ساري د ژوند لوازمات دي. که په فطرت کې د دفاع قانون نه وي هیڅ یو مخلوق د خپل ژوند دفاع نه شي کولے او او هیڅ ډله او ټولنه د خپلو ارزښتونو ساتنه نه شي کولے. دفاع یو طبیعي قانون دے. چې خداي تعالی په فطري ډول د هر انسان او حیوان په خته کې ایښے دے. همداراز ټول دینونه د شریعت په مقام کې د دفاع قانون د دیني احکامو د یوې برخې په توګه په نظر کې

نیسي. حتیٰ ملحدان چې خداي او د خداي قانون نه مني په فطري ډول د دفاع د قانون خیال ساتي. خو مسله دا ده چې په نظریاتو او تفکر کې اختلاف د دفاع په ځانګړنو او شرایطو کې د اختلاف سبب کیږي. که مونږ انسان یوازې یو مادي مخلوق وګڼو چې یوه موده په دې دنیا کې ژوند کوي او له مرګه وروسته ختمیږي دفاع هم په همدې مادي ژوند پورې محدوده پاتې کیږي یعنې دفاع د هماغه تکویني قانون په حد پورې چې هر ژوندے مخلوق یې په فطري ډول لري منحصریږي. ټول انسانان د تیري ګرو په وړاندې او د نورو خطرونو په مقابل کې دخپل ژوند دفاع مني.

زمونږ د مقصد ټکے دلته دے چې که یو کس د اخرت په ژوند عقیده ولري او دا دنیا له مرګه وروسته داصلي ژوند لپاره سریزه وګڼي باید د ابدي ژوند او داخرت د نیکمرغۍ هم دفاع وکړي. او دا چاره د دین په سیوري کې تحقق مومي. مونږ عقیده لرو چې هغه څه چې د انسان حقیقي ژوند تامینوي دین دے. او هغه څه چې هغه ته خطر پیښوي له دین سره مقابله او د دیني ارزښتونو او عقیدو کمزوري ده. که څوک دا عقیده ولري. ایا د دې دنیا ژوند ته ډیر اهمیت ورکوي که نه خپل ابدي او همیشني ژوند ته؟ دلته هم د انسان د ژوند او نیکمرغۍ د دفاع مسله پیدا کیږي خو د دې دنیا په محدودې نیکمرغۍ او د اخرت په تل پاتې نیکمرغۍ کې کومه یوه زیاته مهمه ده؟ که ابدي سعادت ته د رسیدو لپاره کله ضرورت اقتضا وکړي چې د دې دنیا ژوند لنډ او محدود شي یا یې ځینې خوندونه کم شي په داسې بڼه کې که څوک د اخرت په ژوند ایمان

لري د ابدي سعادت په لاره کې د دې دنیا د ژوند او خوندونو په قربانولو کې هیڅ شک نه کوي لکه څرنګه چې خداي تعالی فرمايي:

إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ[1]

(که ګمان کوئ چې د خداي دوستان يئ نه دخلکو نو د مرګ ارمان وکړئ که تاسو رښتيا وايئ)

یعنې که باور لرئ چې ابدي ژوند له خداي سره نزدیکت او په بله نړۍ کې الهي قرب دے په هیڅ ډول باید په دې دنیاوي ژوند پابند ووسئ. دا دنیا هغه مرحله ده چې باید له هغه تیر شو چې هغه دنیا ته ورسیږو. امام حسین د عاشورا په ورځ خپلو اصحابو او ملګرو ته وفرمایل:

صَبْراً بَني الكرام فَمَا المَوْت اِلا قنطرة[2] (اي د سترو کسانو بچیانو! لږ صبر وکړئ مرګ بې له یو پل بل څه نه دي (چې تاسو له دې ژوندَه دخداي په نزد ابدي او نیکمرغه ژوند ته رسوي)

یو کس چې داسې نظر لري د ابدي ژوند دفاع خپل حق ګڼي. له دې امله نه شي کتلے چې ځینې کسان غواړي دهغه ابدي ژوند ته خطر پیښ کړي. کومه ټولنه چې هم دا نظر لري په خپلو عقیدو او داخرت په ارزښتونو د نوور تیرے نه شي زغملے. دا عقیدې یوازې شعار نه دے. انسان د ابدي ژوند لپاره پنځول شوے دے کوم کسان چې په دې خبره عقیده لري او په اخرت ایمان د هغوي په زړه کې وي د هغو خطرونو په وړاندې بې پروا نه شي پاتې کیدے چې دهغوي ابدي ژوند ګوابښي. او د دې په وړاندې له تسامح او بې پروايي کار

1. جمعه (٦٢) ٦

2. محمد باقر مجلسي، بحارالانوار ٢ ټوک ١٥۴ مخ

نه شي اخستلے. یو عاقل انسان د هغه کس په وړاندې چې په ده یې توره راویستلې وي بې پروا نه شي پاتې کیدے. مثلا چې یو کس نیمه شپه له خوبه پاڅي او ووینې چې یو کس پرې توره راویستلې ده نو له هغه وسله اخلي او له ځانه دفاع کوي ځکه چې خپل ځان په خطر کې وینې په دې اساس کوم کسان چې عقیده لري چې داخرت ژوند شته او دین په هغه دنیا کې د نیکمرغۍ سبب کیږي د هغو یرغلونو په وړاندې چې د هغه په دنې کیږي بې پروا نه شي پاتې کیدے. هغه کسان چې دین ته بې پروایي دودوي په اخرت ایمان نه لري. او هیڅکله د دین په معامله کې سنجیده نه دي. او هغه یوازې د چهار شنبه سوري په شان یو عام دود او رسم ګڼي. دوي وایي ځینې کسان عقیده لري چې د د جمعې په ورځ باید د جمعې په لمانځه کې شرکت وشي. یا د عاشورا په شپه د ویر مراسم تر سره شي. دا هماغه شان ده چې ځینې کسان وایي چې د لمریز کال په وروستۍ چهارشنبه له اوره ټوپ وهل ضروري دي. دا یوه عقیده ده او هغه بله عقیده، د یو بل دعقیدو احترام پکار دے. دا کسان دخپلو عقیدو په اساس باوري دي چې که د دوو ډلو تر منځ سیالي شوه او دا سیالي دیني او مذهبي اختلافاتو ته ورسیده هیڅکله باید تاوتریخوالے ونه کړو. بلکه باید اجازه ورکړو چې هر څوک خپل کار جاري وساتي که یو کس د بل عقیده او باور په تبلیغاتو د شبهو په اچولو، ناوړه اخلاقي کړنو او طریقو اخلاقي ضد کارونو او نورو اقداماتو سره له مینځه یوسي دا په دې معنا ده چې د هغوي په نظر کې دین هیڅ ارزښت نه لري او د هغوي په نظر کې دبت پرستانو اواسلام ترمینځ هیڅ فرق نیشته؛هم ځکه خو ځینې کسان وایي چې

هیڅ دین په نورو دینونو حتیٰ اسلام په بت پرستۍ هیڅ لوړاوے نه لري؛ اسلام یوه نیغه لاره ده او بت پرستي بله نیغه لاره؛ د دې خبرې معنا دا ده چې دوي په هیڅ یو عقیده نه لري؛ که څه هم په ظاهره وایي چې مونږ مسلمانان یو.

## د اسلامي معارفو له نظره د دغه نظر شننه

اسلام د ټولنې پیژاندو دغه تحلیل خطا ګڼي لکه څرنګه چې دهغه نتیجه غلطه ګڼي. د اسلام له نظره انسانان مختلفې ګروهنې لري چې ډیرې یې اختیاري دي او د مختلفو ټولنیزو شرایطو په وجه پیاوړې کیږي. دا ګروهنې کله تر دې حده سختیږي چې ټولې انساني غوښتنې او ارزښتونه تر اغیز لاندې راولي. داسې ډیر کسان شته چې شهرت ته د رسیدلو لپاره له هر څیز حتیٰ له خپل دینه تیریږي. ریاست طلبي او مقام غوښتنه کله کله د جنون حد ته رسیږي، او انسان خپل ټول شته او کورنۍ او سپیڅلي ارزښتونه د هغه په لاره کې قربانوي. البته دغه ډول اړوندوالے او تعلقات یو واري نه ښکاره کیږي. اول د انسان په زړه کې وړه شان غوټۍ زرغونیږي بیا ورو ورو خړوبیږي او په مناسبه فضا کې وده کوي. او ورو ورو پخیږي. تر دې چې انسان هر څه د خپلو غوښتنو په لاره کې قربانوي.کیدے شي انسان په لومړیو پړاوونو کې دغه ګروهنې او مینې ته متوجې نه شي او پوه نه شي چې د زړه په زاویو کې یې څرنګه ماران اوده دي.

که خلک د یو کس درناوے کوي په دې خوشالیدل یوه فطري خبره ده خو که په زړه کې د ریاست غوښتنې احترام غوښتنې

خوشامد غوښتنې او جاه احساس وده وکړي او د دين په معاملې کې دا څيزونه پيدا شي نو ډير خطرناک دي.

آخر ما يخرج من قلوب الصديقين حب الجاه (هغه وروستے ترون چې د صديقانو (د پيغمبرانو د همنشينانو) له زړه وځي، د مقام او منصب مينه ده)

که يو کس له مشرۍ او مقام سره مينه لري د هغه لپاره حق اوباطل فرق نه کوي خو کله انسان د خلکو له خدمت سره مينه لري او مقام او مشري د دې لپاره غواړي. په هر حال ټول انسانان داسې نه دي او ځينې کسان دمشرۍ او مقام لپاره هر کار کوي. لکه څرنګه چې عمر ابن سعد له سهاره تر مازيګره په پښو ګرځيده او د ابن زياد د لشکر د مشرۍ او دامام حسين د وژلو په هکله يې له ځاي سره خبرې کولې خو اخر ونه توانيد د رے له ګورنرۍ تير شي. کربلا ته د شمر له ورتګ او د جنګ له قطعي کيدو مخکې د امام حسين او عمر بن سعد ترمينځ خبرې وشوې او امام حسين عمر ابن سعد ته نصيحت وکړ چې او وې فرمايل: ته ما پيژنې او پوهيږې چې زه څوک يم! تا ته پته ده چې پيغمبر زما په هکله څه فرمايلي دي تاته پته ده چې زما وژل څومره لويه ګناه ده او ددې په وجه په تا او ستا په کورنۍ څه بلا نازليدلے شي. له دې کاره لاس واخله. عمر ابن سعد وويل که نافرماني وکړم کور به مې وران کړي امام وفرمايل: کور بۀ دې زه جوړ کړم. عمر ابن سعد وويل زه داسې ځمکه او املاک لرم چې له ما به يې واخلي. امام ورته وفرمايل زه به په مدينه کې خپله ځمکه تاته درکړم.[1] خو عمر ابن سعد د رے ښار د مشرۍ ليوال واو

---

١. خوارزمي، مقتل الحسين ١ ټوک ١۴٧ مخ

اخر د امام حسین د یو ملګري په وینا چې له هغه سره یې خبرې کړې وې د رے ګورنري یې د امام حسین د وینې په بدل کې واخسته او له هغې لاس اخستلو ته تیار نه شو. جاه طلبي ښایي انسان تر دې حده راوغورځوي. د هغو ټولو انسانانو چې له لویو خطرو سره مخامخیږي او په شیطاني ګړنګونو کې غورځیږي، مسله هغه تړونونه او تعلقات دي چې له دیني ارزښتونو او خداي پرستۍ سره سمونه نه خوري. مادي تعلقات تر هغه دمنلو وړ دي چې له دین سره په تضاد کې نه وي. البته د خداي ولیان هیڅکله د دغو تعلقاتو پروا نه ساتي.

## د ټولن پیژاندو تحلیل ته دامام حسین ځواب

له دې وروسته چې د جنګ کیدل قطعي او فاینل شول امام حسین د عاشورا په ورځ او شپه د عمر سعر د سپایانو د رو حیې په هکله خبرې وکړې. دوي دهغوي د انحراف او ګمراهۍ اصلي عامل دنیا پرستي وګڼله دنیا پرستي په دنیا پورې زړه تړل دي په دې توګه چې انسان د حق له لارې وغړوي او ګناه ته یې تیار کړي.

امام حسین وفرمایل: ټول هغه څه چې له ختیځه تر لویدیځه په دنیا کې موجود دي او لمر پرې ځلیږي له سیندونو تر وچو غرونو او بیابانونو د خداي پال انسان په نظر کې د هغه سیوري په شان دي چې په ځمکه پریوزي له څو ساعته وروسته ختمیږي. ایا دا پتیالي نه ده چې دا د ډوډۍ نیمه ژیولي مړۍ دهغه اهل ته واچول شي او په هغه پورې زړه ونه تړل شي.؟ (اي زما ملګرو) ستاسو د سر بیه بې له

جنته بل څه نه دي ابدي بهشت ستاسو د ځانونو لپاره تر ټولو لويه بيه ده. (هغه ارزښتمن څيز چې لرئ يې) ارزانه مه خرڅوئ.[1]

همداراز سيد الشهداء د عاشورا په شپه خپلو يارانو ته وويل:

واعلموا ان الدنيا حلوها و مرها حلم[2] (پوه شئ چې د دنيا خواږه او تراخه دواړه خوب دے)

هغه څه چې په تيرو کلونو کې ستاسو په ژوند کې شوي دي له هغه څه سره چې د شپې مو په خوب کې ليدلي دي څه فرق لري؟ له دغو دواړو څه تاسو ته پاتې شوي دي؟ د دنيا خواږه او تراخه دواړه خوب دے.

والانتباه فى الآخره، انسان هغه وخت بيداريږي چې له دې دنيا ځي. اخرت د ويښتيا ځاي دے. او هلته به پوه شو چې ټول هغه څه چې په دې دنيا کې تير شول د هغه نړۍ له حقيقتونو سره په پرتله د يو خوب په شان دي. دغه ځاي دے چې انسان وايي: يَـٰلَيۡتَنِي قَدَّمۡتُ لِحَيَاتِي[3] اي کاش چې د خپل ژوند لپاره مې د يوې چارې فکر کړے وے. هغه دنيا ده چې انسان له ځان سره وايي د دنيا ژوند تدريجي مرګ و، کاشکې د خپل ژوند لپاره مې يو فکر کړے وے. حضرت سيد الشهداء د عاشورا په شپه په خپلو غوره خبرو سره خپل ياران د شهادت لپاره تيارول دوي په وروستيو شيبو کې خپلو ملګرو ته

---

١. قال الحسين بن علي: ان جميع ماطلعت عليه الشمس في مشارق الارض ومغاربها، بحرها و برها و سهلها و جبلها عند ولي من او لياء الله و اهل المعرفه بحق الله کفيء الظلال . ثم قال او لا حر يدع هذه اللما ظه لاهلها، فليس لانفسکم ثمن الا الجنة فلا تبيعوها بغيرها (محمد باقر مجلسي، بحارالانوار، ۱ټوک ۱۴۴مخ)

۲. تير سند يولسم ټوک، ۱۴۹مخ

۳. فجر (۸۹) ۲۴

وفرمايل: اي زما خوږو، پوه شي چې د دنيا خواږه تراخه تر خوب زيات څه نه دي. بيداري په اخرت کې ده. خوشبخته هغه کس دے چې هلته نيکمرغه وي او بد بخته هغه کس دے چې هلته محرومه وي.[1]

همدا راز امام حسين د عاشورا په ورځ په ځلونو د خلکو د نصيحت لپاره ميدان ته راغے او هغوي ته يې نصيحت کاوه خو هغوي به چغې او سورې جوړې کړې چې د امام حسين خبره وا نه اوريدل شي.خو غالبا امام به په اشارې سره خلک غلي کول.وايي چې دا چاره دامام يو کرامت و چې په لوړ تصرف او واک سره به يې هغوي غلي کول. غوره ده په دې هم پوه شئ چې امام له هغه سختې تندې سره سره د ديرشو زرو کسانو لښکر ته چې په چغو او شور ماشور سره به يې د هغه حضرت د خبرو مخه نيوله. څه وايي. هغه فرمايي: اي دخداي بندګانو تقوا ولرئ. له دنيا وغړېږئ. که دنيا چاته پاتې کيدونکې وه يا څوک په دنيا کې پاتيدونکي وو نو پيغمبران د دې کار لپاره تر ټولو غوره وو.[2]

که امام حسين وس لرلے چې په دغو شرايطو کې د کوفې د خلکو لپاره تر دې زيات شفا ورکوونکي درمل برابر کړي نو د هغه له وراندې کولو يې دريغ نه کاوه. که ممکنه وه چې يو کلام په خلکو ا ثر وکړي او هغوي له غلطې لارې منعې کړي همدا شفا بخش کلام و.

---

۱. واعلمو ان الدنيا حلوها و مرها حلم، و الانتباه في الاخرة والفائز من فاز فيها والشقي من شقي فيها (ملا محمد باقر بهبهاني، الدمعة الساکبه، ۴ ټوک ۲۷۰ مخ).

۲. عبادالله اتقوا الله و کونوا من الدنيا على حذر فان الدنيا لو بقيت لاحد او بقي عليها احد کانت الانبياء احق بالبقاء (ابن عساکر، تاريخ دمشق (ترجمه ريحانة رسول الله الامام الحسين من تاريخ دمشق) ۲۱۵ مخ.

خو راځي وګورو چې له دنیا د امام مقصد څه دے؟ دنیا همدا له خوړو څښلو، پوستې، مقام شهوت او شهرت او د ورځني ژوند کې له زیاتي غوښتني سره د انسان وابستګي او پیلتیا ده. په دغو چارو پورې زړه تړل تاسو له انسانیته غورځوي او له ابدي سعادته مو بې برخې کوي. نو غوره ده چې مومن انسان د ضرورت تر حده او تر دې حده چې وتوانیږي معنوي حرکت وکړے شي له دغو چارو استفاده وکړي. که دنیا ارزښت لرلے او په هغه کې پاتیدل هدف وے خداي تعالی به هغه نبیانو او خپلو غوره بندګانو ته ورکړې وه. دا چې دنیا د خداي ولیانو او پیغمبرانو ته نه ده ورکړل شوې او هغوي غالبا له دنیا محرومه وو په دې دلیل ده چې دنیا ذاتي ارزښت نه لري. اصلي او حقیق ارزښت بل څه دے. که څه هم هغوي کار او زیار کاوه او عاید یې لارۀ خو په دنیا پورې یې زړه نه تاړه. امام حسین په یوې بلې وینا کې فرمایي: د هغه خداي حمد کوم چې دنیا یې د زوال او فنا ځاي وټاکه. غولیدلے دے هغه کس چې دنیا یې دوکه کړي او بد بخته دے هغه کس چې په دنیا مین شي[1] د امام حسین نرمو او نافذو خبرو په هغه خلکو هیڅ اثر ونه کړ او هغوي په سپکو او بې ادبه خبرو سره د امام حسین د فرمایشاتو ځواب ورکړ. ښایي دا د امام حسین وروستۍ وینا وه چې امام هغوي نفرین کړل او د اتمام حجت او غاړه خلاصولو لپاره یې وویل. تاسو مونږ د فریاد رسۍ او د بني امیه وو له ظلمه دخلاصون لپاره وبللو ومو ویل چې له

---

۱ . الحمد لله الذي خلق الدنيا فجعلها دار فناء و زوال ، متصرفه باهلها حالا بعد حال فالمغرور من غرته و الشقي من فتنته. (محمد باقر مجلسي، بحار الانوار، ۴۵ ټوک ۵ مخ .

ګمراهۍ سره مخامخ يئ. او مونږ مو دخپل نجات لپاره وبللو. تاسو په داسې حال کې چې لالهانده او حيرانه وئ او حق مو له باطله نه شو پيژندلے فرياد رس وغوښته او مونږ ستاسو د فرياداوريدو لپاره راغلو. زمونږ بدله دا چې هغه تورې چې مونږ په لاس درکړې وې په مونږ مو راوکاږلې. دا تورې چې اوس ستاسو په لاس کې دي د اسلام په برکت ستاسو لاسونو ته رسيدلې دي خو نن تاسو همدا تورې زمونږ په خلاف کاروئ. ايا دا ده دهغه کس بدله چې ستاسو فرياد رسۍ ته راغلے دے؟! امام فرمايي: اې خلکو تاسو يو بل ته لاسونه ورکړل ټلواله مو جوړه کړه. بيلابيلې ډلې اوبهيرونه ټول له مونږ سره د دشمنۍ لپاره يو ځاي شوئ. تاسو ټول شاميان کوفيان د بصرې يا نورو سيمو خلک له مونږ اهلبيتو سره دشمني کوئ. ايا مونږ کومه ګناه کړې ده؟! ايا ستاسو کوم مال مو تروړلے دے؟ ايا ستاسو وينه مو په ځمکه توې کړې ده؟ هغه کسان چې تاسو يې مرستې ته راغلي يئ او د هغوي په خاطر له مونږ سره جنګيږئ ستاسو لپاره څه خدمت کړے دے؟ ايا په تاسو کې عدالت اجرا کړے دے. ايا له تاسو يې کم ظلم غړولے دے؟ تاسو ته پته ده چې بني اميه د عدل او انصاف غوښتونکي نه دي او بې له ظلمه له تاسو سره بل څه نه کوي. نو څه خبره سبب شوې ده چې د ظالمانو ملاتړ وکړئ او زمونږ وژلو ته ملا وتړئ؟ د دې علت چې داسې بدې ګناه ته مو ملا تړلې ده بل څه نه دے بې له هغه حرام ماله چې تاسو ته يې درکړے دے. حرام مال سبب شوے چې تاسو دهغوي ملاتړ وکړئ او له مونږ سره په جنګ کې دهغوي مرسته وکاندئ. له دې ورتير هيله لرئ چې زمونږ له وژل کيدو او دهغوي د سلطنت له پراخيدو

وروسته ستاسو ژوند ډیره هوساینه ولري.دا هغه تمه ده چې هیڅکله به پوره نه شي. تاسو ته درکړے حرام مال او زيات مال ته د رسيدلو ارمان سبب شوے چې له حقه لاس واخلئ او د پيغمبر د لمسي وينه وبهيوئ. دا نصيحتونه نور په تاسو اثر نه کوي[1]

## د عاشورا په شپه او ورځ د امام حسين مهم پيغام

د امام په ټولو ويناوو کې چورليز له دنيا، حرام مال او حرامو خوندونو ډډه کول دي. هر څوک چې نيکمرغي غواړي بايد له دغه کلامه استفاده وکړي. د امام حسين د ملګرو يا دښمنانو درد او د درمان يو دے. او ټول بايد سعادت ته د رسيدو لپاره له دغه درمانه کار واخلي او له دنيا سره له مينې او ورپورې له زړه ترلو ډډه وکړي. په تيره بيا دامام حسين عاشقان چې غواړي په اخرت خپل ايمان کلک کړي پکاره ده چې په دنيا پورې زړه ونه تړي او باور ولري چې حقيقي ژوند داخرت ژوند دے. او دا دنيا د مور په خيټه کې د دوران په شان ده لکه څرنګه چې يو ماشوم د مور په خيټه کې د څو مياشتو له تيرولو وروسته دې دنيا ته راځي انسان هم په مرګ سره له دې دنيا وځي او ابدي دنيا ته ځي خو د دې لپاره چې په ابدي دنيا کې نيکمرغه شي بايد په دې دنيا پورې زړه ونه تړي چې په ګناهونو ككړ نه شي د ټولو ګناهانو او بد بختيو جرړه له دې دنيا سره مينه ده

---

١. تبا لكم ايتها الجماعه و ترحا افحين استصرختمونا و الهين متحيرين فاصرختكم مودين مستعدين سللتم علينا سيفا في رقابنا و حششتم علينا نار الفتن خباها عدوكم وعدونا فاصبحتم البا على اوليائكم ويدا عليهم لاعدائكم بغير عدل افشوه فيكم ولا امل اصبح لكم فيهم الا الحرام من الدنيا انالوكم و خسيس عيش طمعتم فيه (خوارزمي مقتل الحسين، ٢ ټوک ٩ مخ.

او له دنيا سره مينه په ټولو ګناهانو کې رول لري. نو که امام حسين خپل امام ګڼو او غواړو چې د هغه له يارانو سره يو ځاي شو. او انديښمن يو چې داسې نه وي دهغه په دښمنانانو کې راشو يا په هغو کسانو کې چې امام يې يوازې پريښود او که په دې وينا کې ريښتيني يو چې (يا ليتني کنت معکم فافوز فوزا عظيما) يعنې کاشکې مونږ هم له تا سره وے چې لوي سعادت مو په نصيب شوے وے نو اول پکار ده کوشش وکړو چې په اخرت خپل ايمان مزبوت کړو البته دا چاره بحث او مطالعې ته اړتيا لري چې هغه شبهې چې په دې مسله کې مطرح کيږي حل شي. مومنان هغه کسان دي چې په اخرت ايمان لري. وَبِٱلۡأٓخِرَةِوَٱلَّذِينَ هُمۡ يُوقِنُونَ[1] يقين ته رسيدل هغه هم په داسې دوران کې چې اکثره پوهان او فلسفيان ادعا کوي چې په نړۍ کې هيڅ يقيني چاره نيشته اسانه خبره نه ده خو قران وايي چې بايد په اخرت ايمان ولرو نو هڅه پکار ده چې په ديني بحثونو مطالعې او د مذهبي غونډو په جوړولو سره شبهو ته ځواب ووايو. او يقين ته ورسيږو. په دوهمه مرحله کې بيا خود سازي راځي.او له حرامو او ګناهانو بچيدل. او همداراز بايد توجه ولرو چې امام حسين وفرمايل: د دنيا ټول خوندونه او مالونه د خداي د دوستانو لپاره تر سيوري زيات ارزښت نه لري. داسې مقام ته رسيدل ډير ګران دي خو لږ ترلږه بايد هڅه وکړو چې حرام کار ونه کاندو. په کارونو کې کم کاري ونه کړو. له بيت الماله دځان لپاره استفاده ونه کړو او د خپلو فقير خپلوانو او ګاونډيانو په فکر کې هم ووسو.

---

۱. بقره (۲) ۴

هغه څه چې د دنیامینه د انسان له زړه اوباسي انفاق دے. خداي تعالی په قران کې فرمايي: لَن تَنَالُواْ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ[1] هغه څۀ چې مینه ورسره لرئ د خداي په لاره کې ورکړئ چې دهغو مینه مو په زړه کې پاتې نه شي. که دچا په زړه کې له مال مقام او له دنیاوي چارو سره مینې رسوخ کړے وي بیشکه چې هغه له خطر سره مخامخ دے. او هغه ورځ چې هغه باید د دنیا د خوندونو او د الهي دندو لکه جهاد. یا د خداي په لاره کې له وژلې او یا بندي کیدلو یو انتخاب کړي. د دنیا مینه یې د پښو بیړۍ ګرځي. او دنیا پرست انسان خپل کار په مختلفو طریقو سره توجیهوي.[2]

---

١ . آل عمران (٣) ٩٢

٢ . ډیر داسې کسان وو او شته چې ښه موقیعتونه یې لرل خلکو هم ورسره مینه لرله خو دغه انقلاب ته یې سخت تاوان ورساوه . او بیا یې خپل عملونه داسې توجیه کړل چې مونږ فکر کاوه ځینې کسان انقلاب له خپلې سمې لارې غړوي او له دې امله مو افشاګري وکړه! ځني نور کسان بیا د اسلام احکام تحریف او د دین د ضروریاتو انکار کوي او بیا د خپل کار په توجیه کې وايي که مونږ د اسلام احکام هماغه شان چې دي بیان کړو د نړۍ ځوانان له اسلامه بیزاریږي . مونږ د اسلام حکم بدلوو چې خلک له دینه وانه اوړي! خو باید له دوي پوښتنه وشي چې کله تاسو د دین احکام بدل کړل خلک له کوم دینه وانه اوړي ؟ ایا هغه دین چې تاسو جوړ کړ که هغه دین چې خداي نازل کړے دے ؟ که ستاسو مطلب اسلام وي اسلام هماغه دے چې خداي نازل کړے دے . نه هغه څه چې تاسو یې جوړوئ هغه دین چې تاسو یې احکام بد ل کړل چې د خلکو خوښ شي د خداي دین نه دے . ستاسو دلاس جوړ دین دے . سره له دې څرنګه په اسلام احسان اړوئ چې د اسلام خدمت کوئ . ایا دا د اسلام خدمت دے که د کفر ؟ په حقیقت کې د دنیا او دریاست او مقام مینه او عیش او عشرت دے چې د دې خبرې سبب کیږي که دا عوامل په مونږ کې هم وي یوه ورځ به همدغ بلا زمونږ د ظرفیت مطابق په مونږ هم نازله شي .هر یو انسان یو ظرفیت لري چې بلا هم دهغه مطابق نازلیږي مونږ چې محدود ظرفیت لرو هغه بلا چې په مونږ نازلیږي له مونږ سره متناسبه ده . خو په هر حال له هماغه اوله باید هغه درمل چې سید الشهدا مونږ ته تجویز کړي دي استعمال کړو نو د دنیا مینه باید له زړونو وباسو له ګناهانو ډډه وکړو او

## آیا خلکو امام حسین نه پیژانده

ایا دهغه وخت مسلمانانو امام حسین نه پیژانده؟ که پیژنده یې نو ولې یو شمیر کسان له هغه سره جنګ ته لاړل او ځینې نور بیا غلي کیناستل؟ او که نه یې پیژانده ایا په هغوي کې لا داسې کسان نه وو چې د امام حسین په باره کې د پیغمبر اقوال او حدیثونه نقل کړي او یا له هغه حضرت سره د رسول الله مبارک چلند خلکو ته بیان کړي؟

لکه څرنګه چې امام حسین د عاشورا د ورځې په ماسپښین خلکو ته وفرمایل: که ما نه پیژنئ او یا نه یئ خبر چې پیغمبر زما په هکله څه فرمایلي دي په تاسو کې لا داسې اصحاب (لکه جابر بن عبد الله انصاری،زید بن ارقم او انس بن مالک) شته لاړه شئ او له هغوي پوښتنه وکړئ.[۱ و۲] او که خبر یئ او اوریدلي مو وي نو ولې مو په مونږ توري راویستلي دي او زمونږ وژلو ته مو ملا تړلې ده.

د امام حسین د خبرو مطلب دا دے چې هغوي ښه پوهیدل چې دامام حسین مور او پلار څنګه خلک وو. او تر دې زیات پوهیدل او د هغه حضرت په هکله یې د خداي د رسول خبرې او حدیثونه اوریدلي وو او خبر وو چې پیغمبر فرمایلي دي: الحسن و الحسین سیدا شباب اهل الجنة و انهما امامان قاما او قعدا[۳] امام حسن اوامام حسین د جنت د ځوانانو سرداران دي او دا دوه امامان دي که قیام وکړي او

---

ایمان په منطقي دلایلو سره مزبوت کړو او په خود سازۍ سره دنیا پالنه په ځان کې ختمه کړو.

۱ . خوارزمي، مقتل الحسین ۱ ټوک ۱۵۸ مخ

۲ . البته باید پام ولرو چې دغه کسان په کربلا کې نه وو او دامام مطلب دا دے چې دا کسان لا ژوندي دي او په مسلمانانو کې دي

۳ . محمد باقر مجلسي، بحار الانوار ۳۲ ټوک ۲۸۸ مخ

که کښیني. خو د غه پیژندنې دهغوې لپاره څه ګټهٔ نه لرله ځکه چې هغه علم او پوهه فایده منه ده چې ورسره ایمان. منل، تسلیم او پابنده پاتې کیدل وي. په بله معنا که مونږ دا منو چې امام حسین، امام دے او د هغه دامر باید اطاعت وشي. نو پکار ده چې امر یې ومنو. لکه څرنګه چې په زیارت عاشورا کې راغلي دي (هغه خداي چې مونږ ته یې دا کرامت راکړ چې امام حسین وپیژنو) نن هم داسې کسان شته چې د اسلام او تشیع ادعا کوي او وایي چې امام حسین پیژني خو له امام حسینه پردي دي لکه څرنګه چې په هغه وخت کې هم بې له کابو دوه اویا[1] کسانو نورو ټولو امام حسین یوازې پریښود.

## ظاهري مسلمانان

د امام حسین د وخت ځینې خلکو لکه د ابوسفیان کورنۍ په خداي دین او پیغمبر ایمان نه درلود او یوازې په ظاهره یې اسلام منلے و. مثلا د عثمان د حکومت په لومړیو ورځو کې یوه ورځ ابوسفیان د احد هدیرې ته راغے او غږ یې وکړ. (یا اهل القبور الذي کنتم تقاتلونا علیه صار بایدینا و انتم رمیم) اي د قبر خاوندانو هغه څه چې دهغې په خاطر له مونږ سره جنګیدئ نن زمونږ په لاس کې دي او تاسو له خاورو لاندې وراسته شوئ. هغه باروي وو چې پیغمبر او بني هاشم د حکومت په سر له هغوي سره جنګیدلي دي او خداي او وحي نیشته.

---

۱ . رک: محمد باقر مجلسي، بحار الانوار ۴۵ ټوک، ۴۷ مخ، ۵۳ ټوک ۱۵ مخ.

همداراز په هغه ورځ چې له عثمان سره يې بيعت وکړ ابوسفيان د هغه په کور کې بني اميه وو ته وويل اي زما خپلوانو اي بني اميه وو! هغه خلافت چې نن زمونږ لاس ته راغلے په کلکه يې وساتئ قسم په هغه کس چې ابوسفيان پرې قسم خوري نه جنت شته او نه دوزخ حکومت يوازې ځو ورځې د بني هاشمو په لاس کې و او نن بيا زمونږ په لاس کې دے. همداراز کله يې چې د امام حسين سر د يزيد په مخکې کې کيښود هغه د نشې په حالت کې کفريه شعرونه وويل. د بني اميه وو په هکله په زيارت عاشورا کې راغلي دي: اللهم العن بن امية قاطبة، اي خدايه په ټولو بني اميه وو لعنت وکړه. ځکه چې هغه داسې کسان وو چې په خداي او قيامت يې ايمان نه درلود بلکه په ظاهره يې اسلام قبول کړے و چې سر يې سلامت پاتې شي او وروسته بيا د اسلام په نامه په مسلمانانو حکومت وکړے شي.يو شمير داسې وو خو د هغوي شمير زيات نه و.ځيني نور بيا داسې وو چې اهل بيت يې پيژندل او په اسلام يې ايمان راوړے و او دهغه احکام يې اجرا کول هغوي په جنګونو او جهادونو کې برخه اخستې وه او خپل مالونه به يې د اسلام په لا ره کې خرچ کول. خو کار يې يو اشکال او مشکل لرلو او هغه دا چې له اسلام او قران سره د هغوي دلچسپي په يو شرط وه. قران مجيد د دغو کسانو په هکله فرمايي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ[1] (او په خلکو کې يو کس داسې دے چې خداي يوازې په يو حال مني نو که خير ورته

---

۱. حج (۲۲) ۱۱.

ورسيږي په خداي اطمينان لري او که يوه فتنه ورته ورسيږي له خدايه مخ اړوي. په دنيا او اخرت کې يې تاوان کړے دے)

په هره زمانه کې د دغه ډول کسانو شمير کم نه دے. د خداي عبادت کوي او لمونځونه او روژې هم نيسي خو د دوي عبادت کول يوازې په يو حالت کې دي چې که دغه حالت بدل شي نور خداي نه مني. دوي يوازې په دې بڼه کې خداي مني چې دين يې له دنيا سره غبرمله وي. دوي د هغو کسانو په شان دي چې د يو ګړنګ په غاړه ولاړ دي او دپريوتول په حال کي دي.که حالات کرار او د هغوي په طبعه برابر وي او توپان او زول نه وي ديندارِه مسلمان او انقلابي وي، خو که حالات بدل شول او کومه فتنه پيدا شوه او د دوي ارام او هوساينه ختمه شوه په ګړنګ کې غورځيږي. د قران په وينا دغه کسان هم دنيا له لاسه ورکوي او هم اخرت، دنيا له لاسه ورکوي ځکه چې د عمر يوه برخه يې دخداي په عبادت او د دين په اوامرو په عمل کولو کې تيره شوې خو دغه عملونو ورته فايده نه ده کړې. او اخرت له لاسه ورکوي ځکه چې حقيقي ايمان يې نه دے لرلے. او د فتنې په وخت او سخته کې يې دخداي له عبادته لاس اخستے دے.

هغه کسان چې په کوفه کې يې له مسلم سره بيعت وکړ. اول په خپل کار کې ډير سنجيده وو دوي له دې مخکې هم امام حسين ته ـ د يو روايت مطابق دولس زره ليکونه ـ ليکلي وو او له زړه يې له امامه غوښتي وو چې کوفې ته لاړ شي. که څه هم په دوي کې ډير کسان دامام علي په خلافت هم راضي نه وو خو د معاويه دحکومت په پرتله او دهغوي په بچيانو د معاويه زياتو ظلمونو ته په پام سره د حضرت عل (ع) د بچيانو په حکومت راضي شول. حال داچې د

مدينې مکې او دنورو اسلامي صوبو خلکو له يزيد سره بيعت کړے و.د کوفې خلکو غوښتل چې امام حسين هلته ورشي او دوي ورسره بيعت وکړي.خو په دې شرط چې کوم جنګ نه وي او وژله نه وي او د هغوي پوزيشن په خطر کې ونه لويږي. خو کله چې عبيدالله بن زياد دامام حسين ملګري يو په بل پسې ونيول او يو شمير يې په زندانونو کې واچول او وې وژل او هغه څه چې د کوفې خلکو غوښتل ونه شول له خپلې بلنې وغړيدل، عمر بن سعد هم د امام حسين له وژلو سره ډيره دلچسپي نه درلوده خو له څه مودې راهسې د رے په حکومت دهغه دګورنر کيدو خبره کيده. نو کله چې دا حالات پيدا شول يزيد له هغه سره شرط کيښود چې که د رے حکومت غواړې بايد امام حسين ووژنې. هغه حتیٰ له دې وروسته چې شرط يې ومانه ډاډه نه و چې خبره به له حسين سره جنګ ته ورسيږي. هغه ګمان کاوه چې کله له ديرشو زرو سپايانو سره[1] د امام حسين له دوو سوو يا يو نيم سل کسانو مخې ته ودريږي، هغوي به تسليم شي او بيا به امام حسين هم يزيد ته واستوي، له دې امله يې د محرم په لومړيو لسو ورځو کې له امام حسين سره ملاقاتونه وکړل او هڅه يې وکړه چې دغه کار وکاندي. هغه عبيد الله بن زياد ته وليکل چې حسين ابن علي به کوفې ته راولو او لاس به يې د امير په لاس کې ورکړو، د عمر ابن سعد ډير لښکريان هم په دې اراده راغلي وو، نه دامام حسين د وژلو په اراده.

---

١. البته د هغه د سپايانو شمير يې تر يو لک شل زرو هم ياد کړے دے.

په دې ډول کله چې انسان په غلطه لاره کې ګام ږدي او دخداي له دشمنانو سره ساز باز ته غاړه ږدي ورو ورو داسې ګړنګونو ته لوېږي چې ګمان يې نه کوي.

## د علي (ع) ملګري، د حسين (ع) قاتلان!

کوفيانو کلونه کلونه امام حسين د حضرت علي په څنګ کې ليدلے و کوفه د حضرت علي د حکومت پلازمينه وه حضرت امير کلونه په دغه ښارکې لمونځ ورکړے و نصيحتونه او موعظې يې کړې وې د محرومانو مرسته او د يتيمانو او کونډو رنډو سرپرستي يې کړې وه. ډير هغه کسان چې د امام حسين وژلو ته راغلي وو کلونه کلونه د امام علي په څنګ کې له معاويه سره جنګيدلي وو. دوي هيڅکله دا ګمان نه کاوه چې يوه ورځ به راشي او دامام حسين وژلو ته به ملا وتړي.

خداي تعالی فرمايي: وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ[1] (او کله چې ورته کومه فتنه ورسيږي مخ اړوي)

سست عنصره او د کمزوري ايمان خلک له اوله بد نيت نه لري، غواړي چې دهدايت په لاره لاړ شي او د خداي خبره ومني. دوي دخداي عبادت هم کوي خو دوي يوازې په خاصو شرايطو کې ايمان لري، او په بله ژبه هميشه خداي پالي نه وي: وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعْبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ[2] په خلکو کې داسې کس دے چې د خداي يوازې په يو

---

۱. حج (۲۲)، ۱۱.

۲. تير سند

حال عبادت کوي، له دې امله په مونځ کې هر انسان باید فکر من ووسي چې داسې نه وي

زمونږ عبادت هم مشروط وي. د امام حسین حقیق پیروان لکه څرنګه چې په زیارت عاشورا کې هم راغلي دي. د هغه حضرت د دوستانو دوست او دهغه د دشمنانانو دشمن دي. او دخداي شکر کوي چې دا دښمني یې دهغوي په زړه کې ایښې ده. او له خدایه غواړي چې هم له امام حسین سره د هغوي مینه زیاته کړي او هم یې له دښمنانو سره په زړه کې د دښمنۍ اور. له همدې امله په زیارت عاشورا کې په امام حسین له سلامه مخکې د هغه په دښمنانانو لعنت وایو. متاسفانه نن سبا په هغه کسانو کې چې ځانته شیعه وایي داسې کسان پیدا شوي دي چې باور لري دا زیارت نامه باید بدله شي او لعنتونه ترې لیرې کړے شي ځکه چې د تاوتریخوالي دوران اوس تیر شوے دے. نن سبا حتیٰ دښمنانانو ته هم باید وخاندو. حال دا چې همدا دښمنانو ته خندل او ورین تندے و چې د اسلامي هیواد په ځینو سیمو کې یې د انحراف زمینې برابرې کړې. متاسفانه په ځینو ځایونو کې د هلک او جینۍ د ناجایز معاشرت،د کفریه دودونو د ژوندي کیدو د نشه ایزو موادو او شرابو د استعمال او د مبتذلو فلمونو د استفادې زمینه ځوانانو ته برابره شوې ده. ځکه چې د تساهل او تسامح د کلتور په دودیدو سره له دښمنانانو سره د دښمنۍ روحیه کمزورې شوې ده. او کله چې دوي دښمنانانو ته وخاندي له هغوي سره به معاشرت او ناسته پاسته کوي او په نتیجه کې به د هغوي اخلاق کړه، او کلتور هم ومني.

## د حقيقي مومنانو جاذبه او دافعه

د انسان بدن لکه څرنګه چې بايد مفيد مواد ځانته جذب کړي د زهرجنو موادو په وړاندې هم بايد دافعه ولري. ځکه چې په هماغه اندازه چې ګټه ورو موادو ته اړتيا لري د زهرونو ليرې کولو ته هم ضرورت لري. که د انسان پښتورګي او کولمې سم کار ونه کړي او له بدنه زهرجن مواد ونه وځي. انسان مسموم کيږي او اخر مري. نو په دې اساس جاذبه په هر ځاي کې پکار نه راځي بلکه له دشمنانانو سره بايد له دافعې کار واخستل شي او دخداي شکر وويستل شي چې مونږ ته يې د پيغمبر له کورنۍ سره پر دوستۍ سر بيره د هغوي له دښمنانانو سره دښمني هم راکړې ده. بايد زيارت عاشورا ولولو او اول په دښمنانانو لعنت ووايو. دا هغه بند دے چې له دښمنانانو سره د کلتوري اميزش اوګډيدو، او پر مونږ د هغو ي داخلاقو او کړونو د اثر مخه نيسي. کله چې دا بند مات شي يا پکې درز پيدا شي د هغوي کلتور ورو ورو په مونږ کې نفوذ کوي او په لاشعوري ډول په ټولنه کې په غالب کلتور بدليږي. او دا هماغه خطر و چې مسلمانان يې د پيغمبر له وفاته پنځوس کاله وروسته وګواښل. البته دا ګواښ له هماغه ورځې چې پيغمبر وفات شو پيل شو. او په هغه ورځ اوج ته ورسيد چې د پيغمبر دښار خلکو د هغه د زيږنځاي تر څنګ له داسې کس سره بيعت وکړ چې په شرابخورۍ مشهور و. د مدينې خلکو ـ بې له څو کسانو ـ د يزيد بيعت وکړ او هغه يې د پيغمبر په ځاي کښيناوه.

دوهم عامل هغه هوسونه او خواهشات وو چې دوي هيله لرله په دغه بيعت سره يې حاصل کړي. انسان سره له دې چې سمه لاره پيژني

او په کلونو کلونو پرې تللے وي خو د زړه په تل کې يې داسې ارمانونه پټ وي چې د ژوند په مختلفو شرايطو کې ورته د ښکاره کيدو فرصت په لاس نه ورغلے. او يوه ورځ دغه ارمانونه غوټۍ وکړي. او په زړه کړ ښکاره شي. او په ظاهريدو سره دانسان په کړو اثر کوي. فيصلې په ترديدونو او شکونو او پرمختګ په شاتګونو اوقهقرا بدلوي. او په نتيجه کې انسان د خپل علم او معرفت په اپوټه عمل کوي. دا ګروهنې اوناپيژاندې غوښتنې او ارمانونه چې پخپله ترې انسان نه وي خبر په خاصو شرايطو کې فعاليږي او انسان وسوسه کوي.

قران مجيد دغو ټولو وسوسو ته چې انسان د حق او هدايت د لارې او د دين د مخ کښانو په وړاندې عاصي او بې لارې کوي او دحق له لارې يې غړوي دنيا طلبي وايي.

نو اجمالا ويلے شو چې د دغو کږ لاريو اصلي راز د دنيا په خوندونو پورې د زړه تړون دے. د انسان ګروهنې او ميلانونه د يو لړ افکارو تر اغيز لاندې جوړيږي او لورے اخلي. انسان فطرتا له خپل ژوند سره مينه کوي دا ځانګړتيا يوازې په انسان کې نه ده بلکه خداي تعالى ټول ژوندي مخلوقات داسې پنځولي دي چې له خپل ژوند سره مينه لري او تر خپله وسه د هغه دفاع کوي له ژوند سره مينه د هر ژوندي ساري د بقا لازمه ده له دې امله هر مخلوق په هغه څه سره چې د ژوند لازه يې وي لکه خوراک او ښښاک مينه لري ځکه چې بې له هغو يې ژوند په خطرکې لويږي، انسان هم له دغه قاعدې مستثني نه دے.

دغه اصل ته په پام سره ویلے شو چې له ژوند سره مینه کول ناخوښه چاره نه ده او د خوراک او جامې وغیره لپاره هڅه که د ژوند د دوام لپار ه وي دنیا طلبي ورته نه شو ویلے او مذمومه نه ده بلکه د خداي غوښتنه ده ځکه چې که داسې نه وي نو خلقت به عبث شي او دخداي حکمت باطلیږي د دې په اړوند قران د خداي له نعمتونو په استفادې ډیر ټینګار لري قران د خداي نعمتونه یو یو شماري او بیا وایي چې مونږ دا نعمتونه ستاسو لپاره پیدا کړي دي له هغو استفاده وکړئ. د دغو نعمتونو او له هغوي د استفادې ذکر د دې بیانوونکے دے چې له ژوند سره د انسان مینه او د ژوند د دوام لپاره له الهي نعمتونو استفاده بد کار نه دے ټولې فطرې غوښتنې خداي تعالی د هر مخلوق په وجود کې ایښې دي چې ورنه کار واخلي دا کار دنیا غوښتنه او دنیا طلبي نه ده بلکه د دنیا طلبۍ بدي په دې کې ده چې ګروهنې او غوښتنې د کومې عقیدې او نظر په اساس وي.

## ناپوهي او دنیا طلبي، د انحراف لوي لا ملونه

په کلي ډول ویلے شو چې د امام حسین د وخت په ټولنه کې د انحراف او ځوړتیا دوه لاملونه موجود وو: لومړے دا چې په حقایقو او دیني تعلیماتو په تیره بیا د اهلبیتو په هکله د خلکو پوهه کمه وه په هغه زمانه کې هم ډیر خلک سیکولر وو یعنې دین او حکومت یې دیو بل متضاد څیزونه ګڼل او باوري وو چې حکومت باید دخلکو په لاس کې وي او هغوي باید وتوانیږي هر څه چې وغواړي وکولے شي. خلک حق لري د پیغمبر زیات عمره خسر د حکومت لپاره غوره

وګڼي او بیعت یې وکړي. دا چاره له دین سره اړه نه لري. نو سیکولرزم څه نوې مسله نه ده اود رسول الله مبارک له وفاته وروسته له هماغه اولې ورځې د اسلام په تاریخ کې پیل شوې ده ډیر هغه کسان چې له امام حسین سره وجنګیدل حکومت ولایت او بیعت یې دنیاوي چاره ګڼله نه دیني. له دې امله هغوي ګمان کاوه چې په دې مسله کې بلکل اختیار لري او کوم مسوولیت نه لري. حال دا چې دا چاره یو ډیر لوي مسوولیت او ذمه واري ده. او د ولایت مسله تر لمانځه زیات اهمیت لري. ولم یناد بشئ کما نودي بالولایة.[1] (خلک د ولایت هومره هیڅ څیز ته نه دي بلل شوي) له یزید سره بیعت یعنې د مسلمانانو دین ناموس وینه مال او ځان هغه ته سپارل. راي (ووټ) ورکول او بیعت د اسلام له نظره یوه فرض او مسوولیت دے. او خلکو باید تحقیق کړے وے چې ایا تر یزیده زیات دبیعت لپاره څوک غوره شته که نه. خو هغوي وویل مونږ څو کاله د پیغمبر په زمانه کې له مشرکانو سره وجنګیدو او د حضرت علي په زمانه کې ډیر کلونه له خپلو وروڼه سره په جمل صفین او نهروان جنګونو کې جنګیدلي یو اوس غواړو یو داسې کس مشر شي چې دجنګ امر ونه کړي. له دې غافله چې جهاد چې کله د معصوم امام په امر وي د لمانځه په شان واجب دے او د حکومت لپاره دیو صالح کس غوره کول تر لمانځه ډیر مهم دي. ځکه چې هره رایه او ووټ د خلکو په ځان مال او ناموس د یو کس په واکمنولو کې شریکه ده په دې ډول چې که دغه کس د اسلام په خلاف کوم قانون جوړ کړ تر هغه وخته چې دغه قانونو اجرا کیږي هغه ټول

---

۱. کلیني، کافي ۲ ټوک ۱۸ مخ

کسان چې ده ته يې رايه ورکړې ده په ګناه کې يې شريک دي نو د راي او ووټ ورکولو خبره حتیٰ که هغه د پارليمان او قامي جرګې غړيو ته هم وي دومره وړه خبره نه ده بايد داسې کسان وپيژنو چې غوره وي او خداي او دخداي وليان ترې راضي وي. دغه خبرې ته بې پامي د پيژندلو له کمزورۍ سرچينه اخلي او د اسلامي ټولنې لپاره يې خطر د امام حسين تر زمانې زيات دے. په هغه وخت کې دامام حسين دښمنان يوازې د کوفې او شام ځو خلک وو او نن ټول لوي هيوادونه د اسلام دښمنان دي. په هغه زمانه کې امريکا او نورو کفارو د امام حسين په وژلو کې لاس نه درلو د او سست عنصره او بې وفا مسلمانانو چې ايمان يې کمزورے و اسلام ګواښه خو نن ټول لوي هيوادونه اسلام او ايران خپل دښمن ګڼي. او لا هيله لري چې د اصلاحاتو (ريفارمز) په نامه د اسلام جرړه وباسي. زمونږ دخلکو شعور او پوهه هم د هغه زمانې تر خلکو ډيره زياته ده زمونږ خلک په اسانه دهر اواز پيروي نه کوي خو په هغه زمانه کې هم حتیٰ ځنيې کسان چې له مکې څخه د امام حسين ملګري شوي وو ځينې په لاره کې او ځينې د عاشورا په شپه ستانه شول او د يو روايت مطابق يو شپيته او د بل مطابق دوه اويا کسان پاتې شول په سلګونو کسان کله چې پوه شول چې خبره شهادت او وژلې ته رسيږي يو يو دوه دوه، او ډ له ډله يې امام حسين پريښوده او لاړل.